# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

اپریل ۳۰،
۲۰۱۱







درې میاشتنی راپور د متحده ایالاتو کانګرس ته

2

سیګار | د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور | اپریل ۳۰، ۲۰۱۱

سیګار
د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

400 Army Navy Drive
Arlington, VA 22202-4704



د قندهار د شاه مقصود په څلور لاره کې تر ۳۵۰۰ ډیر افغانان راټول شوې ترڅو د نورزو ورځ چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۱مې سره سمون لري ولمانځي. پدې لمانځ غونډه کې د سندرغاړه لخوا کنسرت ترسره شوو، د ځایی لوبغاړو او هنرمندانو لخوا تمثیلي پارچې وړاندې شوې، د قندهار د والي په ګډون ځایی چارواکو ګډون کړي وو. (د امریکا پوځ انځور، سارجنټ بنجمن واټسن)

**د سرپاڼې انځورونه (د بره چپ نه ښي لور ته):**

**د امریکا د بحري قوې انجینرانو** د درنو توکو او وسیلو څخه په ګټه اخیستلو وتوانیدل چه د اوبو پر سره د رامنځ ته شوې شخړې په ترڅ کې ویجاړ شوی پول ورغوي. د تراخ ناوا پول به ځایي وګړو او په سیمه کې نظامی واحدونو ته د تګ راتګ اسانتیاوې رامنځ ته کړي. (د USMC انځور، CPL ډانیال ایچ.ووډال)

**یو ۱۱ کلن افغان زده کوونکی** د پکتیکا ولایت د ابو هریرا په ښوونځي کې د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۷مه د قانون د رول په اړه خندور کتاب لولي. نوموړی ښوونځی د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا په پرلپسې توګه د زده کوونکو پرمخ پرانیستي ده، پداسي حال کې چه تعمیر یی د خرابوالی د کواښ او ښوونکي یی تهدید شوي دي. په پکتیکا ولایت کې ولایتي بیارغونې ډله د ښوونځي د ښوونکو سره د بنسټیزې بیاسمبالونې په اړه سلامشورې ورکوي. (د ایساف انځور، سارجنټ ایشلې ان ویکیلا، د پکتیکا د ولایاتی بیارغونې ډلې د عامه چارو څانګه)

**یو افغان کروندګر** د ۲۰۱۱ د فبروري په اتمه په کابل کې خپل نوی دوه ټیره ټراکتور ښکاره کوي. پنځوس ټراکتورونه په امدادي ډول د افغان منځني کچې کروندګرو باندي وپیرودل شول ترڅو په کلني ټول غوره کښت ترلاسه کړي. هغه پروګرام چه په ترڅ کې یی۶۰۰۰ ټراکتوره په اتلسو ولایتونو کې کرونګرانو ته وسپارل شي د امریکا د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوې وه. (د امریکا د ملی هوایی پوځ انځور، سارجنټ جورډن جونز)

**افغان پوځ او پولیس افسران** نوي قوماندان ته په سمیزه قوماندانې د هرات په ولایت کې د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۴مه ښه راغلاست وایی.افغان امنیتي ځواکونو او د ایتالیا په مشرې پوځ د افغانستان په ختیځ کې د امنیت او پراختیا د رامنځ ته کولو په موخه ګډ کار کوي. ( د امریکا د پوځ انځور، سراجنټ براندون پومرینک)

سیګار | د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی | اپریل ۳۰، ۲۰۱۱

## د (P.L. 110-181) د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره د ملي دفاع د واک قانون د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی (SIGAR) تاسیس کړ.

د سیګار د نظارت مشن، لکه چې د قانون په جوړولو کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي لپاره

- د هغو پلټنو او معاینو ترسره کول او نظارت چې د هغو پروګرامونو او عملیاتو سره تړلي وي چې د پیسو بودیجې ورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس ورکړل شوې وي.
- په هغو ټګلارو کې مشرتابه او انسجام، او سپارښتنې، چې د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کې اقتصاد، استعداد، او اغېزمنتیا ته د ودې ورکولو لپاره جوړې شوې وي؛ او په داسې پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، دوکې او ناسم استعمال مخنیوی وکړي او معلوم یې کړي.
- د داسې پروګرامونو او عملیاتو د ادارې سره تړلیو ستونځو او بې کفایتیو په اړه او د پرمختګ او اصلاحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنیو چارو د سکرتر او د دفاع د سکرتر د بشپړ او تازه معلوماتو څخه د خبر ساتلو ذریعې.

د افغانستان په بیا رغونه کې هر هغه ستر قرارداد، مبلغ، تړون، او یا د بودیجې هر هغه میکانزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم داسې ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوی وي چې د هغو پیسو په استعمال کې ګډون لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوې وي؛ د افغانستان سیاسي یا ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا رغوي؛ او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمتونه برابروي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" ۱\۲۸\۲۰۰۸.


# د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په نیته برابرې پایلې

## پلټنې

- د ۱۰۰ وړاندیزونو په ګډون د ۳۹ څېړنو د راپورونو بشپړوالی
- د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې ۷۲ وړاندیزونو وړاندی شوی؛ ۳۵ تړل شوي، د امریکا د متحده ایالاتو د ادارو لخوا
- د ۲۰۱۱ مالي کال په ترڅ کې ۴۰ وړاندیزونو ترسره شوي دي
- 3 د بیاروغونې په اړه د ۳۹ ملیارډ ډالرو په ارزښت د معلوماتو په اړه ۳ عدلې څېړنې رواني دي؛ د USAIDلخوا د ۷،۴ ملیارډ ډالرو په ارزښت ګښتونو چه په ۷۳۲۷۲ معاملو او ۱۲۱۱ پلورونکي پکې شامل دي لومړنی څېړنې بشپړې کړي دي

## پلټنې

- ۱،۷ میلیون ډالر د بچت او تر ۳۳،۵ میلیون ډالره په جریمه، مجازات او بیرته ستونې له لارې په ۲۰۱۱ مالي کال کې ترلاسه شوې دي
- ۷۶ روان تحقیقات
- د ټیلفون په لیګه ۵۷۰ شکایتونه ترلاسه شوي اومربوطه مراجعو ته استول شوي دي
- د ۵ کمپنیانې او ۲۶ کسانو د محرومولو او یا هم د دندو د تعلیق غوښتنه شوې ده



د افغانستان د بیا رغونې لپاره

ځانګړی عمومي پلټونکی

اپریل ۳۰، ۲۰۱۱

زه خوښ یم چې د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅې په هکله خپل لسم درې میاشتنی راپور کانګرس ته وړاندې کړم. دغه راپور د افغانستان دبیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د څارنې د ۲۰۱۱کال د جنوري د ۳۰مه څخه راپدیخوا د فعالیتونو د اسنادو په اړه دي.

کانګرس د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره ۶۹ ملیارډ ډالره ورکړي دي. ولسمشر د ۲۰۱۲ مالی کال لپاره د اضافي ۱۷،۳ ملیارډ ډالرو غوښتنه کړې ده. دغه مرستې د امریکا د هغه هڅو سره مرسته کوي چه غواړي د بیارغونې په برخه کې د ستراتیژی د عملی کولو له لارې په ۲۰۱۴ کال کې افغان امنیتي ځواک ته چارو کنترول وسپاري. په دغه قیمتي او پیچلو هڅو کې د افغان امنیتي ځواک تقویه، د غوره حکومت رامنځ ته کول، او د اوږد مهالي اقتصادی پرمختګ د بنسټ اینودل شامل دي. د دغه مرستو څخه د غوره، پر وخت څارنې د ترسره کولو په موخه، سیګار د څیړنو او تحقیق جدي او څو اړخیزه لاره خپله کړې ده.

مونږ خپل د څیړنې پلانونه داسي سمبال کړي دي چه وکولای شي په قرادادونو او د پروګرامونو په ترڅ کې د فساد، ناوړه ګټه اخیستنه او ضیاع په ګوته او معلومه کړل شي چه پروګرامونه خپل ځانګړي او ټاکلي موخې او اهداف ترلاسه کوي. مونږ د خپلو عدلي څیړنو د دندې په ترسره کولو کې اسانتیاوې رامنځ ته کړې او غوره شوو منابعو ته بیاکتنه کړې ترڅو لولو قراردادونو ته بیاکتنه وکړو او د امریکا د ټیکس ورکونکو لپاره د قناعت وړ پایلو او لاس ته راوړنې ولرو. زمونږ څیړنې همدا ډول د فساد او د خصوصي سکتور پوري اړوندې موضوعګانې چه د کانګرس لپاره ډیر اهمیت لري ته جدي پام اړولی دي.

په دې درو میاشتو کې، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي درې راپورنه خپاره او څلور نوي پیل کړي دي. خپارو شوو څیړنو کې د بیاروغونې په اړه دوو مهمو موضوعاتو ته ډیر پاملرنه شوې ده: د مستقیمو مرستو له لارې د افغان دولت د ظرفیت او وړتیاوو لوړول او د یو وړ افغان ملی اردو او ملی پولیس ځواک جوړول. په راتلونکو څو میاشتو کې به مونږ د امریکا لخوا د بیارغونې په برخه کې چه په هغه کې د خصوي سکتور لخوا ترسره شوې خدمتونه، دعامه وګړو د ژوند د ښوالی او ثابتوالی، د افغانستان د بانکي سکتور او اسعارو د کنترول او د کرهنې د سکتور د پراختیا په ګډون د ترسره شوو مرستو او هڅو په اړه ډیرې څیړنې ترسره او خپرې کړو.

د سیګار یا د افغانستان لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکي اداره اوس مهال د سترو قراردادونو په ترسره کې د فساد او اختلاس په سترو پیښنو غور کوي، چیرې چه مونږ کولای شوو مالیه ورکونکو ته تر ټولو ډیرې پیسې بیرته وروګرځوي. د ۲۰۱۱مالی کال د مارچ تر ۳۱مې پورې زمونږ د تحقیقاتو په نتجه کې ۱،۷ میلیون ډالره سپمول شوې، او ۳۳،۵ میلیون ډالر جریمه او بیرته ترلاسه شوي دي. مونږ په دریمو درو میاشتو کې د برياوو تمه لرو.

راتلونکي درې کاله د امریکا د متحده ایالاتو او د هغوي د ملګرو لپاره ډیر مهم کلونه دي، ځکه پدې موده کې نوموړي هیوادونه افغانانو ته د مسولیت د انتقال په اړه پروګرامونه پلی او تطبیق کوي. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د نوموړو هڅو څخه د غوره او کره څارنې لپاره هوډمن دي. مونږ پیسې تعقیب او وڅارو، مالیه ورکونکو ته یی بیرته ستندنې وڅارو او د هغو کسانو او یا هم ادارو په اړه چه په فساد کې کښکیل دي قضیې چمتو کړو. مونږ همداډول هوډ لرو تر څو د پروګرامونو د ټاکلو موخه د ترلاسه کولو په برخه کې ټوله اړینه مرسته او همکاري ترسره کړو، ترڅو پلي کوونکي اداري وتوانیږي چه په سمه او مناسبه توګه خپلو ټاکلو موخو ته ورسیږي.

زه د کانګرس سره په هغه مورد کې چه غواړي د امریکا د بیارغونې مرستې دې په سمه، ریښتنولي او په هوښیاری سره مصرف شي ګډ کار ته لیواله یم.

په ډیر درناوي

هاربرټ ریچرډسن

د افغانستان د بیارغونې لپاره سرپرست ځانګړي عمومي پلټونکي

# د افغانستان د بیاروغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي فعالیتونه، د ۲۰۱۱ کال دویمې، درې میاشتې

**د افغانستان د بیاروغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغان ملي امنیتي پوځ د شمیر د زیاتولو او د مستقیمې مرستې په وسیله د افغان دولت د ظرفیت لوړولو په اړه د امریکا د مرستو په هکله درې څیړنې بشپړې کړي دي. د افغانستان د بیاروغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د څلور نویو څیړنو د ترسره کولو اعلان وکړ، چه پدې سره د بیارغونې د قراردادنو په اړه د روانو څیړنو شمیر ۱۶ رسیږي. همدا ډول نوموړې اداره د افغانستان د حکومت ته د مسولیت د انتقال اړوند د بیاروغونې په اړه د ۳۹،۶۵ ملیارډ ډالرو د معلوماتو په اړه خپلو عدلي څیړنو ته ادامه ورکوي: د افغانستان د امنیتي ځواک فنډ، د اقتصادي ملاتړ فنډ او د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون د تطبیق حساب.**

د سیګار یا د افغانستان لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکي اداره اوس مهال د سترو قراردادونو په ترسره کې د فساد او اختلاس په سترو پیښو غور کوي، چیري چه مونږ کولای شوو مالیه ورکونکو ته تر ټولو ډیرې پیسې بیرته وروګرځوي. د ۲۰۱۱مالی کال پوري زمونږ د تحقیقاتو په په نتجه کې ۱،۷ میلیون ډالره سپمول شوې، او۳۳،۵ میلیون ډالر جریمه او بیرته ترلاسه شوي دي.

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د امریکا د عدلیې وزارت سره د یو تجربه لرونکي وکیل په ګمارولو خپلې اړیکې او همکاري ټینګه کړې ده او د نوموړي په ګومارنه وکولای شي د فساد د لویو پیښو په اړه قضیې برابره کړي.

## بشپړې شوې څیړنې

د راپور ورکونې په دې موده کې، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړې عمومي پلټونکي د افغانستان د پرسونل د سیستم،د افغان ملي اردو امکاناتو، د افغانستان د ملي یوالي پروګرام په اړه د څیړنو درې راپورونه خپاره کړي دي.

### د افغان کورنیو چارو د وزارت د پرسونل د سیستم په اړه د پرمختګونو سره بیا هم د افغان ملي پولیسو د معاشاتو د ورکړې او د کاري وړتیاوو په اړه لا ډیرو ګامونو ته اړتیا لیدل کیږي

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي دغه څیړنې پدې موخه ترسره کیږي ترڅو د افغانستان د اسلامي جمهوریت وړتیاوې د پرسونل یا کارکوونکو د ادارې په اړه مشخصه کړي او د یو خپلواک او موکلف پولیس ځواک په رامنځ ته کولو کې د دغه دولت اړتیاوې په ګوته کړي. که څه هم د کورنیو چارو وزارت په اوتمات ډول د خپلو بشري منابعو معلومات ذخیره کوي ترڅو د یو حساب ورکونکي افغان ملي پولیس په رامنځ ته کولو کې بریالي شي، اما پدې برسیره بیا هم نوموړی وزارت پدې نه دي بریالی شوي چه د خپلو کارکوونکو کره شمیره په ډاګه کړي، ځکه یا خو پدې اړه اړوندو معلوماتو ته لاس رسی نلري او یا هم د کارکوونکو د شمیر په اړه موجود معلومات تایید کولای نشي.

په څیړنو کې جوته شوه چه د کورنیو چارو وزارت د خپل پرسونل په اړه د څلورو سیستمونو څخه ګټه اخلي او د هغوي د معاشاتو د ورکولو په برخه کې یوازې د یوه سیستم څخه ګټه اخلي. د افغان ملي پولیسو معاشات، امتیازاتو او تخصیصاتو ډیری لګښتونه د نړیوالو ډونرانو لخوا د نړیوالې باوري مرستو له لارې ورکول کیږي. د امریکا متحده ایالات ترټولو لوی مرسته کونکي، چه په یوازې توګه یی ۵۴۵ میلیون ډالر د افغانستان د قانون او نظم د فنډ (LOTFA) سره مرسته کړې ده، چه د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام لخوا تنظیم کیږي.

د افغانستان دبیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د امریکا د سفیر ته وړاندیز کوي ترڅو د افغان ملي پولیسو د معاشاتو، لګښتونو او دLOTFA لخوا د لګښتونو د ځانګړي کولو په اړه لا ډیر ګامونه او اقدامات ترسره کړي.. د افغانستان دبیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي همدا ډول د افغان ملي پولیسو د معاشاتو د سیستم د لا ښوالی په اړه وړاندیز کوي.

### د افغان ملي پولیسو امکانات او اسانتیاوې په هرات او مزار شریف کې په عمومي ډول د رغونې د شرایطو سره برابرې دي، اما د قراردادیانو د کړنو څخه څارنه باید لا تقویه شي

په افغانستان کې د امریکا د بیارغونې ستراتیژي د افغان ملي امنیتی ځواک په هغو وړتیاوو پورې چه په کال ۲۰۱۴ کې د امنیتي چارو مسولیت په غاړه واخلي تړاو لري. نوموړي هدف ته د رسیدلو په لاره کې د افغان ملي اردو او پولیسو لپاره د هستوګنځي د امکاناتو برابرول اړین دي ترڅو هغوي هلته هستوګنه او روزنه ترلاسه کړي.. دغه څیړنه د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا د افغان ملي امنیتي ځواک لپاره د قراردادیانو لخوا د اسانتیاوو د رامنځ ته کولو، لګښتونو، څارنې، او د پایلو په اړه دي.

د افغانستان دبیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته معلومه شوه چه په هرات او مزار شریف کې نوموړې پورژې د ځنډ سره مخامخ او د ترسره کولو لپاره یی اضافي فنډ ورکړل شوي دي، ځکه چه قراردادي مسول د اړوندي پروژې وخت غزولی او د ۵ میلیون ډالرو په ارزښت یی اضافي فنډ ورته منظور کړي دي، دا ټول یوازې په دې علت چه قراردادي و

نکړای شوای چه کار په ټاکلي وخت کې بشپړ او په ټاکلي بودجه کې ترسره کړي. د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي وړانديز وکړ ترڅو پلي کونکي ادارې او اجنسيانې د قراردادونو په اړه خپل د څارنې دندې تقويه کړي.

## د افغانستان د ملي يوالي پروګرام زرګونو افغاني ټولنو ته رسيدلي دي، خو پدې برسيره بيا هم د نګونو سره مخامخ دي چه کولای شي د نومووړي پروګرام پايلې محدودې کړي

په ۲۰۱۰ کال کې نړيوالو ډونرانو تعهد وکړ چه د خپلې ٪۵۰ مرستې به د افغانستان د ملي انکشافي بودجې له لارې سمبال او منظمې کړي. نومووړي هدف ته رسيدل د افغانستان د اسلامی جمهوريت په هغه وړتياوو پورې اړه لري چه کولای شي د مرسته کوونکو مرستې تنظيم او د هغه په اړه حساب ورکړي او که نه.

د افغانستان د ملي يوالي پروګرام چه په کال ۲۰۰۳ کې رامنځ ته شوي يوازنی پروګرام دي چه په مستقيم ډول مرستې ترلاسه کوي. پدې درو مياشتو، د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغان ملي پوليسو څخه د څارنې په وخت کې جوته شوه چه د څارنې د ډيرۍ شمير ميکانيزمو څخه مثبتې پايلې ترلاسه شوي دي خو برسره پردې هم ناامنه سيمو ته د کار غزول دغه پروګرام د لويو ننګونو سره مخامخ کوي. د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د فنډ د بيرته لاس ته راوړلو، د څارنې د قوي کولو، او افغان ملي پوليس خپلو موخو ته د رسيدلو په برخه کې يو شمير وړاندزونه کړي دي.

## نوې پلټنې

د افغانستان د بيارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی کانګرس ته د اخرې راپور د ورکړې نه راپه ديخوا، پنځه نوي مالي پلټنې پيل کړي دی:

- د بيارغونې لپاره د امنيتي خدمتونو وړاندي کونکي چه په لويس برجر ګروپ پورې محدودې او د او د هارټ سکيوريټی (امنيټ) لخوا ترسره کيږي
- د بيارغونې د قرارداد کولو په اړه د افغان لوموړنې ابتکار د تطبيق په اړه بياکتنه
- د USAID هغه مالي څيړنه چه د قراردادونو، د همکارې د هوکړو او د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړو شوو مرستو په اړه بيا کتنه
- NDAA د قرارداديانو د څارنې د تعديلاتو او په افغانستان کې د PSCs

## د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي تحقيقات

د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د ۷۶ د روانې قضيې د خريدارې د فساد او اختلاس په اړه دي. پدې درو مياشتو کې، د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي کړنې د شفافيت د تحقيقاتو د واحد لخوا د يو کوريايی قراردادي د نيولو، د ۲۲ افغانانو د کار کولو د مخ نيوي د وړانديز، او کنړ ولايت کې د پشاد پول په رغونه کې د نيمګړتياوو د ثابتولو سبب شوو او نومووړې پيښې يې په ګوته کړې. په افغانستان کې د امريکا د بيارغونو د مرستو څخه د ناوړه ګټې اخيستې، فساد او اختلاس په اړه ۱۰۶ شکايتونه د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي سره ثبت شوي، چه پدې سره د نومووړې پلټونکي سره د ثبت شوو شکايتونو شميره ۵۷۰ ته رسوي.

## د وړاندي په لور

د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په مياشت کې ښاغلي اوباما د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د افغانستان سره د مرستې په موخه د ۱۷،۳ ميليارډ ډالرو بودجې غوښتنه وکړه. که چيرې نومووړې شمير بودجه منظوره شي، دا د ۲۰۰۲ کال راپديخوا چه امريکا لخوا د طالبانو دولت رانسکور شوو د افغانستان د بيارغونې لپاره په يو کال کې تر ټولو ډيرې ځانګړې شوې پيسې وې.

راتلونکي درې کلونه د امريکا د متحده ايالاتو او د هغه نړيوالو ملګرو ته ډير اهميت لري، پدې موده کې نومووړي هيوادنه افغان امنيتي ځواک د مسوليت د ليږد په موخه د امنيت، غوره حکومتدارۍ او پرمختيا په سکتور کې پروګرامونه پلي کوي. د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د ماليه ورکونکو څخه د ناوړه ګټه اخيستونکو، اختلاس او فساد پر وړاندي يوه هر اړخيزه رويه غوره کړې، ترڅو د امريکا د بيارغونې ستراتيژۍ په مناسبه او غوره توګه ګټه واخلي.




**د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي څيړونکي** په ننګرهار ولايت کې د USAID لخوا د کرهنې په برخه کې پرلاره اچول شوې افغان مسولينو سره وليدل. نومووړې ليدنې د کرهنې په برخه کې د امريکا د مرستو په ترڅ کې ترسره شوو. ( د USDA انځور، ډاکټر شياوچي چينګ)

# د د نيوليک جدول



## لومړۍ برخه
### د سيګار نظارت


3 پلټنې
20 څېړنې
22 د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د شکايتونو د تنظيم او ادارې سيستم
22 د سيګار بوديجه
23 د سيګار کارکوونکي

## دوييمه برخه
### د افغانستان عمومي کتنه


27 کانګرس د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره بودجه ځانګړې کړه
28 کانګرس ESF بند او د افغانستان لپاره د مستقيمې مرستې په اړه شرايط وضع کړل
29 د افغانستان دبيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان لپاره د مستقيمه مرستو په اړه مرسته ترسره کوي
30 کانګرس په ESF او INCLE لخوا د مرستو په اړه اضافي محدوديتونه منظور کړل
31 د انتقال پيل: انتقال
33 د وړاندې په لور




## دريیمه برخه
### د بيا رغونې تازه حال


37 عمومي کتنه
41 د بوديجو حالت
53 امنيت
73 حکومتداري
99 اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

# د د نیولیک جدول



## څلورمه برخه
## د نورو ادارو نظارت


113 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه
122 د نظارت روان فعالیتونه
133 د نورو ادارو څېړني
133 د نورو ادارو معاینې


## ضمیمې او پایلیکونه


136 ضمیمه ا: قانوني شرایطو سره د راپور د حوالو کتنه
142 ضمیمه ب: د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بودیجې
144 ضمیمه ت: د سیګار پلټنې
146 ضمیمه ث: د سیګار څېړنې او د تماس شمېره
147 ضمیمه ج: مخففات او لنډیزونه
150 پایلیکونه

**د زیربنایي پروژو پلټنه**

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکي یا د سیګار پلټونکو د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۱۳ د کابل د نظامي روزنیز مرکز څخه بیاکتنه ترسره کړه. سیګار د روزنیز مرکز د زیربنایي پروژې د مدیرت او پرمختګ د څرنګوالي په اړه پلټنه ترسره کوي. (د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي انځور، وارن انتوني)

# 1 د سیګار نظارت



" د مالیه ورکونکو د ملیاردنو ډالرو ارزونه په بهرنی خاوره کې د پیسو مصرفول یو پیچلای او ستونزمن ماموریت دي. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د نوموړي ماموریت د نوعیت په حساسیت باندي پوهیږي او د پیسو د تعقیب په موخه کارپوه بشري منابع په دندو ګماري ترڅو د مالیه ورکونکو څخه په زیاته کچه بیرته سپما، تحقیقاتي قضیې چمتو او ډاډه شي چه د امریکا متحده ایالاتو پروګرامونه خپلو ټاکلو موخو ته رسیږي."

—هاربرټ ریچرډسن،
د افغانستان د بیارغونې لپاره سرپرست ځانګړي
عمومي پلټونکي

سرچینه: د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکي، د واټرټایم د قرارداد په اړه د کمیسیون په وړاندي حاضر شول، ۴/۲۵/۲۰۱۱.

# د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) څار یا نظارت

د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس د افغانستان دبیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکي د امریکا د مرستو په اړه د مستقلو او اغزمنو څارنې او یا هم د افغانستان د بیارغوې لپاره د چمتو کیدلو په موخه رامنځ ته کړ. د تګ لارې سره سم، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي خپلې څېړنې او تحقیقات ترسره کوي ترڅو (1) په هغه پروګرامونو او عملیاتو کې چه د بیارغونې د مرستو څخه ګټه اخیستل کیږي اقتصاد، موثریت او اغزمنتیا لوړه، او (۲) د پروګرامونو او عملیاتو په ترڅ کې د ناوړې ګټې اخیستنې، فساد او اختلاس مخه ونیول شي.

پدې درو میاشتو کې ، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په لاندې موضوعاتو باندې رڼا اچوي:

- د څېړنو درې راپور خپاره شول
- څلور نوې څېړنې اعلان شوې
- په ۱۲ روانو څېړنو یې خپل کار ته دوام ورکړی دی
- د بیارغونې په اړه د درېیو سترو مرستو چه د ۳۹ ملیارډ ډالرو په ارزښت دي د عدلي بیاکتنې دوام
- ۱۶ نوې تحقیقات پیل او ۴۵ قضیې تړلې دي
- ۱۰۶ شکایتونه پروسس شوې چه په پایله کې د ۳۰ تحقیقاتې ګامونو د اوچتولو په بیه تمام شول
- د نړیوال بانک سره یې پدې موخه تړون لاس لیک کړ تر څو د بیارغونې د پروژه په اړه د فساد، اختلاس پیښې وپیژني او غوره همکارې رامنځ ته شي

## پلټنې

په هغو درو څېړنو کې چه ، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي بشپړې کړې د مستقیمو مرستو له لارې د افغان دولت د ظرفیت لوړولو او د افغان ملي امنیتی ځواک(ANSF) د شمیر د لوړولو په اړه حساسې موضوګانې شاملې وې. همدا ډول ، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د پروګرامونو او قراردادونو په اړه څلور نوې څېړنې په لاره اچولې، او د ۲۰۱۲ مالي کال د ملي دفاع د صلاحیتونو د قانون(NDAA, P.L. 111-383) پر اساس د قراردادیانو د څارنې د تګ لارې په اړه بیاکتنه پیل کړې ده:

- د خصوصي امنیتي خدمتونه چه د هارټ سکیوریټي لمیټډ لخوا لویس برجر ګروپ ته ورانډی شوي دي.
- د قرارداد کولو په اړه د افغان لومړني ابتکار تطبیق
- د USAID مالي پلټنې د افغانستان د بیارغونې لپاره قراردادنه، د همکارې هوکړه لیکونه او مرستي تر پوښښ لاندې راوستې
- NDAA د قراردادیانو او په افغانستان کې د خصوصي امنیتي کمپنیانو په اړه د بیاکتنې(څار) اجازه ورکړې

### بشپړې شوې پلټنې

- ۱۱-۸ پلټنه: افغان ملي پیوستون پروګرام (حکمتداري او اقتصادي پرمختګ)
- ۱۱-۹ پلټنه: په مزار او هرات کې د افغان ملي اردو لپاره د ځای د اسانتیاو برابرول (امنیت/ افغان ملي امنیتي پوځ د رغونې قرارداد)
- ۱۱-۱۰ پلټنه: د افغانستان د ملي پولیسو او کورنیو چارو د وزارت د معاشاتو او کارکونکو لیست" پې رول" (امنیت/ افغان ملي پولیس)

### نوې پلټنې

- د افغان لومړنی ابتکار
- د USAID د مالي څېړنو لګښتونه تر پوښښ لاندې راولې
- د NDAA په مشرې په افغانستان کې د قراردادیانو او خصوصي امنیتي کمپنیانو په اړه څارنه
- د خصوصي امنیتي خدمتونو قرارداد

### رواني پلټنې

**قرارداد**

- په کابل کې د ټولنې د پراختیا په اړه د پاملرنې د نړیوالي موسسې سره د USAID همکارې د هوکړې په اړه بیاکتنه
- د محلي حکومتدارې او د ټولنې د پرمختیا لپاره د USAID قراردادونه
- په کابل نظامي روزنیز مرکز کې زیربنایي پروژې
- په افغان ملي امنیتي پوهنتون رغونه
- د ګلوبل ستراتیژیز ګروپ لخوا خصوصي امنیتي خدمتونه.

**د بیارغونې پروګرامونه او عملیات**

- د افغان ملي امنیتي پوځ د موټرونو په اړه حساب ورکونه
- د سترو جرمونو پر وړاندې د ځواک ورتیاوې
- د بانکي سکټور پرمختیا
- د کرهنې د سکټور پرمختیا
- د قراردادیانو لپاره د دفاع اساسي بیمې پروګرام قانون
- په افغانستان کې د ملکي وګړو د ژوند د سطحې لوړول لګښت
- د ARTF سره د امریکا د متحده ایالاتو لخوا ورکړل شوې مرستې

### عدلي پلټنې

- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات
- د بیارغونې په اړه د USAID د معاملاتو په اړه معلومات
- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات

## بشپړې شوې پلټنې

- ۱۱-۸ پلټنه: د افغانستان د ملي پيوستون پروګرام د افغانستان زرګونو ټولنو ته رسيدلی، خو پدې برسيره بيا هم د ننګونو سره مخامخ دي چه کولای شي د نوموړي پروګرام څخه ترلاسه شوې پايلې محدودې کړي
- ۱۱-۹ پلټنه: په هرات او مزار شريف کې د افغان ملي اردو لپاره ودان شوي اسانتياوې په عمومي ډول د شرايطو سره سم ترسره شوي خو بيا هم بايد د څارنې چارې لا هم تقويه کړل شي
- ۱۱-۱۰ پلټنه: د افغان دولت د کورنيو چارو وزارت د معاشاتو او کارکوونکو (پې رول) په برخه کې د پرمختګونو برسيره بايد لا زيات ګامونه واخيستل شي ترڅو د افغان ملي اردو د پې رول د لګښتونو او د کاري وړتياوې تصديق کړل شيپ

## د پلټنو بشپړ شوي راپورونه

پدې درو مياشتو يا ربعو کې ، د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان د ملي پيوستون پروګرام په اړه چه د افغانستان د ټولنو د پراختيا په برخه کې در ټولو مهم رول لري پلټنې په لاره اچولې، نوموړي پروګرام په مستقم ډول د امريکا د متحده ايالاتو او د نړيوالو ډونرانو لخوا مرستې ترلاسه او په کليو کې د پروژو ترسره او د ځايی حکومت د تقويې په برخه کې کار کوي. همدا ډول ، د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي پدې ربع کې د امنيت د سکتور په اړه هم د پلټنو دوه راپورونه خپاره کړل: يو د هغو راپورونه د افغان ملي پوليسو د پرسونل د اداري سيستم سره د مرستې په اړه وو، او بل په هرات او مزار شريف کې د افغان ملي اردو لپاره د جوړ شوو تعمير د اسانتياو د لګښت په اړه دي.

### پلټنه 8پ11-: حکومتي او اقتصادي پرمختګ

**د افغانستان د ملي يوالي پروګرام زرګونو افغاني ټولنو ته رسيدلي دي، خو پدې برسيره بيا هم د نګونو سره مخامخ دي چه کولای شي د نوموړې پروګرام پايلې محدودې کړي**

په ۲۰۱۰ کال کې نړيوالو ډونرانو تعهد وکړ چه د خپلې ۵۰٪ مرستې به د افغانستان د ملي انکشافي بودجې له لارې سمبال او منظمې کړي. د نوموړي هدف ته رسيدل د افغان دولت په هغو وړتياو پوري اړه لري چه دغه هيواد به وکولای شي چه د نړيوالو مرستې په سمه توګه تنظيم او د هغه په اړه حساب ورکړي. د ملي پيوستون پروګرام په ۲۰۰۳ کال کې تاسيس شو؛ نوموړي پروګرام د افغانستان لومړنی پروګرام دي چه په مستقيم ډول مرستې ترلاسه کوي. نوموړي پروګرام د کليو او پراختيا د وزارت لخوا پرمخ وړل کيږي، نوموړي پروګرام د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې د ۳۹۸ ولسواليو څخه په ۳۵۱ ولسواليو کې پروژو په ترسره کولو کې مرسته کړې ده.

د نوموړي پروګرام لومړنی موخه د ټولنې د پرمختيايي شوراګانو د غوراوي له لارې د غوره ځايي حکومت رامنځ ته کول او د نوموړو شوراګانو CDCs ته روزنه ترڅوهغه وړې پروژې کمکي مرستو څخه تمويليږي تنظيم او اداره کړي. د ملي پيوستون پروګرام د نړيوالو او محلي غير دولتي سازمانونو سره- چه د تسهيل کوونکو همکارانو- په نامه ياديږي قراردادونه ترسره کوي، ترڅو هغوي په ټاکلو ولسواليو کې د ټولنو د تحرک او د پرمختيايي فعاليتونو د پرمخ وړلو لپاره کار وکړي. د ملي پيوستون د لارښونو سره سم، ځايي ټولنې بايد د پروژه ۱۰٪ لګښت په غاړه واخلي، دغه فيصدي کيدای شي د نقدو پيسو، د کارګرانو او يا هم د مساعدت له لارې ترسره شي.

**اهداف**

د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي دا پلټنه څکه پيل کړه چه د امريکا يو لومړيتوب د قراردادونو، قرضونو او د همکاري د هوکړو په نسبت د افغانستان د ملي بودجه سره د همکاري له لارې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وړتياوو او ظرفيت لوړ دي. پلټنو د راپور ورکونې څلور مهم اهداف درلودل:

- د افغان ملي پيوستون سره د امريکا او نورو مرسته کوونکو د مساعدت اومرستې د کچې ارزونه
- د مرسته شوو د نظارت او داخلی څارنې سره مرسته او کمک کول.
- معلوم کړي چه د ملي پيوستون پروګرام خپلو ټاکلو موخو ته رسيږي او که څنګه.
- څرنګه چه ملي پيوستون پروګرام خپله دريمه مرحله پيل کوي نو پدې ترڅ کې د مهمو ننګونو په ګوته کول.

**موندنې**

1. د افغانستان د ملي پيوستون د پروګرام سره امريکا تر ټولو لوی مرسته کوونکي هيواد دي، چه د ۱،۵ مليارډ ډالرو چه د ۲۰۰۳ ميلادي کال څخه راپدې خوا چه نړيوالې ټولنې ورکړي ۵۲۸ ميليون ډالره يې يوازې امريکا ورکړي دي. د نوموړي پروګرام سره ډيری مرستې د افغانستان د بيارغونې لپاره د څو

اړخیزو مرستو(ARTF) لخوا ترسره شوي دي، چه د نړیوال بانک لخوا پر مخ وړل کیږي. د امریکا لخوا د ARTF سره ترسره شوې مرستې د اقتصادي ملاتړ د فنډ له لارې چه د امریکا د پرمختیایی پروګرام یا USAID او د نړیوال بانګ سره د تفاهم په ترڅ کې ورکول کیږي. د افغانستان د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت د ملي پیوستون پروګرام په مرحله وار شکل پلي کوي. دریمه مرحله به د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کې پیل او د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر در میاشتې به دوام وکړي. د ټولو یعني دریو مرحلو سره د ټولې نړیوالې مرستې ۲،۷ ملیارډ ډالرو ته رسیږي.

2. نړیوال بانګ، د افغانستان اسلامي جمهوریت او هغه ټولنې چه د دغه پروژو څخه ګټه اخلي ټول په ګډه د نوموړو پروژو څخه د څارنې مسولیت پر غاړه لري. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته ثابته شوه چه اوسني ځای په ځای شوو کنترول کونکي سیستمونه د قناعت وړ تضمین وړاندی کړل چه د دې امر ښکارندوی کوي چه نوموړي پروګرامونه د اټکل سره سم پرمخ ځي. که څه هم، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت او د ملي پیوستون پروګرام راپور ورکړ چه په یوه پیښه کې یو صراف و نه توانید چه د یوې پروژې لپاره په یو ولایت کې ۲،۸ میلیون ډالره حواله کړي. د کلیود بیا رغونې او پراختیا وزارت، د ملي پیوستون پروګرام او نړیوال بانک د یادې شوې موضوع د حل په موخه اقدامات ترسره کړي خو نوموړې قضیه لا هم نه د حل شوې.

3. نړیوال بانک د ملي پیوستون د داخلي کنترول او څار په موخه پراخ میکانیزمونه رامنځ ته کړي دي، چه د افغانستان د بیارغونې لپاره د څو اړخیزو مرستو(ARTF) لخوا تمویلیږي. د نړیوال بانک څخه د مرستو ترلاسه کولو په ترڅ کې د یو شرط په توګه د افغانستان اسلامي جمهوریت منلې ده چه په وقفه یی ډول به د افغانستان د بیارغونې لپاره د څو اړخیزو مرستو(ARTF) لخوا د مرستو د کارونې څخه څارنه او کتنه کوي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د څو اړخیزو مرستو(ARTF) لخوا د مرستو کونکو یوه کمیټه د دې امر څارنه کوي چه ایا د افغانستان دولت د ملي پیوستون لپاره ځانګړې شوې پیسې د ټاکلو موخو په لاره کې کاروي او که څنګه، او د ARTF کمیټه د اړوندو موضوعاتو په اړه د بحث لپاره منظمې کتنې ترسره کوي، په دې موضوعاتو کې د ملي پیوستون د پروګرام په اړه ستونزې هم شاملې دي. همدا ډول نړیوال بانک په وقفه یی ډول د دندو څخه څارنه او لیدنه ترسره کوي ترڅو د ملي پیوستون سره د ټاکلو موخو ته د رسیدلو په لاره کې مرسته او همکاري وکړي.

4. د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د نړیوال بانک ترمنځ د قرارداد په اساس باید د کلیو دبیارغونې او پراختیا وزارت د نوموړي پروګرام ارزونه وکړي، د هرې ربع راپور ورکړي، او یقیني کړي چه د مالي چارو د تنظیم مسولین د مالي لګښتونو په اړه په هر دریو میاشتو کې راپور ورکړي او د هغه په اړه په کلني ډول پلټنې ترسره شي. د افغان دولت او نړیوال بانک ترمنځ د ترسره شوي قرارداد په اساس باید د افغانستان د کنترول او پلټنې اداره (CAO) په کلني ډول د ملي پیوستون د مالي لګونو او راپورونو په اړه تحقیقات او څیړنې ترسره کړي. لکه څرنګه چه د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په پخوانیو څیړنو کې هم راغلي وو، د افغانستان د کنترول او څار پدې موخه چه خپلې پلټنې په نړیوالو معیارونو ترسره کړي د نړیوالو سلاکارانو او مشاورینو څخه مرسته ترلاسه کوي. په ۲۰۰۳ کال کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د نړیوالو سلاکارانو سره د قرارداد په ترسره کولو سره د ملي پیوستون پروګرام منظم او چمتو کړ. د ۲۰۰۶ کال راپدیخوا د ملي پیوستون مسولیت افغانانو ته د انتقال لړۍ پیل کړې ده، افغانان به د نوموړي پروګرام اصلي موقفونه ترلاسه کړي. دا پداسې حال کې ده چه د نوموړي پروګرام کارکونکي قراردادیان دي نه ملکي عامه کارکوونکي، او معاشونه یی هم د عامه دولتي کارکونکو په نسبت پنځه ځله زیات دي. د هغوی معاشونو په بشپړه توګه د مرسته کونکو لخوا ورکول کیږي. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په پرلپسې ډول هڅه کوي چه د ملي پیوستون مالي چارې د نړیوالو معیارونو سره سم او برابر کړي.

5. ځایی وګړو د دوی په ټولنو کې د ترسره شوو پروژو په اړه د ملي پیوستون د دندو څخه څارنه درسره کړې ده. د عامه اعلانونو له لارې د ملي پیوستون د پروژو او د هغه لپاره د ځانګړو شوو مرستو په اړه اعلانونه

کیږي. کله چه په سیمه کې پروژه بشپړه شي، د همغه ټولنې غړي د تسهیل کونکو په مرسته او همکاري د یاد شوو پروژو په اړه څیړنې ترسره کوي، د پروژې د کتو په اړه نورو وګړو ته معلومات ورکوي، او د ټولنې د شورا غړي د لګښتونو په اړه مسول ګڼي.

6. که څه هم ملي پیوستون د خپلو لیدونو او ټاکلو موخو ته د رسیدلو په لړ کې د قناعت وړ چارې پرمخ وړي دي، اما د یو ابتدایی هدف په اړه یعنې – د ځایی حکومتداري ښوالي دي د معلوماتو د راټولو په برخه کې د نیمګړتیاو سره مخامخ دي. په منظم ډول د دې برخې د ښوالي د ارزونې پرته ډیره سخته ده چه معلومه شي ملي پیوستون پروګرام دغه موخې ته رسیدلای شي او که څنګه. همداډول ، د ټولنو پرمختیایی ټولنې راتلونکې چه د ملي پیوستون پروګرام هغه د ځایی حکومتې اداري پادوې نامعلوم او نا مشخص دې. د افغانستان اساسي قانون د کلیو د شوراګانو اجازه ورکوي. که څه هم د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د مالیې وزارت او نړیوال مرسته کونکې د ټولنې د پراختیایی شوراګانو ارتقاع د کلیو شوراګانو سره موافق دي، خو د افغانستان د محلي اورګانو اداره د نوې حکومتې پالیسی دټولنې د پراختیایی شوراګانو د کلیو شوراګانو ته د ارتقاع پیش بیني کړې. د ۲۰۱۰ کال د محلي حکومتې پالیسی پر اساس باید په ۲۰۱۱ کال کې د کلیو د شوراګانو لپاره ټاکنې ترسره شي.

7. د دریمې مرحله د پیل سره سم، د ملي پیوستون پروګرام د یو شمیر ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي. پدې کې یو شمیر هغه ستونزې دي چه ډیرې وخت ترسترګو کیږي او هغه د ټولنو پرمختیایی شوراګانو ته په وخت پیسې نه ورکول دي، او همدا ډول قراردادیانو ته د خپلو ترسره شوو کار لپاره د پیسو نه ورکول دي. د افغانستان نا امنه سیمو ته د ټولنو پرمختیایی شورا غزول کیدل د هغه څخه د څارنې او تطبیق په وړاندې نورې ستونزې رامنځ ته کوي. د ملي پیوستون پروګرام "د ناامنه سیمو ستراتیژی" د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د ملي پیوستون پروګرام، د ټولنو د پرمختیا د شوراګانو ټاکنې، د ښځو ګډون، انجنیري بیاکتنه، او د سټ د منل شوو مرستو د انتقال په ګډون د تطبیق امکانات او د انعطاف پذیري رامنځ ته شوې ده. ممکنه ده چه په ناامنه سیمو کې د کړنو او د پروګرام څخه د څارنې چارې را کمې شي. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د لیږ امنیت لرونکو سیمو ته د ملي پیوستون د پروګرام د غزولو په اړه چه کولای شي اټکل شوې ته د رسیدنې په اړه تشویش لري.

**وړاندیزونه**

د هغه ځایه چه د امریکا دولت پدې ته سترګې په لار دي چه د افغانستان د دولت سره مستقیمې مرستې زیاتې کړي، د ملي پیوستون باندې باور درلودل ډیر اهمیت لري. د ملي پیوستون لپاره په پام کې مرستې کولای شي د امریکا او نورو نړیوالو مرستو کونکو لپاره د نومورې پروګرام سره دغه مرستې د افغان دولت سره د مستقیمې مرستو یوه امتحاني مرحلې ټ توګه وپیژندل شي. که څه هم نومورې پروګرام د افغانستان په نسبتاً با امنه سیمو کې د ځایی حکومتداري په اړه زرګونو ټولنو ته روزنه ورکړې او پراختیایی موندلې، اما دا لا معلومه نده چه نومورې پروګرام به په نا امنه سیمو کې څرنګه فعالیت وکړي او څه لاس ته راوړنې به ولري. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د فنډ د بیرته لاس ته راوړلو، د څارنې د قوي کولو، او افغان ملي پولیس خپلو موخو ته د رسیدلو په برخه کې یو شمیر وړاندزونه کړي دي.

په پکتیکا ولایت کې د ملي پیوستون د پروګرام لپاره ځانګړي شوې ۲،۸ میلیون ډالره او د ۸۴۶۴۸ نه ورکړل شوې پیسې د صراف لخوا بیرته ترلاسه کولو په موخه د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر ته لاندې وړاندیزونه کوي:

- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دې ته وهڅوي ترڅو نومورې پیسې د یادشوي صراف څخه ترلاسه او هغه د ملي پیوستون د یوه پروګرام لپاره ځانګړي او ولګوي او یا هم هغه پیسې بیرته ARTF ته ستندې کړي.

د مرستو څخه د څار او حساب ورکونې د داخلې کنترول د لا ښوالي او په راتلونکې کې د ننګونو د هغه اغیزو

د تاثیر د کمولو لپاره چه په پلټونو کې جوتې شوي دي، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د امریکا سفیرته وړاندیز وکړ ترڅو افغان دولت، د ملي پیوستون پروګرام، د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزات او نړیوال بانک د لاندي ګامونو د ترسره کولو ته وهڅوي:

- Sد پروګرام لپاره اوسنی د ارزوني او څارني سیستم لا نور هم تقویه کړي، د داخلي څار او ارزوني د راپور ورکولو سطحه نور هم لوړه کړي، تر څو د ځایی حکومتداري کې ترلاسه شوې پرمختیاوې ، او د ملي پیوستون د کړنه له کبله د ځایی ټولنو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت ترمنځ د خلاوې په ګوته کړي.
- د ملي پیوستون لخوا رامنځ ته شوې د ټولنو پرمختیایی شوارګانو په اړه د افغان دولت وروستی پریکړه چه ایا باید نوموړي شوراګاني د کلیو شوراګانه ته تغیر ومومي او که څنګه.
- د ټولنو پرمختیایی شورا لپاره د ځانګړې شوې پیسې په منظمه توګه او په ټاکلي وخت کې د لیږدوني په اړه ټول اړین ګامونه اوچت کړل شي- په ځانګړي توګه په هغه موده کې چه نوموړي پروګرام پروژې پلي او تطبیق کوي.
- قراردادیانو ته د ملي پیوستون د مقرراتو سره سم د پیسو ورکولو تګ لاري قوي او مشخصې کړي.
- په ناامنه سیمو کې د ملي پیوستون د پروژو د پلټوب څخه په کلکه څارنه او معلومه کړل شي چه ایا په دغه ناامنه سیمو کې پیسې ورکیږي او یا هم پروژې خپلو ټاکل شوو موخو ته په رسیدلو کې پاتې راځي او که څنګه.

**د اداري نظر او تبصره**

د امریکا سفارت په عمومي ډول د دغه راپور د موندنو سره موافق دي. سفارت ته معلومه شوه چه د ملي پیوستون د حکومتداري په برخه کې د څارني د تقویې په اړه ګامونه اخیستل شوي دي، او افغان دولت د ټولني پرمختیایی شوارګانو د کلیو د شوراګانو په توګه د پیژندني په برخه کې ګامونه اخیستي دي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د نوموړو ګامونو سره موافق دي او باور لري که چیري دغه ګامونه عملي شی په حقیقت کې د د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي وړاندیزونه عملي او پلي شوي دي.

Tنړیوال بانک د راپور د موندنو سره موافق دي او په عین وخت کې یی دا هم ویلي دي چه په ۱۳۸۹ شمسي کال چه د ۲۰۱۰ کال د مارچ څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتي سره سمون لري د پیسو او مرستو په لیږد او انتقال کې هیڅ ډول ځنډ نه دي رامنځ ته شوی. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي دا مني چه د پیسو په لیږد او ورکولو که ښوالي راغلي او ډیری مرستي په ټاکلي وخت او غوره بڼه لیږدول کیګي. د یادولو ده چه د افغانستان د مرکزي بانک ( د افغانستان بانک) په ځینو سیمیزو څانګه کې د نقدي مرستو د نشتون ستونزه لا هم پر ځاې ده او نه ده حل شوې.

## پلټنه 11-9: امنیت/ د افغان ملي امنیتي پوځ د رغوني قرارداد

**د افغان ملي پولیسو امکانات او اسانتیاوې په هرات او مزار شریف کې په عمومي ډول د رغوني د شرایطو سره برابرې دي، اما د قراردادیانو د کړنو څخه څارنه باید لا تقویه شي**

په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو د بیارغوني ستراتیژي په دې پورې تړلي ده چه افغان امنیتي ځواکونه به وکولای شي په ۲۰۱۴ کال کې د امنیتي چارو مسولیت پر غاړه واخلي.د افغان امنیتی پوځ د روغوني یوه مهمه برخه نوموړي پوځ لپاره د میشت سیمو او اسانتیاوو برابرول دي. Tدغه راپور د هغو څیړنو او پلټنو یو دي چه د افغان امنیتي پوځ لپاره د اسانتیاوو د برابرولو د لګښت، څار او پایلو په اړه ترسره شوي دي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د پخوانیو پلټنو پر اساس د افغان ملي امنیتي پوځ لپاره د اسانیتاوو په برابرولو کې هم تر ټاکلي کچې زیات مصرف او تر ټاکلي مودې د پروژې ناوختـه تکمیل د دقیق څار نشتون له کبله وو. دغه پلټني هم ورته پایلي وموندلي چه په یوه پیښي یی د یوې پروژې لپاره د اضافي ۵ میلیون ډالرو منظوري ده.

په ۲۰۰۸ کال کې، د امنیت د انتقال ګډ قومنداني- افغانستان (CSTC-A) ته د انجینري او چاپیریال لپاره د هوايی ځواک (AFCEE) لخوا په مزار کې د شاهین په کمپ او په هرات ولایت کې د ظفر په کمپ کې د افغان ملي اردو لپاره دوي اضافي اسانتیاوې رامنځ ته کېږي. AFCEE د نوموړو قراردادونو څخه دوه دلګښت او ثابت فیس سره قرارداد چه ۴۲،۳ میلیون ډالره ارزښت لري CH2M هیل قراردادیانو ته او یو AMEC ځمکې او چاپیریال شرکت ته ورکړي دي، Inc (AMEC).

**اهداف**

دغه پلټني راپور دري موخي درلودلې:

- AMEC او CH2M ته د قراردادونو د ورکړې د څرنګوالي معلومول او د AFCEE لخوا د پروژې څخه د څار د نوعیت او مناسبوالی په اړه مرسته او همکاري.
- معلوم کړو چه په هرات او مزارشریف کې رغوني د غوښتل شوو معیارونو سره سم ترسره شوي.
- د هڅو ارزونه د امکاناتو د بقا او د پایښت په موخه.

**موندني**

1. د مزار شریف او هرات د پروژو لګښت د ټاکل شوي کچې زیات او د ټاکلي موده څخه په زیات وخت کې ترسره شوي ده. د مزار شریف د پروژې لګښت د ۱۷ میلیونو څخه ۲۳،۲ میلیون ډالرو ته اوچت شوی دي. د ۲۰۱۱ کال د فبروري تر میاشتي، او د اصلي شرایطو سره د مختلف بدلونونو پر اساس د ټاکلي وخت څخه ۲۰ میاشتي وروسته ترسره شوې، د عامه کټو د لوړولو په ګډون. د رغوني پکار کې په ابتدایی ډول ځنډ ځکه رامنځ ته شو چه نوموړي شرکت هغه دوه جنراتوران چه د عامه کټو د لوړولو برخه ګڼل کیږي په ترلاسه کولو کې د ستونځې سره مخامخ شو. په هرات ولایت کې د شرایط سره د زیات شمیر بدلونونو او نه سمون له کبله د پروژې لګښت د ۱۱،۶ میلیون ډالرو څخه ۱۹ میلیون ډالرو ته اوچت شو او پروژه تر خپل ټاکلي وخت نهه میاشتي وځنډیدله. د هرات په پروژه کې د ۷،۴ میلیون ډالرو اضافي لګښت او د پروژې په تکمیل کې ځنډ د قراردادي د خراب کار له عمله رامنځ ته شوي وو. د ناسم کار د معلومیدلو وروسته هم قرارداد کونکي مسول د قراردادي لخوا د اصلاحي ګامونو څخه کتنه نه ده ترسره کړې او هغه یی نه دي تعقیب کړي. د AFCEE مسول د هرات د پروژې لپاره د اضافي وخت او د ۵ میلیون نورو ډالرو منظوري ورکړې ده، دا پداسي حال کي ده چه نوموړي مسول پدې ښه خبر وو چه قراردادي د خپل کار په ټاکلي وخت کې د خلاصولو او د وړاندي هوکړه شوې بودیجه سره سم د تکمیل کولو په برخه کې ډیري ستونزې لري. برسیره پردې، د AFCEE مسؤل د رغوني د قرارداد د ملاتړ د سیستم سره سم، د امریکا د قرارداد کونکو اداري هیڅ مسؤل ته پدې اړه هیڅ ډول معلومات نه دي ورکړي.
2. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته معلومه شوه چه په دواړه ولایتونو کې ترسره شوې پروژه د معیارونو سره سم رغول شوې دي. د بیلګه په توګه، هغه تعمیر چه د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په هرات کې ولید، هم د ننه او هم د بهر لخوا سم رغول شوي دي، کړکی او دروازې په سمه توګه کار کاوه، او د اوبو رسول او برق سیستم یی په سمه توګه کار کاوه او فعال ول. دا پداسي حال کي ده چه د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي یو شمیر وړې نیمګړتیاوې په ګوته کړې، د بیلګې په توګه، غیر متناسبه درجبندي، چه کیدلای شي د تعمیر د څخیدلو سبب وګرځي.
3. که څه هم AFCEE او CSTC-A په مزار شریف کې د رغول شوي اسانتاوو د پایښت په اړه ګامونه اوچت کړي خو نوموړی ګامونه په مناسب وخت کې نه دي ترسره شوي. لومړي دا چه AFCEE برسیره پر دي چه د پروژې ډیری کار بشپړ شوي وو خو بیا یی هم هغه د CSTC-A د عملیاتو او قرارداد د ثبات ترپوښښ لاندي نه وو راوستلي. دویمه دا چه که څه هم CSTC-A خپل "جدي" او یا هم د " افغانانو دوستانه" ودانیز معیارونه پورته کړي وو او د دغه معیاورنو ته د بیاکتني په برخه کې د مهم ګډو همکارونو د نظر د اخیستلو لپاره یی یو میکانیزم هم رامنځ ته کړي وو، خو دغه نوي او تازه معلومات قراردادیانو ته

د مزار شریف او هرات په ولایت کې د پروژې د تکمیل په وخت کې په اختیار کې نه وو ورکړل شوي.

**وړاندیزونه**

د هغه ځایه چه امریکا افغان ملي اردو ته د امنیت—د خوندي کولو مسؤلیت ورسپاري- چه نوموړي کار د تروریزم پر وړاندي مبارزه کې یو مهم گام گڼل کیږي- د افغان ملي اردو لپاره د غوره رغول شوو ودانیو او اسانتیاوو اړتیا او اهمیت ډیریږي. د قراردادي د څار د تقویې په موخه، او د دې لپاره چه امریکایی قرارداد کونکې اداري د قراردادي د کړنو په اړه دقیق معلومات ولري. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانگړي عمومي پلټونکي د AFCEE مشر ته دوه وړاندیزونه وکړل:

- داسي تگ لاري رامنځ او عملي کړي چه یقیني کړي قرارداد کونکي امر د قراردادي لخوا په مناسب وخت او طریقه باندي د اوچت شوو گامونه تعقیب کړي.
- په هرات ولایت کې د لومړني قراردادي د کړونو په اړه د رغوني د قراردادي د ملاتړ سیستم سر سم یو راپور ثبت کړي.

**د اداري نظر او تبصره**

د دې راپور په غیرنهایی طرحه باندي د نظر ورکولو په ترڅ کې AFCEE وویل چه دوی د قراردادیانو لپاره د پروژو د تکمیل لپاره کره وخت وټاکي او همداډول به د قرارداد کونکي امر څخه هم وغواړي چه د ستونزي د رامنځ ته کیدو په حالت کې هغه تعقیب کړي. زمونږ د دویم وړاندیز په ځواب کې AFCEE وویل چه هغه په هرات ولایت کې د مربوطه قراردادي په وړاندي په CCASS کې د ارزوني یا درجه بندي دوسیه ثبت کړې ده.

## پلټنه 11-10: امنیت/افغان ملي پولیس

***د افغان کورنیو چارو د وزارت د پرسونل د سیستم په اړه د پرمختگونو سره بیا هم د افغان ملي پولیسو د معاشاتو د ورکړې او د کاري وړتیاوو په اړه لا ډیرو گامونو ته اړتیا لیدل کیږي***

د افغان ملي پولیسو پرامختیا او پراختیا چه د افغان ملکي وگړو د خوندیتوب او د قانون د حاکمیت لپاره اړین دي د امریکا د متحده ایالاتو لپاره یو د لومړیتوبونو څخه گڼل کیږي. د فعلي پلان پر اساس باید د افغان ملي پولیسو شمیر د ۲۰۱۱ کال د اوکتوبر تر میاشتي پوري ۱۳۴۰۰۰ ته ورسیږي. د افغانستان اسلامي جمهوریت نشواي کولای د افغان ملي پولیسو معاشونو ورکړي ځکه خو نړیوالي ټولني د قانون او نظم باروي فنډ (LOTFA) په کال ۲۰۰۳ کې رامنځ ته کړ ترڅو د افغان ملي پولیسو لگښتونه پر غاړه واخلي. د هغه وخت څخه راپدیخوا د امریکا متحده ایالاتو او نړیوالي ټولني د افغان ملي پولیسو د گمارني د لگښتونو، معاشاتو، امتیازاتو او تخصیصاتو لپاره ۱،۵ ملیارډ ډالره د LOTFA له لاري د دغه هیواد سره مرسته کړي ده. د امریکا متحده ایالتونو د LOTFA سره ۵۴۵ میلیون ډالره مرسته کړي چه د ملگرو ملتونو د پرمختیایی ادراې یا UNDP تنظیږي.

د افغان ملي پولیسو حفظ د افغانستان د اسلامي جمهوریت په هغه وړتیاوو او توان پوري اړه لري چه نوموړي دولت کولای شي د افغان ملي پولیسو د پروسونل د تنظیم او د هغوي د حساب ورکوني چاري په سمه توگه سمبال او د هغه لپاره مناسب او کره سیستمونه پلي او غوره کړي. افغان ملي پولیس د کورنیو چارو د وزارت تر رهبري خپلي دندي پرمخ وړي. د امریکا متحده ایالات، نړیوال ټولنه او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د افغان دولت د کورنیو چارو د هغه هڅو چه وکولای شي د خپل پرسونل، د هغوي د معاشاتو او لگښتونو په اړه یو کره او دقیق سیستم ته لاس رسی ولري ملاتړ کوي.

**اهداف**

د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانگړي عمومي پلټونکي دا پلټنه ځکه په لاره واچلوه ترڅو معلومه کړي چه افغان دولت کارکونکو د تنظیم په اړه کوم سیستمونه لري او د یو مستقل او حساب دهي پولیس د رامنځ ته کولو لپاره کومه اړتیاو ته ضرورت لري. د پلټني دغه راپور درې موخې درلودلې:

- معلومه کړي چه د کورنيو چارو وزارت سيستمونه د افغان ملي پوليسو د کړنو په اړه کره او دقيق دي.
- معلوممه کړي چه د کورنيو چارو د معاشاتو سيستم د افغان ملي پوليسو د معاشاتو د سمبالولو لپاره د LOTFA لخوا د لګولو شوو پيسو په ګډون په مناسبه او سمه توګه عيار او ځاي په ځاي شوي دي.
- معلومه کړي چه د معاشاتو لپاره غوره شوې سيستمونه به افغان ملي پوليسو اړتياوې پوره او په راتلونکي که ثابتي وي او که څنګه.

**موندني**

1. د افغانستان د کورنيو چارو وزارت د افغان ملي پوليسو د پرسونل په اړه د راپور ورکوني لپاره د څلورو خو د افغان ملي پوليسو د معاشتو په اړه يوازي د يوه سيستم څخه ګټه اخلي. که څه هم د کورنيو چارو وزارت د خپلو بشري منابعو معلومات الکترونيکي کوي او د افغان ملي پوليسو د حساب ورکوني په اړه يې پرمختګونه ترلاسه کړي، خو تراوسه يې د خپلو ټولو کارکونکو دقيقه شميره څکه نده په ټاګه کړي چه نوموړي وزارت د کارکونکو په اړه بيلابيل معلومات نشي راټولولای او يا يې هم نشي تصديق کولای. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر تر ۳۰ مي نيټي پوري د مختلفو معلوماتي سيستمونو او ډيټابيسونو پر اساس د افغان ملي پوليسو شميره د ۱۱۷۷۴ څخه بيا تر ۱۲۵۲۱۸ پوري اټکل شوې وه، افغان ملي پوليسو په اړه د کورنيو چارو د وزارت ابتدايي معلوماتي سيستم کي د کارکوونکو، بيوميتريک، پيژندګلوي د کارډ، او د ثبتوني د معلوماتو په اړه معلومات موجود دي، د يادولو ده چه دغه معلوماتي سيسمونه په غير مرکزي ډول کار کوي. برسيره پر دې په ريکارډ کي داسي معلومات هم شته چه هغه مکمل ندي، تصديق، او تطبيق شوي نه دي.
2. د ۲۰۰۲ کال راپديخوا د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري د افغان ملي پوليسو د معاشونو او نورو لګښتونو لپاره د LOTFA له لارې تقريباً ۱،۲۶ مليارډ ډالره لګولي دي. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر تر مياشتي پوري د افغان ملي پوليسو په سولو که ۲۱ ته معاشونه د نقدو پيسو له لارې ورکول کيدل، او نه د کورنيو چارو وزارت او نه هم د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې هغه نه دي تصديق کړي. دوی نشي تاييدولای چه يوازي هغه افغان ملي پوليسو چه کار يې کړي هغوي ته پيسي ورکړل شوي دي. د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره د LOTFA او د افغان ملي پوليسو د معاشونو د څارني دنده پر مخ وړي، او د دغه خدمتونو د ترسره کولو لپاره د اداري فيس په نامه ټاکلي مقدار پيسي ګرځوي. برسيره پردې، UNDP د يوه مستقل څارونکي سره د LOTFA د کړنو په برخه کي د مرستي تر لاسه کولو په برخه کي قرارداد ترسره کړي دي.
3. د کورنيو چارو وزارت هڅه کوي چه د افغان ملي پوليسو د پرسونل او معاشاتو د ملاتړ لپاره سيستمونه جوړ کړي. اوسني پيښي ته ځواب ورکول، او د ټولو کارکونکو او د هغوی د معاشاتو د معلوماتواوتمات ثبتونه او مرکزي کونه به د افغان ملي پوليسو بقا نوره هم ثابته او يقيني کړي. دا پداسي حال کي ده چه د کورنيو چارو وزارت به لا هم د کارکوونکو يا پرسونلو د معاشاتو په اړه د معلوماتو، په يوه سيستم کي د ټولو معلوماتو د مرکزي کولو او تر هغه چه امنيتي، زيربنيايي او د همغږي په شان مسلي او موضوګاني نه وي حل شوې د ستونزو سره مخامخ وي.

**وړانديزونه**

د دې لپاره چه د افغان ملي پوليسو د پرسونل او معاشاتو په اړه د حساب ورکوني بنوالی ومومي د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي پنځه وړانديزونه وکړل.

د دې لپاره چه د امريکا د متحده ايالاتو او نړيوالو مرستو کونکو لخوا د LOTFA سره د ترسره شوو مرستو څخه د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره يا UNDP په ښه توګه څارنه وکړای شي،او همداډول د UNDP لخوا د دغه چارو د تنظيم پخاطر د ترلاسه شوو پيسو د موضوع په اړه، د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په افغانستان کي د امريکا سفير ته وړانديز کوي ترڅو:

- په LOTFA کي دې د امريکا د متحده ايالاتو د استازي څخه غوښتنه وشي چه د نړيوالي ټولني لخوا د

LOTFA سره د ترسره شوې مرستې په اړه د هرې ربع د راپور په اخر کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایی اداري سره دې دغه موضوع شریکه کړل شي، او په ملګرو ملتونو کې د امریکا د میشن څخه دغوښتنه وکړي ترڅو د LOTFA د ځلورمي مرحلي لپاره د UNDP د چارو د تنظیم فیس منظور کړي.

د پرسونل او د معاشاتو په برخه کي د افغان کورنیو چارو د وزارت پرمختګونو ته په پام سره، یقیني کړل شي چه هغوي یوازې د ترسره شوو دندو او د معاشاتو د لګښتونو پراساس معلومات ورکړي او همدا ډول یقیني کړل شي چه د ملګرو ملتونو د پرمختیایی اداري لخوا تنظمیدونکي د LOTFA مرستې د افغان ملي پولیسو د مجازو اړتیاوو لپاره لګول کیږي، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د NTM-A/CSTC-A عمومي قومندان ته وړاندیز کوي ترڅو لاندي ذکر شوي کامونه اوچت کړي:

- د راتلونکي موجودي لیست لپاره د کورنیو چارو د وزارت او د CSTC-A لپاره په لیکلي بڼه د لاربښونو برابر، ترڅو د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو د کړنو، معاشاتو، د پرسونل د پیژندګلوی کارډ/ثبت او د بیومیتریک ډیټابیس او سیستم په اړه تصدیق وکړلای شي.
- په راتلونکی کي د پرسونل د موجودی د لیست د شتون او د افغان ملي پولیسو د پرسونل او د هغه اړوند معلوماتو د دقیقي ثبتوني لپاره لاندي ګامونه اوچت کړل شي:
  - د کورنیو چارو د وزارت د بشري قوې معلوماتي سیستم د نومورې وزارت د نوي پرسونل د موجودی، د معلومات د تصدیق، د پولیسانو د راجیستر کولو، د پیژندګلوی د کارډونو د ویشلو او د افغان ملي پولیسو د بشري قوې اړوند لاسي معلوماتو د تغیرولو لپاره د هغه وزارت د بشري منابعو معلوماتي سرچینه د یوازنی رسمي منبع په توګه وټاکي.
  - د پیژندګلوی د کارډ په شان ټول معلومات د کورنیو چارو د وزارت په مختلفو معلوماتي سیستمونو کي سره مقایسه کړل شي. ترڅو لاس ته راغلي دقیق معلومات تصدیق کړل شي.
  - د پیژندګلوی بیومیترک تصدیق کونکی باید د بیومیترک جمپ کیټ سره همغږي کړل شي – هغه اله چه د بیومیترک معلوماتو لکه د ګوتي د نشان، انځورونو، او د کسي چارچیره د رنګینه حلقي یا ایرس د معلومولو لپاره کارول کیږي - دا کار به د دوګوني بیومیترک ثبت او د افغانستان د ملي پولیسو د پرسونل بیومتریک معلوماتو د سیستم د اړوندو معاملو د ترسره کولو په برخه کي خورا لوی کمک وکړي.
  - د افغان ملي پولیسو د موجوده معلوماتو سره د ځانګړو معاشاتو او کارکونکو د لیست او پرسونل د معلوماتو تصدیق کول، او د افغان ملي پولیس د هغه کارکوونکو لپاره چه په سیستم کي یی معلومات ثبت شوي نه دي د نوي ډیټابیس جوړول.
  - د کارکونکو د نومونو او معاشتو د لیست د عادي معلوماتو خاني او د ثبت شمیري پرتله او مقایسه کول ترڅو د ملي پولیسو غیر تصدیق شوي پرسونل لیري او یا و پیژندل شي او د هغوي امتیازات بند او د هغوي لپاره ځانګړي شوي لګښتونه ودرول شي.
- د یو داسي پلان جوړول چه په هغه کي د کورنیو چارو د وزارت او CSTC-A د کارکونکو د معاشاتو او کارکونکو لیست او د پرسونل په اړه معلومات د اوتمات کولو او مرکزي کولو هڅي سره همغږي شي، او د نومړو سیستمونو او ډیټابیسونو ترمنځ اړیکي رامنځ ته شي.
- د کورنیو چارو د وزارت څخه وغوښتل شي چه د افغان ملي پولیسو د معاشاتو او خوراک لپاره ځانګړي شوي پیسو په اړه د مرستو پر اساس راپور ورکړل شي، ترڅو د LOTFA لخوا قانوني لګښتونه وپیژندل شي او د ضرورت په وخت کي تعقیب کړل شي.

**د اداري نظر او تبصره**

د دې راپور د غیر نهایی طرحې په اړه د خپلو نظرونو په ترڅ کي د امریکا سفارت په قسمي ډول د دغه وړاندیزونو سره خپل موافقت ښکاره کړ، او NTM-A/CSTC-A د دغه ځلورو وړاندیزونو سره خپل موافقت او یا هم خپل قسمي موافقت وښود. هر هغه فعالیت چه دوی ترسره کړي او یا هم د ترسره کولو هوډ لري زمونږ تلو.

## په دې درې میاشتنۍ کې اعلان شوې نوې پلټنې

پدې درو میاشتو کې د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړې عمومي پلټونکي د امریکا د بیارغونې د مهمو هڅو په اړه د څلورو نویو پلټنو د پیل اعلان وکړ. هغوي به د بیارغونې د قرارداد کولو په اړه د افغان لومړنې ابتکار سره مرسته وکړې، د قرارداد سره سم د لګښتونو د USAID د مالي پلټنو پوښښ، د ګډې همکارې هوکړه لیک، او د بیارغونې لپاره مرستې؛ د ۲۰۱۱ مالي کال د ملي دفاع د قانون (NDAA) پراساس د قراردادیانو او د خصوصي سکتور د قراردادیانو(PSCs) د کړنو څخه څارنه؛ او د لویس برجر لپاره د هارټ سکیوریټي لمیټډ لخوا د دویم لاس قراردادي په شان د خصوصي خدمتونو د وړاندې کول.

### د قرارداد کولو په اړه د افغان لومړنې ابتکار تطبیق

په افغانستان کې امریکایی پوځ (USFOR-A) او د افغانستان لپاره د امریکا د میشن قراردادونو ته د افغان لومړې لاس رسی لاره خپله کړې ترڅو پدې توګه اقتصاد وده، ظرفیت لوړ، او د مخالیفینو پر وړاندې د ټاکل شوو اهدافو ته د رسیدلو لپاره باید افغان شرکتونه وهڅول شي چه د خدمتونو او موادو د وړاندې کولو په برخه کې د امریکا د شرایطو او غوښتنو سره ځان برابر کړي. دا څیړنه درې موخې لرې:

- د سیستمونو بیاکتنه او د موجود کنترولي لارو چارو ارزونه ترڅو وړ افغان قراردادیان، د بررسي شوو افغان قراردادیانو لپاره د یو ډیټابیس د جوړل او داډه شي چه ټول اړوند قوانین او مقررات عملي او دندې د هغه سره سم پر مخ وړل کیږي.
- د امریکا او ایتلاف د همکارانو د هغوارزونه چه غوارې معلومه کړي د افغان ټیټ کاري وړتیاوو په پام سره د لومړنې افغان ابتکار د پیسو د ضیاع، فساد، اختلاس څخه په سمه توګه ارزونه وشي.
- معلومه کړي چه د لومړی افغان ابتکار په وړاندې د کومو ننګوونو سره مخامخ دي.

### د USAID مالي پلټنې د قراردادونو لپاره
### تعهد شوې لګښتونه، د همکارې هوکړې، او د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړې شوې مرستې د ځان سره رانغاړې.

د USAID عمومي پلټونکي د دفتر په وینا، د افغانستان د بیارغونې لپاره د USAID مرستې د ۲۰۰۲ کال څخه بیا تر ۲۰۱۰ کاله پورې ۱۱،۷ ملیارډ ډالرو ته رسیږي. USAID د دغه ډیری مرستې قراردادیانو او یا هم غیر دولتي سازمانونو ته د قراردادونو، د همکارۍ د هوکړو او د بسپنې په ډول ورکړې دي. د دغه مالي لارو یا میکانیزمو څخه د ترسره شوو لګښتونو په اړه د مالي پلټنې یو ډیر ارزښتمن د څار سیستم وړاندې کوي، چه د هغه څخه په ګټه اخیستلو د مرستو مستقیمه یا غیر مستقیمه ورکړې په ګډون په داخلي کنترول کې د نیمګړتیاوو او د اړوندو اجرااییی قوانینو سره د هغه هر ډول سرغړونه او ټکر په ګوته کولای شي. دا څیړنه درې موخې لرې:

- د USAID لپاره د خپلو قراردادونو، د همکاریو د هوکړو، او د بسپنو په اړه د مالي پلټنو د اړتیا او ضرورت معلومول.
- د ۲۰۰۷ څخه بیا تر نن پورې د USAID د بیارغونې په اړه د قراردادونو، د همکارۍ د هوکړو او بسپنې معلومول.
- د دې امر معلومول چه تر کومې مالي کچې پورې USAID د مالي څیړنو اړتیاوې پوره کړې او یا هم هوډ لرې پوره کړي.

### - په افغانستان کې د قراردادیانو او PSCs د څارنې مشرې په غاړه درلودله.

د NDAA د ۲۰۱۱ مالي کال ۱۲۱۹ برخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړې عمومي پلټونکي څخه غوارې ترڅو(۱) د افغانستان په اړه د قراردادیانو د کړنو څخه د غوره څار او نظارت په اړه د وړاندیزونو کول، (۲) د امریکا د دفاع، کورنیو چارو وزارت او د USAID لخوا په افغانستان کې د دغه وړاندیزونو په اړه د ترسره

#### نوې پلټنې
- د قرارداد کولو په اړه د افغان لومړنې ابتکار تطبیق
- د USAID مالي پلټنې د قراردادونو لپاره تعهد شوې لګښتونه، د همکارې هوکړې، او د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړې شوې مرستې د ځان سره رانغاړې
- د NDAA په مشرې په افغانستان کې د قراردادیانو او خصوصي امنیتي کمپنیانو په اړه څارنه
- د لویس برجر لپاره د هارټ سکیوریټي لمیټډ لخوا د خصوصي امنیتي خدمتونو وړاندې کیدل

شوو عملي ګامونو د حالت په اړه د راپور ورکول، او (۳) د نظامي او امنيتي قراردادیانو او یا هم دویم لاس قراردادیانو( خصوصي امنيتي قراردادیان یا PSCs) تر کومه حده د افغان ملکي وګړو په قتل که مسؤل دي، په دې اړه د بشپړ راپور وړاندې کول د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي دنده ده. همدا ډول NDAA د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي څخه غواړي ترڅو د امریکا پر(۱) هغه نظامي او امنيتي قراردادیانو او یا هم دویم لاس قراردادیانو چه د ملکي افغانانو په وژنه کي ښکیل دي خپله اتکا کمه کړي او (۲) او همدا ډول په هغه افغان مسلح ډلو چه د افغان ملي امنيتي پوځ جز او برخه نه ګڼل کیږي خپله اتکار را کمه کړي.

د NDAA د 1219(a) برخي پر اساس، د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي باید د دفاع وزارت، د کورنیو چارو د وزارت او د USAID د دفترونو د عمومي پلټونکو سره د یادو شوو موضوعاتو په اړه د خبراترو لپاره اړیکه ټینګي او سلامشورې ترسره کړي. دا څیړنه درې موخي لري:

- د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د USAID لخوا د قراردادیانو د کړو د څار په اړه د وړاندیزونو د تطبیق او څرنګوالي معلومول او د نوموړو وړاندیزونو د تطبیق په وړاندې د رامنځ ته شوو ستونزو او ننګوونو په ګوته کول.
- د دې مهم امر معلومول چه تر کومه حده خصوصي امنيتي کمپني د افغان ملکي وګړو په وژنه کي مسؤلي دي.
- د هغو ګامونه د سطحي معلومول چه پلي کونکو ادارو په خصوصي امنيتي کمپنیانو باندې د امریکا د اتکا د کمولو په لاره کي ترسره کړي دي.

**د هارټ سکیوریټي لمیټډ لخوا لویس برجر ته وړاندې شوي خصوصي امنيتي خدمتونه**

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د هارټ سکیوریټي (امنیتی) لمیټډ لخوا د دویم لاس قراردادي په توګه لویس برجر ته د وړاندې شوي خصوصي امنيتي خدمتونو په اړه خپلي پلټني پیل کړې دي. دغه پلټني به د دویم لاس د قرارداد د لګښت، تقسیم اوقات او د پایلو یا نتیجو باندې متمرکزې وي او همدا ډول د قرارداد څخه د ترسره شوي څارني په اړه به هم خپلي پلټني ترسره کړي. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي به معلومه کړي چه ایا ترسره شوي خدمتونه د دویم لاس قراردادي د مقرراتو، د امریکا د متحده ایالاتو او افغان دولت د قوانینو او غوښتنو پر اساس چه په هغه کي د جدي واقعاتو په اړه راپور ورکونه، د سلاح ساتلو جواز او د وسلو په اړه د حساب ورکوني موضوعات شامل دي ترسره شوي دي او که نه. دا پلټنه دوه اهداف لري:

- معلومه کړي چه د هارټ لخوا کوم خدمتونه وړاندې شوي او ایا دغه خدمتونه د لګښت، تقسیم اوقات او د پایلو په ګډون د قرارداد د ذکر شوو غوښتنو سره سم ترسره شوي او که څنګه.
- د USAID او لویس برجر لخوا د هارټ د کړنو په اړه د ترسره شوو پلټنو معلومول او همدارنګه دا په ګوته کول چه USAID او لویس برجر څرنګه د نوموړي کمپني لخوا د ترسره شوي قرارداد په ترڅ کي د افغان او امریکا د قوانینو د مراعات او عملي کولو څخه مطمین وو.

## رواني څیړني: قرارداد

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د بیارغوني په اړه د USAID لخوا د ترسره شوو دوو پروژو په اړه پلټني ترسره کړي، د افغان ملي امنيتي پوځ لپاره د اسانتیاوو د جوړولو په اړه د دوو قراردادونو پلټنه، او د خصوصي امنيتي کمپني څخه د ترلاسه شوو خدمتونو په اړه د یوې پلټني ترسره کول.

**د USAID لخوا د پاملرني د نړیوالی موسسي او په کابل کښې د کلیو د پراختیا د پروګرام په اړه د پریکړه لیکو او مرستو ارزونه او څیړنه**

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د USAID او د پاملرني د نړیوالي موسسي ترمنځ ته ۶۰

میلیون ډالرو په ارزښت د ترسره شوي هوکړه لیک په اړه مرسته و همکاري کوي نړیوال—د کابل لپاره د تولني د پرمختیا پروګرام- یو د هغو ځلورو پروګرامونو څخه دي چه د افغانستان په کلو او بانډو کي د خواراکي توکي د نه خوندیتوب په اړه کار کوي. د یو کلن پروګرام د بشپړیدو نیټه په حقیقت کښې د ۲۰۱۰ کال د مارچ میاشت وه؛ خو بیا هم، دا پروګرام د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر میاشتي وغزول شو. د دی څیړنه څلور موخي لرۍ:

- د هغو تګ لارو ارزونه چې USAID د دی قرارداد په ورکولو کښې ورڅخه ګټه اخستي ده.
- او مشخصه کړې چې قرارداد په ټاکل شوو مصارفو، تقسیم اوقات او ټاکل شوو پایلو سره سم تر سره شوی دی.
- د نقدو پیسو د ویش په ګډون د USAID او د پاملرنه د نړیوالي موسسي د نظارت او د کنترول پراګرامونه وارزوی.
- دپروګرامو د اصلی اهدافو او موخو ته د رسیدو د کچي ارزونه.

## د ځای حکومتداری او د ټولنو د پرمختیایی پروژو په اړه د USAID قراردادونه

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د هغه قراردادنو چه د USAID لخوا د محلي یا ځایی حکومتداري او د کلیو د پرمختیا په برخه کي ترسره شوي دي ارزوني ترسره کوي. دا څیړنه څلور موخي لرۍ:

- وارزوی چي ایا قراردادونه د قرارداد د معیارونو، په ګډون د رغوني پلانونه او مشخصات، لګښتونه، مهال ویش او لاسته راوړني سره سم بشپړ شوي دي.
- د قراردادي د کار په اړه د څارني په برخه کي مرسته او هکاري.
- د پروژو د بقا او ثبات د کچي ارزونه.
- د خصوصي امنیتي کمپنیانو څخه د ځان او یا هم د کاري سیمي لپاره د امنیتي خدمتونو، د هغوي د رول معلومول او دا په ګوته کول چه ایا هغوي ته دافغان دولت لخوا د کار جواز ورکړل شوی وو، او د خصوصي امنیتي کمپنیانو په اړه د افغان دولت لخوا ترسره شوو تغیراتو د اغیزې معلومول.

## د کابل نظامي روزنیز مرکز کي بنسټیزي پروژې

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي همدا ډول په کابل کي په نظامي روزنیز مرکز کي د زیربنایي پروژو په اړه د AFCEE لخوا د تنظیم او اداري په اړه پلټني ترسره کوي. د ۲۰۰۷ څخه بیا تر ۲۰۱۰ مال کال پوري، AFCEE په مرکز کي د پنځو عملیاتو په ترڅ کي د دریو ناڅرنګندو- پایلو/ او نا څرګند کیفیت لپاره تقریبا ۱۱۶ میلیون ډالره ترلاسه کړي دي. د دغه قراردادونو لاندي، AFCEE د لګښت-جمع – تعین شوی – فیس، شرکت- تعین شوي – قیمت، او د وخت او توکو د دندو سپارښتنه. دپلان جوړونه ، رغوني او نظارتي دندو په ګډون د دغو کاري سپرښتنو په اساس، کار د بشپړیدو مختلفو نیټو ته اړتیا لرۍ. دا څیړنه څلور موخي لرۍ:

- و ارزوی چي ایا پروژه د قرارداد د شرایطو او د رغوني د پلان ،مشخصات، لګښت، مهال ویش او لاسته راوړنو سره سم ترسره شوي دي.
- وارزوي چي د AFCEE’s تسلیمی د قرارداد د اداری شرایطو، او د AFCEE پالیسي او قوانین، د قرارداد قوانین، او د فدرال اکتسابی شرایطو په ګډون نظارتي مقرارات سره سم دي.
- که چیري داسي وي چي افغان ملی پوځ د تجهیزاتو، ساتنیز اجراأتواو د ساتني د لګښتونو بیه ورکړه مسولیت په غاړه وخلي نو بیا پلان مشخص کړي.
- د خصوصي امنیتي کمپنیانو څخه د ځان او یا هم د کاري سیمي لپاره د امنیتي خدمتونو، د هغوي د رول معلومول او دا په ګوته کول چه ایا هغوي ته دافغان دولت لخوا د کار جواز ورکړل شوی وو، او د خصوصي امنیتي کمپنیانو په اړه د افغان دولت لخوا ترسره شوو تغیراتو د اغیزې معلومول.

## رواني پلټني

**قرارداد**

- د پاملرني نړیوال سازمان سره د کابل لپاره د کلیو یا تولني د پرمختیا د پروګرام په اړه د همکاري د هوکړه لیک ته بیاکتنه
- د ځای حکومتداری او د ټولنو د پرمختیایی پروژو په اړه د USAID قراردادونه
- د کابل نظامي روزنیز مرکز کي بنسټیزي پروژې
- د افغانستان په ملي امنیتي پوهنتون کي د رغوني چارې
- د ګلوبل ستراتیږیز ګروپ لخوا د بیارغوني د ملاتړ د خدمتونو د ترلاسه کولو په اړه بیا کتنه.

**د بیارغوني پروګرامونه او عملیات**

- د افغانستان د ملي امنیت قواوو د وسایطو حساب ورکونه
- د سترو جرمونو پر وړاندي د افغان عملیاتي ځواک د تقویې په برخه کي امریکا هڅې او مرستي
- د امریکا او نړیوالو مرستي د افغانستان د بانکی سیستم او د پولی کنترول او پرمختیا په اړه
- د افغانستان د کرهني د سکتور د ودي لپاره د امریکا د متحده ایالت مرستي او همکاري
- په افغانستان کي د قراردادیانو لپاره د دفاع د اصلي بیمي د پروګرام قانون پلي کول
- په افغانستان کي د امریکایی ملکي وګړو د ژوند د سطحي د لوړولو په اړه لګښت او ثبات
- د افغانستان د بیارغوني لپاره د باروي فنډ له لاري د امریکا د مرستو کارونه او د هغه په اړه حساب ورکونه



**افغان کارکوونکي** د کابل په نظامي روزنیز مرکز کې په دریمه مرحله کې خپلو کارونه ته دوام ورکوي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د ستراتیژۍ یوه مهمو برخه د افغان امنیتي پولیسو لپاره د ودانیو جوړول دي- د افغان ملي پولیسو او ملي اردو د روزنې او هستوګنې لپاره د ځاي په ګډون- ترڅو افغان امنیتي پوځ وکولای شي په ۲۰۱۴ کې د امنیتي چارو مسولیت پر غاړه واخلي. ( د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي انځور، وارن انتوني)

## د افغانستان په ملي امنیتي پوهنتون کې د رغونې چارې

د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په افغان ملي امنیتي پوهنتون( چه پخوا د افغان دفاعی پوهنتون) پیرندل کیدلو د بیارغونې د پروژې او اړوندو چارو په اړه ارزونې ترسره کوي. AFCEE دغه قرارداد د لګښت او د معین فیس د قرارداد له مخې د ناڅرنګنده کار د تسلیمی/ او نا څرنګند کیفیت لرونکي د AMEC ځمګې او چاپیریال په نامه یو شرکت ته افغان ملي امنیتي پوهنتون چه د کابل ښار په قرغه سیمه کې دي ورکړي دي. د قرارداد په وخت کښی د یادی شوو موخو او اهدافو لپاره د ۷۰ میلیون ډالرو لګښت سنجول شوی وو، او یاده شوی پروژه باید د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کښی بشپړه شوی وای، AFCEE د هغه وخت څخه وروسته تر اوسه پورې د سمون په موخه ۵ تعدیلات قراردادی کمپنی ته وړاندی کړی دی چی په هغه کښی د ضروریاتو کمول او زیاتوالی، د موکلف شوی لګښت د ۸۳ میلیون ډالرو په ارزښت لوړول او د یادی پروژې لپاره د تاکل شوی نیټی د ۲۰۱۱ کال د جون تر میاشتي پورې غزول شامل دی . دا څیړنه یا پلټنه د څلور مهمو موخو د تر لاسه کولو لپاره په لاره اچول شوی ده:

- همدا ډول به مرستي وکړي ترڅو معلومه کړي نوموړي قرارداد د اصلي شرایطو چه په هغه کې د پروژې لګښت، تقسیم اوقات او پایلو او یا د پروژې نتیجه شامله ده ترسره شوی او که نه.
- ترڅو د AFCEE سره مرسته وشی چی په اداری او د څارنې د اصولو او غوښتنو سر سم چی په هغه کښی خپله د AFCEE مقررات، د قراداد غوښتني او شرایط او د فدرال د لاسته راوړنو مقرارت شامل دی په سمه توګه چارې په مخ بیوړل شی.
- داسې پلان جوړ کړي چه د نوموړو امکاناتو ملکیت افغان ملي اردو ته وسپارل شي، د کړنو ثبات تامین او د جاري ساتلو لګښت یی ورکړل شي.
- د خصوصي امنیتي کمپنیانو څخه د ځان او یا هم د کاري سیمې لپاره د امنیتي خدمتونو، د هغوي د رول معلومول او دا په ګوته کول چه ایا هغوي ته دافغان دولت لخوا د کار جواز ورکړل شوی وو، او د خصوصي امنیتي کمپنیانو په اړه د افغان دولت لخوا ترسره شوو تغیراتو د اغیزې معلومول.

### د ګلوبل ستراتیجیز ګروپ لخوا د بیا رغوني د پروژې لپاره د وړاندي شوي امنیتي خدمتونو په اړه بیاکتنه.

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي به دا معلومه کړي چه د امریکایی پوځ د انجنیرانو قطعي (USACE) د قراردادي لخوا اړوندي مرستي په سمه او مناسب قیمت ترلاسه کړي او که څنګه. د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی بیا کتني د موخو او اهدافو د سپیناوی په اړه ترسره کیږی. د بیا کتني دا څیرنه دوې مهمي موخي لري:

- د هغو خدمتونو چی د نړیوال ستراتیژیک ګروپ لخوا ترسره شوی څیړنه او د دی معلوممول چی دا خدمتونه د قرارداد په معین وخت، لګښت او نورو وړاندیزونو او تعدیلاتو په نظر کښی نیولو سره تر سره شوی دی که څنګه.
- دا جوته کړی چی USACE، د نړیوال قرارداد څیړنو او نظارت د فدرال د زده کړو د مقرراتو، د USACE د قاوانینو او په قرارداد کښی ذکر شوو مقرراتو سره سمه ترسره کړی دی.

## رواني څیړني: د بیارغوني پروګرامونه او عملیات

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د هغه پروګرامونو او عملیاتو په اړه چه د افغان ملي امنیتي پوځ په برخه کي امریکا د بیارغوني د ستراتیږي لپاره ډیر اهمیت لري اوه رواني پلټني ترسره کوي، ترڅو حکومتداري بهتره او اقتصادي پرمختګ رامنځ ته شي.

### د افغانستان د ملي امنیت قواوو د وسایطو حساب ورکونه

د امریکا متحده ایالاتو افغان ملی امنیتی پوځ ته لسګونه زره موټر ورکړی او هوډ لری چی د زرګونه نور، لیږ تر لیږه د ۲۰۱۲کال تر اخره د دی ځواک ته ورکړی د دی موټر ډیری برخه پیرودنه د بهرنی نظامی پیرودني سیستم سره سم ترسره شوی دی، چی د دفاع د امنیتی هم غژیی د اجینسی له لوری تر سره شوی دی. دغه پلټنه، چه په موټرو متمرکزه ده، به تر ډیره حده د افغان ملي امنیتي ځواک د دغه موټرو ته د لاس رسي ، د هغه د ساتني او د هغه په اړه د حساب ورکوني په موضوعاتو باندي راڅرخیږي. دا څیرنه دري موخي لري:

- د افغان ملی امنیتی پوځ د موټرو اړتیاوی او دا چی تر کومه حده دا اړتیاوی پوره شوی دی.
- دا معلومه کړي چه د CSTC-A او افغان ملي امنیتي پوځ به وتوانیږي چه د امریکا لخوا د پیرودل شوو موټرونو په هکله حساب ورکړي. همدا ډول د دغه پوځ سره د ترسره شوو مرستو، د موټرونو د شمیر، ډول او د اوسني عملیاتي حالت په اړه معلومات او حساب ورکړي.
- دا معلومه کړی ،څرنګه چی CSTC-A د افغان ملی امنیتی پوځّ له لوری په امریکایی مساعدتو باندی د اخیستل شوو موټرو په اړه تضمین ورکړی چی دا پوځ کولای شی د دی موټرو ستانه وکړی، د هغوی څخه سمه ګټه واخلی او هغه وساتی تر کومه حده ریښتیا ده.

### د افغانستان د کرهني سکتور د پراختیا په برخه کي د امریکا د متحده ایالاتو مرستي

د افغانستان دکرهني د سکتور بیارغونه د امریکا لپاره یو د لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي. دا څیرنه څلور موخي لری:

- د ۲۰۱۱ مالي کال د دویمی ربع له طریقه د افغان کرهنیز سکتور سره د امریکا او د نړیوالو مرسته کوونکو له لوري د ترسره شوي مرستي کچي معلومول.
- د هغو ستراتیږیو او موخو چه کولای شي د امریکا د متحده ایالاتو سره د افغانستان دکرهني د سکتور په وده کي مرسته وکړي معلومول او د هغوي په ګوته کول.
- وارزوی چی د امریکا مرستي تر کومه حده توانیدلی دی چی د کرهني په سکتور کښی خپلو اصلی او ټاکل شوو موخو او اهدافو ته رسیږی.
- د امریکا د کرهنیزو مرستو د ضایعه کیدو سره د مخامخ کیدو د کچي په ګوته کول.



**دغسي واړه فارمونه** چه د جلال اباد ښار څخه د بهر ځاي پر ځای شوي دي د افغانستان د کرهنې د برخې لپاره د ملا د تير حيثيت لري. د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا د رواني ارزونې او بيا کتنې په ترڅ کې د امريکا لخوا د افغانستان د کرهنې په برخه کې د ترسره شوو مرستو د ستراتيژيو او موخو په اړه ترسره کيږي. (د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي انځور، لياه کاراهر)

## د امريکا د متحده ايالاتو هڅې، تر څو دافغانستان د جرمونه په وړاندی ځواک څه ډول پر مخ ځی.

د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د امريکا د هغه هڅو سره مرسته کوي چه غواړي د سترو جرمونو پر وړاندي د افغان پوځ سره مرسته کوي. دغه پلټنه د هغو لړيو يوه برخه ده چه د امريکا او نړيوالې ټولنې لخوا د افغان دولت سره د فساد د منځه وړلو په برخه کې ترسره کيږي. دا څيړنه او پلټنه درې موخې لری:

- د سترو جرمونو پر وړاندي د افغان پوځ سره د امريکا او يا هم د نړيوالو ترسره کيدونکو مرستو پيژندل او معلومول.
- معلومه کړی چی د امريکا د متحده ايالاتو مرستې د مربوطه قوانينو او مقرراتو په نظر کښي نيولو سره ډيزاين او عملی شوی دی او که څنګه.
- معلوممه کړي چه ايا د امريکا مرستې خپلې ټاکلې موخې ترلاسه کوي او که څنګه.

## د امريکا او نړيوالو مرستې د افغانستان د بانکی سيستم او د پولی کنترول او پرمختيا په اړه

د امريکا کانګرس د افغانستان د مالي سيستم او د کابل د هوايي ډګر څخه د نقدو پيسو د ايستلو په اړه خپله جدي تشويش څرګند کړي دي. د کانګرس د نوموړو تشويشونو ته په پام سره، د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د امريکا د متحده ايالاتو د هغو هڅو په اړه چه غواړي د افغانستان د اقتصاد سره مرسته وکړی او غواړی د دې هيواد مالي سيستم قوي کړي يوه پلټنه په لاره اچولې ده. دا څيړنه دوی موخی لری:

- د هغو کنترولي تګ لارو چه په امريکا يی ادارو کې د افغانستان سره د ترسره کيدونکو مرستو لپاره ځاي په ځای شوي دي معلومول.
- د امريکا د متحده ايالاتو د هغو هڅو چه غواړی په مالي سکتور پوري په اړوند مسلو کې بايد د افغان دولت ظرفيت لوړ کړل شي زياتول او د پدې اړه د ستونزو د منځه وړل.

## په افغانستان کې د قراردادیانو لپاره د دفاع اړوند د بیمې د پروګرام پلې کول

د دفاع د اساسي قانون د بیمي پروګرام د امریکا د متحده ایالاتو د کارګرانو د ډیپارټمنټ لخوا اداره کیږي، د ټولو فدارل قراردادیانو او دویم لاس قراردادیانو څخه غواړي چې هغو کارکونکو ته چه دامریکا د متحده ایالاتو څخه بهر کار ترسره کوي باید کارکونکی د غرامت بیمې د حق څخه برخمن وي. USACE د بیمې د خدمتونو د یوه وړاندې کونکي څخه ګټه اخلي. دغه پلټنه په DBA یا د دفاع د اساسي بیمې د پروګرام په اړه چه د USACE پلې کیږي ده، همدا ډول نوموړي پروګرام د سنټکام ګډ د تیاتر د ملاتړ قرارداد امر(C-JTSCC) هم تر پوښښ لاندې راولي. دا څیړنه او پلټنه درې موخې لرې:

- دا څیړنه څلور موخې لرې
- معلومه کړې چه تر کومه حده د بیارغوني لپاره د ځانګړو شوو مرستو کې د DBA څخه ګټه اخیستل شوې ده او تر کومې کچې د اړوندو او مربوطه قوانینو، مقرراتو، پلایسیو او تګ لارو سره سم پرمخ وړل شوي دي.
- د USACE او C-JTSCC سره د قراردادیانو لخوا د DBA سره د ساتلو په برخه کې مرسته او د هغه لوړول.

## په افغانستان کې د امریکایی ملکي وګړو د ژوند د سطحې د لوړولو په برخه باندې لګښتونه او پایښت

په افغانستان کښې د امریکا د ستراتیژی یوه برخه په هغو ملکی هڅو پوری تړلی ده چې کولای شی د غوره حکمت جوړ او په هیواد کښې اقتصادی پرمختیا را منځ ته کړی. په افغانستان کې د امریکا د ملکي وګړو شمیر د فبروري د میاشتې، کال ۲۰۰۹ کې د ۲۶۱ څخه بیا د ۲۰۱۰ کال د فبروري د میاشتې پوري ۹۸۹ ته جګ شوی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وړاندیز کړي دي چه د امریکا د ملکي وګړو شمیر د تر ۲۰۱۲ کال پوري ۱۳۵۰ ته جګ کړل شي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي پلټونکي سره یوځاي دغه پلټنه د پخوانیو هغو پلټنو لړې او ادامه ده چه د امریکا د ملکي وګړو د ژوند د سطحې د لوړول په برخه کې ترسره شوي وي، او همدارنګه افغانستان ته نورو اضافي امریکایی وګړو د راتګ د ثبات او پایښت په اړه هم تلړاو لري. دا څیړنه او پلټنه درې موخې لرې:

- تر نن ورځې پوري په افغانستان کې د امریکا د ملکي وګړو د ژوند د سطحې د پورته کولو په برخه کې د لګول شوو پیسو د اندازې معلومول.
- د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت سره د امریکا د ملکي وګړو د ژوند د لوړولو په برخه کې د داخلي کنترول د لا ښوالي او غوروالي په برخه کې مرسته او همکاري.
- د ژوند د سطحې د لوړولو د ثبات او پایښت په برخه کې مرسته او همکاري.

## د افغانستان د بیارغوني د باوري فنډ سره د امریکا لخوا د ترسره شوو مرستو کارونه او د هغه په اړه حساب ورکونه

دغه پلټنه د افغانستان د بیارغوني د باوري فنډ یا ARTF چه د افغان دولت سره د ترسره کیدونکو مستقیمو مرستو تر ټولو لویه برخه جوړوي مرسته او همکاري کوي. ARTF د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي، او د نوموړي پروګرام سره د امریکا او د نورو نړیوال مرسته کونکو هیوادونو لخوا مرستې ترسره کیږي. د ARTF سره ترسره کیدونکي مرستې د افغانستان د ملي بودیجې په جوکاټ کې پرمخ وړل کیږي او امریکا او نورو مرسته کونکو هیوادونو لخوا د افغان دولت سره د مستقیمو ترسره کیدونکو مرستو په اړه هغه ته ځانګړې حیثیت ورکوي. د ۲۰۱۰ کال تر سپتمبر میاشتې پورې یوازې امریکا( د ټول ټال ۴ ملیارډ ډالرو مرستو چه د ۳۲ مختلفو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو) لخوا ترسره شوې وي یو په څلورمه یعنې ۹۷۲ میلیون ډالره مرسته کړې وه. د څیړنه د هغو تحقیقاتو یوه برخه ده چې د افغانستان سره د هغو هڅو چې د امریکا د متحده ایالاتو او نورو کمک کوو نکو

هیوادونو لخوا تر سره شوو مرستو په اړه تر سره کیږی. دا څیړنه او پلټنه دري موخي لری:

- د هغو ګامونه پیژندل چه د امریکا او نړیوال بانک لخوا د امریکا د مرستو د سمي او مناسبي کاروني او د هغه په اړه د حساب ورکوني په اړه ترسره شوي دي.
- معلومه کړي چه ایا مرستي د ټاکلو موخو ته د رسیدلو لپاره کارول شوي دي او که څنګه.
- د ARTF مرستو څخه د څار د میکانیزم په برخه کي د خطرونو او نیمګړتیاوو پیژندل.

## عدلی څیړنی

د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان د بیارغوني لپاره د دریو لویو مرستو ASFF، ESF او INCLE اړوند د ۳۹ ملیارډ ډالرو په ارزښت معلوماتو ارزونه او تحلیل پیل کړي دي: the ASFF, the ESF, and INCLE. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي دغه پلټني د P.L. 110-181 قانون چه تعدیل شوي، ترسره کوي. نوموړي قانون د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي څخه غواړي چه نامناسبه پیسو د ورکړو په اړه- لکه دوځلي د پیسو ورکول او یا هم د غیر مستحق پلورونکي تحقیق وکړي او د هغو مرستو لپاره چه د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي شوي دي د یو نهایی عدلي راپور چمتو کول.

### د DoD د عدلی څیړنو په ترڅ کښی د افغانستان د بیارغونو په اړه د معلوماتو انتقال او لیږدونه

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کي د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د دفاع وزارت لخوا د ASFF د تخصیصاتو، تعهداتو او د لګښتونو د پرمخ وړلو د معلوماتو په اړه بیاکتنه پیل کړه، چه اوس د ۲۰۰۵ مالي کال څخه بیا تر ۲۰۱۰ مالي کال پوری ۲۷،۸۳ ملیارډ ډالرو ته رسیږي. د یوه بشپړ عدلي راپور لپاره د کره معلوماتو راټولول یو ستونزمن او د چلنج څخه ډګ کار وو. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د دغو معاملو په اړه په ډیرو جزایاتو ته ننوتل دروليي د ASFF سره د تعهد وروسته یو زیات شمیر ډالر بیرته د بهرنیو نظامي پیرودني باروي فنډ ته د هر ډول ناوړي ګټي د اخیستني د مخ نیوي پخاطر انتقال کړل شوي.

د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۱۱ مه، د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د دفاع مالي او محاسبي د خدمتونو(DFAS) د مرستیال مشر سره ولیدل، ترڅو د اړوند معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره یوه غوره لاره ومونډل شي. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي به د DFAS سره خپل ګډ کار ته پدي موخه ادامه ورکړي چي یو داسي کمپیوټري سیستم رامنځ ته کړي چه وکولای شي د عدلي راپور د جوړولو لپاره اړین معلومات د مختلو برخو څخه راټول کړي، دغه کار به د کانګرس سره د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د هوکړي پر اساس ترسره کیږي.

په عین وخت کي د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په ASFF پوري اړوند ۱،۷ ملیارډ ډالرو په اړه چه د USACE لخوا د ۲۰۰۵ مالي کال څخه بیا تر ۲۰۰۹ مالي کال پوري لګول شوي دي هم عدلي بیاکتنه پیل کړي ده، پدي ترڅ کي به د دوه ځلو پیسو ورکوني او یا هم غیر مستحقو پیرودونکو ته د پیسو د ورکولو پیبني و څیړل شي.

### په افغانستان پوری اړوندو د انتقالی معالوماتو عدلی څیړنه او بیا کتنه

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د ۲۰۰۲ مالي کال د جولای د میاشتي څخه بیا د ۲۰۱۰ کال د جولای تر میاشتي د اقتصادي ملاتړ د فنډ څخه د USAID لخوا د تخصیص، تعهد او لګولو شوو ۷،۴ ملیارډ ډالرو په ارزښت مصرف په اړه لومړنی بیاکتنه پیل کړی ده. نوموړي بیاکتنه د ۷۳۲۷۲ معاملو او ۱۲۱۱ پیرودونکو په اړه وه. د عدلي څیړنو کارپوهانو د غیرعادي حالاتو د معلومولو لپاره ۱۹ عدلي څیړني ترسره کړي. لومړنی پایلي د یو زیات شمیر غیر عادي او استثنایی حالاتو او فعالیتونو ښکارندوی کوي.

**عدلي پلټني**

- د افغانستان دبیارغوني په اړه د امریکا د دفاع وزارت د معلوماتو د انتقال په اړه عدلي بیاکتنه
- د افغانستان د بیارغوني په اړه د USAID د معاملو د معلوماتو په اړه عدلي بیا کتنه او څیړنه
- دDoS هغه انتقالی معلومات چی د افغانستان د بیا رغوني په اړه دی، د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځاګړی عمومی پلټونکی هوډ لری تر څو د DoS لخوا د هغو مرستو

د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي عدلي ټيم په اسنادو باندي کار کوي ترڅو د دغه استيثناتو په قانوني بڼه باندي کار وکړي، او همداراز د USAID او د سيګار د تحقيقاتي رياست سره د اسنادو، بيلونو او پيسو د تسليمي په دوسيو باندي کاروکړي. او هرکله چه اړينه وي د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي به خپلې موندني په خپلو پلټنو کي شاملې کړي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي همدا ډول د خطر د ارزوني په تګ لاره عملي کوي ترڅو د تحقيقاتو او پلټنو لپاره کاري سيمي په لا ښه توګه په ګوته کړي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي به په USAID پوري اړوند نور معلومات په وقفوي توګه تحليل کړي.

### د افغانستان د بيارغوني په اړه د امريکا د دفاع وزارت د معاملو معلومات

د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت لخوا د ۲،۸ ملياړه ډالرو په ارزښت د تخصيصاتو، تعهداتو او لګښتونو په INCLE پوري د اړوندو معاملاتو د معلومات په اړه چه د ۲۰۰۲ مالي کال څخه بيا تر اوسه پوري ځانګړي شوي بياکتنه پيل کړي ده. د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کي د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته د معلوماتو يوه نمونه ورکړه، دغه پلټونکي نوموړي معلوماتي نمونه وکتله او داسي برخي يي په ګوته کړي چي د عدلي راپور د بشپړولو لپاره بايد د هغه معلومات تکميل کړل شي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي اداره د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت سره ګډ کار کوي ترڅو دغه اړين معلومات راټول او د يوه بشپړ راپور په جوړولو کي ورڅخه ګټه واخلي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي به لومړنی عدلي بياکتنه د معلوماتو د رسيدو سره سم پيل کړي.

## پلټنې

پدې ربع يا درو مياشتو کي، د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ۴۵ قضيې وتړلې او ۱۶ نوي قضيې يې پرانيستلې، پدې سره د روانو تحقيقاتو شمير ۷۶ ته ورسيد. د دغه شمير قضيو څخه يې ۴۸(۶۳٪) کي د خريداري په برخه کي د فساد او اختلاس په اړه دي. د پرانيستو قضيو د ډلي (۲۶٪) د عامه بډي اخيستني او يا رشوت په اړه دي. پاتي (۶٪) د غلا د ادعاوو په اړه دي. په ۱.۱ شميره انځور sکي د نوع په اساس تحقيقات بيان کړل شوي دي.

## د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د څارنواليتوب ابتکار


د راپور جوړوني په وخت کي، د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي يو تجربه لرونکي مرافعه غوښتونکي په دنده وګمارى او هغه يې عدليي وزارت ته ورولېږانده، ترڅو د بيارغوني په اړه د عوا لرونکو قيضو په جوړولو باندي کار وکړي. د امريکا د ځانګړي څارنوال پحيث، د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي څارنوال به د جرمي قضيو او د ملکي عامه مسلو چه د بيارغوني د قرارداد کولو، رغوني، د پروګرام د تطبيق او عملياتو پوري اړه ولري حل او د هغوي د هواري لاري چارې به سنجوي. دغه کس به د سيګار د محقيقينو، د عدليي وزارت د څارنوالانو او عامه وکيلانو سره د نږدې کار وکړي ترڅو د مرستو څخه د ناوړې ګټې اخيستې، فساد او اختلاس قضيې په مناسب توګه او په ټاکلي وخت کي پريکړه وشي. د دې کار پايله دا وه، چه د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د جرمي او عامه پريکړو په برخه کي د عدليي وزارت سره همکاري ډيره شوي ده.

## د افغانستان د شفافيت اداره به سرغړونکي قراردادیان نيسي

د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان د شفافيت ادارې سره د هغه پيښې په اړه چه د جنوبي کوريا او يوې افغاني کمپني د خپل دويم لاس قراردادي سره د ۱،۱ ميليون ډالرو په ارزښت درغلي

1.1 انځور

د سيګار تحقيقات: نوي تحقيقات، د 2011 کال د جنوري د -1 مارچ تر 31




سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو مديريت، 4/15/2011

کړې وه مرسته وکړه. په کابل کې د ځایی بانک مسول باندې هم ادعا شوې وه چه په نوموړې پیښه کې یې لاس درلود. د ۲۰۱۱ کال د جنوري په میاشت کې د افغانستان لوی څارنوال د یوه کوریایی، یوه افغان او یوه پاکستاني د ګرفتاري امر ورکړ. د ۲۰۱۱ کال د فبروري په میاشت کې افغان مسولینو نوموړي کوریایی تبعه په داسي حال کې ګرفتار کړ چه غوښتل یې د هیواد څخه وتښتي. باور کیږي چه پاکستاني تبعه په بریالیتوب سره خپل هیواد یعني پاکستان ته تښتیدلی وي، او افغان وګړي لا تر اوسه ازاد ګرځي.

د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا یو ځانګړي استازي د پوره کاري ورځې لپاره د افغان شفافیت اداري سره وي. د افغانستان د لوی څارنوالي د شفافیت اداري ته د دې قضیې د لیږدولو په خاطر د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي څخه مننه وکړه.

## د ۲۲ افغان وګړو د کار څخه د منع کولو وړاندیز

د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۲۸، USAID د هغه ۲۲ افغان وګړو چه ګمان کیږي د USAID لخوا د تمویل کیدونکي پروژې د افغان دویم لاس قراردادیانو څخه یې پیسي شکولي د کار څخه د منع او محرولو وړاندیز وکړ. دغه افغانان د هغه قراردادي لخوا چه د افغانستان په ۲۳ ولایتونو کې د USAID د ځایی یا محلي حکومتداري او تولنیز پرمختیا پروژې تطبیق کوي ګمارل شوي وو.

لکه څرنګه چه د نور میاشتو په راپورونو کې هم راغلي وو، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته داسي معلومات رارسیدلي چه ګمان کیږي د USAID د محلي حکومتداري د پروګرام لخوا داسي افغانان په دندو ګمارل شوي چه بډې او رشوتونه یې اخیستل. د دې جرمي تحقیقات د پیل څخه سمدستي وروسته، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته معلومه شوه چه د USAID د دفتر عمومي پلټونکي هم ورته تحقیقات پیل کړي دي. د دې لپاره چه خپلي منابع او سرچیني اعظمي کړي سیګار او USAID خپل تحقیقات سره ګډ او یوځای کړل. د ۲۰۱۱ کال په اوکتوبر کې، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي خپل جرمي قیضه وتړله او د کار څخه د محروموالي په اړه یې خپله بیاکتنه پیل کړله.

## تحقیقات د ناوړه او غلطې رغونې او کار شکارندوي کوي

د راپور جوړوني پدې مرحله کې، په کنړ کې میشت د ولایتي بیارغوني تیم د هغه معلوماتو پر اساس چه د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ورکړي وو، پدې موخه ګامونه واخیستل چې به نوموړي ولایت کې د جوړیدونکي یوه پول لپاره باید تول اړین ګامونه همغسي چه په قرارداد کې ذکر شوي واخیستل شي. د هغو معلوماتو پر اساس چه د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا ورکړل شوي وو، د کنړ ولایت د بیارغوني ولایتي تیم د پاشاد د پله په اړه چه شااوخوا ۱،۲ میلیون ډالره لګښت پرې راغلي وپلاټه او ورته معلومه شوه چه نوموړي پول په سمه توګه نه دي بشپړ شوی. نوموړي ولایتي تیم قراردادي ته په ډاګه کړه چه ترهغه به پیسي ترلاسه نکړي ترڅو چه پول په سمه توګه ونه رغوي، دغه پیسي تخمینا څو سوه زره افغانی کیږي.

د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د تحقیقاتو په وخت کې معلومه شوه چه قراردادي قصداً تر ټاکل شوو معیارونو د ټیټ کیفیت لرونکي مواد کارولي وو چه کولای شي د نوموړي پول اینده د کواښ سره مخامخ کړي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د کنړ د بیارغوني ولایتي تیم او د USACE انجینران وهڅول چه د پروژې څخه لیدنه او پلټنه وکړي. د پلټنو په ترڅ کې معلومه شوه چه په پول کې تر معیاري مواد د ټیټ کیفیت لرونکي مواد کارول شوي وو، او په خپل وار سره ولایتي بیا رغوني تیم قراردادي د اړوند برخو د اصلاح کولو هدایت وکړ.

## د سیګار د شکایتونو د تنظم سیستم او تک لاره

د راپور جوړوني د دې مرحلې په ترڅ کې، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ۱۰۶ شکایتونه ترلاسه کړل. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د دې جملې د ۱۵ قضیو په اړه کار کوي او

۱۵ نور بی اړوندو نورو فدرال ادارو ته ولیږدول. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي پاتي ۷۱ شکایتونه د شرایطو نه پوره کولو په دلیل وتړل. د دغه شکایتونو منبع او ترتیب په اړه معلومات په ۱.۲ او ۱.۳ شمیره انځورونو کي ښودل شوي دي.

## د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لپاره بودجه

د امریکا کانګرس په کال ۲۰۰۸ کې د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي اداره تاسیس او د ۲۰۱۱ مالي کال په ګډون یی تر اوسه ۷۱،۶ میلیون ډالره د دغه اداري د عملیاتي لګښتونو د پوره کولو لپاره منظور کړي دي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي سره د ۲۰۱۰ مالي کال ۷،۲ میلیون ډالره پاتي وو، چه پدي سره د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره بودجه ۳۲،۷ میلیون ډالرو ته ورسیدله.


د ۲۰۰۸ کال راپدیخوا، د امریکا کانګرس د افغانستان د بیارغوني لپاره خپل مرستي د پام وړ کچي ته لوړي کړي دیر د ۲۰۰۲ څخه بیا تر ۲۰۰۸ کال پوري، د امریکا کانګرس د افغانستان د بیارغوني لپاره ۲۶،۲۳ ملیارډ ډالره ورکړي او د ۲۰۰۸ څخه بیا تر ۲۰۱۱ کاله پوري یی ۴۵،۶ میلیون نور ډالر ورکړي دي. د دي مرستو کچه به لوړه شي څکه په دي شمیرو کي د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت او د USAID لخوا د ترسره شوي پروژې شاملي نه دي. د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د امریکا ولسمشر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د تقویي، د حکومتداري د پرمختیا او د اقتصادي پرمختګ د اساس د اینودلو حسابونو او مرستي شاملي نه دي.

د دي لپاره چه د بیارغوني په برخه کي د ځارني هڅي وغزول شي، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي باید د کابل، قندهار او بګرام برسیره نوري سیمي تر خپل پوښښ لاندي راولي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا د ۴۴،۴ میلیون ډالرو غوښتل شوي بودیجه به دغه اداره په دي قادره کړي چه کارپوه محقیقین او پلټونکي په دندو وګماري او د مالیه ورکونکي د ډالرو څخه د ناوړه ګټي اخیستني، فساد او ضیاع مخه ونیسي. ۱.۱ شمیره جدول د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لپاره په ۲۰۱۱ مالي کال کي د مرستو او فنډ لنډیز بیانوي.

1.3 انځور

د سیګار د شکایتونو حالت: د 2011 جنوري د 1 څخه د مارچ تر 31

ټول: 106





a. قضیه بیاکتل شوې ده، او سیګار اضافي معلومات ترلاسه کوي.
b. د کره معلوماتو او اداري تعقیب کلولو په موخه د ابتدایی تحقیقاتو ترسره کول.

سرچینه: د سیګار تحقیقاتي مدیریت، 4/15/2011

1.2 انځور

د سیګار د شکایتونو منبع د 2011 کال د جنوري د 1 څخه د مارچ تر 31

ټول: 106




سرچینه: د سیګار تحقیقاتي مدیریت، 4/11/2011

## د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي اداري کارکوونکي

د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د ټولو کارکوونکو شمیر ۱۲۳ فدرال کارکوونکو ته رسیږي. د بیارغوني په برخه کې ولسمشر لخوا په مرستو کې د پام وړ زیاتوالي ته په کتو، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په پام کې لري چه په راتلونکي کال کې تکړه‌ه او پوه پلټونکي په دندو وګماري. خپل مالی منابعو ته په کتو سره، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی موخه داده چې په 2012 مالي کال کې ۱۸۰ تنه د پوره وخت کارکوونکي ولري.

په افغانستان کې د امریکا د سفارت او د USFOR-A سره د تفاهم په اساس د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي کولای شي په افغانستان کې ۴۵ تنه په دنده وګماري- ۳۳ په سفارت کې او ۱۲ په نظامي قرارګاوو کې. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي اوس د افغانستان په مختلفو سیمو کې کار کوي. د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی همدارنګه د خدماتو لپاره دوه د خارجي تابعت لرونکي هم خپل د کابل په دفتر کې په دنده ګمارلي دي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د هغه کارکوونکو سره چه په افغانستان کې د لنډې مودې لپاره کار کوي خدمت کوي.

1.1 جدول

| د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي سره د مرستي لنډیز (د امریکایی میلیون ډالرو په حساب) | | |
|---|---|---|
| **اختصاص** | **عامه قانون** | **مبلغ** |
| H.R. 2642، د بشپړوونکو تخصیصاتو قانون،۲۰۰۸ | P.L. 110-252 | 2.0 |
| H.R. 2642، د بشپړوونکو تخصیصاتو قانون،۲۰۰۸ | P.L. 110-252 | 5.0 |
| ، د کلک امنیتي، د ناخوالو د مرستي او د روانو تخصیصاتو قانون،۲۰۰۹ | P.L. 110-329 | 9.0 |
| H.R. 2346، د بشپړوونکو تخصیصاتو قانون،۲۰۰۹ | P.L. 111-32 | 7.2 |
| H.R. 2346، د بشپړوونکو تخصیصاتو قانون،۲۰۰۹ | P.L. 111-32 | (7.2)[a] |
| H.R. 3288، د راغونډو شوو تخصیصاتو قانون،۲۰۱۰ | P.L. 111-117 | 23.0 |
| H.R. 4899، د بشپړوونکو تخصیصاتو قانون،۲۰۱۰ | P.L. 111-212 | 7.2 |
| H.R. 1473، د دفاع وزارت او د ټول کال د روانو تخصیصاتو قانون، ۲۰۱۱ | P.L. 112-10 | 25.5 |
| **ټول** | | **71.7** |


a. کانګرس د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي لپاره په ۲۰۰۹ کال کې تخصیص شوي ۷،۲ میلیون ډالره فنډ فسخ کړ(Title XI in P.L. 111-32) او بیا یی وروسته د P.L. 111-212 له لارې د 3/30/2011 لپاره په ۲۰۱۰ کال کې بیرته منظوري کړې.

**د انتقال لپاره چمتوالی**

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۷مه د کندهار ولایت د محلي نظامي مرکز څخه ۱۵۰۰ د ملي اردو عسکر د خپل فراغت د سند د ترلاسه کولو لپاره راغونډ شوي دي. پدې درو میاشتو کې تر ۲۲۰۰۰ ډیر د ملي اردو پرسونل د افغانستان د امنیتي ځواک د فنډ څخه په پراخه کچه د تمویل کیدونکو روزنیزو مرکزونو څخه فارغ شوي دي. (د ایساف انځور)

# 2

# د افغانستان عمومي کتنه



" په نړدې راتلونکي کې د یوې سختې جګړې اټکل کیږي، او د افغان دولت
څخه په راتلونکي کې د ښه حکومتداري هیله کیږي.
خو مونږ د افغانانو د وړتیاوو او ظرفیت د لوړولو په برخه کې د هغوی سره مرسته کوو او د افغانانو سره مو ټینګې اړیکې رامنځ ته کړې دي. سږ کال به مونږ د ۵۰ هیوادونو
۵۰ سره ګډ کار وکړو ترڅو مسولیت افغانانو ته وسپارل شي."

ـــد متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: سپینه مانی، " د دولت د یوالي غونډې ته بارک اوباما د وېناوو څخه،"1/25/2011

# عمومي کتنه

د دې راپور د جوړول په ترڅ کې، د امریکا کانګرس د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره بودجه منظوره کړه، ولسمشر د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د بودجه وړاندې کړه، د امریکا متحده ایالت په افغانستان کې په ۲۰۱۴ کال کې د مسولیت د انتقال د پروسې په لړ کې په افغانستان کې د بیارغونې د پروژو په برخه کې ډېر تمرکز او پام کوي. د افغانستان د بیارغونې لپاره په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ مالي کال لپاره ځانګړې پیسې به د افغان ملي اردو او ملي پولیسو په روزنه، تجهیز او د هغوی هستوګنې او ځایونو په جوړولو باندې ولګول شي – دا ټول هغه مهم ټیکي دي چه د مسولیت د انتقال د ستراتیژۍ لپاره خورا ډېر اهمیت لري. پدې برسیره، جګ پوړو امریکایی مسولینو کانګرس ته وویل چه د یو دوامداره او باثباته انتقال لپاره یوازې د یو قوي امنیتي ځواک درلودل بسنه نه کوي، بلکه همدا ډول باید اقتصاد د تقویه او غوره حکومتداري په برخه کې ډېر پرمختګونه ترلاسه او رامنځ ته شي. په دغه برخو کې د مسولیت د انتقال پروسه د جدي ننګونو سره مخامخ ده، د دې ډلې د پراخ فساد په وړاندې مبارزه او د افغان اوسني بانکي حساب د ستونزو د حلول چه د افغانستان سره د نړیوالو لخو د مرستو په ترلاسه کولو کې لوی خنډ رامنځ ته کړي دي. Tد امریکا کانګرس د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره ځینې د بیارغونې مرستې نوموړو ستونزو ته په پام سره په ځینو خاصو حالاتو پورې مشروط ګرځولې دي.

## کانګرس د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره بودجه ځانګړې کړه

د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۱۵مه، ولسمشر اوباما د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره ځانګړې شوې بودجه لاس لیک کړه، په کومه کې چه د افغانستان د بیارغونې لپاره ۱۲،۶ ملیارډ ډالره ځانګړې شوې دي او هغه به د امریکا د دفاع وزارت لخوا اداره او تنظیمیږي. کله چه دغه راپور چاپولو ته استول شوې وو، د امریکا پرمختیایی اداري(USAID) او د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت(DoS) لپاره د افغانستان د بیارغونې په برخه کې ځانګړې شوې مقدار پیسې معلومې نه وې.

### د دفاع وزارت لپا د بیارغونې مرستې

د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره لاس لیک شوې بودجې پر اساس لاندې تخصیصات د امریکا د ملي دفاع وزارت لخوا منظم او اداره کیږي:

- ۱۱،۶ ملیارډ ډالره د افغانستان د امنیتي ځواک د فنډ له لارې
- ۵۰۰ میلیون ډالره د قومندان د عاجل عکس العمل د پروګرام لپاره
- ۴۰۰ میلیون ډالره د افغانستان د زیربنا د فنډ لپاره
- ۱۵۰ میلیون ډالره د سوداګرۍ او د ثبات په اړه د عملیاتي قوې لپاره

د ۱۲،۶ ملیارډ ډالره چه امریکا د دفاع وزارت لخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړې شوې، ۱۱،۶ ملیارډ ډالره د افغانستان د امنیتي پوځ د فنډ (ASFF)، چه د افغانستان د ملي امنیتي پوځ(ANSF) یا قوې د پرمختیا لپاره کارول کیږي بیلې شوې دي. د ASFF لپاره په کال ۲۰۱۰ کې د ځانګړې شوې بودجه په نسبت ۲،۵ ملیارډ ډالره

زیاتوالي ښایي. د قانوني مقررې پراساس باید د بهرنیو چارو وزیره باید د هرې پروژې پر اساس په هر درو میاشتو کې د کانګر د دفاع کمیټو ته د وړاندیز شوو مرستو د لګونو په اړه راپور ورکړي، او د افغان ملي امنیتي پوځ په روزنه او تجهیز باندي د تخمیني لګښت په اړه اټکل یا تخمین وړاندي کړي.

د ۲۰۱۱ مالي کال د ملي دفاع د صلاحیت د قانون پر اساس، د امریکا کانګرس د قومندان د عاجل عکس العمل د پروګرام (CERP) لپاره ځانګړې اختصاص کم او د نوي افغانستان د زیربنایی فنډ (AIF)سره یی مرستي زیاتي کړې. لکه څرنګه چه د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړې عمومي پلټونکي په راپور کې راغلي وو، د امریکا کانګرس د امریکا د دفاع وزارت لخوا د CERP د مرستو څخه دې پرځای د خپلو ټاکل شوو موخو- یعني د وړو پروژو تطبیق، او د په عاجلو حالاتو کې د قومندانانو سره مرسته کولو ترڅو هغوي په خپلو اړوندو کاري سیمو کې بشري او نورو خدمتونه لپاره وکارل وشیي په افغانستان کې د لویو زیربنایی پروژو لپاره د ګټې اخیستني په اړه تشویش درلود. د امریکا د دفاع وزارت به د هغه هیواد د بهرنیو چارو د وزارت سره په ګډه د تاوتریخوالي پر وړاندي د مبارزې د ستراتیږې په رڼا کې د AIF پروژې منظوري کوي. د امریکا پوځ د انجینرانو قطعه او USAID به دغه پروژې پلي او تطبیق کړي.[1]

کانګرس همداړول د سوداګرې او پایښت د عملیاتو په موخه عملیاتي ځواک (TFBSO) ته هم مرستي منظورې کړې تر څو وکولای شي" تاوتریخوالي را کم، ثبات رامنځ ته او او په افغانستان کې د سوداګرې او افغانستان کې اقتصادي فرستونوته په کتو د دغه هیواد په اقتصادي رغونه کې رول ولوبوي."[2] د دې قانوني تګ لارې په اساس، TFBSO کولای شي داسي پروژې تطبیق کړي چه په خصوصي پانګوني په برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته، صنعتي ، مالي، ګرهنیز او د انرژې په برخو کې اسانتیاوې او پرمختګونه رامنځ ته کړي. د امریکا دفاع وزارت TFBSO په کال ۲۰۰۶ کې د لومړې ځل لپاره عراق کې د هغه هیواد د خصوصي سکتور د پرمختیا او د عراقي وګړو ته د کار د زمیني د برابر په قصد تاسیس او رامنځ ته کړ. د ۲۰۰۹ کال راپدیخوا، TFBSO په افغانستان کې خپل فعالیت پیل کړي دي، پدغه هیواد که نوموړي پروګرام د افغانستان د معدنونو څخه د ګټې اخیستني په لومړنیو لارو چارو باندي کار کوي، چه باور کې تر ۹۰۰ ملیارډ ډالرو ډیر ارزښت ولري.

## د امریکا د دفاع او کورنیو چارو د وزارت لپاره ناڅرګندې مرستي

د دغه راپور د چاپ تر وخته، د کانګرس لخوا د امریکا د دفاع او کورنیو چارو د وزارت لپاره د افغانستان د بیارغوني په برخه کې د ګټې اخیستي او کاروني لپاره مرستي او تخصیصات نه وو ځانګړې او معلوم شوي. د بهرنیو چارو وزارت او USAID داسي ډیر حسابونه چه په افغانستان او نورو هیوادنو کې پرمخیتایی پروګرامونه پرمخ وړي تنظیم او اداره کړي دي. تر ټولو لوی یی د اقتصادي ملاتړ فنډ(ESF) دي، چه د نړې په مختلفو برخو کې غوره حکومتداري او اقتصادي پرمختګ په برخه کې مرسته او همکاري کوي، او نړیوال د مخدره توکو کنترول او د قانون حاکمیت (INCLE) حساب دي ، چه د پولیسو سره د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې، د قانون د حاکمیت او عدالت د تحکیم په برخه کې د نړې په مختلفو برخو کې مرسته او همکاري کوي. د نورو کالو برعکس، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان په سطحه د هر حساب څخه د مرستو کچه نه دي ځانګړې او مشخصه کړې.

## کانګرس ESF لپاره مرستي را کمي او د افغانستان سره په ترسره کیدونکو مستقیمو مرستو باندي یی شرایط وضع کړي دي

کانګرس د ESF لپاره حدوداً ۵،۹ ملیارډ ډالره تخصیص کړي کوم چه د غوښتل شوي مقدار څخه د ۱،۹ ملیارډ ډالره کم دي. برسیره پردې چه کانګرس د ESF لپاره ځانګړې شوې مرستي را کمي کړي، همدا ډول یی اضافه کړې چه ترڅو لاندي درې شرایطه پوره نکړل شي د حکومت- څخه- حکومت د مستقیمي مرستي نشي ترسره

کیدلای:

- ترڅو چه د بهرنیو چارو وزیره کانګرس ته دا تضمین نکړي چه د مرستو تطبیق کونکي اداري سره هرډول همکاري او مرسته شوي او د دغه مرستو څخه د ګټې اخیستنې لپاره وړ او مناسبه اداره ده.
- د امریکا دولت او د افغانستان جمهوري اسلامي دولت په لیکلي بڼه دې هوکړې ته رسیدلي دي چه د دغه مرستو څخه به د واضیح او ترلاسه کیدونکو اهدافو او موخو لپاره ګټه اخیستل کیږي.
- د امریکا دولت او د افغانستان جمهوري اسلامي دولت د هرې اداري د ننه داسي میکانیزمونه رامنځ ته کړي ترڅو یقیني شي چه نوموړې مرستې د ټاکل شوو موخو او اهدافو لپاره کارول کیږي.

که چیرې افغان دولت عامه مدیریتي سیستمونو کي اصلاحات پلي، فساد کم، د بودجې کاروني بهتره او د مالیاتو راټولونه زیاته کړي د امریکا هیواد او نور نړیوال مرسته کونکي هیوادونه به ۵۰ په سلو کي مرستې د افغانستان د ملي انکشافي بودجه له لارې وکاروي. هدف دادي چه د مستقیمو مرستو له لارې افغان دولت د حکومتداري وړتیاوې او ظرفیتونه لوړ کړل شي. خطر دا دي چه کیدای شی دغه مرستې د فساد او یا هم د نا سالمې اداري له لارې ضایع شي. متحده ایالات د افغان دولت او نورو نړیوالو مرسته کونکو سره ګډ کار کوي ترڅو د افغان دولت لپاره د ارزوني یو مستقله تګ لاره چه وکولای شي د افغانستان د وزارتونو سره د بشري ګمارنې، پروسو او طرزالعملو په اړه مرسته وکړي او هغوي ته بیا کتنه وکړي او مناسب تضمینونه ورکړل شي چه نوموړو مرستو څخه ناوړه ګټه نه اخیستل کیږي او د فساد او اختلاس په ترڅ کي نه سوزي. د دې هڅو په اړه د بحث لپاره ۳ مه برخه وګوري.

## د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان سره ترسره کیدونکي مستقیمو مرستو په اړه همکاري کوي

دې تشویش ته په کتو چه د افغان دولت کي کاري ظرفیت ټیټ او نړیوالو مرستو په اړه حساب ورکونه کمه ده، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د دوو پوښتنو د ځوابولو لپاره پلټنې ترسره کوي:

- په افغانستان کي په د موخه چه فساد پر وړاندې مبارزه قوي او د قانون حاکمیت عملي شي د امریکا متحده ایالات او نور نړیوال مرسته کونکي په افغانستان کي څه کوي؟
- ترکومې کچې په افغان ادارو کي چه د دغه مرستو ډیرې برخه ترلاسه کوي د حساب ورکوني سیستمونه پرځاي او یا موجود دي؟

پدې ربع کي د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان سره د ترسره کیدونکي مستقیمو مرستو په اړه چه عموماً د دوو مهمو لارو څخه ترسره کیږي د پلټنو دوه راپورونه خپاره کړل- افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) او د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA).ARTF د نړیوال بانک لخوا پرمخ وړل کیږي او LOTFA د ملګرو ملتونو د پرمختیایی اداري یا (UNDP) پرمخ وړل کیږي. لومړنې پلټنه د افغان ملي پیوستون پروګرام چه په افغاني ټولنو کي د پرمختیایی پروګرامو د پلي کولو په برخه کي مخکښ رول لوبوي او په کلیو کي د پروژو د تمویل او د محلي حکومتداري د ښوالي لپاره د ARTF د مرسته څخه ګټه اخلي په اړه وه. په دویمه پلټنه کي د افغانستان د ملي پولیسو د پرسونل د تنظیم او اداري په اړه ترسره شوه؛ د افغان ملي پولیسو ډیري د معاشونو، امتیازونو او تخصیصاتو برخه د LOTFA لخوا تمویل کیږي. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي اوس مهال د ARTF په اړه چه د افغانستان د عملیاتي او انکشافي بودجې سره مرسته کوي پلټنې ترسره کوي.

د امریکا متحده ایالات چه د ملي پیوستون د پروګرام سره تر ټولو لوی مرسته کونکي هیواد دي او د ۲۰۰۲ څخه بیا تر ۲۰۱۰ کال پورې یې ۵۲۸ میلیون ډالره کمک کړي دي. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته معلومه شوه چه نړیوال بانک، افغان دولت او هغه ټولنې چه د ملي پیوستون د پروګرامونه

څخه ګټه اخلي داسي ميکانيزمونه ځاي په ځاي کړي دي چه د دې امر ښکارندوي کوي چه د ملي پيوستون لپاره ځانګړي شوې مرستي د ټاکل شوو اهداف سره سمي کارول کيږي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي ته همدا شان معلومه شوه چه د ملي پيوستون پروګرام د پرمختيايی مرستو په ورکولو او په امن سيمو کي په کليو او بانډو کي په زرګونو ځاي وګړو ته د غوره حکومتداري په اړه د روزني په ورکولو کي پرمختګونه ترلاسه کړي دي. دا پداسي حال کي ده،چه د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د ملي پيوستون لپاره يوه مهم هدف ته د رسيدلو په اړه تشويش لري او هغه: د محلي حکومتداري جوړول او بهتره کول دي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي همداډول د نوموړي پروګرام نا امنه سيمو ته د غزول کيدو په صورت کي د څارني او تطبيق په برخه کي د وړپيښدونکو ستونزو په اړه تشويش لري. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغان ملي پيوستون پروګرام ته د مرستو د بيرته ترلاسه کولو، څارني په اړه زيات شمير وړانديزونه کړي ترڅو نوموړي پروګرام خپلو موخو ته ورسيږي. د دې پلټني د موندنو د لنډيز او وړانديزونو لپاره ۱ برخي ته ستانه شي.

د افغان ملي پوليسو د پرسونل د تنظيم او اداري په اړه د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا په ترسره شوو پلټنو کي معلومه شوه چه که څه هم د افغانستان د کورنيو چارو وزارت د خپلو کارکونکو د حساب ورکوني په اړه مثبت ګامونه اخيستي دي،خو بيا هم دغه وزارت د خپلو ټولو کارکونکو د موجودي ليست او کاري وړتيا په اړه بشپړ تصديق نشي کولای. د ۲۰۰۳ کال راپديخوا، د امريکا متحده ايالاتو د LOTFA سره تقريباً ۵۴۵ ميليون ډالره مرسته کړي ده- چه دغه مقدار د ۱،۵ مليارډ ډالرو چه د نړيوالي ټولني لخوا ترسره شوې وه يو پر دريمه برخه جوړوي- ترڅو د افغان ملي پوليسو د استخدام لګښتونه (لوموړني معاشات، امتيازات او تخصيصات) پوره کړي. د ملګرو ملتونو پرمختيايی اداره يا UNDP د LOTFA او د افغان ملي پوليسو د پې رول يا موجودي دليست د ډيرى لګښتونو په اړه د څار او نظارت چارې پرمخ وړي، او د دې کار لپاره د اداري فيس په نامه پيسي ترلاسه کوي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغان ملي پوليسو د پرسونل او پې رول د لګښتونو او د LOTFA سره د امريکا د متحده ايالاتو او د نورو نړيوالو مرسته کونکو لخوا دترسره شوو مرستو لپاره د UNDP لخوا د غوره څار لپاره وړانديزونه کړي دي. د دې پلټنو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱ برخه وګوري.

## کانګرس د ESF او د INCLE د مرستو د کاروني په اړه لا زيات محدوديتونه وضع کړل

د حساب ورکوني، فساد او په افغانستان کي د ښځو وضعيت په اړه ننګونو او تشويشونو ته په کتو، د امريکا کانګرس د ESF اود INCLE د مرستو په اړه يو شمير شرايط وضع کړي دي. وړاندي تر دې چه د مرستو تعهد وشي د امريکا د بهرنيو چارو وزيره بايد د USAID د مسول سره يوځاي بايد د هغه اقداماتو په اړه چه به افغانستان کي د غوره حکومتداري، دفساد سره د مبارزې او د ښځو د حالاتو د ښوالي په برخه کي اخيستل شوي تصديق او د هغه په اړه د کانګرس اړوندو کميټو ته راپور ورکړي. د بهرنيو چارو وزيره بايد لاندي ټيکي تصديق کړي:

- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د فساد سره د مبارزې، د حکومتداري د ښوالي او د مالي شفافيت د رامنځ ته کولو په برخه کي کوټلي ګامونه اخيستي دي.
- د افغانستان دولت د ښځو د حقوقو د خونديتوب په برخه کي جدي ګامونه اخيستي دي.
- افغان دولت په دغه هيواد کي د فساد پر وړاندي د مبارزې د ټولو هڅو لپاره يوه واحده ستراتيژي جوړه کړي ده.
- مرستي به پدې موخه تنظيم شي چه د افغان عامه ادارو او خصوصي ادارو سره د فساد د کچي د ټيټوالي، او په ملي، محلي او کليوالي کچه د حکومت په کړنو کي شفافيت او حساب ورکونه قوي کړي شي.

- د افغان ملي، ولايتي او محلي استازو، د محلي ټولنو او د عامه اجتماعي سازمانونو سره به سلامشورې وشي او هغوي به د پروګرامونو، پروژو او د فعاليتونو په طرحه کولو او جوړول کې ونډه او ګډون ولري.
- مرستي به همداډول د امريکا حکومت لخوا د مستقيمو ګمارل شوو کسانو د ليږدوني لپاره هم وکارول شي تر څو هغوي د مرستو د کنترول او څار چارې قوي کړل شي.
- په ملي، ولايتي او محلي کچې د امريکا د مرستو په د تنظيم او دهغه د اعتبار د ساتلو په موخه کاري چوکاټونه او ميکانيزومونه کاورل کيږي.

د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د نومړو موضوعاتو په اړه يو زيات شمير پلټني ترسره کړې دي، چه په کې د فساد پر وړاندې د امريکا لخوا د يوې قوي ستراتيژي د درلودلو وړانديز هم شامل دي. د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د افغانستان د بانکي سکټور، د USAID د محلي حکومتداري او د ټولني پرمختيايي ابتکار، او د امريکا د لخوا د عامه افغانانو د ژوند د سطح لوړول چه د افغانانو د ظرفيت او وړتياوو د لوړولو په نيت ترسره کيږي په اړه پلټني ترسره کوي.

د ESF او د INCLE مرستو لپاره دغه شرايط په ځانګړو تخصيصاتو کې هم ذکر شوي دي:

- تر اعظمي ممکنه حده پوري، بايد دغه مرستي افغان ښځو د سياسي، اجتماعي او اقتصادي حقوقو د خونديتوب او ښځو او جينکيانو د حقوقو د دفاع لپاره وکارول شي.
- دغه مرستي د سولې او د بياپخلايني په برخه کې (۱) پدې قصد چه افغان ميرمني په ملي، ولايتي او محلي کچه د بياپخلايني او يوځاي کيدني په برخه کې د طرحو په جوړولو، د پاليسيو په طرحه کولو او د هغه د تطبيق په برخه کې رغنده رول ولوبوي، او (۲) او چه دغه مرستي د هيڅ مسلح ډلي او يا هم مشر چه د بشريت پر ضد په جنايت، جرم او د نورو نړيوالو پيژندل شوو حقوقو په سرغړونو تورن وي د برعت او عفوې لپاره ونه کارول شي.
- دا مرستي د امريکا د متحده ايالاتو لخوا د ARTF سره تر هغه پوري ترسره کيدلای شي ترڅو چه د امريکا د بهرنيو چارو وزيره په دې باور شي چه د نړيوال بانک استازي ځکه د مالي کنترول او پلټنو د مسوليت څخه په ښه توګه ځارنه نشي کولای چه د افغان دولت د امنيتي پرسونل په اړه ډير محدوديتونه موجود دي.
- دا مرستي کيدالای شي د ناټو او ايساف د عملياتو وروسته د بشري مرستو د فنډ لپاره د امريکا د متحده ايالاتو د ونډې په توګه وکارول شي.

پدې قانوني تګ لاره کې راغلي چه د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي، د بهرنيو چارو د وزارت عمومي پلټونکي، او د USAID د عمومي پلټونکي دفتر بايد د امريکا لخوا د افغانستان د عامه عملياتو په اړه يو ګډ د پلټني پلان طرحه کړي. دغه پلان بايد د کانګرس اړوندې کميټي ته د تخصيصاتو پر اساس د ۲۰۱۱ کال د مې د مياشتي وړاندې وسپارل شي.

## د انتقال پيل: انتقال

د دې راپور د جوړوني په موده کې، د امريکا متحده ايالات، نړيواله ټولنه او افغان دولت ټولو خپل پام د افغان ملي امنيتي پوځ په اړه د خپلي ستراتيژي پر تطبيق باندې متمرکز کړي وو ترڅو هغوی په کال ۲۰۱۴ کې د امنيتي چارو مسوليت پرغاړه واخلي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۲مه افغان ولسمشر حامد کرزي اعلان وکړ چه د نړيوالو امنيتي پوځ څخه افغان امنيتي پوځ ته د مسوليت (د انتقـــال) لړۍ به د افغانستان د دريو ولايتونو( پنجشير، باميان، او کابل) او د څلورو ولسواليو( د هرات، لشکرګاه، مزارشريف او مهترلام) څخه پيل شی. د امريکا د دفاع وزارت په وينا اټکل کيږي چه د انتقال لړۍ به په دوبي کې پيل شي.

د انتقال په اړه د افغان او ناټو ګډ هيئت (JANIB) د مسوليت د انتقال لپاره د ولايتونو د چمتوالي د ارزوني

چار پرمخ وړي.[3] JANIB چه د لوړ پوړو افغان او نړیوالو مشرانو څخه تشکیل شوي تاکید کړي چه د انتقال لړی به شرایطو ته په کتو ترسره کیږي. JANIB مسقیماً افغان ولسمشر حامد کرزي ته راپور ورکوي.

جنرال ډیویډ پیټریوس چه په افغانستان کي د نړیوالو قواوو ناټو او ایساف مشر دي (USFOR-A) د سنا نظامي کمیټي ته په خپله وینا کي وویل چه" د ایساف څخه افغان امنیتي پوځ ته د مسولیت لړیی به په سیمي کي شرایطو ته په کتو او د موضوع او حالاتو د هر اړخیزې څیړني او ارزوني په رڼا کي ترسره کیږي، ترڅو د هغو لپاره چه په افغانستان کي د قومنداني په کچې دنده ترسره کوي د د افغان همکارانون سره په ګډه 'د جنګي سیمي د جغرافیا' د پلانولو موقع او وخت ورکړل شي." [4] جنرال پیټریوس همدا راز وویل چه " زمونږ عسکر د شمیر کمیږي نه دا چه د هرڅه څخه تیر او لاس په سر کیږي، دا کار به په جنګي سیمو کي د نورو امن لرونکو سیمو څخه د راغلو عسکر په زیاتولو او او د روزني په برخه کي چه ډیر کار ته اړیتا لري له طریقه ترسره شي."[5]

## د افغان ملي امنیتي ځواک د قدرت او توان لوړول

د دې راپور جوړوني په ترڅ کي، ایساف او افغان وزارتونو د مسولیت د انتقال د تسهیل او اسانتیا په موخه د افغان ملي امنیتي پوځ ته توان او قدرت د لوړولو وړاندیز وکړ. د ۲۰۱۲ کال د نومبر ترمیاشتي پوري به افغان ملي اردو د ۱۷۱۶۰۰ څخه ۱۹۵۰۰۰ زرو ته او افغان ملي پولیس به د ۱۳۴۰۰۰ څخه ۱۷۰۰۰۰ ته زیات کړل شي. د امریکا متحده ایالاتو چه د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو د روزني، تجهیز او د هستوګني د امکاناتو سره تر ټولو ډیره مرسته کوي تر داخلي جر او بحث وروسته د دغه زیاتوالي سره خپله موافقه وښودله. نهایی منظوري باید د ګډې همکاری او څار د هیئت لخوا ترسره شي، کوم چه ستر او لوی پرمختیایی پروګرامونه همغږي او منظوروي. نوموړي هیئت د افغان او نړیوالو لوړ پوړو چارواکو چه د افغانستان په بیارغوني کي رول لري جوړ شوي دي.

د امریکا د سنا نظامي کمیټي ته په خپل تقریر کي د امریکا دفاع وزیر رابرټ ګیټس وویل چه د افغان ملی امنیتي پوځ د شمیرد زیاتولو په وړاندي دوه ټیکي د بحث وړ دي، یو دا چه د مسولیت پرغاړه اخیستلو لپاره د یو لوړ شمیر لرونکي افغان امنیتي ځواک او بل دا چه د دغسي یو لوی ځواک بقا او ساتل څوموره عملي دي. د امریکا د دفاع د وزیر په وینا، اصلي پوښتنه دا ده چه د افغان حکومت لخوا د بقا او د تضمین پر ځاي اصلي پوښتنه دا ده چه د امریکا حکومت د څه د بقا او پاینښت تضمین کولای شی. هغه اضافه کړه چه هر ډول د شمیر زیاتوالي ته باید د یو لنډ مهالي هڅي په توګه وکتل شي. "" د حفظ او پاینښت موضوع"، هغه وویل، "چه لیږ ترلیږه د راتلونکو څو کلونو لپاره د عسکرو د زیاتوالی د بقا مسله د افغانستان په نسبت دې ته ورته ده چه امریکا د څومره شمیر افغان ځواک د بقا تضمین کولای شي، ځکه د زیاتیدونکي عسکرو شمیر د هغه څه چه افغان دولت یی اوس لري یو وړه برخه جوړوي، ځکه خو زه د هغوي د عسکر د شمیر د زیاتولو موضوع داسي ګڼم لکه په مونږ پوري تړلي موضوع." د دفاع وزیر وویل چه اصلي هدف دا دي چه طالبان مات او یا هم وځپل شي ترڅو لیږ شمیر افغان امنیتي پوځ هم وتوانیږي چه د هیواد کنترول وساتلی شي.[6] لوړ پوړي امریکایی او نړیوال مسولین پدې باور دي چه د حکومتي او اقتصادي پرمختګونو پرته د مسولیت د انتقال یوه بریالی ناممکنه ده. په مارچ میاشت کي، جنرال پیټریوس د امریکا سنا نظامي کمټي ته وویل چه " د مسولیت د بریالي انتقال لپاره د امنیتي اساس برسیره باید لا ډیر څه وشي." هغه وویل،" چه تاسو نشي کولای چه د حکمتداری او پرمختیایی برخو په اړه د پرمختګونه پرته د مسولیت د انتقال یوه بریالي پروسه ولري."[7]

## نور فکتورونه چه د مسولیت پر انتقال اغیزه لري

پدې ربع کې به دوه نور مهم پرمختګونه د انتقال پر پروسه اغیزه ولري. اول، دا چه د افغانستان دولت تصمیم چه خصوصي امنیتي کمپنیانو ته د ځانګړو شرایطو تر چتر لاندې د راتلونکي کال لپاره خپلو چارو ته په افغانستان کې دوام ورکړي. دغه کار به سبب شي بیارغوني دوام او ترسره شي. دویم، د کابل بانک په اړه روان مالي کړکیچ، چه د افغان دولت سره د امریکا او نړیوالو مرسته کوونکو مرستې د خطر سره مخامخ کړي دي. دغه دواړې موضوعات په ۳ برخه کې بیان شوي دي.

## د وړاندې په لور

د فبروري په میاشت کې د امریکا ولسمشر بارک اوباما د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د بودیجه غوښتنه پداسي حال کې وکړه چه د افغانستان سره د مرستې په مقصد یی تقریباً د ۱۷،۳ ملیارډ ډالرو غوښتنه کړې ده. په بودجه کې د لاندې برخو لپاره د مرستو غوښتنه شوې ده:

- ۱۲،۸ ملیارډ ډالره د افغان ملي امنیتي پوځ لپاره
- ۲،۸ ملیارډ ډالره د اقتصادي ملاتړ د فنډ لپاره
- ۵۰۰ میلیون ډالره د قومندان د عاجل عکس العمل د پروګرام لپاره
- ۴۷۵ میلیون ډالره د افغانستان د زیربنایی فنډ لپاره
- ۳۳۳،۳ میلیون ډالره د مخدره توکو د منځه وړلو او د مخدره توکو پر وړاندې د فعالیتونو د فنډ لپاره
- ۳۲۴ میلیون ډالره د نړیوالو مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او د قانون د حاکمیت د فنډ لپاره

که چیرې نوموړې بودجه منظوره شي د ۲۰۰۲ راپدیخوا چه د امریکا لخوا د طالبانو دولت رانسکور شوو دا به په یوه کال کې د افغانستان د بیارغوني سره ترسره شوې ډېر تخصیص وي.

راتلونکي دري کاله د امریکا د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې لپاره ډېر مهم او حساس کلونه دي، ځکه چه د امنیت، حکومتداري او د ایساف څخه افغان ملي امنیتي پوځ ته د مسولیت د انتقال په لړ کې پروګرامونه او پروژې پلي او تطبیق کیږي. د دغه پیچلو او حساسو هڅو څخه د تحقیق او پلټنې لپاره د یوې هر اړخیزې تګ لارې او اقدام اړتیا لیدل کیږي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د پلټنې په پلان کې د انفرادي پروژو او د لویو پروګرامونو څخه پلټنې شاملې دي. برسیره پر دې، په لویو او مهمو قراردادو کې د فساد، اختلاس او ناوړ ګټې اخیستنې لخوا د دې امر د معلوملو لپاره چه د امریکا د مرستو څخه په ریښتنوالي او هوښیاري ګټه اخیستل کیږي، د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي به همدا ډول به د هغه اجنسیانو او ادارو سره چه د بیارغوني پروګرامونه پرمخ وړي همکاري او مرسته وکړي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د خپلو تحقیقاتو منابعو څخه د هغو کسانو او کمپنیانو پروړاندې چه د فساد او اختلاس په سترو پیښو کې لاس لري د جرمي قضیو په برابرولو کې ګټه واخلي. د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي خپلې تحقیقاتي او د پلټنې هڅې د نورو فدرالو او د قانون د پلي کونکو اداره سر پدې موخه همغږې کوي چه د امریکا د کانګرس لخوا د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړو شوو مرستو په اړه کره او اعظمي پایلې ترلاسه شي.

**د سرکونو پاکول**

د امریکا متحده ایالاتو د پوځ انجینران د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د افغان امنیتي پوځ په همکاري د افغانستان په ختیځ کې وروسته ترهغه سرکونه بیرته رغوي چه وړاندي تر دې یی دغه سرکونو د ماینونو څخه پاک کړي وو. د ۵ میلیون ډالرو په ارزښت په دغه پروژه کې درې قیر سرکونو او درې نور په جغل فرش سرکونو چه ۴۳ کیلومتره اوږدوالي لري د خوګیاني او شیرزاد په ولسوالیو کې رغول کیږي. ( د امریکا د پوځ انځور)

# 3

# د بیا رغونې
# تازه حال



" بیا هم، یوازي دا کافي نه ده چه سیمه پاکه او ونیول شي: تاسو باید نوموړې سیمه وهم رغوی. او په رغونه کې محلي حکومتداري، د محلي اقتصادي نوي کول، په اساسي خدمتونو که ښوالی او داسي نور، تر ځو افغانانو ته معلومه شي چه د افغان دولت سره د همکاري له کبله افغان دولت یو ښکاره او روښانه راتلونکي لري... او دا کار تر هغه غوره دي چه بیرته طالبانو ته وروګرځي."

-- جنرال ډیوېډ ایچ پیټروس

سرچینه: د افغانستان په اړه د امریکا سنا د پوځي خدمتونو کمیټې ته د جنرال ډیوېډ ایچ پیټریوس له وینا څخه، 3/15/2011.

# عمومي کتنه

۳ مه برخه د دغې راپورد جوړولو تر مودې پورې، د افغانستان د بیارغونې د هڅو په اړه هراړخیزه کتنه وړاندې کوي. د بشپړتیا، ننګونو او ځایي ادارو کوم چې د بیارغونې هڅوته د نظارت لپاره اړینه فضا چمتو کوي، په هکله تازه معلومات. د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکي د بشپړ شویو او روانو مالي پلټنو د پژندنې د برخې فرعی ستون ـــ دغو هڅو ته ځانګړې شوې دی؛ د روانو مالي پلټنو په هکله د زیاتو معلومات لپاره فهرست ( کراس ـ رفرینس) به لوستونکي ۱برخې ته هدایت کړي.

۳ برخه په څلورو فرعي برخو باندې ویشل شوې ده: د مرستو حالت، امنیت، حکومتداري او اقتصادي او ټولنیزه پراختیا. د امنیت، حکومتداري، اقتصادی او ټولنیز پراختیا فرعی برخې د لمړیتوب او تطبیق پلان کوم چې په کال ۲۰۱۰ کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا اعلان کړی شوي دي، دری اساسي پایو منعکس کوي. او د افغانستان د ۲۰۰۸ کال ملي پراختیاي ستراتیژی کې ځاي لري .

## موضوعات

۳مه برخه دا څلور پراخ موضوعات بحث کوي: د پخوانیو او اوسنیو مرستو په اړه معلومات، امنیتي حالات، حکومتي فعالیتونه او اقتصادي او ټولنیز پراختیایی پروګرامونه. همدا ډول نوموړې برخه د فساد په وړاندې د مبارزې او د مخدر توکو د قاچاق په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه هم معلومات ذکر شوي دي.

د مالي منابعو د وضعیت فرعی برخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شویو، وعده شویو او مصرف شویو پیسو هراړخیزه بحث له ځانه سره لري. دا برخه د متحده ایالاتو لخوا د اکثرو تمویل شوي پیسو او د نړیوالو اعانې په هکله مشخص معلومات لري.

د امنیت فرعي برخه د افغان ملی امنیتی پوځ د پیاوړې کولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو په هکله تفصیلات ورکوي او په هیواد کې امنیت د راوستلو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو په هکله بحث کوي. دا فرعی برخه د روزنې، تجهیز او بنسټیز پرمختګ په ګډون د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیسو د پیاوړې کولو په موخه د پروګرامونو باندې توجه کوي. دغه برعي برخه همداډول په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه هم معلومات بیان شوي دي.

حکومتی فرعی څانګه د افغانستان د هغو لاس ته راوړنو په اړه نوی معلومات ورکوی چې د افغانستان دولت په حکومتی پرمختایی ډګر کښی ترلاسه کړی دی. دغه فرعي برخه د افغانستان د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د پریکړې په اړه دي، همداډول د بیاپخلاینې او ملکي ژوند د بیرته ستنذې، د ظرفیت د لوړولو، د قانون حاکمیت او د بشر د حقوقو په اړه د پرمختګونو په اړه بحث پرې شوي دي. همدا ډول دغه برخه د امریکا او دافغان دولت د هغو هڅو په اړه ده چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه کې یې ترسره کړي دي.

د اقتصادي او ټولنیز پراختیا فرقي برخه د اړوند سکتور لخوا د بیارغونې په اړه فعالیتونو ته کتنه پکې شوې ده، چه د کرهنې د برخې څخه بیا د روغتیا تر سکتوره پورې موضوعات د ځان سره رانغاړي. نوموړې برخه د اقتصادي حالت په اړه لنډ معلومات او د مالي شبکې د ادارې د پرمختګ په اړه تازه حالت، همدا ډول د مالي ثبات د ترلاسه کولو او د اساسي خدمتونو د وړاندې کولو په اړه معلوماتو ته اشاره کوي.

## د کار طریقه

دریمه برخه د هغو معلوماتو په اساس چې د ازادو منابعو او د امریکایی اجنسیانو لخوا تر لاسه شوی وو چمتو شوی ده. د معلوماتو سره سم د هغه سازمان یا ټولنې نوم او نور اړوند اړین معلومات بیان شوی دی ترڅو د هر ډول غلط فهمی څخه مخ نیوی شوی وی. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د تحقیقاتو او څیړنود معلوماتو څخه پرته چې په ماخذ کښی بیان شوی دی نور معلومات د سیګار لخوا نه دی تایید شوی او د افغانستان دبیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د نظریاتو ښکارندویی نه کوی. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی لخوا تر سره شویو ټولو څیړنو او تحقیقاتو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړی برخې ته ستانه شی.

## د معلوماتو پوښتنې

د معلوماتو پوښتنې د پوښتنو یوه لړی ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه ترې شوې دې. د متحده ایالاتو په هغو ادارو کې چې د دې درې میاشتنې راپور د معلوماتو په پوښتنو کې یې ګډون کړی دا لاندې شامل دي:

- د امریکا د کورنیو چارو وزارت
- د امریکا د دفاع وزارت
- د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (USAID)
- د امریکا د مالیی (خزانې) وزارت

وړاندې تر دې چه د نومورې راپور خپور او چاپ شې اړوندو ادارو او اجنسیانو ته د هغه یوه غیر نهایی طرحه استولې ترڅو هغوې ددې برخې د محتویاتو په اړه خپل نظریات وړاندې کړې.

## د پرانستې-سرچینې تحقیق

د پرانستې-سرچینې تحقیق د اتباري سرچینو څخه ترلاسه شوې ډېره تازه، او په عامه ډول ترلاسه کېدونکې ډاټا اتکاء کوې. د هغو سرچینو چې په دې درې میاشتنې راپور کې کارول شوې په یوه نماینده لیست کې لاندې سرچینې شامل دي:

- د متحده ایالاتو هغه اداره چې د معلوماتو په پوښتنه کې ورکړل شوې
- د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف)
- ملګرې ملتونه (او اړوندې ځانګې)
- د پیسو نړیوال صندوق
- نړیوال بانک
- اسیایې پرمختیایې بانک
- د افغان دولت وزارتونه او د افغان دولت نور سازمانونه


د پرانستې-سرچینې زیاتره تحقیق د دې راپور په ابتدایې مسوده کې شامل کړای شوی و کومه چې د معلوماتو د پوښتنې ادارو ته د کتنې لپاره له خپرېدو مخکې ورکړای شوې وه.

# په‌ګرافونو پوهېدنه

ټول انځورونه او چوکاټونه د دې درې میاشتنۍ لپاره د معلوماتو راپور ورکوي، په استثنا د هغو ځایونو چې په سرلیکونو او یادونو کې پېژندل شوي.


## د ولایتونو نقشې

د ولایتونو نقشې هغه ځایونه ښیي چې په متن کې بحث شوي. هر رنګ د ډاټا د یو سیټ استازیتوب کوي، چې په تشریح کې ښودل شوی؛ تورېخن رنګونه زیاتې شمېرې ښيي، سپین بخن رنګونه کمې شمېرې ښيي.





## د پټي چارټونه

دا راپور ډېرې بودیجې او پروژې چې د ډالرو ارزښت يې د ملیونونو څخه تر ملیاردونو رسېږي بحث کوي. د دې شمېرو په ګرافونو کې د دقیق استازیتوب د وړاندې کولو لپاره، د ګرافونو ځینې پټې ماتې ښکاري (د یوې کږې وړې کرښې سره) چې د صفر او یوې جیګې شمېرې ترمنځ توپ ښيي.




په درجه کې بې له کومه ماتي خطي چارټ



په درجه کې د ماتو سره خطي چارټ

## بودیجې ښودونکي


بودیجې ښودونکي هغه انفرادي بودیجې ښيي چې په متن کې بحث شوي وي. د دغې بودیجې د انتظام مسوولیت لرونکي اداره د بودیجې د نوم نه لاندې په خړ بکس لیست شوې وي.




## د ملیاردونو او ملیونونو جلا کول

لدې امله چې دا راپور د بودیجو جزییات په ملیاردونو او ملیونونو ډالرو کې ښيي، دا د پیمانې د دواړو یونټونو د جلا کولو لپاره یوه کټنیزه اشاره کاروي. هغه ډالر چې په ملیاردونو کې راپور شوي په ابي رنګ کې وړاندې کیږي، او هغه ډالر چې په ملیونونو کې راپور شوي په شنه رنګ کې انځورېږي.


د میلیون په اساس دایروي چارټ


د ملیارد په اساس دایروي چارټ

# د بودیجو حالت


د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مي پورې، د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان سره د مرستي او بیارغوني په برخي کې د ۲۰۰۲ مالي کال راپدیخوا د ۶۱،۷۸ ملیارډ ډالرو په ارزښت مرسته کړې ده. دغه مجموعه د ۲۰۱۱ کال لپاره د هغه تخصیص شوي مرستو په اساس بیان شوي چه د پرلپسي پریکړي په اساس اعلان شوي دي.. پدې سره هغه شمیر تخصیص کړل شوي پیسي ګرځول کیږي چه په P.L. 112-10 کې د امریکا د دفاع وزارت او د ۲۰۱۱ کال د ټولو تخصیصاتو په قانون کې راغلي وو. دغه مرستي په لاندي ډول د مختلفو برخو لپاره ځانګړي شوي دي:

- ۳۴،۸۱ ملیارډ ډالره د امنیت لپاره
- ۱۶،۱۶ ملیارډ ډالره د حکمتداري او پراختیا لپاره
- ۴،۵۴ ملیارډ ډالره د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزي لپاره
- ۲،۱۱ ملیارډ ډالره د بشري حقوقو لپاره
- ۴،۱۷ ملیارډ ډالره د عمومي کتني(څار) او عملیاتو لپاره

۳.۱ شمیره انځور د دغو برخو سره د امریکا لخوا د ترسره شوو مرستو ښکارندوی کوي.

3.1 انځور

د امریکا د متحده ایالاتو هغه مرستي چه د افغانستان د بیارغوني د هڅو ملاتړ کوي( د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه: د راغونډولو په ترخ کې د اغزمن شوو شمیر

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازي د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترخ کې په اختیار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10 تر ترکیب لاندي دي.

b. په زیات شمیر ادارو یا اجنسیانو کې DoD, DoJ, DoS, USAID او خزاني اداره او USDA شاملي دي.

سرچیني: د سیګار د 4/15/2011, 4/14/2011, 10/14/2009 او 10/1/2009 نیتو پوښتنو ته امریکا د دفاع وزارت ځواب؛ P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع توضیحي اعلامیه؛ ، د سیګار د 4/14/2011, 4/12/2011 او 4/11/2011 نیټو غوښتنو ته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځواب؛ د سیګار د 4/08/2011 غوښتني ته د امریکا د خزاني د اداري ځواب، د سیګار د 3/1/2011 او 4/19/2011 نیټو پوښتنو ته د OMB ځوابونه، د سیګار د 4/14/2011, 10/15/2010, 1/15/2010 او 10/9/2009 نیټو پوښتنو ته د USAID ځواب، د سیګار د 7/7/2009 پوښتني ته د DoJ ځواب، د سیګار د 4/2009 نیټي پوښتني ته د USDA ځواب.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه


**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره موادو د مخنیوي او مخدره موادو سره د مبارزي فعالیتونه

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه

**INCLE:** د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون تنفیذ

**نور:** نوري بودیجي




د امریکا لخوا هغه مرستي چه د پنځو سترو فنډونوسره ترسره شوي دي د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د افغانستان د بیارغوني لپاره د ترسره شوو مرستو ۸۳،۳ په سلو کي (نږدي ۵۱،۴۹ ملیارډ ډالره) جوړوي. د دغه مقدار مرستو څخه ۸۵٪ کي (نږدي ۴۳،۷۵ ملیارډ ډالره) تعهد کړل شوي، او نږدي ۷۲،۲ په سلو کي ( تقریباً ۳۷،۱۵ ملیارډ ډالره) يي لګول شوي یا مصرف شوي دي. د دې مرستو په اړه لا زیات معلومات په لاندي صفحو کي تر لاسه کولای شي.

## د افغانستان د بیارغوني لپاره د امریکا مرستي


د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي پوري د امریکا لخوا د افغانستان سره د مرستو او بیارغوني کمک کچه حدوداً ۶۱،۷۸ ملیارډ ډالرو ته رسیږي. دغه مرستي کیدای شي د بیارغوني په برخه کي په پنځو مهمو برخو وویشوو: امنیت، دولتداري او پرمختیا، د مخدره موادو ضد مبارزه، بشري، او نظارت او فعالیتونه. د امریکا لخوا د ځانګړو شوو مرستو لپاره مهرباني وکړي، د B ضمیمې ته ستانه شي.

د عملیاتو په ترخ کي د پرېسي پریکړو په ګډون د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره ځانګړي شوي مرستي د ۲۰۱۰ کال په نسبت ۹،۹ په سلو که زیاتوالي ښکاره کوي، دغه زیاتوالي په .کي ښودل کیږي. ۳.۲ شمیره انځور د ۲۰۰۲ څخه راپدیخوا د افغانستان د ملي امنیتي ځواک جوړوني او روزني لپاره ترټولو ډیري مرستي ځانګړي شوي دي. د امنیت د برخي لپاره ځانګړي شوي (۳۴،۸۱ ملیارډ ډالره) د امریکا لخوا د افغانستان د بیارغوني د مرستو ۵۶،۳ په سلو کي جوړوي.

۳.۳ شمیره انځور په مخ پانه باندي په کي د ۲۰۰۲ څخه بیا تر ۲۰۱۱ مالي کال پوري په کلني ډول د هرکال د مرستو تخصیص ښودل شوی دي. میله دولي خاني د تخصیص شوي مرستي په ډالرو ښکاره کوي، او دایروي چارټ بیا تخصیص شوي مرستي د کیټګوري په اساس بیانوي.. دغه ارقام د اړوندو ادارو لخوا راپور ورکړل شوو شمیرو ښکارندوي کوي او همداول د هغه شمیر تخصیصاتو چه په لاندي قانوني مقرراتو کي ځانګړي شوي دي:

3.2 انځور

د فنډ یا د مرستو د کتګوري په اساس مجموعي تخصیصات، د 2011 کال د مارچ د 31 سره سم( د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه : د راغونډولو په ترڅ کي د اغزمن شوو شمیر

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازي د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترڅ کي په اختیار کي ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکیب لاندي دي.

سرچیني:د سیګار د , 4/14/2011, 10/14/2009, 10/1/2009; P.L. 111-118, 12/19/2009; P.L. 111-212, 10/29/2010 غوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځوابونه؛ 2010 مالي کال د دفاع توضیحي اعلامیه؛ ، د سیګار د 4/14/2011, 4/12/2011 او 4/11/2011 نیتو غوښتنو ته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځواب؛ د سیګار د 4/08/2011 غوښتني ته د امریکا د خزاني د اداري ځواب، د سیګار د 3/1/2011 او 4/19/2011 نیتو پوښتنو ته د OMB ځوابونه، د سیګار د 4/14/2011, 10/15/2010, 1/15/2010 او 10/9/2009 نیتو پوښتنو ته د USAID ځواب، د سیګار د 7/7/2009 پوښتني ته د DoJ ځواب، د سیګار د 4/2009 نیټي پوښتني ته د USDA ځواب.


- د ۲۰۱۰ مالي کال د اضافي تخصیصاتو قانون
- د ۲۰۱۰ مالي کال د دفاع وزارت د تخصیصاتو قانون
- د ۲۰۱۰ مالي کال د راغونډ کړل شوو تخصیصاتو قانون

لکه څرنګه چه په ۳.۳ شمیره انځور کي ښودل شوي دي، د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د پرلپسي تخصیصاتو کچه ۵،۶ ملیارډ ډالرو ته رسیږي. د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره تخصیص شوي مرستي به د P.L. 112-10 پر اساس په لویه کچه اضافوالی ومومي. د دي راپور د خپرولو په وخت کي، د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت او د USAID ځانګړي شوي تخصیصات نه وو معلوم شوي. د امریکا د دفاع وزارت لپاره ځانګړي شوي مرستي په لاندي برخو کي دي:

- نږدي ۱۱،۶۲ ملیارډ ډالره د افغان ملي امنیتي ځواک لپاره
- ۴۰۰ میلیون ډالره د افغانستان د زیربنایی فنډ (AIF) لپاره
- ۴۰۰ میلیون ډالره د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام CERP لپاره

3.3 انځور

د مالي کال په اساس تخصیصات، مقدار او فیصدي ( د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه : د راغونډولو په ترخ کي د اغزمن شوو شمیر

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازي د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترخ کي په اختیار کي ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکیب لاندي دي.


سرچینه: د سیګار د 4/15/2011 ,4/14/2011, 10/14/2009 او 10/1/2009 نیټو پوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب؛ P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع توضیحي اعلامیه؛ ، د سیګار د 4/14/2011, 4/12/2011 او 4/11/2011 نیټو غوښتنو ته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځواب؛ د سیګار د 4/08/2011 غوښتني ته د امریکا د خزاني د اداري ځواب، د سیګار د 3/1/2011 او 4/19/2011 نیټو پوښتنو ته د OMB ځوابونه، د سیګار د 4/14/2011, 10/15/2010, 1/15/2010 او 10/9/2009 نیټو پوښتنو ته د USAID ځواب، د سیګار د 7/7/2009 پوښتني ته د DoJ ځواب، د سیګار د 4/2009 نیټي پوښتني ته د USDA ځواب.

• ۱۵۰ میلیون ډالره د امریکا د دفاع وزارت د سوداګرۍ او د عملیاتي ثبات د قوې لپاره
د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې پورې په راپور ورکړل شوو شمیرو کې د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ASFF هغه ۵،۴۶ ملیارډ ډالره هم شامل دي چه لا د وړاندې د روانو یا پرلپسې پریکړو په نتیجه کې تخصیص کړل شوې وې.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواک فنډ(ASFF) د افغان ملی امنیتی ځواک(ANSF) د تجهیز، وسایلو، خدمتونو، روزنې او همدارنګه د وسایلو او توکو د ترمیم، بیا جوړونه په موخه جوړ کړی دی.[8] په لومړی ګام کښې د افغان ملی امنیتی ځواک د جوړونې مسول د ناټو یا د شمالی اتلانټیک هوکړې سازمان د افغانستان لپاره د روزنې څانګه- افغانستان / د ګډ امنیتي فرمان د انتقال-څانګه ده.[9]

د امریکا د دفاع وزارت راپور ورکړي چه د ۲۰۱۱ مالي کال د روانو تخصیصاتو د قانون پر بنسټ افغان امنیتي ځواک فنډ ته ۵،۴۶ ملیارډ ډالرو نور ځانګړي شوي دي، چه پدې سره د نوموړي فنډ لپاره ځانګړې شوې مرستې ټول ټال ۳۳،۲۹ ملیارډ ډالرو ته رسیږي[10]د دې شمیر مرستو څخه تقریبا ۲۸،۰۶ ملیارډ ډالره تعهد(مکلف ګرځول شوي) کړل شوې دي، چه د هغه د جملې څخه ۲۴،۸۲ ملیارډ ډالره یې لګول شوي دي.[11] ۳.۴ شمیره انځور د افغان امنیتي ځواک د فنډ لپاره ځانګړې شوې مرستې د مالي کال په اساس بیانوي.





**د افغان امنیتي ځواک د فنډ( ASFF ) اړوند ترمینالوژي**

د دفاع وزارت د ASFF بودیجې د موجودي، منل شوې، یا لګول شوې مرستو پر اساس راپوروکړي.
**موجودي**: د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې
**منل شوې**: د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**مصرف شوې**: هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۲\۱۴.

3.5 انځور


د مالي کال په حساب د ASFF موجودې مرستې
( د ملیارډ ډالرو په حساب)




یادونه: د راغونډولو په ترځ کې د اغزمن شوو شمیر.
a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ بوازې د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترځ کې په اختیار کې ښکاردوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10 تر ترکیب لاندې دي.
سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د د دفاع وزارت ځواب، 2011\15\4.

3.4 انځور

د مالي کال په حساب د ASFF موجودې مرستې
( د ملیارډ ډالرو په حساب)




یادونه: د راغونډولو په ترځ کې د اغزمن شوو شمیر.
a. د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترځ کې په اختیار کې د موجودو مرستو ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10 تر ترکیب لاندې دي.
سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د د دفاع وزارت ځواب، 2011\15\4.

د امریکا د دفاع وزارت راپور ورکړي چه، د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مي پوري د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ماشتي د ۳۱مي په نسبت په تعهد کړل شوو مرستو کي ۲،۶۳ ملیارډ، او د ۲۰۱۰ د دیسمبر د ۳۱ په نسبت د ۲۰۱۱ مالي کال د مارچ د ۳۱مي پوري په مصرف شوو مرستو کي ۱،۷۴ ملیارډ ډالره زیاتوالی راغلي دي.[12] ۳.۵ شمیره انځور د افغان امنیتي ځواک د فنډ لپاره ځانګړي شوي، موکلف ګرځول شوي او لګول شوي مرستي بیانوي.

**د بودیجي د فعالیت ډلي:** د اختصاص یا بودیجي د هر حساب دننه هغه درجي چي د هغو فعالیتونو اهداف، پروژې او ډولونه پیژني چي د اختصاص یا بودیجي لخوا یي مالي ملاتړ کیږي.

**د ضمني-فعالیت ډلي:** هغه حسابي ډلي چي د قوماندي لګښتونه په فعالیتي برخو کي ویشي.

سرچینې: د امریکا د دفاع وزارت،" 7110.1-M منول، د دفاع وزارت د بودیجي لاربنود منول،" په 9/28/2009 ورته لاس رسی شوي؛ د بحري قوې ځانګه، " د روغتیایی اسانتیاوو د مدیر لاسي کتاب،" ۵ پاڼه، 10/2/2009 کې ورته لاس رسی شوي دي.

## د ASFF د بودیجي فعالیتونه

د دفاع وزارت په ASFF پوری تړولو درو کاری ګروپو بودجو ته مرستي وراندی کوی:[13]

- دفاعی ځواک (د افغانستان ملی اردو)
- کورنیو چارو ځواک ( د افغانستان ملی پولیس)
- اړوند فعالیتونه (د بندیانو اړوند مقدماتي فعالیتونه)


هر کاری یا فعالیتی ګروپ ته ځانګړی شوی بودجه بیا په څلورو فرعی فعالیتی کاری ګروپو باندی ویشل شوي دي: زیربنا، تجهیزات او ترانسپورت، روزني او عملیات، او پاینبت.[14]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي پوري د امریکا دفاع وزارت په افغان امنیتي ځواک په فنډ باندي ۲۴،۸۲ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي. د یادي شوي مقدار پیسو څخه ۱۵،۸۶ ملیارډ ډالره په افغان ملي اردو او ۸،۸۳ ملیارډ ډالره په افغان ملي پولیسو باندي لګول شوي دي؛ او پاتي ۰،۱۴ ملیارډ ډالره په اړوندو فعالیتونو باندي مصرف شوي دي.[15]

لکه څرنګه چه په ۳.۶ شمیره انځورکي ښکاري، په افغان ملي اردو باندي د لګول شوو پیسو څخه یی – نژدي ۷،۱۰ ملیارډ ډالره د دغه ځواک په تجهیز او ترانسپورټ باندي لګول شوي دي. پیه افغان ملی پولیسو باندی د لګول شوو مرستو ډیری برخه چي ۲،۹۰میلیارډ ډالره ده د اردو په شان د توکو به سمبالښت او ترانسپورټ باندی لګول شوی ده، دا تول په 3.7 انځورکښی ښودل شوی دی.[16]

3.7 انځور

د ASFF د فنډ څخه د افغان ملي پولیسو لپاره لګول شوي مصارف د دویم لاس یا فرعي-فعالیتونو ګروپ، د 2005 مالي کال- د 2011 کال د مارچ د 31مه ( د ملیارډ ډالرو په حساب)





یادونه: د راغونډولو په ترڅ کي د اغزمن شوو شمیر.

سرچینه:سیګار د 4/15/2011 نیټي پوښتني ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب


3.6 انځور

د افغان ملي اردو لپاره د ASFF د مرستو یا فنډ څخه لګښتونه د دویم لاس یا فرعي- فعالیتونو ګروپ، د 2005 مالي کال- د 2011 کال د مارچ د 31مه ( د ملیارډ ډالرو په حساب)




یادونه: د راغونډولو په ترڅ کي د اغزمن شوو شمیر.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4\15\2011.




**د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام CERP د فنډ اړوند ترمينالوژي**

OMB د CERP بوديجې د اختصاصو شويو په توګه راپور کړي.
اختصاص شوي: د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې

د دفاع وزارت د CERP بوديجې د اختصاص شوي، منل شوې، يا لګول شوې په توګه راپور کړي.
**اختصاص شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې
**منل شوې:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې
**مصرف شوې:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچيني: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د OMB ځواب، ٢٠١٠\١٩\١٤؛ ، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ٢٠١٠\١٤\١٤.

## د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام


د قوماندان بيړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ايالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سيمييزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسووليت په برخو کې بيړنيو بشري مرستو او د بيا رغونې غوښتنو ته ځواب ووايي. دا مرستې د هغو پروګرامو لپاره ځانګړې شوی دی چې لګښت يې تر ٥٠٠٠٠٠ ډالرو کم ارزول شوی وی.[17] او کولای شی هغه پروژې چې يو ميليون ډالر لګښت ولری هم پلی کړی خو د دی امر لپاره بايد د مرکزی قومندې د قومندان هوکړه او تاييد د ځان سره ولری؛ او د ٥ ميليون ډالرو څخه لوړ لګښت لرونکي پروژې د دفاع د وزير تاييد او منظوری ته اړتيا لری.[18]

د امريکا د دفاع وزارت د راپور پر اساس د ٢٠١١ کال د مارچ تر ٣١مې نيټې پورې د CERP سره د مجموعي مرستې کچه ٢،٦٤ مليارډ ډالرو ته رسيدله.[19] د امريکا د دفاع وزارت همداراز راپور ورکړي چه د نوموړې مجموعې څخه ٢،٠٢ مليارډ ډالره يې تعهد يا موکلف ګرځول شوي، او ١،٦١ مليارډ ډالره يې مصرف شوي دي[20] ٣.٨ شميره انځور د CERP لپاره د مالي کال پر اساس تخصيصات بيانوي.

د امريکا د دفاع وزارت همدا ډول راپور ورکړي چه د ٢٠١٠ کال د ديسمبر د ٣١مې په نسبت د ٢٠١١ کال د مارچ د ٣١مې پوري په تعهد يا موکلف ګرځول شوو پيسو په مقدار کې د ٢٩،٠٦ ميليون ډالرو زياتوالی او د ٢٠١٠ کال د ديسمبر د ٣١مې څخه بيا د ٢٠١١ کال د مارچ تر ٣١مې پورې د لګول شوو پيسو په شمير کې د ٧٢،٢٢ ميليون ډالرو په ارزښت زياتوالی راغلي دي.[21] ٣.٩ شميره انځور د CERP لپاره د تخصيص شوو، تعهد شوو او د مصرف شوو پيسوو مقايسوې ډول ښکارندوی کوي.

3.9 انځور

**د CERP فنډونه، مجموعي مقايسه**
**(د مليارډ ډالرو په اساس)**





يادونه: په معلوماتو کې شايد د ادارو يا اجنسيانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي.

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ يوازې د هغه شمير مرستو چه د روانو پريکړو ترسره کيدولو په ترخ کې په اختيار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10 تر ترکيب لاندې دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 2011\15\4؛ د سيګار د 3/1/2011 پوښتنې ته د OMB ځواب.

3.8 انځور

**د مالي کال په حساب د CERP لپاره ځانګړي شوي تخصيصات ( د امريکايي ميليون ډالرو په حساب)**




يادونه : په معلوماتو کې شايد د ادارو يا اجنسيانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي.


a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ يوازې د هغه شمير مرستو چه د روانو پريکړو ترسره کيدولو په ترخ کې په اختيار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10 تر ترکيب لاندې دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 2011\15\4؛ د سيګار د 3/1/2011 پوښتنې ته د OMB ځواب.

## د دفاع وزارت د مخدره توکو د محوې او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې فعالیتونه

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د محوې او د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې سره د فعالیتونو بودجه (DoD CN) د هغو هڅو ملاتړ کوي چې غواړي د مخدره توکو سره د مبارزې له لارې افغانستان ته ثبات او ټیکاو راولي. یاده شوې بودجه د قاچاق کوونکي په وړاندې د نظامي عملیاتو؛ د مخدره توکو د مخینوی په هڅو کښې د افغانانو د هڅو ملاتړ او پراختیا؛ او د افغانانو د قانون د پلي کولو ورتیا لوړول د سرحدي پولیسو په ځانګړو مهارتونو روزنه ، سمبالښت او امکاناتو په ګډون، غواړي له دې ځانګه سره اړونده مرستې تر سره کړي.[22]

۳.۱۰ شمیره انځور د مالي کال پر اساس د DoD CN د تخصیصاتو ښکارندوی کوي. د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړي چه د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ۳۱مې په نسبت د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې پورې په مجموعي تعهد یا موکلف ګرځول شوو او مصرف شوو مرستو کې حدوداً ۱۱۶،۵۱ میلیون ډالره زیاتوالی راغلی دي[23] ۳.۱۱ شمیره انځور د DoD CN د پروژې لپاره په مقایسوي ډول د تخصیص کړل شوو، تعهد او مصرف کړل شوو پیسو ښکارندوی کوي.




**د دفاع وزارت د مخدره موادو سره د مبارزې د بودیجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د DoD CN بودیجې د اختصاص شوي، منل شوي، یا لګول شوي په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې


**مصرف شوي:** هغه پیسې چې لګول شوي دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۲\۱۴.

انځور 3.10

**د DOD CN تخصیصات**

**د مالي کال په حساب ( د میلیون ډالرو په اساس)**




یادونه : د راغونډولو په ترځ کې د اغزمن شوو شمیرپه معلوماتو کې شاید د ادارو یا اجنسیانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي.


a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازې د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترځ کې په اختیار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکیب لاندې دي.

سرچینه: د سیګار د 4/14/2011 نیټې ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب.

انځور 3.11

**د DOD CN فنډ، مجموعي مقایسه**

**( د ملیارډ ډالرو په اساس)**




یادونه : د راغونډولو په ترځ کې د اغزمن شوو شمیر.

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازې د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترځ کې په اختیار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکیب لاندې دي.


سرچینه: د سیګار د 4/15/2011 نیټې پوښتنې ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادی ملاتړ د مرستو پروګرام د امریکا هغه علاقه او لیوالتیا ښایی چی غواړی د اړو او نیاز لرونکی هیوادو سره په لنډ او اوږد مهاله سیاسی، اقتصادی او امنیتی اړتیاوی پوره کړی. د اقتصادي ملاتړ فنډ پروګرام د تروریزم په وړاندي مبارزه، د ملي اقتصادي پرمختګ په برخه کې او د موثره،حساب ورکونکي او مستقل حقوقي سیستم د رامنځ ته کولو د پروګرامو سره مرسته کوي.[24] P.L. 112-10 د اقتصاد د ملاتړ په فنډ باندي محدودیتونه وضع کړي دي، هغه داسي چه د نوموړي فنډ مسولین باید د افغانستان سره د مرستې په موخه د مرستو د موکلف ګرځولو یا تعهد لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یا USAID لخوا د تایید او د هغه تخصیصاتو لپاره چه افغان دولت یی "د کوکنارو د په منځه وړلو کې لګول غواړي باید اړوندو کمیټو ته راپور ورکړي ".[25]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې، USAID راپور ورکړي چه د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) لپاره ټول ټال ۱۱،۱۴ ملیارډ ډالره مرسته ترسره شوې ده.[26] ۳.۱۲ شمیره انځور د مالي کال پر اساس د ESF لپاره ځانګړې شوې مرستې ښکاره کوي. د یادې شوې شمیر مرستو څخه یی ۹،۵۷ ملیارډ ډالره تعهد یا موکلف ګرځول شوي او ۷،۳۸ ملیارډ ډالره مصرف کړل شوي دي.[27]

USAID راپور ورکړي چه د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ۳۱مې په نسبت د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ پورې په مجموعي تعهد کړل شوو مرستو کې ۱،۵۳ میلیون ډالره او د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ۳۱ په نسبت د ۲۰۱۱




### د ESF د بودیجو اصطلاحات

USAID د ESF بودیجې د اختصاص شوي، منل شوې، یا لګول شوې په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې


**منل شوې:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې

**مصرف شوې:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۵\٤.

۳.۱۳ انځور

### د ESF د فنډ مجموعي مقایسه
(د ملیارډ ډالرو په اساس)





یادونه: په معلوماتو کې شاید د ادارو یا اجنسیانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر د 2011 مالي کال د روانو پریکړو کولو په ترڅ کې USAID د ESF د فنډ لپاره د تخصیصاتو د زیاتوالي په اړه کوم راپور نه دي ورکړي.

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازې د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترڅ کې په اختیار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10 تر ترکیب لاندي دي.

سرچینه: د سیګار د 14/14/2011 پوښتنې ته د USAID ځواب؛ H.R. 4899، د 2010 مالي کال د اضافي تخصیصاتو بیل، 7/29/2010.

۳.۱۲ انځور

### د مالي کال په اساس د ESF لپاره تخصیصات
( د ملیارډ امریکایی ډالرو په اساس)




یادونه : په معلوماتو کې شاید د ادارو یا اجنسیانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر د USAID په راپور کې د نویو ورکړل شوو شمیرو پر اساس د 2009 مالي کال په نسبت په تخصیصاتو کې یو څه کموالی راغلی دي.

a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ یوازې د هغه شمیر مرستو چه د روانو پریکړو ترسره کیدولو په ترڅ کې په اختیار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکیب لاندي دي.


سرچینه: د سیګار د 4/14/2011 پوښتنې ته د USAID ځواب؛ H.R. 4899, FY 2010 Supp.

کال د مارچ تر ۳۱ پورې په مصرف کړل شوو مرستو کې ۶۴۴،۱۷ میلیون ډالره زیاتوالی راغلی دي.[28] ۳.۱۳ شمیره انځور په مقایسوي ډول د ESF د پروګرام لپاره ځانګړي شوي، تعهد کړل شوي او مصرف کړل شوي مرستې ښکاره کوي.

## د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون حاکمیت

د مخدره توکو او د قانون حاکمیت د چارو نړیواله اداره (INL) د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون حاکمیت حساب(INCLE) د تنظیم چارې پرمخ وړي، کوم چه د مخدره توکو پر وړاندې د پولیسو ، د قانون حاکمیت او د عدالت په ګډون د INL د مختلفو پروګرامونو سره مرسته کوي.[29] P.L. 112-10 د اقتصاد په ملاتړ فنډ باندې محدودیتونه وضع کړي دي، هغه داسې چه د نوموړي فنډ مسولین باید د افغانستان سره د مرستې په موخه د مرستو د موکلف ګرځولو یا تعهد لپاره د امرکا د بهرنیو چارو وزارت یا USAID لخوا د تایید او د هغه تخصیصاتو لپاره چه افغان دولت یې "د کوکنارو د په منځه وړلو کې لګول غواړي باید اړوندو کمیټو ته راپور ورکړي ".[30]

INL راپور ورکړې چه د ۲۰۱۱ مالي کال د روانو تخصیصاتو قانون د INCLE د فعالیتونو لپاره ۷،۹۸ میلیون ډالره مرسته کړې، چه پدې سره د INCLE سره ترسره شوې مرسته ۲،۸۶ ملیارډ ډالرو ته رسیږي.[31] ۳.۱۴ شمیره انځور د INCLE لپاره ځانګړي شوي مرستې د مالي کال په حساب ښکاره کوي. د نوموړي شمیر مرستو څخه، ۲،۵۵ ملیارډ ډالره مرستې یې تعهد یا موکلف ګرځول شوې چه د هغه څخه یې ۱،۷۹ ملیارډ ډالره




**د INL د بوديجو اصطلاحات**

NL د INCLE او نورو INL د بوديجو راپور د ټاکل شويو، منل شويو او مصرف شويو په توګه ورکړې.


.

**ټاکل شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودي تولي پيسې.
**منل شوي:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوي
**مصرف شوي:** هغه پيسې چې لګول شوي دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب ۲۰۱۰،۱۹،۱۴

۳.15 انځور


د INCLE د فنډ مجموعي مقايسه
( د مليارډ ډالرو په اساس)




يادونه : د راغونډول کيدلو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمير په معلوماتو کې شايد د ادارو يا اجنسيانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي د 2011 مالي کال لپاره ځانګړي شوي مرستې يا فنډ د روانو پريکړو نيولو لپاره د په اختيار کې ورکړل شوو پيس و ښکارندوي کوي. تازه معلوماتو پر اساس ارقام نسبت هغه راپور ته چه 12/31/2010 کې خپور شوي وو د تيتو شميرو ښکارندوي کوي.
a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ يوازې د هغه شمير مرستو چه د روانو پريکړو ترسره کيدولو په ترڅ کې په اختيار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکيب لاندې دي
سرچينه: د سيګار د 14/14/2011 پوښتنې ته د USAID ځواب؛ H.R. 4899، د 2010 مالي کال د اضافي تخصيصاتو بيل، 7/29/2010

3.14 انځور

د مالي کال پر اساس ويننه
( ميليون ډالرو په اساس)




يادونه : د راغونډول کيدلو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمير په معلوماتو کې شايد د ادارو يا اجنسيانو تر منځ تبادله شوي معلومات هم شامل وي
a. د 2011 مالي کال لپاره فنډ يوازې د هغه شمير مرستو چه د روانو پريکړو ترسره کيدولو په ترڅ کې په اختيار کې ښکارندوي کوي، نه د هغه مرستو چه د P.L. 112-10. تر ترکيب لاندې دي
سرچينه: د سيګار د 4/12/2011 نيټې پوښتنې ته د امريکا د دفاع وزارت ځواب H.R. 4899، د 2010 مال کال د اضافي تخصيصاتو بيل،

ورکړل شوې دي.[32]

INL راپور ورکړي چه د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ۳۱مي په نسبت د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي پورې په مجموعي تعهد کړل شوو مرستو په کچه کې د ۷۶،۲۴ او د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د ۳۱مي څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي پورې په مجموعي ډول د ورکړل شوو مرستو په کچه کې ۳۸،۴۷ میلیون ډالرو زیاتوالي راغلي دي.[33] ۳.۱۵ شمیره انځور په مقایسوي ډول د INCLE لپاره ځانګړې شوې، تعهد کړل شوې او ادا کړل شوې مرستې ښکاره کوي.

## د افغانستان لپاره د بیارغونې نړیوالې مرستې (فنډ ورکونه)

د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو برسیره، نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغونې او هوساینې په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستې ترسره کړې دي. لکه څرنګه چه د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په تیرو راپورونه کې هم راغلي وو، د افغانستان سره د ترسره کیدونکي ډیرې نړیوالې مرستې د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کیږي. د باوري فنډ له لارې ترسره شوې مرستې باید لومړی د نوموړي فنډ څخه راویستل او بیا د بیارغونې د هڅو لپاره ولګول شي. د باوري فنډ د ډلې څخه دوه لوی فنډونه د افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) دي.[34]

## د افغانستان د بیا رغونې د باوري فنډ سره ترسره شوې بسپنه

ARTF د افغانستان عملیاتي او انکشافي بودیجې تر ټولو لوی ونډه لرونکی دی. د ۲۰۰۲ څخه بیا د ۲۰۱۰ کال د مارچ تر ۲۰مي نیټې پورې د نړیوال بانک په وینا د ۳۲ مرستو کونکو لخوا د ۴،۷۱ ملیارډ ډالرو د مرستو تعهد شوي او د نوموړې شمیر مرستو څخه ۴،۲۴ ملیارډ ډالره یې ورکړل شوي دي. مرسته ورکونکي خپلې مرستې د دوو فنډ ورکونې د چینلونو له لارې خپلې مرستې ترسره کوي- د ستنیدونکي لګښت (RC) فرصت او د پانګه اچونې فرصت.[35] ۳.۱۶شمیره انځور او۳.۱۷ شمیره انځور د مرستې کونکو او حالت پراساس د ۱۳۸۹ هجري شمسي کال چه د مارچ د ۲۱ څخه بیا مارچ د بلې ۲۰ نیټې سره سمون لري د ورکړل شوو مرستو ونډه ښکاره کوي.

د نړیوال بانک په وینا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۰مي نیټې پورې د ARTF د فنډ څخه تر ۲،۲۹ ملیارډ ډالره ډیرې مرستې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لپاره عموماً د عامه کارکونکو د معاشاتو د ورکولو له لارې د ستنیدونکي لګښتونو له لارې لګول شوي دي. د RC د مرستو څخه افغانستان د عملیاتي لګښتونو په برخه کې ګټه اخیستل کیږي څکه تراوسه د دې هیواد کورني عایدات دې کچې ته نه دي رسیدلي چه وکړای شي خپل بیرته ستنیدونکي لګښتونه پوره کړي. د دې لپاره چه د ستنیدونکي لګښت RC فرصت وکړای شي په کافي اندازه مرستې ترلاسه کړي، د ARTF سره مرسته کونکي شاید په کلني ډول د" ترجیح" ورنکړي چه په کلني ډول د دې نوموړي پروګرام سره د خپلو مرستو تر نیمایي ډیره مرسته ترسره کړي.[36]

د پانګې اچونې فرصت د پرمختیایي پروګرامونو لګښت پرغاړه لري. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۰ نیټې پورې، نړیوال بانک راپور ورکړ چه ۱۷ رواني پروژې چه مجموعي لګښت یې ۶۳۵،۱۹ میلیون ډالره کیږي او د هغه جملې څخه یې ۵۵۹،۴۲ میلیون ډالره لګول شوي دي د ګډ تعهد په ترڅ کې ترسره شوي دي. په ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ هجري شمسي کلنو کې د پانګې اچونې په برخه کې تعهدات د بیرته ستنیدونکي لګښتونو د تعهداتو پر نسبت ډیر وو.[37]

### د سیګار پلټنې


پدې درو میاشتو کې، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د نړیوال باوري فنډ له لارې د پروګرامونو په اړه دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړي دي. د افغانستان د ملي پیوستون د پروګرام په اړه د افغانستان دبیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د راپور د کړنو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ۱ برخې، ۴ پاڼې ته ستانه شي. همدا راز د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا د افغان کورنیو چارو د وزارت د ملي پولیسو د معاشاتو په اړه چه تر ډیره حده د LOTFA لخوا تمویلیږي د ۱ برخې، ۹ پاڼې ته ستانه شي.

### د سیګار پلټنې

د روانو پلټنو په ترڅ کې د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د امریکا لخوا د ARTF سره د ترسره شوو مرستو د کارونې او حساب ورکونې په ډول باندې تمرکز کوي. د زیاتو معلوماتو لپاره د لمړي برخې 19 پاڼه وګورئ.

3.16 انځور


د 2011 کال د مارچ د میاشتې د 20 سره سم ( د میلیون ډالرو په اساس) د مرسته کوونکو یا بډونرانو لخوا د 1390 مالي کال لپاره سهم او ونډه




یادونه: د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر EC/EU= اروپایی کمیسیون/ اروپایی اتحادیه
a. د ناروې هیواد تر هغه څه چه د 1390 شمسي کال لپاره یی تعهد کړي وو ډیرې پیسې ورکړې دي.
سرچینه: نړیوال بانک , "ARTF: د مالي وضعیت په اړه د اداري راپور د 2009 کال د اګست تر 22 نیټي پورې،" مخ 1.

3.17 انځور

139 شمیسي کال چه د 2011 کال د مارچ
2 سره سمون لري د ARTF تخصیص
هد کړل شوو مرستو د ډلي څخه
ـکړل شوو پیسو مقدار( د میلیون ډالرو په اساس)




د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر
، که 9،6 میلیون ډالره هغه اضافي مرستې هم شاملې دي چه د ناروې هیواد
1 هجري شمسي کال لپاره تعهد کړي وو.
: نړیوال بانک، " ARTF:د مالي وضعیت په اړه د اداري راپور
2 کال د اګست تر 22 نیټي پورې،" مخ 1.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم د باوري فنډ سره تعهدونه


LOTFAپه خپله شپږمه مرحله کې دي، چه د ۲۰۱۱ کال د جنورې په میاشت کې پیل او د ۲۰۱۳ کال د مارچ په میاشت کې به پای ته ورسیږي. په نوې مرحله کې د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت په ورتیا او ظرفیت په اوچتولو ډیر تاکید شوي دي. LOTFA افغان ملي پولیسو د معاشاتو لپاره د مرسته کوونکو لومړي چینل جوړوي. همدا ډول دغه مرستې د روزنې او د ظرفیت د لوړولو په برخه کې هم کارول کیږي.[38]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نیټې پورې د LOTFA سره د خلورمې مرحلې له لارې د شوو مرستو کچه ۱،۵۰ ملیارډ ډالرو ته رسیږي؛ د اروپایي اتحادیې د معلوماتو پر اساس د پنځمې مرحلې تر پایه د اضافي مرستو کچه ۱،۴۰ ملیارډ ډالره اټکل شوي دي.[39] د LOTFA د پیل څخه چه د ۲۰۰۲ کال د مې په میاشت کې تاسیس شوې، ۸۰ په سلو کې مرستې د امریکا، اروپایي اتحادیې او جاپان لخوا ترسره شوې دي دغه معلومات په ۳.۱۸ شمیره انځور کې هم ښودل شوي دي.

د اروپایي اتحادیې د معلوماتو په اساس، د افغانستان د مالیې وزارت منلې ده چه افغان ملي پولیسو د اساسي معاشاتو ۳٪ او د خوراکي تخصیص ۶۰ ٪ به د افغانستان د عمومي بودیجې څخه تمویل کوي، دغه کار به په ۲۰۱۱ کال کې پیل کیږي. نوموړې فیصدي به په کال ۲۰۱۲ کې د معاشاتو په برخه کې ۷،۵٪ او د خوراکي تخصیص په برخه کې ۷۳٪ ته اوچته شي.[40]

3.18 انځور

2002 کال راپدیخوا د LOFTA سره د مرسته
وونکو هیوادونو لخوا ترسره شوې مرستې
دفیصدۍ په اساس)




.ونه : د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر EC/EU= اروپایی کمیسیون/
وپایی اتحادیه

ـرچینه: EC، " افغانستان، د رول حالت، د 2011 کال د جنوري میاشت،
.3/31/2011

# امنیت

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې پورې د امریکا کانګرس د افغان امنیتي ځواک (ANSF) لپاره ۳۴،۸ ملیارډ ډالره ځانګړي کړي دي[41] د دې مرستو ډیرۍ برخه (نږدې ۳۳،۳ ملیارډ ډالر) د افغانستان د امنیتي ځواک د فنډ (ASFF) له لارې ځانګړي شوي دي او د افغانستان د امنیت د انتقال ګډ قومنداني (CSTC-A) لخوا د افغان ملي امنیتي ځواک د جوړونې، تجهیز، روزنې او د پایښت چارې پرمخ یوسي.[42] د ASFF لپاره د ځانګړو شوو ۳۳،۳ ملیارډ ډالرو څخه، حدوداً ۲۸،۱ ملیارډ ډالر منل یا تعهد کړل شوي، او د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نیټې پورې ۲۴،۸ ملیارډ ډالره مصرف کړل شوي دي.[43]

د ۲۰۱۱ کال د اپریل پر ۱۵مه، ولسمشر بارک اوباما د دفاع وزارت او د بشپړ جاري تخصیصاتو قانون لاس لیک کړ. دغه قانون د ۲۰۱۱ مالي کال تر اخره پورې د افغانستان د امنیتي ځواک د فنډ لپاره ۱۱،۶ ملیارډ ډالره ځانګړي کوي – نږدې ۶،۲ ملیارډ ډالره تر هغه څه زیات چه د ASFF لپاره د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۳۱ ربع په لپاره امریکا د دفاع وزارت لخوا راپور ورکړل شوي وو.[44] دغه اضافي مرستې په هغه شمیرو کې چه په دغه برخې کې ذکر شوي دي ندي شاملې.

د ۲۰۱۲ مالي کال د غوښتل شوې بودیجې د برخې په توګه، د امریکا د دفاع وزارت د ازادي د پایښت په اړه د عملیاتو لپاره د ۱۰۷،۳ ملیارډ ډالرو غوښتنه کړې ده. په هغه مرستو کې د افغانستان د زیربنا د فنډ(AIF) لپاره ۰،۵ ملیارډ ډالره هم شامل دي - چه د امریکا د مخالفینو پر وړاندي د مبارزې د ستراتیږی د ملاتړ لپاره په لومړیتوب لرونکو زیربنایی پروژو د ترسره کولو لپاره کارول کیږي – او ۱۲،۸ ملیارډ ډالره د افغان ملي امنیتي ځواک د روزنې او تجهیز لپاره کارول کیږي.[45]

CSTC-A د ASFF د فنډ څخه د ترلاسه شوو مرستو د تنظیم او اداري چارې پرمخ وړي. د امریکا د دفاع وزارت د عمومی پلټونکي د دفتر لخوا د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتې د راپور پر اساس، خو بیاهم، د ناټو د روزنې میشن (CSTC-A/(NTM-A د قرادادیانو د زیاتیدونکي شمیر د اداري او تنظیم په برخه کې او د ASFF د مرستو څخه په منظم ډول د اداري په موخه په کافي اندازه مسلکي کارکونکي نلري.[46] د قرارداديانو د زیاتیدونکي شمیر ته په کتو CSTC-A د اضافي کارکوونکو د مرستې غوښتنه کړې ده؛ د امریکا د دفاع وزارت د وینا پر اساس دغه اضافی کارکوونکي به په دغه دوبي كه ځای پر ځای کړل شي.[47]

د NTM-A په وینا، د افغان ملي امنیتي ځواک روزنې د امریکا د قومندانانو لپاره لا هم یو لومړیتوب جوړوي.[48] د ۲۰۱۱ کال د اپریل د ۳مې نیټې سره سم، د امریکا د دفاع وزارت په وینا ۳۲ هیوادونو ۱۲۹۶ روزنکي ګمارلي او د ۷۴۲ نورو اضافي روزنکو تعهد یې کړي چه پدې سره ۷۷۰ نورو روزنکو ته اړتیا لیدل کیږي.[49] د کاناډا هیواد پلان لري چه په کال ۲۰۱۱ کې خپل محاربوي پوځ د افغانستان څخه وباسي خو پدې سره د افغانستان د روزنې د موخې لپاره خپل ۷۵۰ روزنکي او همدا ډول ۲۰۰ کمک کونکي پرسونل په افغانستان کې ولري.[50] د امریکا دفاع وزارت ته معلومه شوه چه دغه ۷۵۰ کاناډایی روزنکي د ټولو اړینو روزنیزو مهارتونو څخه نه دي برخمن، پدې معني چه پدې سره به بیا هم کمبوتات احساس کیږي.[51]

لکه څرنګه چه د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د ۲۰۱۱ کال د جنوری په راپور کې ولیدل شول، د ناټو د غړو هیوادونو لخوا په یوه خپره شوې اعلامیه کې راغلي وو چه ۲۰۱۱ کال به افغان امنیتي ځواک ته د ناټو څخه د امنیت د چارو د سپارول د پیل کال وي. د لیزبون د غونډې په دغه اعلامیې کې

همدا ډول راغلي وو چه د مسولیت د انتقال دغه لړۍ به په کال ۲۰۱۴ کې بشپړه شي.[52] د امریکا د دفاع وزارت د معلوماتو پر بنسټ د مسولیت د انتقال لړۍ په رسمي ډول د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۲ نیټه هله پیل شوه چه ولسمشر حامد کرزي اعلان وکړ چه د مسولیت د انتقال لړۍ به د درو ولایتونو( پنجشیر، بامیان او د کابل ډیرې سیمو) او د څلورو ولسوالیو یعني(د هرات، لشکرگاه، مزارشریف او مهترلام) څخه پیل کیږي. که څه هم پدې اړه کومه دقیقه نیټه نده معلومه، اما بیا هم د امریکا د دفاع وزارت د معلوماتو پر اساس اټکل کیږي چه دا لړۍ د ۲۰۱۱ کال د جون پر ۲۲مه پیل شي.[53]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا د مسولیت د انتقال لړۍ د بریالیتوب لپاره باید څلور اهدافه تر لاسه شي: [54]

- افغان ملي امنیتي ځواک د امنیتي چارو د مسولیت د اخیستلو جوگه دي.
- د امنیت داسي یوه حالت ته ورسیږي چه عام افغان وگړی وکولای شي خپلو ورځنیي چاري په سمه توگه پرمخ یوسي.
- ځاي یا محلي حکومتداري باید یقیني کړي چه ایساف د حضور د کمیدلو په صورت کې امنیتي چارې ټکنۍ نشي.
- د افغان ملي امنیتي ځواک د وړتیاوو د لوړیدلو او د امنیتي خطر ثابت پاتي کیدو او یاهم د کمیدو په صورت کي د ایساف ځواکونو د شمیر د راکمیدلو امکانات رامنځ ته کیږي.

## د امنیت موخې

د امریکا د متحده ایالاتو د مرکزي قومندې د معلوماتو پر اساس پدې ربع کې  د افغان ملي امنیتي ځواک ټول توان ۲۸۴۹۵۲ تنو ته رسیدی چه د دې جملې ۱۵۹۳۶۳ يې افغان ملي اردو جوړوي، او د ایساف د معلوماتو پر بنسټ د افغان ملي پولیسو شمیره ۱۲۵۵۸۹ تنه وو. [55] د ۲۰۱۱ کال د جنوري پر ۱۶مه، گډې هماهنگي او څار د هیئت د فعلي امنیتي وضعیت کمیټې د ۲۰۱۲ کال لپاره د افغان امنیتي ځواک د لوړولو سره هوکړه وکړه: چه د دغې پریکړې پر اساس به د افغان ملي اردو شمیر د ۱۷۱۶۰۰ څخه ۱۹۵۰۰۰ او د افغان ملي پولیسو شمیر د ۱۳۴۰۰۰ څخه بیا ۱۷۰۰۰۰ ته وخیږي.[56] ۳.۱ شمیر انځور  د ټاکلو موخو پر اساس د تیرو درو میاشتو په نسبت د ځواک د غښتلتیا څرنگوالی ښکاره کوي.

په ۲۰۰۸ کې رامنځ ته شوي د  گډې همکاري او څار هیئت د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د همغږې او همکاري اداره ده.

سرچینه: د کانگرس تحقیقاتي خدمتونه، " په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو پروګرام یا یونما: پس منظر او د پالیسي اړوند موضوعات،" 12/27/2010 چه په 4/11/2011 نیټه  باندې په انلین ډول لاس رسی ورته شوي دي.

## د امنیت مهم ټکي

پدې ربع کې، افغان ملي امنیتي ځواک او د ایتلاف قواوو د افغانستان په شمال او جنوب کې د امنیت په برخې کې لاس ته راوړني درلودلې. یو د مهمو پرمختگونو څخه د افغان دولت لخوا د په دغه هیواد کې د خصوصي امنیتی کمپنیو(PSCs)  د فعالیت د محدودیت خبره وه.

3.1 جدول

| د امنیت په برخه کې ستراتیژیک لومړیتوبونه | | | |
|---|---|---|---|
| لومړیتوب | اوسنی هدف | حالت | د تیرو درو میاشتو په نسبت رامنځ ته شوي تغیرات |
| افغان ملي اردو | تر 10/2010 پورې ۱۳۴۰۰۰ ځواکونه<br>تر 10/2011 پورې ۱۷۱۶۰۰ ځواکونه<br>تر 11/2012[a] پورې ۱۹۵۰۰۰ځواکونه | (3/20/2011 پورې) ۱۵۹۳۶۳ ځواکونه | +9,810 |
| افغان ملي پولیس | تر 10/2010 پورې ۱۰۹۰۰۰ ځواکونه<br>تر 10/2011 پورې ۱۳۴۰۰۰ ځواکونه<br>تر 11/2012[a] پورې ۱۷۰۰۰۰ ځواکونه | (تر 3/2011 پورې) ۱۲۵۵۸۹ ځواکونه | +10,005 |

یادونه: شمیرې په گردې کولو اغیزمنې شوي.
a. وړاندیز شوي، تر اوسه ندي منظور شوي.
سرچینې: د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانگړي عمومي پلټونکي د4/16/2011 ته د CENTCOMځواب او د نوموړي اداري د 3/20/2011غوښتنې ته د  ISAF-IJC او PERSTAT ځواب

## ځایي پرمختګ

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ربع په راپور کې، د ملګرو ملتونو سرمنشي ته معلوم شوه چه د افغانستان د هغه ولسواليو شمير چه د دولت د مخالفينو لخوا د اداره کيدونکو ولسواليو په شمير کي کمی راغلی دي. نوموړي ته دا هم معلومه شوه چه دافغان ملي امنيتي ځواک او د ایساف د پوځ لخوا په بلخ او کندوز کي ترسره شوي عمليات سبب شوي چه د دولت مخاليفين د هغه ځای څخه وتښتي؛ دا پداسي حال کي ده چه دغه مخالفين د نوموړو ولايتونو هغه سيمو ته خوزيدلي چه لا د پخوا د ډير ټيکاو څخه برخمن نه وو.[57] په کابل کي، افغان ملي امنيتي ځواک توانيدلی چه په دوامداره توګه د مخاليفينو فعاليتونو محدود کړي. د افغانستان په جنوب، که افغان ملي امنيتي ځواک او ايتلاف قواوو په پرلپسي ډول په هغه سيمو کي د ټيکاو او ثبات راپورونه ورکوي چه پخوا د مخاليفينو لخوا کنترول کيدل. د ملګرو ملتونو سرمنشي همدا ډول په ډاګه کره چه د دغه پرمختګونو په وړاندي د دولت مخالفينو په غير متناسب ډول د تاوتريخوالي او تهديدوني پيښو ته زور ورکړی.[58]

لکه څرنګه چه د افغانستان د بيارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د ۲۰۱۰ کال د جنوري د مياشتي په درې مياشتني راپور کي راغلي وو، چه مخالفينو په ۲۰۱۰ کال کي خپل فعالتيونو د هيواد شمال ته وغزول. د دې درو مياشتو په ترڅ کي د افغان ملي امنيتي ځواک لخوا د هيواد په شمال او لويځو ولايتونو کي پر مخاليفينو پرلپسي فشار سبب شو چه يو زيات شمير مخالفين د جنګ څخه لاس واخلي او د سولي او ملکي کولو د پروسي سره يوزاي شي. د ملګرو ملتونو سرمنشي ته معلومه شوه چه د دولت مخالفين اوس هغه پخواني مخالفين چه د دولت سره يوځای شوي په نبنه کوي.[59]

## د خصوصي امنيتي کمپنيانو يا PSC په اړه نوې ستراتيژي

ولسمشر حامد کرزي اعلان وکړ چه د خصوصي امنيتي کمپنيانو فعاليت وتړي او د ۲۰۱۰ کال تر پایه پوري اړوند مسوليتونه د افغانستان د عامه خونيدتوب ځواک (APPF) ته وسپاري، نوموړي ځواک د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت په چوکاټ کي فعاليت ترسره کوي.[60] لکه څرنګه چه د افغانستان د بيارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د ۲۰۱۰ کال د اپريل مياشتي په درې مياشتني راپور کي معلومه شوه، چه افغانستان د عامه خونيدتوب ځواک عامه ټولنو، مهمو زيربنايي پروژو او د نړيوالو سازمانونو لخوا د کاريدونکو اسانتياوو لپاره خدمتونه وړاندي کوي. د نوموړي ځواک غړي چه د ۲۰۰۹ ميلادي کال راپديخوا خپلي دندي ترسره کوي د کليو د شوراګانو لخوا نومول کيږي او د افغان ملي پوليسو لخوا روزل کيږي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کي د ملګرو ملتونو سرمنشي خبر ورکړ چه دغه پروګرام له دي کبله ځنډول شوی دي چه د خصوصي امنيتي کمپنيانو سره د اوسنيو قراردادونو د ليږدوني په برخه کي ستونزې موجودي دي. نوموړي ته همدا شان معلومه شوه چه ټولي ډلي په ګډه غواړي چه د خصوصي امنيتي کمپنيو کار د پداسي شکل بند شي چه نړيوالو سازمانو د امنيت او د نړيوالي ټولني د مرستو کولو پر لړۍ اغيزه ونکړي.[61]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۱۵مه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د خصوصي امنيتي کمپنيانو څخه د افغانستان د عامه خونيدتوب ځواک ته د ۲۰۱۲ کال د مارچ په مياشت کي د مسؤليت د ليږد په اړه خپله ستراتيژي اعلان کړه. د يادي شوي ستراتيژي پر اساس، هغه امنيتي خصوصي کمپني چه د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت لخوا ورته د فعاليت جواز ورکړل شوي وي کولای شي ډيپلوماتيکو ادارو، ايساف او د اړوندو پروژه لپاره امنيتي خدمتونه وړاندي کړی، هغه امنيتي کمپني چه په پرمختيايي او بشري برخو کي خدمت کوي باید د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۰مي نيتي پوري د افغانستان د عامه خونيدتوب ځواک لخوا تبديل او چاري وروسپارل شي. دافغانستان د کورنيو چارو وزارت، ايساف او په افغانستان کي د امريکا سفارت به په دوامداره توګه د ستراتيږي د اغزمنتيا او د افغانستان د عامه خونيدتوب ځواک ته د نوي مسوليت په اړه د وړتيا په اړه ارزوني ترسره کوي. ټولي هغه امنيتي کمپني چه په افغانستان کي امنيتي خدمتونه وړاندي کوي پرسونل يې ۵۰۰ تنو ته محدود او په استثنايي حالاتو کي ۱۰۰۰ تنو ته محدود کړل شوی دي. هغه امنيتي کمپني چه د دغه شرط او يا هم نورو شرايطو په پوره کولو کي پاتي راشي کيدای شي د جريمو، د وسلو د بنديز او يا هم د نورو مجازاتو سره مخامخ شي.[62]

### د سيګار پلټني

د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکي د امريکايي پوځ د انجنيرانو د قطعه (USACE) سره د کلوبل ستراتيژ ګروپ د قرارداد چه په افغانستان کي د USACE د پرسونل لپاره امنيتي خدمتونه وړاندي کوي په اړه پلټني کوي. دا لومړي ځل دي چه USACE لپاره په افغانستان کي د خپلو رغونيزو پروژو لپاره د امنيت د خدمتونو د لګښتونو په اړه پلټنه ترسره کيږي. د لازياتو معلوماتو لپاره ۱ برخي،۱۶ پاڼه ته ستانه شي..

3.2 جدول

**په افغانستان کې د امريکا د دفاع وزارت لپاره د قراردادیانو پرسونل**

| | د 2010 مالي کال په لومړيو درو مياشتو کې | | د ۲۰۱۱ مالي کال په لومړيو درو مياشتو کې | | د يوه کال توپير | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د PSC قراردادیان | ټول قراردادیان | د PSC قراردادیان | ټول قراردادیان | د PSC قراردادیان | ټول قراردادیان |
| د امريکا د متحده ايالاتو اتباع | 114 | 10,016 | 250 | 19,381 | +136 | +9,365 |
| د دريم هيواد وګړي | 409 | 16,551 | 731 | 21,579 | +322 | +5,028 |
| افغان وګړي | 13,916 | 80,725 | 17,938 | 46,523 | +4,022 | -34,202 |
| **ټول** | **14,439** | **107,292** | **18,919** | **87,483** | **+4,480** | **-19,809** |

سرچيني: CENTCOM، " د CENTCOM د مسوليت په محدوده کې د امريکا د عملياتو لپاره د قراردادي ملاتړ، عراق، او افغانستان،"1/19/2011، چه د 4/15/2011 په انلاين ډول لاس رسی ورته شوي؛ CENTCOM، " د CENTCOM د مسوليت په محدوده کې د امريکا د عملياتو لپاره د قراردادي ملاتړ، عراق، او افغانستان،" 2/2010، چه په4/15/2011 نيټه باندي انلاين ډول لاس رسی ورته شوي دي.

پدې ربع کې، CENTCOM ته معلومه شوه چه د ۲۰۱۰ مالي کال په لومړۍ ربع کې د ۸۷۴۸۳ قراردادیانو د ډلې د خصوصي امنيتي کمپنيانو ۱۸۹۱۹ پرسونل په افغانستان کې د امريکا د فاع وزارت لپاره کار کوي. پدې کې د ۲۰۱۰ مالي کال د لومړي ربع په نسبت د خصوصي امنيتي کمپنيو پرسونل په شمير کې ۴۴۸۰ شامل دي، دغه معلومات په جدول کې هم ليدل کيږي.۳.۲ شميره [63]

## امنيتي پيښې

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کې په خپل راپور کې د ملګرو ملتونو سرمنشي ويلي چه په افغانستان کې د امنيتي پيښو شميره اوس هم د پام وړ ده. د ۲۰۱۱ کال د جنوري په مياشت کې ۱۶۶۴ امنيتي پيښې رامنځ ته شوې وې- چه ډيری يې وسلوالي پيښې او چاوديدونکي توکو څخه رامنځ ته شوې پيښې وي – په ۲۰۱۰ کال کې د ورته پيښو شميره ۱۶۲۰ او په ۲۰۰۹ کې ۹۶۰ وی. د ملګرو ملتونو سرمنشي همدا ډول ويل چه په ۲۰۱۰ کال کې د ځانمرګو بريدونو کچه د ۲۰۰۹ کال په نسبت چه ۲،۶ وه په ۲۰۱۰ کال کې ۲،۸ ته اوچته شوې ده. د دې راپور ورکوني تر وخته پورې يوازې په کندهار ولايت کې ۲۰ د ځانمرګي او ۳۳ د وژني يا قتل پيښې رامنځ ته شوې دي. [64]

د ملګرو ملتونو سرمنشي ته معلومه شوه چه پدې درو مياشتو کې مخليفينو د افغان دولت او د افغان ملي امنيتي ځواک د تاسيساتو په نښه کولو ته دوام ورکړي دي. د ۲۰۱۱ کال د جنوري په مياشت کې د کندهار مرستيال والي په يوه ځانمرګي بريد کې ووژل شوو. په دا بله مياشت کې بيا د کندهار ولايت د پوليسو په دوو لويو مرکزونو باندې بريد وشوو. د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۱۹ په ننګرهار ولايت کې په يوه بانک پداسې حال کې د يو ځانمرګي بريد ښکار وګرځول شوو چه ډيری عامه کارکوونکو او د افغانستان د ملي امنيتي پوځ کارکوونکو خپل معاشونه تر لاسه کول.[65] Tپه افغانستان کې د امريکا د سفارت د معلوماتو پر اساس په نومړو پيښو کې ۴۰ تنه مړه او ۷۰ نور ژوبل شول.[66] Oد ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۲۸مه او د فبروري په ۱۴مه، په هغو ځانمرګي بريدونو کې چه په کابل کې ترسره شول په لومړني کې ۱۰ ملکي وګړي مړه او ۱۷ ژوبل او په دويمه پيښې کې ۲ هغه ساتونکی چه غوښتل يې د بريدکوونکو مخه ونيسي خپل ژوند د لاسه ورکړ.[67] د ۲۰۱۱ کال د اپريل په لومړی نيټه لاريون کونکو وروسته تر هغه چه د امريکا په فلوريډا ايالات کې قران وسوځول شوو تر لاريون په ترځ کې د ملګرو ملتونو پر دفتر په حمله کې د ملګرو ملتونو د ميشن درې کارکوونکی او ۴ تنه ساتونکي ووژل.[68] د ۲۰۱۱ کال د اپريل په ۱۵ د کندهار د امنيي قومندان سره د خپلو دوو افسرانو د يو ځانمرګي بريد په ترځ کې ووژل شوو.[69]



افغان ځواکونه چه د افغان ملي اردو – نا کميسار شوو افسرانو اکاډمي کې د تندر د راټلونکو عملياتي قرارګاه کې د روزنې په موخه منتظر دي. د امريکا د متحده ايالاتو د بيارغونې د هڅو يو مهم لومړيتوب د افغان ځواک د ظرفيت لوړول دي ترڅو وکولای شي په ۲۰۱۴ کال کې د امنيت د چارو مسوليت پر غاړه واخلي.( د امريکا د بحري قواوو انځور، PO1 مارک او ډونالډ)

## افغان ملي اردو

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې نيټې سره سم، د امريکا متحده ايالاتو د افغان ملي امنيتي ځواک سره د افغان ملي اردو د رغونې او ثبات په موخه ۲۰،۸ ملیارډ ډالره مرستې کړې، ۱۷،۹ ملیارډ ډالره تعهد يا منل شوي او ۱۵،۹ ملیارډ ډالره پرې لګول شوي دي.[70] د امريکا د حساب ورکونې يا GAO له قوله، د امريکا دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۱۱ مالي کال په ترڅ کې دافغان ملي اردو د پراختيا په موخه د ۷،۵ ملیارډ ډالرو نورو غوښتنه کړې ده.[71]

په ۲۰۰۲م کال کې د مرستو د پيل څخه د امريکا متحده ايالات د افغان ملي اردو سره د مرستو کوونکو په ليست تر ټولو وړاندې دي. د امريکا د متحده ايالاتو مرستې د پرمختيا د اساسي هڅو په برخه کې کارول کيږي.[72]


- سمبال يا تجهيز او د سلاح، موټرو او د مخابراتي الاتو د اخيستلو په ګډون د ترانسپورت اسانتياوې
- زيربنايي پروژې، لکه د قرارګاوو، تحويلخانو او د روزنيزو اسانتياوو رامنځ ته کول
- روزنه او عمليات، لکه د روزنيزو مرکزونو جوړول او همدا ډول د ځانګړو خصوصي روزنې د ورکولو په موخه د مجربو کسانو په دندو ګمارنه
- پايښت، د افغان ملي اردو د معاشونو ورکول او د موټرو او اسانتياوو څخه ساتنه

## د افغان ملي اردو توان

د CENTCOM په وينا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې پورې د افغان ملي اردو توان ۱۵۹۳۶۳ تنه وو چه د ۲۰۱۰ کال د ديسمبر د مياشتې د ۲۱مې نيټې په نسبت ۹۸۱۰ تنه اضافوالي ښکاره کوي. د يادې شوې شميره څخه ۱۲۸۸۶۲ تنه هغه کارکونکی دي چه په ساحه کې دنده ترسره کوي.[73] د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر تر مياشتې پوري د افغان ملی اردو شمير ۱۷۱۶۰۰ ته اوچتول د نوموړې اردو د اهدافو څخه دي؛ د ګډې همکارۍ او څار هيئت په نظر کې لري چه د ۲۰۱۲ کال د نومبر تر مياشتې پوري د افغان ملي اردو شميره ۱۹۵۰۰۰ ته اوچت کړي.[74]

3.20 انځور

د افغان ملي اردو حاظر پرسونل
انتخاب شوي اجزا
د 2011 کال د مارچ په 20مه ( فيصدي)





يادوني: د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمير PDY= په دنده حاضر
AWOL= د رخصت څخه پرته غيرحاضر نور= په روغتيايی، روزنيز او يا
هم په رسمي رخصت

سرچينه: ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 3/20/2011.

3.19 انځور

د افغان ملي اردو توان، انتخاب شوي اجزا
د 2011 کال د مارچ په 20




يادونه: SOF= ځانګړي عملياتي ځواک ګمارل شوي خو غير حاظر= په روغتيايی، روزنيز او يا هم رسمي او همدا ډول د هر ډول رخصت څخه پرته غير حاضر

سرچينه: ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 3/20/2011.

د افغان ملي اردو د پوځ جوړښت څلور مهمې برخې لري:[75]

- د ملي دفاع وزارت او د عمومي پرسونل کارکونکي چه د پراختيا، په ساحه کې د ځای په ځای کونې او د عملياتو لپاره د افغان ملي اردو د چمتوالي مسوليت پر غاړه لري.
- د افغان ملي اردو عملياتي ځواک، چه د بنسټونو او د هغه منځني قومندې د ثبات لپاره کار کوي چه
- د ملي دفاع د وزارت سره د نږدې ملاتړ کوي
- د افغان هوايي ځواک پرسونل، چه هم د افغان ملي اردو او ملي پوليسو سره مرسته او همکاري کوي

د افغان ملي اردو د مجموعي توان څخه، ډيری يې جنګي قوه ده چه په شپږو قطعو کې ځاي پرځاي شوي دي، د ځانګړو عملياتو ځواک او د ۱۱۱ مرکزي فرقه په جوکاټ کې دندې ترسره کوي. د ايساف د ګډې قومندې يا (IJC) د تازه ارزونو پر اساس د ۲۰۱۱ کال دمارچ د مياشتې تر ۲۰مې نيټې پورې دغه ځواک ته ۹۰۱۶۶ پرسونل ګمارل شوي دي.[76] چه د تير درو مياشتو د اخر په نسبت د ۴۳۶۲ پرسونلو زياتوالي ښکاره کوي.[77] خو دا پدې معنې نده چه د ګمارل شوو عسکرو شمير په دنده د حاضرو سربازانو د شمير سره يوشان نه دي، همدغه معلومات په کې هم ښودل شوې ده. ۳.۱۹ شميره انځور . لکه څرنګه چه په انځور کې ښودل شوي دي، پدې درو مياشتو کې د رسمي رخصتي څخه د پرته غيرحاضرانو شميره ۷٪ (AWOL) څخه بيا تر ۱۴٪ پورې رسيدله. ۳.۲۰ شميره انځور.


د قومندان د واحد د توکو د ارزونې (CUAT) په اړه د IJC د ۲۰۱۱ کال د فبروري د ۲۲ نيټې د راپور پر اساس، د افغان ملي اردو د رسمي رخصتي پرته د غيرحاضرو په شميره کې ډير پرمختګونو تر لاسه شوي دي. دغه پرمختګ د ايساف د دې درو مياشتو په راپور کې هم بيان شوی دي.[78] د بيلګې په توګه، د افغان ملي اردو په

**د افغان ملي اردو په هره قطعه او فرقه کې د يوه څخه تر څلورو غونډونه لري. په عمومي ډول يو غونډ د يو مرکزي واحد، د لشکر کوټ د ملاتړ واحد، د پلې ځواکونو څلور ليواوې، د جنګي ملاتړ يوه ليوا او جنګي خدمتونو د ملاتړ يوه ليوه څخه جوړ شوي وي. د افغان ملي اردو پلې يا پياده ليوا د کنډک په نامه ياديږي او د نږدي ۸۰۰ پرسونل تشکيلات درلودنکي دي.**

سرچينه: GAO،" د افغانستان امنيت: د افغانستان د اردو شمير زياتيږي، اما لا زياتو روزنکو ته اړتيا شته؛ د اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص کړل شوي،" -GAO 11-66, 1/27/2011, p. 43.

انځور 3.21

د پروګرام په اساس د افغان ملي اردو د روزني د پروګرامونو څخه فارغين




يادونه : NCO= نا کميسار شوي افسر HMMWV= د لوړ تحرک، او مختلفو اهدافو لپاره کاريدونکي موټر

a. دغه 12 اونيز کورس د دولسم ټولګی څخه فارغ شوي د NCO په توګه د دنده لپاره چمتو او په دندو وګماري

سرچينه: د سيګار د 4/1/2011 نيټې پوښتني ته د CENTCOM ځواب

شپږمه قطعه کې، د ځانګړو عملياتو د ځواک او د ۱۱۱ مرکزې فرقې د حاضرو شميرو د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۰ نيټې د ۲۰۱۰ کال د ديسمبر د ۳۰ نيټې په نسبت زيات وو او د AWOL عسکر شمير يی په همدې موده کې کم وو. په ۲۰۳مه فرقه کې د حاضرو عسکرو شمير ٪۶۳ څخه ٪۸۱ ته د پام وړ لوړوالی موندلي وو.[79]

په تيرو درو مياشتو کې لکه څرنګه چه دافغانستان د بيارغونې د ځانګړي عمومي پلټونکي د ۲۰۱۱ کال د جنوري د مياشتې راپور کې هم راغلي وو چه CUAT دوه داسي کنډکونه په ګوته کړل چه په خپله يی په مستقل ډول عمليات ترسره کړي دي. د IJC په وينا د "مستقلو" عملياتو د ترسره کولو د توان په اړه به د لا کروالي په موخه د سره دقيقه ارزونه وشي ترڅوو د مستقلو ترسره کيدونکو عملياتو د اغيزې د کچې د معلومولو په اړه حقيقي او واقعي معلومات وړاندي شي. د همدې تغير په سبب CUAT د ۲۰۱۱ کال د اپريل د مياشتې د ۱۴ نيټې سره سم يوازې د افغان ملي اردو د يوه واحد "مستقلو" عملياتو په اړه ارزونه ترسره کړې ده. "د مشاورينو سره د اغزمني" د ۱۵۷ کنډکونو څخه ۵۲ د A درجه تر لاسه کړله. IJC ته معلومه شوه چه دغه شمير د CUAT د تير راپور په نسبت د ۹ واحدونو زياتوالي په ګوته کوي.[80]

د جنګې پوځ برسيره، افغان ملي اردو" قادرونکي" او يا هغه حمايه کونکي واحدونه چه مهمو، د همکاري لپاره ځانګړو روزنو او لوژيستکي مرستو ته اړتيا لري ځاي پر ځاي کړي. IJC ويلي چه ځيني د دغه واحدونو څخه خپلو قطعو ته د پرسونل، تجهيزاتو، توکو، موټرو او نورو اړتياوو د کمبود سره مخامخ دي.[81]

## د افغان ملي اردو روزنه

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې سره سم، د امريکا متحده ايالاتو د افغان ملي اردو د روزنې او عملياتو لپاره ۲ مليارډ ډالره ځانګړي، ۱،۶ مليارډ ډالره منلي او ۱،۵ مليارډ ډالره مصرف کړي دي.[82]

د CENTCOM په وينا، پدې درو مياشتو کې ۲۲۴۴۶ تنه د افغان ملي اردو پرسونل د روزنو د يو زيات شمير هغه پروګرمونو څخه فارغ شول چه د ASFF لخوا تمويل شوي وو. د پورته ذکر شوې شميره له ډلې ۳۰۷۰ ته د غير کميسار شوو افسرانو لپاره د پراختيايی پروګرامونو څخه او ۷۳۱ تنه د نويو

### د سيګار پلټني

د افغانستان د بيارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د کابل په روزنيز نظامي مرکز کې د افغانستان د ملي امنيتي ځواک لپاره د زيربنايی بيارغونيزو پروژو په اړه پلټنه ترسره کوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱ برخي، ۱۴ پاڼي ته ستانه شي..

افسرانو لپاره د ځانګړو روزنيزو پروګرامو څخه فارغ شوي دي، همداغه معلوما په کې هم ښودل شوي دي. ۲.۲۱ شمیره انځور.[83]

## د افغان ملي اردو د سواد کچه

IJC او NTM-A د افغان ملي امنیتي ځواک د غړو لپاره د سواد د روزنيزو پروګرامونه له لارې د سواد په برخه کې اړتیاوې په ګوته کړيدي. یو زیات شمیر تخصوصي پوستونه- په ځانګړي توګه په طبي، استخباراتي، لوژیستکي او د چاودیدونکو توکو د منځه وړلو په برخه کې لا هم ډیر پوستونه ځکه خالي دي چه نوموړو پوستونو لپاره د باسواده کاندیدانو شمیر کم دي. د IJC د معلوماتو پر اساس، د NTM-A د زده کړې یا سواد پروګرام کار کوي ترڅو دغه کمی د منځه یوسي.[84]

د CENTCOM په وینا، د افغان ملي اردو د سواد دکچه د لوړولو په برخه کې د امریکا او د هغه د متحدینو هڅې ګړندی دي. د سواد او زده کړې د برخې د پالیسی د جوړوني او د روزني د لومړیتوبونو د په ګوته کولو په موخه، د NTM-A د زده کړو ډله د ملي دفاع وزارت د مذهبي او فرهنګي چارو د دفتر د مسؤل سره په منظمه توګه لیدني ترسره کوي. د سواد ډله همدا ډول د افغان ملي اردو په تشکیلاتو کې د سواد د پراختیا او پرمختیا لپاره د ارتباطاتو په اهمیت او د هغه د رول په برخه کې سلامشورې ورکوي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال د نومبر په میاشت کې نوموړې ډلې افغان ملي اردو د اساسي روزنيز نصاب سره سم د امریت لارښونيز د سواد روزنيز پروګرام ترسره کړ. د CENTCOM په وینا د لومړي ټولګی د زده کونکو به شمیر کې د نوموړو پروګرامونو وروسته د پام وړ کموالي راغلي دي. په صنفونو کې په پښتو او یا هم په دري ژبه درس ورکول کیږي او په صنفونو کې په د شاګردانو په ژبه تدریس کیږي.[85]

CENTCOM خپله د افغان ملي اردو لپاره د سواد کومه کچه یا فیصدي نه ده ټاکلې. خو بیا هم، نوموړی اداره په عمومي ډول د افغان ملي امنیتي ځواک د سواد کچه ٪۲۸ تخمین کړې ده.[86]

## په افغان ملي اردو کې د ښځو ونډه

د CENTCOM دمعلوماتو پر بنسټ د ۲۰۱۱ کال د فبروري د میاشتې ۴ نیټې پورې په افغان ملي اردو کې ۳۰۰ ښځو دنده ترسره کوله: چه د دې ډلې څخه ۱۹۵ یې سربازاني او ۱۰۵ تنه یې لښکري خدمت ته راجلب شوي پرسونل دي. د دغه شمیر ډیری برخه( ٪۷۵) په روغتیایی برخه او نیمایی (٪۵۱) د لښکري خدمت ته راجلب شوي پرسونل په لوژیستکي برخه کې دنده ترسره کوي. د CENTCOM په وینا، ډیری د دغه ښځینه سربازانو د له ډلې څخه هغه مرمني دي چه په ۱۹۸۰ کې د عسکري خدمتونو سره یوځای شوي دي او ډیر کم او یا یې هم هیڅ روزنه نه ده ترلاسه کړې. ډیری یې بې سواده دي، او یو کم شمیر یې ترفع ترلاسه کړې ده.[87]

CENTCOM ته معلومه شوه چه تیر کال افغان ملي اردو د خپلو ټاکلو شوو شمیر استخدام ته د رسیدلو لپاره دوې پالیسی خپرې کړې دي. د ۲۰۱۰ کال د جنورې په میاشت کې د افغانستان د ملي دفاع وزارت په افغان ملي اردو کې د ښځینه پرسونل د کمارني د زیاتوالي په اړه یو فرمان صادر کړې؛ د ۲۰۱۰ کال فبروري په میاشت کې د روزني، کاروني، او د ښځینو پرسونل د استخدام په برخه کې اسانتیاو د رامنځ ته کولو په برخه کې یو بل فرمان صادر کړ. د CENTCOM په وینا، NTM-A/CSTC-A د بشري حقوقو او مخ نیوې یوه ډله جوړه کړې ترڅو د افغان ملي امنیتي ځواک د پراخو ستونزو او د او د ښځو د تشکیلاتو په برخه پراخو ستونزو په اړه خبر او بحث وکړي. NTM-A/CSTC-A همدا ډول یو لارښود او رهنما طرحه کړې تر څو په راتلونکي کې NTM-A د ښځو د جندر مسله په ټولو اړوندو فعالیتونو کې په پام کې ونیسي.[88]

## د افغان ملي اردو زیربنا

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتې تر ۳۱مې نیټې پورې د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د ملي امنیتي ځواک د زیربناو لپاره ۴ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۳،۲ ملیارډ ډالره یې منلي او تعهد کړي او ۲،۵ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[89]

د CENTCOM د معلوماتو پر بنسټ، پدې ربع کې، د افغان ملي اردو ۲۴ نوي پروژې چه (لګښت يې ۳۱۹،۹ ميليون) پيل، ۵۴ پروژې د (۸۷۳،۹ ميليون ډالرو) په ارزښت رواني، ۱۲ پروژې چه (۱۳۳،۴ ميليون ډالر) ارزښت لري بشپړې شوي او ۲ پروژې چه (۵۵،۸ ميليون ډالر) ارزښت لري لغوه شوي دي.[90]په دغو پروژو کې افغان ملي اردو سره د مرستې په موخه د ودانيو د رغوني او د تجهيزاتو مرستې، د سرتيرو بيرته ځاې په ځاې کول او عمليات- چه په هغه کې دلښکرو هستوګنځي، د قومنداني مرکزونه، روزنيزې وداني او اداري ځايونه، ګدامونه، تحويلخاني او د ستاني د اسانتياوې امکانات شامل دي.[91]

## د افغان ملي اردو تجهيزات

د امريکا متحده ايالاتو د افغان ملي امنيتي فنډ څخه د افغان ملي اردو د تجهيز او ترانسپورټ په برخه کې د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ نيټي پورې ۹ مليارډ ډالره تخصيص کړي، ۷،۷ مليارډ ډالره منلي او ۷،۱ مليارډ ډالره مصرف کړي.[92]

د CENTCOM د معلوماتو پراساس، د ۲۰۱۱ کال د جنوري د ۱ څخه بيا د مارچ تر ۳۱ مي پورې افغان ملي اردو د ۹۴۴۸ وسلې ( د ۲۰ ميليون ډالرو په ارزښت) ۱۱۶۳ نقليه واسيط (د ۳۹۰،۸ ميليون ډالرو په ارزښت) او د ۶۶۱۷ مخابراتي وسيلو( د ۳۷،۳ ميليون ډالرو په ارزښت) ترلاسه کړي دي.[93] د افغان ملي اردو لخوا ډيرى ترلاسه شوي تجهيزات د امريکا د متحده ايالاتو لخوا د ASFF د فنډ څخه د سوډو يا مستعار- بهرني نظامي خرڅلاو له طريقه رانيول شوي دي.[94]

د امريکا حکومت د حساب ورکونې د دفتر څخه پدې ربع کې خپاره شوي راپور پر بنياد د افغان ملي اردو د پراختيا لپاره د ASFF د مرستو څخه د ځانګړو شوو ۱۷،۹ مليارډ ډالرو ډير برخه – نږدې ۷ مليارډ ډالره (۳۹٪) د توکو پر خريداري او پيرودني باندې لګول شوي دي.[95]

د NTM-A/CSTC-A په وينا، د ۲۰۱۱ کال د جنوري تر ۵ نيټي پورې، ناټو او د نړيوالي ټولني افغان ملي امنيتي ځواک په ۴۵۰۰۰۰ وسلو او ۵۰ طيارو باندې سمبال کړي دي. ايتلافي قواوو لاندې توکي پيرودلي او ورکړي دي:[96]

- توکي، لکه M16 ټوپک، ۹ ملي متري توپانچې، د لوړ سرعت لرونکو او مختلفو اهدافو لپاره د ګټې اخيستلو وړ موټر (HMMWVs) او د واړه جنګي موټر
- الوتکي، لکه سي –۲۷ ګارګو طيارې او آم اي –۱۷ چورلکي
- اختصاصي تجهيزات، لکه د په شپه کې ليدونکي دوربينونه او راديوګاني

د افغان ملي اردو د لګښتو په اړه په ورستي پلټنه کې، GAO افغان ملي اردو پلې ليوا د ورکړل شوو توکو او تجهيزاتو او د هغه د لګښت په اړه په خپل تحليل او ارزونه کې ومومندل. چه د يوې پلې ليوا پر تجهيز او سمبالښت


**سوډو يا مستعار – د بهرنيو نظامي خرڅلاو:**
د بهرنيو نظامي خرڅلاو(FMS) پروګرام سره توافق، د متحده ايالاتو د دفاع اداري(DoD) لخوا د دولت – نه – دولت ته د متحده ايالاتو دفاعي تجهيزاتو، خدماتو،او روزنو خرڅلاو ميتود. د دوديز بهرني نظامي خرڅلاو په پرتله، د امريکا د دفاع وزارت لخوا د افغان ملي امنيتي ځواک د روزني او تجهيز لپاره د ASFF لپاره مرستي د امريکا دکانګرس د منظورې له لارې تخصيص کړل شوي دي. د محلي بهرني نظامي خرڅلاو په پرتله سوډو بهرني نظامي خرڅلاو چارې د دفاع د امنيتي همغږې کونکي اداري لخوا څارل کيږي.

سرچينيه: GAO" د افغانستان د سلاو په اړه حساب ورکونه"، GAO-09-267 چه په 10/14/2010 انلاين ډول لاس رسي ورته شوي؛ DSCA" د بهرني نظامي پيرودنه"، چه په 10/16/2010 لاس رسي ورته شوي دي.

3.22 انځور

يوه وصفي افغان ملي اردو عسکر ته د ورکړل شوو تجهزاتو او توکو قيمت (ډالر)

تول: $2,995




يادونه: د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمير

سرچينه: GAO، " د افغانستان امنيت: د افغانستان اردو زياتيږي، خو اضافي روزنکي ته اړتيا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص شوي،" GAO-11-66، 1/27/2011 ، پاڼه 8

3.3 جدول

| معياري افغان ملي اردو پلې يا پياده ليوا او اروندو لګښتونو لپاره ورکړل شوي تجهيزات | | |
|---|---|---|
| **د تجهيزاتو ډول** | **لګښت (په ميليون ډالرو)** | **د مجموعي ويش(٪)** |
| ترانسپورټ (ټرکونه، HMMWVs، امبولانسونه، د اوبو کراچې، فورک ليفټ، او داسي نور) | 17.6 | 80 |
| سلاوې(M16 او سنايپر، توپنچې، ماشين ګنونه، ګرنيټونه، هاوانونه او داسي نور) | 2.4 | 11 |
| مخابرات( راديوګاني، اساسي اډې، سويچ بورډونه، جنګي ساحوي ټيلوفونونه او داسي نور) | 1.8 | 8 |
| نور( جنراتورونه، سيار پخلانځي، دروبينونه، قطب نماوې، او د توکو بستې او داسي نور) | 0.2 | 1 |
| **ټول** | **22.0** | **100** |

يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.

سرچينه: GAO،" د افغانستان امنيت: افغان اردو شمير زياتيږي، اما اضافي او نورو روزنکو ته اړتيا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص،" GAO-11-66, 1/27/2011, p. 9.

باندي ټول ټال ۲۲ میلیون ډالره مصرف راغلي دي.[97] د نوموړي شمیر پیسو څخه لکه چه په کي هم ښودل شوي دي ٪۸۰ په ترانسپورت او ٪۱۱ کي پر وسلو باندي لګیدلي دي.۳.۳ شمیره انځور. د یو معیاري افغان ملي اردو عسکر په سمبال او تجهیز باندي ۲۹۹۵ ډالره لګښت راځي چه د هغه ٪۸۰ د هغه په زرهي او په M16 ټوپک باندي مصرف راځي. همدا معلومات په کي هم ښودل شوي دي.۳.۲۲ شمیره انځور.

## د دفاع وزارت سره د امریکا د متحده ایالاتو مرستي

دامریکادفاع‌وزارت‌دافغانستان‌دملي‌دفاع‌وزارت‌سره‌دسلامشوروا‌وروزني‌په‌برخه‌کي‌دقرارداديانو‌څخه‌ګټه‌اخیستەده. په ۲۰۰۵ کال د افغانستان ملي امنیتي سکتور د پراختیا او د سیمز کولو د پروګرام قرارداد MPRI ته ورکړل شوو ترڅو د افغانستان ملي دفاع وزارت او د CSTC-A پرسونل ته " تعهد کړل شوي، اړوندي سلامشورې، روزنه او د موضوع په اړه تجربي وړاندي کړي. "[98] د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر څخه تر نومبر پورې دغه چارې د MPRI څخه ډاین کورپ ته انتقال شولي، نوموړې اداري ته دغه قرارداد د ۲۰۱۰ کال د اوګست په ۲۴ د امریکایی پوځ د تحقیق، پراختیاا او د انجینري د قومنداني لخوا ورکړل شو. د CENTCOM په وینا پدې ربع کي ډاین کورپ ته د هغه خدمتونو له کبله چه ترسره کړي یی دي ۱۵ میلیون ډالره ورکړل شوي دي. نوموړي پروګرام د ۲۰۱۱مالي کال لپاره ۶۰ میلیون ډالره او د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره ۶۰ میلیون ډالره په اختیار کي لري.[99]

د امریکا د دفاع وزارت په خپله هم د افغانستان د دفاع وزارت د مرکزي وړتیاوو په رغولو کي رغنده رول لوبولي دي او د امریکایی او افغان مسولینو سره یی د اوږد مهالو او تل پاتو اړیکو په ټینګولو کي لاس ته راوړني درلودلي دي.[100] د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتي راپیدخوا د افغانستان د ملي دفاع وزارت د مشاورینو پروګرام (MoDA) د امریکا د دفاع وزارت د ملکي او ګډو همکارانو سره سیال شوي دي.[101] د افغانستان د ملي دفاع وزارت د مشاورینو پروګرام یو زیات شمیر فعالیتونو تر پوښښ لاندي راولي:[102]

- د دفاع پالیسی او ستراتیژي
- د ځواک پلانول او د منابع ځاي پر ځای کول
- د پرسونل او چمتووالي مدیریت
- ملکي-نظامي او د ادرو ترمنځ ګډ عملیات
- دوکتورین، روزنه او زده کړه
- د توکو پیرودل او غوښتنه کول
- د لوژیستکي او زیربناوو مدیریت
- د نظامي روغتیایی سکتور پرمختیا
- بشري حقوق او د جندر ونډه
- استخباراتي پالیسی او سازمان
- د معلوماتي تیکنالوژي مدیریت او زده کړه
- د حقوقي/قانوني صلاحت او قانونمندي

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په میاشت کي د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي د دفتر(DoD OIG) لخوا په ترسره شوي پلټنه کي معلومه شوه چه NTM-A/CSTC-A د افغانستان د ملي دفاع وزارت د ځانګړو امنیتي فعالیتونو د پرمختیا لپاره اړین توان او وړتیا نلري- او وړاندي شوي مرستي او تجربي د افغانستان د ملي دفاع وزارت د مهمو اړتیاو لپاره په ډیر کم وخت کي د پوره کولو په برخه کي پاتي او نیمګړي وې. برسیره پردې، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(DoD OIG) ته معلومه شوه چه د MoDA سره د اضافي مرستو پرته به د افغانستان د ملي دفاع وزارت پرمختیا ځنډیږي او ان تر دې چه کولای شي د تاوتریخوالي پر ضد د امریکا د ستراتیژي لاس ته راوړنې هم د ګواښ سره مخامخ کړي.[103]

دا پداسي حال کي چه DoD OIG ته معلومه شوه چه د MoDA پروګرام توانیدلي دي چه دافغانستان دملي دفاع وزارت د پرسونل د ظرفیت په لوړولو کي لاس ته راوړني ولري. د دې راپور پر اساس /NTM-A CSTC-A د افغانستان د ملي دفاع وزارت د مشاورین یو با ارزښتنه سرمایه ګڼي او د کورنیو چارو او ملي

دفاع وزارت کې یې د سلاکارانو د خالي بستونو د ډکولو لپاره د ۱۰۰ نورو اضافي MoDA د پرسونل غوښتنه کړې ده.[104] CENTCOM باور لري چه د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر تر ۳۰ مې نیټې پورې به د ۸۰ څخه تر ۸۵ پورې MoDA نوموړي تش بستونه ډک او په دندو به وګمارل شي.[105]

د CENTCOM د معلوماتو پر بنسټ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نیټې پورې د افغانستان د ملي دفاع وزارت لپاره ۳۰۵ سلاکاران او مشاورین په دندو ګمارل شوي وو، چه د هغه جملې څخه ۶۷ یې امریکایی یا هم د ایتلاف حکومتي پرسونل دي او ۲۳۸ نور یې د ډاین کورپ قراردادین دي.[106]

## افغان ملي پولیس

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نیټې پورې د امریکا متحده ایالاتو د ASFF د فنډ څخه د افغان ملي پولیسو د رغوني او پاینبت په موخه ۱۲،۳ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۱۰ ملیارډ ډالره یې منلي او ۸،۸ ملیارډ ډالره یې پرې لګولي دي.[107] د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د امریکا دفاع وزارت د افغان ملي پولیسو د رغوني او پاینبت په موخه د ۵،۷ ملیارډ ډالرو غوښتنه کړې ده، چه د ۲۰۱۱ کال د ۴،۱ ملیارډ ډالرو په نسبت ۳۹٪ زیاتوالي ښکاره کوي.[108]

د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د ملګرو ملتونو پرمختیایی اداري یا (UNDP) د افغانستان لپاره د قانون او نظم د باوري فنډ (LOTFA) څخه ۱،۲۶ ملیارډ پیسې مصرف کړې دي. لکه څرنګه چه د افغان ملي پولیسو د پې رول (د موجودي د لیست) او د پرسونل د حساب ورکولو په اړه د سیګار په راپور کې هم راغلي وو، د (LOTFA) مرستي د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لخوا د افغان ملي پولیسو د پې رول او نورو لګښتونو د بیرته ورکولو(بازپرداخت) لپاره کارول او لګول شوي دي.[109]

## د افغان ملي پولیسو توان

د IJC د قول پر استناد، پدې درو میاشتو کې د افغان ملي پولیسو توان ۱۲۵۵۸۹ تنه ته رسیدلي وو.[110] د نوموړې شمیر څخه ۶۶۹۲۷ یې افغان یونیفورم پولیسو (AUP)، ۱۹۸۶۵ تنه د افغان سرحدي پولیسو (ABP) او ۹۳۴۸ تنه د افغانستان د ملي عامه نظم د پولیسو(ANCOP) په چوکاټ کې ځاي پرځاي شوي دي، همدغه معلومات په کې هم ښکاره کړل شویدي.۳.۴ شمیره جدول. افغان ملي پولیس قصد لري چه د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر تر میاشتي یې خپل پرسونل ۱۳۴۰۰۰ تنه ورسیږي؛ د ګډې همغږي او خارني هیئت په نظر کې لري چه د ۲۰۱۲ کال د نومبر تر میاشتي د افغان ملي پولیسو شمیر ۱۷۰۰۰۰ ته اوچت کړل شي.[111]

### د سیګار پلټنې

د افغان ملي پولیسو د پرسونل د مدیریتي سیستم څخه د ۲۰۱۱ کال د اپریل په میاشت کې د خپلي پلټنې په ترڅ کې، سیګار ته معلومه شوه چه د افغان ملي پولیسو د کارکوونکو د شمیر او د هغوي د پې رول (د پرسونل د نومونو او معاشونو لیست) په سمه توګه مشخص کول ستونزمن کار دي، ځکه چه افغان ملي پولیسو چه د دغه معلوماتو څخه د کوم ډیټابیس څخه ګټه اخلي هغه غیرمرکزي، نامکمل او نا تصدیق شوي دي. د دې پلټنې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱ برخې،۹ پاڼې ته ستانه شي.

جدول 3.4

| د 2011 کال د مارچ د میاشتې سره سم د افغان ملي پولیسو ځواک | | | |
|---|---|---|---|
| | منظور شوی (تشکیل) | د تشکیل پوستونو ته ګمارل شوي | د تشکیل پوستونو ته نه دي ګمارل شوي |
| د افغان ملي پولیس ( ټول ټال ځواک : 125,589) | 122,000 | 115,979 | 9,610[b] |
| د افغان ملي پولیسو پر اجزاو ویشنه | | | |
| AUP | 72,817 | 66,927 | — |
| ABP | 21,466 | 19,865 | — |
| ANCOP | 11,276 | 9,348 | — |
| نور واحدونه | 16,441[a] | 19,839[a] | — |

یادونه: --- = موجود ندي یا په اختیار کې نشته.
a. د کورنیو چارو وزارت قرارګاوو، د جرمونو پر ضد، روزنو، د مخدره توکو پروړاندي مبارزي، لوژیستک، روغتیایی، د اور او ګمراکاتو واحدونو پرسونل پکې شامل دي؛ د افغان ملي پولیسو او د نوموړو پولیسو د اجزاو لپاره د صلاحیت ورکړل شوو او ګمارل شوو تر منځ ته توپیر پر اساس.
b.که د تشکیل څخه اضافي او په روزنه کې د زده کوونکو ابتدایی شاملدنه هغه پدې که هغه ۷۶۰۵ خارج تشکیل پرسونل چه هغه واحدونو ته ورپیرندل شوي چه د نورو سرچینو څخه تمویل کیږي او د افغانستان دد عامه حفاظت د ځواک ۷۶۱ تنه پرسونل شامل نه دي.

سرچینه: ISAF-IJC، او PERSTAT, 3/2011

## د افغان ملي پوليسو ځاي نوښتونه

د افغان محلي پوليسو(ALP) نوښت افغانستان د كورنيو چارو وزارت د ټولني د ديد پروګرام دي. د امريكا د دفاع وزارت په وينا، د ALP غړي د پوليسو د ولسوالی د محلي قومندان تر قومندې لاندې خپلې دندې پرمخ وړي، او د شوراګانو لخوا نومول كيږي، د افغانستان د ملي استخباراتو لخوا يې په اړه وړاندې پلټنې كيږي او د افغان ملي پوليسو، ملي اردو او د امريكا د ځانګړو ځواكونو د ګډو همكارانو لخوا روزل كيږي. دغه نوښت ځايی ټولنو ته دا توان وركوي چه په هغه سيمو كې چه د افغان ملي امنيتي ځواک او ايساف حضور كم وي د خپل ځان څخه ساتنه وكړي. تر دې درو مياشتو پورې، ټول ټال ۷۷ ولسوالی د ALP د نوښت څخه ګټه اخلي، چه د هغه پروګرام په ۳۴ سيمو كې په بشپړه توګه عملي دي. په اوسط ډول هر ولسوالی حق لري چه تر ۳۰۰ د ALP غړي ولري.[112]

د امريكا د دفاع وزارت د معلوماتو پر بنسټ، امريكايی ځانګړو ځواكونو يوه پلې ليوا د ALP د توسع او پراخوالي په برخه كې ليږدول شوي ده.[113] برسيره پردې يونما د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او ايساف ته د ټولنو د اړتيا پر اساس د پوليسو د نوښت، چه په هغه كې ALP هم شامل دي سلامشوري وركوي او پدې برخه كې مرسته كوي ترڅو قومندې او د كنترول د تنظيماتو په برخه كې وړاندې تر دې چه نوي د ALP واحدونه ځاي پرځاي شي كافي عامه پوهاوي موجود وي. د ملګرو ملتونو سرمنشي راپور وركړ چه د افغانستان د كورنيو چارو وزارت د ALP د نوښت د نوې مرحلې منظوري د ۲۰۱۱ كال د فبروري په مياشت كې وركړه، پدې كار سره د ۱۵۷۰۰ نويو د ALP د غړو د ګمارولو امكان رامنځ ته كيږي.[114]

## د افغان ملي پوليسو روزنه

د ۲۰۱۱ كال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې، د امريكا د متحده ايالاتو د ASFF د فنډ څخه د افغان ملي پوليسو د روزنې او عملياتو لپاره ۲،۶ ملیارډ ډالره تخصيص كړي، ۱،۹ ملیارډ ډالره منلي او ۱،۸ ملیارډ ډالره مصرف كړي دي.[115]

د CENTCOM د معلوماتو پر بنسټ پدې ربع كې، ۱۲۱۹۸ ملي پوليس د ۳۷ روزنيزو پروګرامونو څخه فارغ شول. د نوموړو شمير پروګرامونو څخه ۳۴ د ايتلاف د قواوو لخوا په لاره اچول شوي وو، او ۳ نور د( ډاين كورپ او LLC د Xe خدمتونو) لخوا پر لاره اچول شوي وو. د دغه پروګرامونو د ډلي څخه (۶) د جرمني، (۴) د ايټاليا، (۴)د اردن او (۳) د كاناډا لخوا پرلاره اچول شوي وو.[116]

## د افغان ملي پوليسو سواد

د CENTCOM د معلوماتو په اساس، د ۲۰۰۹ كال د اكتوبر څخه بيا د ۲۰۱۱ كال د فبروري تر مياشتي پورې، د امريكا متحده ايالاتو د افغان ملي پوليسو په ليک لوست باندې ۹،۸ ميليون ډالره مصرف كړي دي. پدې ربع كې CENTCOM د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونكي ته د افغان ملي پوليسو د لوست په اړه نوې ارقام نه دي وركړي، خو بيا هم؛ CENTCOM اټكل شوي تخمين وركړي ( " د افغان ملي اردو د سواد" برخه وګوري) او په ټوليزه توګه يې د افغان ملي امنيتي ځواک د سواد كچه (۲۸٪) ارزولې ده.

په تيرو درو مياشتو كې NTM-A/CSTC-A د افغان ملي پوليسو د سواد كچه ټيټه اټكل كړې وه. د بيلګې په توګه، د سيګار د ۲۰۱۰ كال د اكتوبر د مياشتې په راپور كې راغلي وو چه، د سمپلګيريو او نمونه اخيستلو په ترڅ كې معلومه شوې چه په افغان ملي پوليسو كې يوازې ۴،۵٪ باسواد شته دي. په تير درو مياشتو كې، NTM-A ويلي وو چه د ۲۰۱۰ كال د نومبر په مياشت كې د ۷۷۷۱ نويو افغان ملي پوليسو څخه د اخيستل شوو ازموينو په ترڅ كې معلومه شو چه يوازې ۲،۲۴٪ باسواده دي او د ANCOP د ۱۴۵۶ نويو ګمارل شوو څخه د ازموينې په ترڅ كې جوته شوه چه يوازې ۰،۲۷٪ (يوازې ۴ يې كامياب شوي وو) باسواده وو.[117]

NTM-A/CSTC-A د ۱۰۰۰۰۰ افغان ملي امنيتي ځواک لپاره د سواد لنډ مهالي پروګرامونه په نظر كې نيولې چه د اټكل له مخې به د نوموړي شمير څخه ۴۴۷۰۰ افغان ملي پوليس وي. دغه روزنيز پروګرامونه به د ۲۰۱۱ كال د جولای په مياشت كې په لاره واچول شي. NTM-A/CSTC-A د ۱۰۰۰۰۰ افغان ملي امنيتي

ځواک لپاره د سواد لنډ مهالي پروګرامونه په نظر کې نيولي چه د اټکل له مخي به د نومورې شمير څخه ۴۴۷۰۰ افغان ملي پوليس وي. دغه روزنيز پروګرامونه به د ۲۰۱۱ کال د جولای په مياشت کې په لاره واچول شي. دغې شيوې همدا ډول سيميزو قومندانانو ته دا فرصت ورکړي چه اړيتاوو سره سم د ښوني اوروزني لومړيتوبونه په ګوته کړي.[118]

د NTM-A د سواد ډله په منظم ډول د افغانستان د کورنيو چارو وزارت سره د سواد د پاليسيو او روزنيز پروګرامونو په اړه کتني هم همکاري کوي. د بيلګي په توګه، NTM-A د افغان ملي پوليسو د عملياتو او امنيت د رياستونو په چوکاټ کي د سواد مديريتونه جوړ کړي دي، چه د ۲۰۱۱ کال د اپريل تر ماشتي د لاس ليک کولو لپاره چمتو شوي وو، د CENTCOM معلوماتو پر بنسټ دغه پاليسي به د سواد د زده کړې او روزنيز پروګرامونه وخت وغزوي. برسيره پر دې ، د ټولو نوو ګمارل کيدونکو لپاره جبري لوستونه هم په پروګرام کي شامل کړل شوي دي. پدې کار سره د سواد لپاره په لاره اچول شوو صنفونو کي د افغان ملي پوليسو د ګډون کوونکو شاګردانو شميره د پام وړ ګچي ته اوچته شوي ده. د افغان ملي اردو په شان افغان ملي پوليسو ته په پشتو او ياهم په دري ژبه د لوست کولو درس ورکول کيږي او ټول صنفونه يا په پشتو او يا هم په دري ژبه باندي تدريس کيږي.

د CENTCOM په وينا د افغان ملي پوليسو په اساسي يا ابتدايي روزنيزو پروګرامونه کي د دغه لوستونو داخلولو نومورې پايلي ترلاسه کړي دي.[119]

- د ۱۹۵۲۵ څخه ۱۷۳۲۷ د لومړۍ ټولګی په امتحان کي بريالي شوي دي (حدوداً ٪۸۹)
- د ۱۱۸۴۳ تنو څخه ۱۰۶۵۸ تنه وتوانيدل چه د دويم ټولګی څخه بريالي کامياب شي( حدودا ٪۹۰)
- د ۷۲۵۶ تنو څخه ۶۲۷۵ تنه وتوانيدل چه د دريم ټولګی څخه بريالي کامياب شي (حدودا ٪۸۶)

د CENTCOM په وينا د نورو افغان ملي پوليسو برعکس، هدف دا دي چه ټول ANCOP بايد لږ تر لږه د دريم ټولګي په سطح ليک لوست وکړای شي. دې موخي ته د رسيدلو لپاره د ANCOP مشرانو د هغه روزنکو چه ابتدايي روزني په ترسره کولو کي يې رول درلود د کار او روزني موده اوږده او غزولي ده. د ۲۰۱۱ کال د اپريل د مياشتي د ۴ سره سم، CENTCOM ويلي چه پدې درو مياشتو کي د ۲۰۰۰ ANCOP NCOs پرسونل روزنه ترلاسه کړې ده.[120]

## په افغان ملي پوليسو کې د ښځو ونډه

د CENTCOM د وينا په بنسټ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱ مي سره سم ۱۰۹۴ ښځو په افغان ملي پوليسو کې دنده ترسره کوله. CENTCOM په دغه شمير پرسونل کې يوازې افسران، NCOs او په ليست کې شامل پرسونل- هغه کارکونکې چه پوليسي دندې ترسره کوي شاملې دي. پدې شمير کې لکه څرنګه چه د سيګار د ۲۰۱۰ کال د ديسمبر د مياشتي د ۳۱ نيټي د راپور کې هم رغلي وو هغه ملکي پر پدې درو مياشتو کې د هغه ښځينه کارکونکو چه نومونه يې په ليست کې شامل او يا هم د NCO پرسونل- د افغان ملي پوليسو تر ټولو لوی ګروپ- زيات شوي دي خو د ۲۰۱۰ کال د ديسمبر د ۳۱ په نسبت افسرانو په شمير کي کوالی راغلی دي:[121]

- ۱۶۴ افسران( د ۱۸۵ څخه دغه شميره ته را ټيټ شوي دي)
- ۵۱۱ NCOs( د ۴۳۰ څخه لوړ شوي دي)
- ۴۱۹ په ليست کي شامل يا عسکري خدمت ته رابلل شوي( ۳۶۲ په نسبت زيات شوي)

**تشکيل:** د کورنيو چارو وزارت او د دفاع وزارت لخوا کارول شوي د اړين تجهيزاتو او پرسونلو لستونه، کوم چي په دې حالت کي افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو ته د مسئولو کارکوونکو پوستونو او تجهيزاتي توکو تفصيلات ورکوي. دا کلمه په درى کي د "تشکيل" په معني ده.

سرچينه: GAO, GAO-08-661، " د افغانستان امنيت"، 6/2008، p. 18.

د CENTCOM د معلوماتو پر بنسټ، په کال ۲۰۰۹ کي د افغانستان کورنيو چارو وزارت داسي هدف ترلاس لاندي ونيو چه تر کال ۲۰۱۴ پوري بايد هر کال ۱۰۰۰ ښځينه پرسونل په دندو وګماري. د ۱۳۹۰ شمسي کال لپاره چه د ۲۰۱۱ ميلادي کال د مارچ د ۲۲ مي سره سمون لري د افغانستان د کورنيو چارو وزارت د ښځو لپاره ۲۸۶۵ پستونه منظور کړل: ۱۳۲۰ پيروان، ۸۳۶ NCOs او ۷۰۹ افسران (د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت تشکيل (د کارکونکو د صلاحيتونو اسناد) به د ۱۳۹۰ کال لپاره د جندر په اساس ځانګړي معيارات په ګوته کړي.[122]

## د سیګار پلټنې

د افغان ملي پولیسو او ملي اردو د زیربنایی شپږو پروژو په اړه پلټنې ترسره کړې دي، او د زیربناوو په اړه دوې نورو پلټنې هم رواني دي. د دغه روانو پلټنو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي ۱ برخې، ۱۴ پاڼې ته ستانه شي.

په ۲۰۱۰ کال کې لکه څرنګه چه سیګار په درې میاشتني راپور کې هم راغلي وو د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د ښځینه پولیسو د ګمارنې لپاره دافغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د ښځو د ګمارنې مدیریت پرا ینست. د CENTCOM د معلوماتو پر بنسټ، په دغه مدیریت کې د کورنیو چارو د وزارت په سطحه یو دفتر، د ساحوي مرکزونو لپاره ښځینه ګمارونکي او د هر ولایت لپاره دوه ښځینه ګمارونکی په دندو ګمارل شوي دي. د افغان ملي پولیسو د دغو هڅو د ملاتړ لپاره CSTC-A ګمارنې د مرستې ډله لري، چه په هغه ښځینه مشاورینې شاملې دي ترڅو د ښځو د مدیریت سره مرسته او همکاري وکړای شي. د ګمارنې په برخه کې د لا زیاتې مرستې او کمک په موخه په شمالي او مرکزي سیمه کې د ښځو مرستندویه دوې ډلې جوړې شوي دي. CENTCOM همدارنګه ویلي دي چه CSTC-A او IJC د پولیسو سلاکاران به په افغان ملي پولیسو کې د ښځو په اړه ویډیوګانې افغان دولتي معلوماتي او اطلاعتي مرکز ته په دې موخه ورکړي چه د نوموړو ویډیو ګانو څخه د نورو ښځینه پولیسو په ګمارنه کې ګټه واخلي.[123]

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې د امریکا هیواد د ASFF د مرستو څخه د افغان ملي پولیسو لپاره ۲،۷ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۲،۱ ملیارډ ډالره منلي، او ۱،۵ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[124]

$87.4 د NTM-A/CSTC-A د وینا پر اساس، پدې درو میاشو کې د افغان ملي پولیسو اړوند ۲۴ نوې پروژې چه(۸۷،۴ میلیون ډالره ارزښت لري) پیل، ۱۵۲ پروژې چه ( ۶۳۷،۳ میلیون ډالره ارزښت لري) رواني او ۲۷ پروژې ( چه ۷۶،۳ میلیون ډالره ارزښت لري) بشپړې شوي وې. په دغه پروژو کې د ولسوالي او کمپنې مرکزونه، او قومنداني، لوژیستکي او روزنیز مرکزونه شامل دي.[125]

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نیټې پورې د امریکا متحده ایالاتو د ASFF د فنډ څخه د افغان ملي پولیسو د تجهیز او ترانسپورت لپاره ۳،۷ ملیارډ ډالره تخصیص، ۳،۱ ملیارډ ډالره منلي او ۲،۹ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[126]

د ۲۰۱۱ کال د جنوري د ۱ نیټې څخه بیا د مارچ تر ۳۱نیټې د CENTCOM د معلوماتو پر اساس، پورې افغان ملي پولیسو ۷۲۴۰ وسلې( د ۵،۳ میلیون ډالرو په ارزښت)، ۲۹۳۸ مخابراتي پارچې( د ۱،۵ میلیون ډالرو په ارزښت) کارولې دي. دغه توکي د نړیوال سوډو- بهرني نظامي امنیت دخریداري او په محلي کچه د کابل د قراردادیانو د سیمیز مرکز له لاره پیرودل او اخیستل شوي دي.[127]

47 ټوپک د افغان یونیفورم پلیسو او افغان سرحدي پولیسو لپاره ابتدایی وسله ده چه نوموړي دوې قوې د افغان ملي پولیسو ٪۶۹ کې جوړوي.[128] د CENTCOM د معلوماتو پر اساس د AK-47 د ټوپک ، د فیس او ترانسپورټ ټول لګښت ۱۲۵۰ ډالرو ته رسیږي.[129] د وسلوالیو او سیمیز کچه راکټ لانچر (RPG) څخه ګټه اخیستل هم جواز ورکړل شوي دي. دا پداسې حال کې ده چه د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر ته معلومه شوه چه په هغه سیمو کې د راکټ لانچرو کمی دی. برسیره پر دې، د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د افغان ملي پولیسو د غړو سره د خبراترو په ترڅ کې معلومه شو چه هغه ګروپونه د مخالیفنو سره مبارزه کوي چه د لوړ کیفیت لرونکی AK-47 ټوپکو، راکټ لانچرو او همدارنګه په درنو مشین ګنو، هاوانونو او نور وسلو سمبال دي.[130]

## د کورنیو چارو وزارت څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د CENTCOM دمعلوماتو په اساس، د امریکا د متحده ایلاتو او ایتلاف متخصیصن د ملي دفاع د وزارت او دکورنیو چارو د وزارت سره د پولیسو د پرمختیا په هدف په ډیرو برخو کې مرسته او همکاري کوي: پرسونل، استخبارات، لوژیستک، ارتباطات، د پوځ تنظیم او اداره، مالي، صحي، انجنیري، مالي، د توکو د لاس ته راوړنې

په برخه کې، عامه چارو، ستراتيژي او پالیسو په برخو کې ترسره کوي.[131] د CENTCOM معلوماتو پر بنسټ د ۲۰۱۰ کال د ډيسمبر په مياشت کې د امريکا د پوځي تحقيقاتو، پرمختيا اود انجنيري اداری DynCorp ته یو قرارداد ورکړ تر څو د ۲۴ مياشتو لپاره ياد شوي خدمتونه وړاندي کړي. MPRI چه اصلي قرارداد ورسره دي به د ۲۰۱۱ کال د اپريل تر ۳۰ مي نيټي پورې د انتقالي مرحلي تر حده پاتي او چارې پر مخ يوسي.

د کورنيو چارو وزارت د سلاکارانو او روزنې پروګرام يو د هغه څلورو پروګرامونو څخه دي چه د ABP د روزنې، د افغان سلامشورو عامه خدمتونو، او د پوليسو د څارنې د داخلولو لپاره د ۷۱۸ ميليون ډالرو په ارزښت په يوه لوي او ستر قرارداد بدل شوي دي.[132] د کورنيو چارو وزارت پروګرام په ۲۰۱۱ مالي کال کې ۴۶ ميليون ډالره او د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره ۴۶ ميليون ډالره لري. د CENTCOM په وينا پدې درو مياشتو په ترڅ کې د قرارداد شوو پيسو شيمره ۸،۸ ميليون ډالرو ته رسيږي.

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱ مي نيټي سره سم، د کورنيو چارو د وزارت لپاره ۲۸۲ تنه سلاکاران او مشاورين ګمارل شوي دي. د ياد شوي شميرې څخه د MoDA د سلاکارانو په ګډون ۱۱۹ تنه د امريکايي حکومتي پرسونل، ۴۳ تنه يی د نړيوال يا هم د ايتلاف حکومتي پرسونل او ۱۲۰ تنه يی د DynCorp او يا هم د MPRI قراردادیان دي.[133]

## د متحده ایالاتو ځواکونه

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱ نيټي سره سم، په افغانستان- کې د امريکايی ځواکونو(USFOR-A) د معلوماتو پر بنسټ په افغانستان کې ۱۰۹۳۹۱ تنه دنده ترسره کوي دغه شميره د هغه څه په نسبت چه په تيره ربع کې ښودل شوي وه د ۷۵۱۹ تنو زياتوالي ښکاره کوي. دا ځواکونه په لاندي ډول ګمارل شوي دي:[134]

- 83,425 تنه په نړيوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) کې
- 3,215 تنه د ناټو د روزنو ماموريت –افغانستان(NTM-A)/ د امنيت د انتقال ګډ کومنده – افغانستان(CSTC-A) کې
- 12,244 تنه د متحده ایالاتو ځواک – افغانستان (USFOR-A) کې
- 10,507 تنه نورو(نامشخصو) دندو کې

## د ناچاودېدلو موادو ليرې کول

د ۲۰۰۲ ميلادي کال راپديخوا د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د عامه چاوديدونکو توکو د منځه وړلو او د ماينونو پاکولو په بشري برخه کې ۱۷۲،۵ ميليون ډالره مرسته کړي ده.[135] د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د عامه چاوديدونکو توکو د منځه وړلو پروګرام په مستقيم ډول پنځو افغان غير دولتي سازمانو ته، پنځو نړيوالو غير دولتي سازمانو ته او يوې امريکايی کمپني يعني (ډاين کورپ انټرنيشنل) ته د لاندي ذکر شوو اهدافو لپاره په مستقيم ډول مرستي او مساعدت ورکوي:

3.5 جدول

**د متر په حساب د عامه وسلو د منځه وړلو پروګرام، د ۲۰۱۰ کال د جنوري د ۱ څخه بيا د ډيسمبر تر ۳۱ نيټي پورې**

| د نيټي رينج يا لړی | د منځه وړل شوي AT/ AP | د منځه وړل شوي UXO | د منځه وړل شوي SAA | پاکې کړل شوي پارچې | د ماينونو څخه پاکې کړل شوي سيمې(متر مربع) | د ماينونو څخه اتکل شوي ناپاکه سيمه (متر مربع) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 3/31/2010–1/1 | 2,455 | 1,943 | 129,557 | 603,957 | 6,475,318 | 664,235,000 |
| 6/30/2010–4/1 | 2,853 | 249,946 | 217,901 | 968,887 | 4,464,926 | 659,770,000 |
| 9/30/2010–7/1 | 3,922 | 270,793 | 1,196,158 | 1,710,708 | 9,108,108 | 650,662,000 |
| 12/31/2010–10/1 | 2,219 | 100,866 | 1,204,036 | 3,549,023 | 5,704,116 | 641,000,000 |
| **ټول** | **11,449** | **623,548** | **2,747,652** | **6,832,575** | **25,752,468** | **641,000,000** |

يادوني: AT/AP = د ټانک –ضد / د پرسونل –ضد مهمات. UXO = نا چاودونکي مهمات. SAA = د ورو وسلو مهمات.

سرچينه: د متحده ایالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د بهرنيو چارو وزارت د سياسي ـ نظامي چارو ديوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، د افغانستان د بيارغوني څانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه ډيټا کال ته ځواب، ۲۰۱۱/۲۸/۳.

- د چاودیدونکو توکو د منځه وړلو د عملیاتو پرمخ وړل
- د منع کړل شوو او د خطر ځخه ډکو وسلو د منځه وړل
- د کوربه هیواد د تخنیکي او اداري ظرفیتونو لوړول

د بهرنیو چارو د سلاحو د منع او د منځه وړولو د سیاسي-نظامي چارو د دفتر (PM-WRA) پر بنسټ چه نوموړي پروګرام پرمخ وړي، په دغه مرستو کې د افغان ملي امنیتي ځواک د ناکاره، د خطر ځخه ډک او اضافي وسلو او توکو د منځه وړل هم شامل دي[136] PM-WRA همدارنګه ویلي دي چه د بهرنیو چارو وزارت د مرستو ځخه د پروژې د تطبیق کونکو لخوا د ۲۰۱۰ کال جنوري د لومړی نیټي ځخه بیا د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر تر ۳۱ مه نیټي پورې ۲۵،۷ میلیون متر مربع ځمکه د ماینونو د وجود ځخه پاکه شوې ده. نوموړي معلومات په کې هم بیان شوي دي ۳.۵ شمیره جدول. دغه فیصدي د ۱۹۹۷ کال راپدیخوا د ماینونو ځخه د پاکې شوې ۲۰۵،۵ میلیون مترمربع ځمکې ٪۱۲ جوړوي.[137]

## دمخدره موادو پر ضد مبارزه

د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې په برخه کې ۴،۵ ملیارډ ډالره مرسته کړې ده. د دې مرستو ډیری برخه (نږدې ۲،۹ ملیارډ ډالره) د امریکا د بهرنیو چارو دو زارت د نړیوالو مخدره توکو د کنترول او د قانون د حاکمیت(INCLE) او (تر ۱،۵ ملیارډ ډالرو ډیرې) د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د منځه وړلو او د مخدره توکو پروړاندي د مبارزې د مرستو ځخه تمویل شوي دي.[138] د DoD CN مرستي د مختلو موخو لپاره کارول کیږي؛ د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مي سره سم د یادو شوو مرستو ډیری برخه د لاندي اهدافو او فعالیتونو لپاره کارول شوي دي:

- د امریکا د براعظم ځخه بهر د هوایی خوزښت (۳۷۳،۳ میلیون ډالر): په افغانستان کې مخدره د پروګرام تجهیز، زیربنا، عملیاتو، پاینښت او د روزنې د ملاتړ په موخه ترسره شوې دي
- استخبارات او معلوماتي تیکنالوژي(۳۳۲،۵ میلیون ډالر): د امریکا/ برتانیا د اجنسیانو تر منځ د ګډو عملیاتو د همغږي د مرکز، د اجنسیانو تر منځ د ګډ قوې (CJITF) د شفافیت او د CJITF شبکه او د قضایي لین د مداخلي د پروګرام تجهیز، تحلیل، عملیاتي او د پاینښت د برخې سره ملاتړ
- د ABP لپاره د مخدره توکو د منځه وړولو په برخه کې مرسته( ۱۸۰،۸ میلیون ډالره): د جنګي تدابیرو اړونده روزنه، او د ABP او د ګمرکي پولیسو لپاره د سلاکارانو او مشاورینو په برخه کې مرسته
- د افغانستان د مخدره توکو پروړاندي د مبارزې د پولیسو روزنه(۱۰۶،۵) (CNPA) میلیون ډالره): د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې د پولیسو او د هغه د ځانګړو واحدونو لپاره د سلاکارانو، مشاورینو او د تجهیز، زیربنا، عملیاتو او د پروګرام د پاینښت په برخه کې مرسته او همکاري
- د امریکا د براعظم د ننه هوایی خوزښت (۱۰۳،۴ میلیون ډالره): د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت د هوایی پرسونل او د هوایی مخنیوي واحد لپاره د امریکا دولت د انګلیسي ژبې او د پرواز د روزنې د پروګرام سره د توکو، زیربنا، عملیاتو او د پاینښت په برخه کې مرسته او همکاري کوي
- د نورو پروګرامونو ملاتړ(۱۰۱،۷ میلیون ډالر): د افغانستان د مخدره توکو د مخنیوی او مبارزې د مختلفو پروګرامونو سره د توکو، تحلیګرانو، ترانسپورټ او د عملیاتو او د پروګرام د پاینښت په برخه کې مرسته او همکاري وړاندي کوي.

## د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې اړوند فعالیتونه

پدې درو میاشتو کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د مخدره توکو د نیولو په اړه یو زیات شمیره عملیات ترسره کړل چه د مخدره توکو د ضبط او قاچاق وړونکو د نیولو سبب شول، او د امریکا د دفاع د وزارت په وینا د امریکا د مخدره توکو په اړه د تطبیق اداري (DEA) او افغان همکارانو یی یو زیات شمیر تحقیقات او ځیړنې تر سره کړلې. برسیره پردې، د امریکا د متحده ایالاتو پوځ او د قانون پلي کوونکو ادارو د مخدره توکو پر وړاندی د مبارزې افغان ځواک د ظرفیت د لوړولو په برخه باندي تمرکز کړې دي. د افغانستان جمهوري



د ۲۰۱۱ کال د فبروري د مياشتې په ۱۰مه د نيمروز په ولايت کې د افغان او نړيوالو امنيتي ځواکونو لخوا په ترسره شوو ګډو عملياتو کې د مخدره توکو پټنځای په ګوته او دوه ياغيان يې ووژل. د ۲۰۱۱ کال د جنوري د ۱ څخه بيا د مارچ تر ۱۶ پورې افغان ملي امنيتي ځواک او ايساف په ګډه د مخدره توکو پر وړاندې ۷۶ عمليات ترسره کړي دي. (د امريکا د دفاع وزارت انځور)

دولت د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو پر وړاندې د دفتر (UNODC) او د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو او د قانون د حاکميت نړيوالې ادارې(INL) سره په هغه ولايتونو کې چه د کوکنارو څخه پاکې بلل شوي دي په هغه ولايتونو کې پروګرامونو د تطبيق او پلي کړي.[139]

د ۲۰۱۱ کال د جنوري پر ۳۱مه نېټه د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د UNODC سره په ګډه د ۲۰۱۰ کال په ژمي کې د کوکنارو په اړه د ترسره شوې سروې پايلې اعلان کړې. د جنوب، لويديځ او ختيځ په کوکنارو توليدونکو ولايتونو کې کوکنار د ژمي په فصل کې په نمو او شنه کيدلو پيل کوي. UNODC په وينا، نوموړې سروې ښکاره کوي چه په ۲۰۱۱ کال کې د کوکنارو د لوړې بيې برسيره د کوکنارو په کرلو کې په لږ کموالای رامنځ ته شي. د هيواد په جنوب کې اوچ کالی ته په کتو اټکل کيږي چه په راتونکي کال کې به هم د کوکنارو په حاصل کې کموالی راشي. برسيره پر دې، UNODC ته همداډول په ډاګه شوه چه د کروندګرو د " د ښه راتلونکي په لور د محتاطانه ليدلورې" ته په کتو ګمان کيږي چه سږ کال به د تير کال په پرتله د کوکنارو حاصل کم وي.[140]

## د امريکا د متحده ايالاتو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه ارزونې

د INL په وينا د مخدره توکو تجارت د افغانستان د سياسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او امنيتي ننګونه د منځه وړولو په برخه کې د افغانستان لپاره لوی تهديد دي. همدا ډول نوموړي توکی په افغانستان کې د تاوتريخوالي د منځه وړولو هڅې هم د خنډ سره مخامخ کوي. د INL په وينا د مخدره توکو د تجارت د مخ نيوي لپاره د“ د ټول حکومت په سطح“ هم تاوتريخوالي د منځه وړلو، د مخدره توکو د منځه وړلو، پرمختيا او د حکومتداری په برخه کې ګډو هڅو ته اړتيا لري. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د امريکا د ستراتيږی يوه مهمه برخه د کوکنارو د يو بديل ګټنت پيدا کول دي.[141]

کرهنې اوس هم د افغانستان د وګړو لپاره د ژوند يوه مهمه سرچينه ده، او INL همدا ډول زياته کړه چه کوکنار اوس هم خصوصآ په ليرو کلو او بانډو کې د خلکو د معيشت د تامين لپاره يوه مهمه وسيله ده.[142] د USAID د کرهنې د څانګې په وينا طالبان اوس هم کروندګر د کوکنارو کرکيلې ته څکه هڅوي چه د هغوي

د مخالفت فعاليتونو تامين کړل شي. برسيره پردې د کوکنارو بيه د نورو کښتونو په نسبت لوړه ده؛ د بيلګې په توګه، په هلمند ولايت کې د يوه جريب څخه د ترلاسه شوو کوکنارو بيه د يوه جريب غنمو په نسبت شپږ ځلې لوړه ده.[143]

د USAID د کرهنې برخې ته همدا ډول معلومه شوه چه د کوکنارو د بديل لپاره د امنيت او ثبات په تامين او د طالبانو د نفوذ د کميدو سره زيات شي. برسيره پر دې چه د کوکنارو د خطر په اړه پوهاوی لوړ کړل شي او د تجارت د کړيو مخه يې ونيول شي، کروندګر بايد د هغوی لپاره د يو بديل داسې کښت په اړه هم انګيزه موجوده وي چه هغوي ډاډه شي چه کولای شي د خپل کورني توليداتو څخه د کور ضرورتونه پوره کولای شي. همدا ډول بايد د کرونګرو د توليداتو غوښتنه لوړه او اوچته وي ځکه په دې هيواد کې کرل شوي غنم داني په لاس راتولول کيږي.[144]

## د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه د امريکا د متحده ايالاتو هڅې

ناقانونه مخدره توکي په افغانستان کې د مخالفينو لپاره يوه مهمه جنګي او د تمويل غوره سرچينه جوړوي. د INL د وينا په افغانستان کې د امريکا هغه هڅې چه د مخدره توکو د منځه وړلو په برخه کې ترسره کيږي يوازې د مخدره توکو د تجارت او کاراوبار مخه نيول نه بلکه د نوموړي توکي ته د افغانستان د مخاليفنو د لاس رسي د مخ نيوي په اړه باندې هم متمرکزې دي. د INL همدا ډول زياته کړه چه د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د امريکايي ستراتيژي د بياکتنې وروسته وړانديز شوي دې چه امريکا اداري بايد د افغانستان د ګاونډيو هيوادونو سره د مخدره توکو د قاچاق د مخ نيوي اود هغوي د خوندي ځايونو د منځه وړلو په اړه ګډه کار وکړي. د دغه هڅو يوه برخه د امريکا او روسيې د ولسمشرانو دوه اړخيز کميسيون او د په نړيواله او هر اړخيز ډول د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د سميزو همکارانو سره ګډ کار دي.[145]

INL د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت(MCN) د هغه هڅو ملاتړ کوي چه غواړي د کښت د راټولو په وخت کې د مخدره توکي د منځه يوسي. د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت يا MCN د عامه پوهاوي د پروګرام له لارې افغان مسولينو او وګړو ته د مخدره توکو د خطراتو، کښت او تجارت په اړه په مستقيم ډول، راډيو، تلويزيون او د چاپي رسنيو له لارې کار کوي. که څه هم نوموړی هڅې يو کال په ترڅ کې ترسره کيږي، خو ډيری تمرکز او تاکيد يې د کوکنارو د کښت د راټولو (د جولای څخه تر سپتمبر) مياشتې پورې وي.[146]

د امريکا د دفاع وزارت د معلوماتو په اساس د کرهنې په برخه کې پرمختيايي پروګرامونه، د امنيت ښوالی هغه کروندګرو ته چه د نفوس له نظر مرکزې سيمو ته نږدې اوسيږي دا زمينه برابره کړې ده چه د کوکنارو د کرکيلې څخه لاس واخلي. د دغه پروګرامونو چه کروندګرو ته د بديل کښت او اشتغال زمينه برابروي برياليتوب پدې پورې تړلی دې چه امنيت څومره ښه شوي چه په خپل وار سره د قانون حاکميت ته زمينه برابروي. د امريکا د دفاع وزارت ته معلومه شوې چه د هغه سميو په شمير کې په پرلپسې ډول کمی راغې چه کوکنار په کې کرل کيږي.[147]

### د عملياتو مخ نيوی

د امريکا د دفاع وزارت په وينا پدې درو مياشتو کې د مخدره توکو پر وړاندې ډيري فعاليتونو په جنوب او جنوب لويديځ کې چيري چه تر بل هرځای ډير مخدره توکي توليديږي، پروسس کيږي او د افغانستان څخه بهر قاچاق کيږي. په ختيځ او شمال کې بيا افغان ملي امنيتي ځواک د تير کال په نسبت د مخدره توکو پر وړاندې لږ عمليات ترسره کړي دي.[148]

همدا ډول د امريکا د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د معلوماتو پر بنسټ د ۲۰۱۱ کال د جنوري د لومړي نيټې څخه بيا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۱۶ پورې افغان ملي امنيتی ځواک د ايساف په همکاري د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ۷۶ عمليات ترسره کړي دي. دغه عمليات سبب شول چه ۷۶ تنه توقيف او په لاندې شمير بيلابيل مخدره توکي ونيول شي:[149]

- 41,945 kg چرس
- 11,854 kg ترياک
- 4,636 kg مورفين
- 2,347 kg هيروئين
- 851 kg هغه مخدره توکي چه د کيمياوي مواده سره اړه لري

د امريکا د دفاع وزارت د معلوماتو پر اساس، امريکايي ځواکونو په دوامداره توګه د ترانسپورټ، استخباراتي، هوايي خدمتونه او د بيړني عکس العمل په برخه کي مرسته کړېده، او د امريکا د مخدره توکو پروړاندي د مبارزې د تطبيق اداري (DEA) د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې افغان واحدونو سره د سلاکارانو په برخه کي مرسته کړي ده. برسيره پردې، د امريکا د استخباراتي کړيو تحليلي او په نښته کولو په برخه کي په ستراتيژيک، عملياتي او د جنګي تدابير په کچه مرسته او همکاري کړي دي.[150]

INL په ډاګه کړي چه هغوي د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندي د پوليسو (CNPA) د تحقيقاتي څانګه، د مخ نيوي څانګه او حساسو تحقيقاتي څانګي سره د مرستي له لارې د نوموړي پوليسو د هڅو څخه ملاتړ کوي. په دې نږدې وخت کي لاس ته راوړني په لاندي ډول دي:[151]

- د افغانستان د مخدره توکو د مخ نيوي واحد مسولين اوس د دې جوګه شوي دي چه په خپله عمليات په لاره واچوي، د ګرفتاري د امر د غوښتلو او د هغه د تطبيق او عملي کولو جوګه شوي دي. د محکمي لخوا د څارني د عملياتو د احکامو په مرسته د تخنيکي تحقيقاتو واحد په دي توانيدلی دي چه د په لويه کچه د مخدره توکو د قاچاق او اړوند د فساد او اختلاس قضيي په ګوته او هغه د جرايمو پر ضد عدلي قوې ته وسپاري.
- د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کي CNPA د DEA په مرسته تر ۱۰۰ ډېر عمليات ترسره کړي دي چه په پايله کي يې تر ۱۱ ټنو زيات هيروئين نيولي دي- چه د ۲۰۰۹ کال په نسبت ۷۰۰٪ زياتوالی ښکاره کوي.
- د ۲۰۱۱ کال د فبروري په مياشت که د هغه عملياتو په ترڅ کي چه د DEA او CNPA لخوا په داسي حال کي ترسره شول چه د INL هليوکوپټرونو لخوا يې ملاتړ کيدلو وتوانيدل چه د ننګرهار په اچين ولسوالی کي تر ۴ ټنو زياد مورفين ضبط کړي.
- په ۲۰۱۰ کال کي د مخدره توکو د مخ نيوي عمليات چه د برتانيا، د ايساف د نورو همکارانو، CNPA او DEA لخوا پر لاره اچول شوي وو وتوانيدل چه ۵۵۰۰۰ کيلو ګرامه ترياک؛ ۷۴۴۶۸ کيلوګرامه چرس؛ ۳۴۳۵۴ هغه کيمياوي توکي چه د مخدره توکو په توليد کي کارول کيږي؛ او ۲۳۱۹ کيلو ګرامه مورفين نيولي او ضبط کړي دي.

# دولتداري

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ پورې د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان سره د غوره او ښه دولتدارۍ په برخه کې ډالرد ۱۶،۱۶ ملیارډ و په ارزښت مرسته کړې ده، لکه څرنګه چې د (ب) په ضمیمه کې ښودل شوي دي د افغان حکومت لخوا د غوره دولتدارۍ ترسره کول د امریکا د هڅو لپاره خورا لوی ارزښت لري.پدې درو میاشتو کې، د امریکا متحده ایالاتو د ظرفیت، فساد، د قانون د حاکمیت او د اغزمني اداري پر وړاندې د مبارزې د پروګرامونه سره خپلو مرسته ته دوام ورکړي او د نوموړو پروګرامونو څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړي. د امنیت ښوالي د غوره او اغزمني دولتدارۍ په برخه کې په ځیني محلي سیمو کې د پرمختیا امکانات برابر کړي، خو دا لاس ته راوړني ډیرې حساسي او د منځ تلو خطر یې موجود دي. د اړو ښځو څخه د خوندیتوب په برخه کې د پالیسی د بحث په کچه هم ځیني لاس ته راوړني ترسترګو کیږي.

## پدې درو میاشتو کې مهمې پیښې

د دې درو میاشتو په ترڅ کې د ټاکنو څخه د یو لړ ځنډ وروسته ولسي جرګې خپل کار پیل کړ، خو د هغه ترمنځ او اجراایوي څانګې تر منځ لا هم مخالفت موجود دي. د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره یا یونما ماموریت په افغانستان کې پداسي حال کې اوږد کړل شو، د داسي پالیسو په جوړولو تاکید وشو چه په هغه کي دافغانستان کنترول د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا ترسره شي. برسیره پردې ملکي ژوند د بیرته راګرځیدو او ملي پخلاینې په اړتیا بیا هم تاکید وشو، خو لا هم د خبرو اترو په برخه کې کوم ځانګړې پرمختیا نه ده رامنځ ته شوې.

## د ولسي جرګې د کار پیل

د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د ټاکنو په اړه لا هم ګرم داخلي جر او بحث د دې درو میاشتو په ترڅ کې دوام درلود. افغان ولسمشر وروسته تر هغه چه د نویو ټاکل شوو وکیلانو او معترضو کاندیدانو سره چه د نوموړو ټاکنو په اړه یې اعتراض کړي وو تر یوې هوکړې او موافقې وروسته د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۲۶ نوې ولسي جرګه پرانیستله. خو د ولسي جرګې پرانیستل د ولسمشر حامد کرزي او د لوی څارنوالي لخوا رامنځ ته شوي ځانګړې د ټاکنو د شکایتونو په اړه د خپلو تحقیقاتو د ترسره کولو څخه منع نکړه او خپل کار ته یې دوام ورکړ. د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د یونما د لوی څارنوالي لخوا د ټاکنو په اړه د فعالیتونو او د ټاکنو د ادارو د خپلواکۍ په اړه خپل تشویش اعلان کړ.[152] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت باور پیدا کړ چه د هر ډول نامناسب فشار کولای شي د ټاکنو اعتبار ته ضرر ورسوي.[153]

د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۱۴ د پولیسو افسرانو او د لوی څارنوالي محققین د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر ته ورننوتل او د رای ورکولو صندوقونه او د نوموړي کمیسیون د معلوماتو مرکز یې مهر لاک کړل، دا معلومات د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ۲۰۱۰ کال دمارچ د درې میاشتني راپور په اساس وړاندي شول.[154]

د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۲۰ لوی څارنوالي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارلانشآ رییس او د نوموړي

کميسيون يو تن کميشنر د ځانګړي محکمې سره د "ناقصې همکارۍ" په تور د هغوي دندې تعليق کړلې، دا پداسي حال کې ده چه د ټاکنو خپلواک کميسيون دغه تورنه رد او استدلال کوي چه لوی څارنوالي د نوموړي کميسيون د مسولينو د دندو د تعليق صلاحيت نلري. ولسي جرګې په خپل وار سره د ځانګړې محکمې فعاليت غير قانونی بللی دي او د هر ډول بيا شمارنې پايلو د منلو څخه يی انکار کړي دی. د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د ولسي جرګې غړي د ځانګړې محکمې د راتلونکي فعاليتونو او اقداماتو په اړه اوس هم تشويش لري.[155]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې پورې ځانګړې محکمې په ۲۳ ولايتونو کې د رای بيا شميرنه ترسره او يو شمير وکيلان يی په ټاکنو کې د درغلی په تور تورن کړل د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا يو شمير اعضا باور لري چه ولسمشر کرزی به نوموړي انتخابات لغوه کړي، او يو شمير نور بيا باور لري چه دولت به دغه محکمې په شمير مهمو مسلو کې د وسيله په توګه وکاروي.[156]

د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا، که څه هم په نوې ولسي جرګه کې يو شمير قوی مخالف استازي شتون لري خو د افغانستان د حکومت د جوړښت په توان باندي به ځانګړې اغيزه ونلري. د ولسي جرګې غړو د جنوري او فبروري مياشت د نوموړې جرګې د رييس د ټاکلو پرسر تيره کړه، د بيلګې په توګه، يو شمير نوماندو د دواړو خواوو څخه د ايتلاف په جوړولو کې ستونزې درلودلې.[157]

## د ټاکنو اداره

د ټاکنو د خپلواک کميسيون سره د عملياتو، وسايلو او د روزنې په برخه کې مرستې د USAID لخوا تمويل کيږي. USAID د هغه پروګرامونه تمويل ته ادامه ورکوي چه د افغان دولت لخوا د ټاکنو د ظرفيت په برخه کې ترلاسه شوي پرمختګونه ادامه ومومي او لا زياتي لاس ته راوړنې ولري. همدا ډول دغه ملاتړ به ټاکنو خپلواک کميسيون ته دا فرصت او موقع هم برابره کړي چه د ټاکنو وروسته يو عملياتی پلان طرحه کړي چه رای ورکونکو د نوم ليکنې او د ستونزو د پيژندلو او د محدوديتونو د منځه وړلو باندی به متمرکزي وي. د ولسواليو ټاکنې تر هغه پورې نشي ترسره کيدلای ترڅو د افغانستان دولت د ولسواليو په کچه موجودې ستونزې په ګوته نکړی. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ته همدا ډول معلومه شوه چه نوموړي مرستې به د کابل د کنفرانس د تعهداتو سره سم د ټاکنو د ريفورم د کميسيون د رامنځ ته کيدلو سره مرسته وکړي. د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا په ټاکنو پورې تړلې جار او جنجال د دې ښکارندوی کوي چه افغان دولت بايد د ټاکنو د پراخ ريفورم په اړه پام او پريکړه وکړي.[158]

د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۳۱ مه نيټه د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د خپل قانوني ماموريت دوره چه د افغانستان د پارلماني ټاکنو څخه د ملاتړ په اړه وه بشپړه او خپل فعاليتونه يی پای ته ورسول. د يونما په وينا د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د ټاکنو د سرغړونو او د نوماندو کانديدانو په اړه د ټولو تخلفاتو د اسنادو ارشيف د ټاکنو خپلواک کميسيون ته تسليم او ور وسپارل.[159]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا، د ملګرو ملتونو پرمختيايی اداره (UNDP) پلان لري چه د انتخاباتي بنسټونو، د ادارو د تجربرو څخه د ګټې اخيستلو، د ثبات او پايښت په اړه د پلان جوړولو او د افغانستان د دولت په چوکاټ کې د ټاکنو د ادارو د خپلواکي او استقلاليت د زياتولو له لارې د ټاکنو په برخه کې دافغان دولت ظرفيت لوړ او په دې برخه کې خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. د دې ملاتړ اصلي هدف او موخه د داسي انتخاباتي ادارو او بنسټونو رامنځ ته کول دي چه وکولای شي د تخنيکي او عملياتي اړخه د ټاکنو د پرمخ وړلو توان او ظرفيت ولري او په نړيوالو مرستو باندي يی اتکا کمه شي.[160] د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د ۲۰۱۱ کال د جنوري په وروستيو کې ټاکنو څخه د ترلاسه شوو تجربو او زده کړو په اړه بياکتنه پيل کړه، نوموړې بياکتنه اوس د ټاکنو د پايلو په اړه د ناندريو له کبله ځنډول شوې ده.[161]

## د یونما د فعالیت غزول

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۲مه، د ملګرو ملتونو د امنیت شوا په یو غږ په افغانستان کې د یونما فعالیت د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۳ مې نېټې پورې وغزاوه. یونما چه د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا په افغانستان کې حضور لري، ۳۰ اداري لري چه د افغان دولت سره د ۳۴ ولایتونو په کچه د غوره دولتداری، پراختیا او امنیت په برخه کې ملاتړ او مرسته ترسره کوي.[162]

د نوموړي ماموریت د غزېدو سره سم، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کلک هوډ او هیله لري چه د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې د دولتداری، پراختیا او امنیت په برخو کې"بشپړ" مسولیت پر غاړه واخلي.[163] د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د لاندي وړاندیزونو په ګډون یو شمیر وړاندیزونه شریک کړل چه په هغه د یونما لخوا د افغان دولت په مشری د چارو او رهبری د انتقال د څرنګوالي په اړه تاکید شوي دي:[164]

- د دې لپاره چه د ټاکنو پروسه پایداره او اغیزمنه شي باید افغانان یې خپل کړي. د افغانستان دولت د یونما د هغه هڅو څخه خوښي وښودله چه غواړي د ټاکنو په برخه کې ظرفیت لوړ او د پدې اړه تخنیکي مرستي وکړ خو دا یې په ډاګه کړه چه د افغانانو په مشري په دیموکراتیکه پروسه کې دغه کړني تل پاتي او ثابت نلري.
- ډیر تاکید باید د افغانستان د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو سره سم او د افغانستان د ملي بودجي له لاری پر مخ بوړل شي.
- افغان دولت باید ملکي ژوند ته بیرته راستندلو او بیا پخلاینې پروسه پرمخ بوسي؛ خو ممکن د یونما څخه د دپلوماتیک او عملیاتي مرستي غوښتنه وکړي.
- د یونما او ایساف تر منځ د همغږي د ستراتیژي بیاکتنه باید افغان دولت ته د مسولیت د سپارلو د ثبات په هڅو باندي متمرکزه وي.
- د همغږي او د څار د ګډ هیئت د ګډې مشري له لارې، یونما باید د افغانانو په مشري د پرمختیایی ستراتیژي او د نړیوالو مرستو ترمنځ توافق او انسجام لا نور تقویه کړي.
- په افغانستان کې د یونما د ماموریت او د ملګرو ملتونو د رول په اړه یو جامع بیاکتنه باید د بن د کانفراس د پیل وړاندي چه د ۲۰۱۱ کال په اخر کې دایریږي باید ترسره شي.
- د افغانستان سره د ملګرو ملتونو د عملیاتو، پرورګرامونو او مرستو په برخه کې لا زیاتي همغږي ته اړتیا لیدل کیږي.

په افغانستان کې د یونما د ماموریت د غزېدو سره سم نوموړي اداري د لندن او د کابل د کانفراس د تعهداتو په رڼا کې د افغانستان د دولت سره د مرستي وعده او هوکړه وکړه، په ځانګړي ډول د دولنداری، پراختیایی مرستو او ملکي او نظامي عملیاتو په برخه کې د نړیوالو مرستو ترمنځ د لا زیاتي همغږي په رامنځ ته کولو باندي تمرکز او تاکید وکړي. یونما همدا ډول د افغانستان د دولت سره د مستقیم مرستو د ترسره کیدو په برخه کې هم د مرستي وعده وکړه، او همدا ډول د نوموړو مرستو څخه د ګټي اخیستلو په برخه کې د لا زیات شفافیت او موثریت په برخه کې د مرستي او همکاري هوډ او وعده وکړه. کله چه د افغانستان دولت غوښتنه وکړه، یونما یو ځلي بیا د دې خبرې تصدیق وکړ چه دغه اداره به د ټاکنو سره د نړیوالو مرستو او ملاتړ په برخه کې مخکښ رول ولري. یونما همدا ډول غوښتنه وکړه چه د ملګرو ملتونو سرمنشي دې د ۲۰۱۱ کال په پای کې د ملګرو ملتونو دملاتړ او مرستي په اړه یوه بشپړه بیاکتنه ترسره کړي.[165]

په ملګرو ملتونو کې دافغانستان استازي وویل چه په افغانستان کې د یونما د ماموریت غزولو دا ثابته کړه چه نړیواله ټولنه د افغانستان د ملاتړ په برخه کې معتهده ده، او افغانانو ته یې د لا زیات واک او رهبري د سپارلو په اړتیا باندي تاکید او ټینګار وکړ. نوموړي استازي ته دا هم معلومه شوه چه د نوموړي ماموریت د غزیدو سره

## د فساد پر وړاندي مبارزه

د درو میاشتو په ترڅ کې د امریکا دبهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د موجود فساد په اړه خپل سخت تشویش او اندیښنې څرګندې کړي. همدا ډول یی دا هم ویلي دي چه افغان دولت د هغه لوړ رتبه مامورینو په لیري کولو چه د حکومتي کړنو په اړه یی په اغزمن ډول په حساب ورکول کې پاتي راغلي او څارنوالانو او محقیقینو ته د لوړ معاش د ورکولو له لارې کولای شي د فساد پر وړاندي په ښه او غازمنه توګه مبارزه وکړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت همدا ډول دفساد پر وړاندي د قانون پر تقویه او د ځانګړو تګ لارو د جوړولو په ارزښت هم ټینګار وکړ.[168]

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، " چې د افغان لوړ رتبه مسولینو سره د فساد تړاو، ضعیفې ادارې، د دولتداری په برخه کې کمزوري اصلاحات، د فساد پر وړاندي د قوي او کره قوانینو نشتون او مهمو قضیو سیاسی نه تطبیق او نه پلیتوب د افغانستان د فساد پر وړاندي لویې ننګونې دي."[169] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چه هغوی د افغانستان د لوی څارنوالي لخوا د هغه لوړ رتبه افغان مسولینو پر وړاندي چه په فساد کې ښکیل دي هیڅ ډول جدی تعهد او اقدامات نه دي لیدلي، او د دې درو میاشتو په ترڅ کې هیڅ ډول رسمي پلټنه نه ده ترسره شوې. د ۲۰۱۰ کال د نومبر په میاشت کې د افغانستان لوی څارنوالي د ۲۰ لوړ رتبه افغان مسولینو چه د کابینې دوه وزیران هم پکې شامل د پلټنو اعلان کړي وو. تر پلټنې لاندي د تورونو څخه یوازي یو کس تر اوسه ګرفتار شوی دي- او هغه هم د ترانسپورت پخوانی وزیر دي. خو تر تحقیقاتو لاندي تر اوسه د هیڅ یوه تورن محاکمه نه ده ترسره شوې او نه هم تر اوسه د تورونو په اړه تفصیل او د هغوی نومونه عامه خلکو ته نه دي اعلان شوي.[170]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د یو لوړ رتبه افغان پولیس قومندان چه د فساد په تور تورن دي د محکمې پر وړاندي د شته موانع موجودیت ته اشاره کړې چه د فساد پر وړاندي د قانون د حاکمیت اړوندې ستونزې بیانوي. دا ټول پداسي حال کې دي چه په دې نږدې وخت کې د افغانستان لوی څارنوالي اعلان وکړ چه د غیر قابلو کارکونکو د کوښه کولو او د څارنوالانو د معاشاتو د لوړولو په برخه کې یی اړین ګامونه اوچت کړي ترڅو د فساد او بډې د اخیستلو امکان را کم کړي.[171]

> " په افغانستان کې زمونږ د بشري مرستو پر وړاندي د فساد په برخه کې د شته ستونزو څخه هیڅ څوک انکار نشي کولای. فساد لا هم د یوې لویې ستونزې په توګه پاتي دي.
> د فساد او د مرستو د ضایع پر وړاندي مبارزه او جګړه زمونږ د لومړیتوبونو څخه ده".
>
> \- د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره، هیلري کلنټن

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، " ملاحظات، د بهرنیو چارو وزیره هیلري کلنټن، د ریچارډ سی د لړۍ د اسیایی ټولنې پرانیستل. د هالبورک غونډې ته خطاب"2/18/2011

### د فساد پر وړاندي د مبارزې او څار لوی دفتر یا HOOAC

د USAID په وینا د فساد پر وړاندي د مبارزې او څار لوی دفتر یا HOOAC چه د حکومتي فساد د منځه وړلو په موخه رامنځ ته شوی هم کومه ځانګړې او ستره لاس ته راوړنه نلري. USAID دغه ناکامي د هغه لوړ رتبه دولتي کارکونکو په اړه چه په فساد کې ښکیل دي د تمایل د کموالي د له کبله ګڼي.[172]

USAID د HOOAC سره د یو نړیوال مدیریتي سیستم پر اساس چه د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې ترسره شوی ووه تخنیکي مرسته او همکاري کوي. او د USAID په وینا د نوموړي درې کلن پروګرام لګښت ۲۷،۷ میلیون ډالرو ته رسیږي. د ۲۰۰۸ کال راپدیخوا چه HOOAC تاسیس شوي د ملګرو ملتونو پرمختیایی ادارې یا UNDP او د جرمونو او مخدره توکو پر وړندي د ملګرو ملتونو دفتر د روزنیزو پروګرامونو په ګډون د نوموړي دفتر سره تخنیکي مرستې ترسره کړي دي.[173]

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د هغه افغان دولتي مسولینو په اړه چه د فساد او اختلاس تورن دي د HOOAC ډیرۍ کړنې او فعالیتو غیر موثر او سمبولیک دي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې پورې د ۳۶۰۰ هغه دوسیو څخه چه ادعانامو ته یی اړتیا درلوده یوازي د ۱۹۰۰ په اړه یی دغه مرحله ترسره شوې او یوازي ۷۰ یی خپرې شوي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د دغه ادعانامو او د هغه د تصدیق په برخه کې زیات شمیر نیمګړتیاوې په ګوته کړې، د بل چا په نامه د افغان حکومتي چارواکي د ګټې اخیستنې لپاره د جایداد د اعلامیې د اړتیا د کموالي په ګډون. ځکه چه د ملکیت یا جایداد ډول په ادعانامه کې نه دي څرګند شوي، او د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا ولسمشر حامد کرزي دخپلو ټولو دارایی ارزښت تر ۳۰۰۰۰ ډالرو کم ښودلای دي.[174]

### د فساد پر وړاندي د مبارزې څانګه

د دې درو میاشتو په ترڅ کې د افغانستان لوی څارنوالي اجازه ورکړه چه د امریکا د عدلیې سلاکاران د فساد پر وړاندي د مبارزې د څانګې د څارنوالانو سره خپل کار پیل کړي. نوموړو سلاکارانو د ۲۰۱۰ کال د جولای په میاشت کې وروسته ترهغه خپل کار بند کړ چه د ولسمشر د سلاکار محمد ضیا صالحي د بډې اخستنې قضیه علني شوه. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د امریکا د عدلیې وزارت سلاکارانو خپل فعالیتونه یوازي تخنیکي سلامشورو پورې محدود کړي دي. همدا راز د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي دي چه افغان څارنوالانو د امریکا د عدلیې وزارت د سلاکارانو سره د نږدې لیدل کیدلو په اړه خپل تشویش او اندیښنې شریکې کړي دي.[175]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نیټې پورې ۴۱۶ ACU قضیې محکمې ته سپارلې دي، چه په هغه کې ۱۴۹ قضیې د خپل صلاحیت څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او ۷۱ قضیې د بډو یا رشوت په اړه هم شاملې دي. همدا ډول یی ۸ داسي حکمونه هم خپاره کړي چه د هغه د مخې تورن کسان نشي کولای د هیواد څخه ووځي.[176]

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د فساد په وړاندې مبارزې د راپور ورکوني جوړښت




سرچينه: CJTF، " د CJTF ويب پاڼي ته ښه راغلاست،" چه د1/16/2011 په انلاين ډول لاس رسی ورته شوي وو؛ HOOAC، "مونږ څوک يو؟ " چه په 1/16/2011 نيټه په انلاين ډول لاس رسی ورته شوي دي؛ INL، " د افغانستان د پروګرام عمومي کتنه"، ته په انلاين ډول لاس رسی شوي دي. 1/14/2011 نيټه لاس رسی شوي دي؛ د سيګار د 1/6/2011 نيټي غوښتني ته د INL ځواب؛ د امريکا متحده ايالات سفارت په کابل کي، " افغانستان د فساد پر وړاندي د مبارزې ورځ و لمانځله،" 12/15/2010؛ د امريکا د بهرنيو چارو وزارت، " کلنټون: افغانان د کرزي په دويمه دوره کي د لويو ستونزو سره مخامخ دي،" 11/19/2010؛ DoJ، " افغان لوی څارنوال امريکا ته سفر وکړ، افغان مسولين،" 6/30/2010؛ د سيګار 8-10 پلټنه، " د افغانستان د کنترول او پلټنې دفتر عملياتي او بودجوي ازادی ته اړتيا لري، په صلاحيتونو کي اسانتياوې، اود فساد د موندني او د اغزمن مخ نيوي لپاره د نړيوالو مرستو متمرکزي کول،" 4/9/2010؛ د امريکا د بهرنيو چارو وزارت،" د پرمخ تلونکی ازادی او ديموکراسی راپورونه،" 5/2009.

## د لويو جرايمو عملياتي ځواک(MCTF)

د لويو جرايمو د عملياتي ځواک د تحقيقاتو لومړي تاکيد د فساد د هغه پيښو په اړه چه د لوړ رتبه مسولينو لخوا ترسره شوي وي. برسره په پر هغه روزني چه د نړيوال سازمانونو لخوا د نوموړي پرورګرام سره ترسره شوي دي، د امريکا د فدرالي د تحقيقاتو اداري او د امريکا پوځ د تحقيقاتو په برخه کي (MCTF) ته روزنيز پروګرامونه په لاره اچولي او هغوی ته يی روزنه ورکړي.[177]

د ۲۰۱۱ کال دمارچ تر ۳۱مي نيټي پورې MCTF د مجرمينو د محکوميت ۱۰ سترې قضيې ګټلي وي او ۱۰۰ نور تحقيقات يی پاتي وو. د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا MCTF ۱۶۲ ګرفتارۍ ثبت کړي چه د هغه دلي ۲۲ يی د رشوت او بډې په تور وي. د بهرنيو چارو وزارت ويلي دي چه که څه هم MCTF پرمختګ کړي دي خو د فساد او بډې پر وړاندي دهغه هڅې د لوی څارنوالي او د ولسمشر د دفتر د مداخلاتو له کبله کمي او د ستونزو سره مخامخ شوي دي.[178]

## د کنترول او پلټنې دفتر يا CAO

د کنترول او پلټنې دفتر د افغان دولتي ادارو د مالي کړنو او فعاليتونو په اړه د څار او پلټنې دنده پر غاړه لري. د بهرنيو چارو د وزارت په وينا چه CAO د مربوطه فعاليتونو د تر سره کولو لپاره هم د اختيار او خپلواکی او هم د ظرفيت په برخه کي د ستونزو سره مخامخ ده، او د ظرفيت د لوړولو په برخه کي يی پدې درو مياشتو کي ډير لږ پرمختګ درلود. د بهرنيو چارو وزارت همدا ډول ويلي دي چه د افغانستان قانون CAO ته کافي اندازه خپلواکي نه ورکوي. CAO د امريکا بهرنيو چارو وزارت ته ويلي دي چه ډيری هغه قضيې چه CAO لوی څارنوالي ته استولي بي د کوم اړوند اقدام څخه بيرته دغه دفتر ته استول شوي دي.[179]

### د سيګار پلټنې

د افغانستان د بيارغوني لپاره څانګړي عمومي پلټونکي يا سيګار په پلټنو کي جوته شوه چه نه CAO او نه هم HOOAC د فساد په وړاندې د اغزمني مبارزې د ترسره کولو لپاره د کافي او مناسبي خپلوکي نلري. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي دې پتې ته www.sigar.mil لاړ شي.

### د سيګار پلټنې

سيګار د امريکا د هغه هڅو په اړه چه غواړي د لويو جرايمو پر وړاندي عملياتي ځواک سره يی د فساد پر وړاندي دمبارزې په برخه کي ترسره کوي پلټنې کوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي ۱ برخې ۱۷ پاڼي ته ستانه شي.

د ملګرو ملتونو عملیاتو د افغان دولت د لومړیتوبونو سره ورته او شبه دي.[166] د اپریل په ۱ نیټه په مزار شریف کې د ملګرو ملتونو پر کارکونکو د حملې وروسته، یونما اعلان وکړ چه پدې سختو او حساسو حالاتو کې به هم نوموړې اداره په افغانستان کې خپل ماموریت ته دوام ورکړي.[167]

## ملکي ژوند ته بیرته راګرځیدنه / بیا پخلاینه

په کال ۲۰۱۰ کال د نړیوال سیاسي او د پروګرام په برخه کې د ملاتړ سره د مخالیفیون او د هغوي د راهبرونو ملکي ژوند ته د بیرته راګرځولو او بیا پخلاینې هڅې پیل کړې. پدې درو میاشتو کې نوموړو هڅو دوام درلود، خو کومه د پام وړ لاسه ته راوړنه یې نه درلوده.

## د سولې عالی شورا

د امریکا د دفاع وزارت په وینا د دې درو میاشتو په ترڅ کې د سولې عالي شورا زیات شمیره رسمي او غیر رسمي غونډې ترسره کړې. شورا د دې غونډو او پیښو تفصیل د ایساف نه دي شریک کړې او نه یې هم په عامه ډول د دې په اړه تصدیق کړي ځکه هغوی باور لري چه د ګډونوالو د هویت خوندي او حافظت ورته مهم دی. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا، شوار د دغه مراسمو څخه د عامه پوهاوي او د سولې د پروسې سره د ملاتړ د زیاتولو په موخو ترسره کړي دي.[180] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا هغوي داسي څه نښې نښانې نه دي ترسترکو شوي چه مخالیفینو غوښتي وي چه خپل دریځ تغیر او د هغه څخه واوړي.[181]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا افغان دولت د ۲۵ ولایتي د سولې شوارګاني جوړې کړي دي.[182] په عمومي ډول دغه شوراګاني به عامه پوهاوي زیات، ملکي ژوند ته بیرته ستنیدو، پخلاینې، خبرو اترو او د خپګانونو د منځ وړولو په پروسو د خلکو باور د زیاتولو هڅې وکړي. د کمیټو په غړو کې ملکي مسولین، د ټولنې او مذهبي استازي ګډون لري.[183]

د سولې او سولیز ژوند د راستندلو د پروګرام (APRP) د تطبیق په برخه کې هم پرمختګ شوی دي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، د ملګرو ملتونو د پرمختیایی اداري یا UNDP په مرسته ګډه دارالانشا وتوانیدله چه د ۸ ولایتونو لپاره طرزالعملونه او تګ لارې چمتو او د ۱۳ نورو ولایتونو لپاره د کار چارې پرمخ یوسي.[184] د سرمنشي په راپور کې راغلي چه د نوموړي شوار د مالي څار کمیټې د ملکي ژوند د بیرته راستندلو په برخه کې ۷ پروژې منظورې کړي دي: د هغه ډلې ۶ په وزارتونو او ریاستونو کې د ملکي ژوند د بیرته راستندلو د هڅو سره د ملاتړ په موخه د نمایندګیو رامنځ ته کولو په اړه دي، او یو هم د هغه مخالفینو لپاره چه د سولې د پروګرام سره یوځای شوي وي د ماینونو د پاکولو پروژه ده.[185]

> **د سولې عالي شورا د مالي څار کمیټه کې د مالیې وزارت، د APRP اجرایوي امر او د دوو نړیوالو مرسته کوونکو ادارو استازي شامل کړل شول، د مرسته کونکو ادارو دو پستونه به په دوراني شکل پرمخ وړل کیږي. نوموړې کمیټه ګډې دارالانشا ته راپور ورکوي.**
>
> سرچینه: د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۱۳، مخ 6.

### د ښځو حقوق او پخلاینه

ځکه د پخلاینې او ملکي ژوند ته دبیرته راستنیدولو په پروسه کې هغه ډلې او ګروپونه هم شامل دي چه د سولې په خبرو کې د ښځو د ګډون مخالف دي، په خبرو کې د ښځو ځای ته ډیر پام او توجه شوی ده. د USAID او د امریکا دبهرنیو چارو د وزارت په وینا د سولې او سولیز ژوند د بیرته راګرځیدو د پروګرام یا APRP سره د امریکا د حکومت لخوا د ترسره کیدونکو مرستو لپاره د ښځو د حقوقو د خوندي ساتلو د اړتیا په اړه خبري او غوشتنې شریکې شوي دي. د بیلګې په توګه، هغه طالبان چه د سولې د پروسې سره یوځای شوي باید د افغانستان اساسي قانون، او د ښځو او اقلیتونو په اړه د هغه ذکر شوي مقررات ومني. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چه د امریکا هیواد په هره کچه د سولې او پخلاینې په خبرو کې د ښځو د ګډون څخه ملاتړ کوي.[186]

د USAID په وینا، د امریکا هیواد په نوموړې هیئت کې د ښځو د ونډې د زیاتولې لپاره د مختلفو لارو څخه په ګټې اخیستلو سره ملاتړ کړي دي، چه د هغه لارو چارو څخه چې په نوموړي هیئت کې د ښځو د داخلولو لپاره کارول شوي دي لاندې په ګوته کولای شو:[187]

- د سولي عالي شورا د ۶۹ غړو د ډلې د ۹ ښځینه غړو سره مرسته ترڅو په نوموړي شورا کي خپل رول قوي او غښتلی کړي
- په ملي او ولايتي سطحه د سياسي وکالت وړاندي کول
- د مدني ټولنو سره پدې موخه ملاتړ او همکاري چه د APRP په پروسه کي ښځي ګډون ولري
- د ښځو د حقوقو په برخه کي د کارکونکو غير دولتي ادارو (NGO) – د ښځو، سولي او امنيتي کاري ګروپونو سره ګډ کار – کوم چه د ملکي ژوند د بيرته راستنيدلو د پروګرام سره په هره کچه د ښځو د رول او ونډې په برخه کي د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سره مرسته او همکاري کوي

د USAID په وينا ښځي د APRP په پروسه کي په مختلفو لاره دخيلي دي. د جندر د برخه تکړه او معتهده سلاکاره د APRP د ګډي دارالانشا لپاره په دنده ګمارل شوي د سترو پريکړو او پاليسو په برخه کي د ښځو د رول په اړه ستونز حل او د ښځينه غړو ته د هغوي د وکالت د هڅو په برخه کي مرسته او همکاري وکړي. برسيره پردي، د شورا ښځينه غړي د عامه پوهاوي ملي او نړيوالو کمپاينونو کي ځيني وخت ګډون کوي. برسيره پردي شورا خپلو ولايتي څانګو ته په همدي نږدي وخت کي خبر ورکړي چه بايد په خپل تشکيل کي لږ تر لږه دري ښځينه غړي ولري. د افغانستان دولت هم د افغانستان د ښځو شبکي او مدني ټولنو ته اجازه ورکړي تر څو د سولي عالي شورا په ترکيب د ښځو د ونډې څخه څارنه وکړي او د شورا د ترکيبي اجماع په اړه خپل وړانديزونه شريک کړي.[188]

### ملکي ژوند د بيرته راستنيدلو او پخلايني د پروسي سره د امريکا مرستي

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مي نيټي پوري د امريکا متحده ايالاتو، برتانيا، جاپان او جرمني د سولي د عالي شورا په ګډون د APRP سره د ۲۳۴ ميليون ډالرو د مرستي وعده کړي دي. د دي ربع تر اخره پوري د نوموړي شمير پيسو څخه ۱۱۰ ميليون ډالره ترلاسه شوي دي. د امريکا د دفاع وزارت په وينا، د ماليي وزارت لاهم په ولايتي کچه د مرستو د توضيع او تقسيم د څرنګوالي په اړه پلانونه جوړوي؛ په همدي دليل د سولي د هڅو سره د ملاتړ په برخه کي د افغانستان مالي ميکانيزمونه لاهم فعال نه دي.[189]

د دي لپاره چه د ملکي کولو پروسه مخ پر وړاندي ولاړه شي د امريکا متحده ايالات د سولي او ملکي ژوند د راستنيدلو د فعاليتونو سره د افغانستان د ملکي ژوند ته د راستنيدلو د پروګرام(ARP) له لارې خپلې مرستي ترسره کوي.[190] د ۲۰۱۱ کال دمارچ تر ۳۱ مي نيټي پوري د نوموړي پروګرام سره د امريکا تعهدات يوائې ۴ ميليون ډالرو ته رسيدل. دغه مرستي يا فنډ د عامه پوهاوي د زيات شمير شوراو او ولايتي او د ولسواليو په کچه د سولي د شوراګانو سره مرسته او ملاتړ کړی دي. په ۲۰۱۱ مالي کال کي د ملي دفاع د صلاحيتونو قانون د ملکي ژوند ته دبيرته راګرځيدولو د فعاليتونو سره د مرستي په موخه کانګرس د امريکا دفاع وزير ته صلاحيت ورکړي چه د دفاع وزارت د فنډ څخه تر ۵۰ ميليون ډالرو پوري د نوموړي پروګرام لپاره وکاروي- البته دا کار بايد د بهرنيو چارو د وزير د موافقه سره سم ترسره شي.[191]

## د ملکي ژوند د راستنيدلو د پروګرام پرمختګ

د دی درو مياشتو په ترڅ کي سرمنشي ته معلومه شوه چه د افغان دولت د مخالفينو د سولي د پروګرام سره د يوځای کولو په برخه کي پرمختګ شوي دي.[192] د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د ۲۰۱۱ کال مارچ تر ۳۰مي نيټي پوري په درو- مرحلو کي ۷۰۰ پخواني جنګيالي د سولي د پروګرام سره يوځای شوي دي.[193]د امريکا د دفاع وزارت په وينا، ډيری مخالفين د پوهاوي او بی وسلي کولو په لومړنيو مرحلو کي دي او تر اوسه ورستي مرحلي- د ټولني د بهبود مرحلي ته نه دي داخل شوي - دا هرڅه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نيټي پوري و.[194] د ملګرو ملتونو يو شمير دلايل او علتونه په ګوته کړل چه د دي سبب شوي چه زيات شمير مخالفين او جنګيالي پر ځمکه د خپلو وسلو ايښودلو ته زړه ښه کړي، په شمالي او جنوبي سيمو کي مکرر عمليات، د

ولايتي مسولينو لخوا عامه پوهاوی، او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لخوا د غوره او ښه حکومتداري وړاندي کول.[195]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي پورې د هیواد زیات شمیر ولایتونو د سولې ولایتي شوراګاني او یا هم ګډې دارالانشا نه درلودلې. د اړوند والیانو لخوا ۲۵ ولایتي شوراګانو لپاره غړي او عضو نومول شوي دي، خو د سولې عالي شورا یوازي د ۶ ولایتونو د غړو منظوري ورکړې او چارې یې نهایی کړې دي. د ۸ ولایتي ګډو دارالانشاګانو ډلې تاسیس شوې دي او هغوي په مربوطه کچه د ملکي ژوند ته د راستنیدلو دهڅو د لا ګړندي کولو لپاره په خپلو دندو ګمارل شوي دي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا تقریبا ډېرو والیانو د APRP سره کار او مرسته کوله، او د هغوی مرستي د هغوی په وړاندي د هیڅ ډول تاوتریخوالي سبب نه دي شوی.[196] اما د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا مخالفینو خپلي هڅي په لړ که چه هغه څوک چه د نوموړي پروګرام سره یوځای کیږي د تهدید په موخه خپلو فعالیتونه د زور ورکړی دي.[197]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، افغان مسولین به د APRP په اړه د پوهاوي د رامنځ ته کولو په موخه مختلفو سیمو ته خپلو سفرونه ته ادامه ورکړي. همدا ډول ګډه دارالانشا په کابل کي بین الجنسیانو د استازو سره کار کوي تر څو ملکي ژوند د راستیندولو وروستي مرحله د سولي د پروسي څخه د برخمنو او د ټولني تر منځ ته اړیکو د پراخوالي او ټینګوالي له لاري نوموړي مرحله ټینګه او تقویه کړي.[198]

## د ولایت  او د ولسوالی په کچه حکمت

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د ایساف لخوا طرحه د ځایی مشرانو په ګمارولو او د هغوي د ساتلو او کار ته ادامي په برخه کي ډیر لږ اغیز درلود. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نیټي پورې جنوبي او جنوب لویدیځ قومنداني توانیدلي دي چه د مشري د پستونو لپاره غوره کاندیدان او نوماندان په ګوته کړي او د  ولایتي مشرانو سره د حکومتدارئ په برخه کي ظرفیت د جوړولو په برخه کي کار کوي. لویدځ سمیز قومندانی د مشرتابه د پستونو په ډوکولو کي د زیات شمیر ننګونو او ستونزو سره مخامخ شول، د کابل د سیاستونو، د هغوی د ګمارني په برخه کي دفساد شتون، د ولسوالي تجرید، د ولسوالیو د مسولینو لپاره ټیټ امکانات او نا امني هغه لاملونه دي چه پدي برخه کي یی ستونز را ټوکولي دي.[199]

### د افغانستان جنوب

د امریکا  بهرنیو چارو د وزارت په وینا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کندهار ولایت د ولسوالیو په کچه د سمیز حکومتدارئ په برخه کي پرمختګونه وروسته تر هغه ترلاسه کوي چه د ۲۰۱۰ کال په وروستیو کي دغه سیمو د مخالفینو د وجود څخه پاکي کړل شوي. د ولسوالیو د ملاتړ ټولو ډلو(DSTs) د کندهار ولایت په سطحه د دولتي مسولینو په برخه کي د فعالیت او تحرک د زیاتوالي خبر ورکړي دي. دا پداسي حال کي ده چه پنجوایی او سپین بولدک کي DST د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته خبر ورکړي چه نوموړو ولسوالیو ته ټول قوي مشران بیرته نه دي راستانه شوي او یوازي محدود شمیر قومي مشران په خپلو کلو او بانډو کي ژوند کوي. د دواړو ولسوالیو DST د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته راپور ورکړي د ولسوالیو شوارګاني ملاتړ ترلاسه کړي دي او امکان لري چه قومي مشران بیرته خپلو کلو ته راستنیدلو ته وهڅوي.[200]

د جنوب لویدیځ سمیز قومنداني د قومندان په قول د امنیت ښوالي افغان دولت ته فرصت ورکړي چه په هلمند ولایت خپل صلاحیتونه پراخ او غوره دولتداری رامنځ ته کړي. د جنوب لویدیځ  افغانستان لپاره د برتانیا لوړ رتبه استازي د وینا پر اساس، د ۲۰۱۱ کال د جنوري تر ۲۵ نیټي پورې د هلمند د ۱۴ ولسوالیو څخه په ۱۱ ولسوالیو کي د دولت استازي موجود او خپلي چارې یی پرمخ وړلي.[201] پرمختګ د هلمند په مرکز ډیر د پام وړ و، چیري چه ۶ مرکزي ولسوالیو د ولسوالی شوراګاني درلودلي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲مه په مارجه ولسوالی کي ۱۱۰۰ رای ورکونکو په ټاکنو کي خپلي رای وکارولي، او د ټولني شورا ته یی ۳۵ غړي غوره کړل. د مخالفینو لخوا

د ټاکنو د ګډوډولو د تهدیداتو سره بیا هم کومه امنیتي ناوړه پېښه رامنځ ته نشوه.[202] د امریکا د دفاع وزارت په وینا په ټاکنو کې پدې شمیر ګډون په معني دي چه د ولسوالۍ خلک د مخالفینو څخه بیزاره او د افغانستان د دولت حاکمیت مني.[203] په هلمند کې میشت ولایتي بیارغوني ټیم (PRT) د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته ویلي چه ولایتي او د ولسوالیو ادارو خپلې کړنې او چارې قوي کړې او د DST او نورې ټیم سره یې خپلو اړیکو ته دوام او پراختیا ورکړې ده.[204]

د امریکا د دفاع او همدا ډول د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د امنیت د ښه کیدلو یوه بیلګه دا ده چه تحرک زیاتوالي دي.[205] د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا ځایی او محلي دولتي چارواکي د مرکزي ولسوالیو تر منځ د سرک له لارې تګ اوراتګ کولای شي. په نوموړي ولایت یعني هلمند کې مرکزي ولسوالۍ تر ټولو زیات نفوس لرونکي سیمې دي. خو په یو شمیر ولسوالیو کې لکه موسی قلعه، سنګین، کجکي، او شمالي ولسوالي یعني نوزاد او جنوب لویدیځ ته پرته د خان شینو ولسوالي اوس هم تګ او راتګ باید د هوایی لارې ترسره شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته معلومه شوه چه یو شمیر هغه مخور او مشران چه د جنګ جګړو له کبله د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوي وو او بیرته خپلو سیمو ته راګرځیدلي او په ځینو برخو کې د دولتي ادارو سره یې خپلو کارونو او تماسونو ته بیا ادامه ورکړې ده.[206]

## د افغانستان شمال

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، د افغانستان دولت توانیدلی دي چه په شمالي ولایتونو لکه قندوز، تخار او بلخ کې د دې درو میاشتو په ترڅ کې امنیت او ثبات خوندي وساتي. که څه هم د نوموړو ولایتونو والیانو د حکومت د حاکمیت د ټینګولو په برخه کې یو شمیر ګامونه اوچت کړي دي، خو په یو شمیر سیمو کې قومي شخړې له هم د ثبات پر وړاندې یو جدي ننګونه ده.[207]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته معلومه شوه چه د قندوز والي چه یو پښتون دي او د ولسمشر کرزي د اطمینان کس دي توانیدلی دي چه د مدیریت د پرمختیا په برخه کې قوي کنترول رامنځ ته کړي، د افغان ملي امنیتي ځواک عملیات تسهیل او د امریکایی مسولینو سره خپلې اړیکې او همکاري پراخې کړي. د تخار والي چه یو تاجک دي بوازې په قومي او ایدیالوژیکي کچه او د دولت په سطح د سیاسي اړیکو په رامنځ ته کولو توانیدلای دي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا والي د اړوند ولایت مختلفو او پراخو سیمو ته سفرونو کوي ترڅو د افغان ملي امنیتي ځواک او ایساف لپاره ملکي ملاتړ ترلاسه کړي. هغه همدا ډول د اړوندو وزارتو د هیئت سره هغه سیمو ته چه د مخالفینو د حضور څخه پاکې شوي دي د هیئت په مشرۍ سفرونه کوي تر څو د سیمې دخلکو اړتیاوې په ګوته شي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا د بلخ ولایت والي یو اغزمن، قوي مدیر او ډیر مشهور کس دي او په شمالي برخه کې د زیات اغیز څخه برخمن دي. خو د چاروکو د ګمارنې په برخه کې د والي فعال رول سبب شوی چه یو شمیر پښتون مشران چه په نوموړي ولایت کې اقلیت جوړوي د ځان څخه لیرې او تاوتریخوالی رامنځ ته کړي.[208]

په سیمه کې ټولو PRT کانو راپور ورکړي چه په نوموړې سیمه کې د پراختیا او ثبات په برخه کې دامریکا مرستي د ځایی دولتدارۍ د پراختیا سره خورا ستره مرسته کړې ده د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په تخار او قندوز ولایت کې د ټولنو د پرمختیایی شوراګانو او د ولسوالیو د پرمختیایی ټولنو تر منځ د زیات شمیر پروژو د پلي کولو په برخه کې د مثبتو اړیکو خبر ورکوي.[209]

## د ملکي ادارې د اصلاحاتو یا ریفورم په برخه کې د امریکا مرستې

د امریکا متحده ایالات د ملکي ادارو د اصلاحتو د پروګرام سره د کلیو د ثبات د عملیاتو(VSO) د پروګرام، ملکي ژوند د سطحې د لوړولو او د PRT او DST د هڅو له لارې مرسته او همکاري کوي.

## د کليو د ثبات عملياتي پروګرام

د امريکا د دفاع وزارت په وينا د نوموړي وزارت د VSO پروګرام د افغان محلي پوليسو د پروګرام سره ګډ کار کوي تر څو کليو او ليري پرتو سيمو ته افغان او امريکايي پرسونل واستوي او د کليو، ولسواليو او ولايتونو په کچه د حکومتي ادارو تر منځ اړيکي ټينګي کړي. VSO همدا ډول د کليوالو سره مرسته کوي تر څو د پراختيايي مرستو څخه د ګټې اخيستلو له لارې د مخلفينو پر وړاندې ودريږي. VSO د امريکا د دفاع وزارت د مديرت په مرستو پر مخ وړل کيږي- د قومندان د بيړني ځواب پروګرام او د افغانستان د امنيتي ځواک د فنډ څخه په ګټې اخيستلو خپلې چارې پر مخ وړي. د امريکا دفاع وزارت ته معلومه شوه چې" د ورکړل شوو مرستو نسبتاً کم شمير پيسي مصرف شوي دي."[210] د امريکا د دفاع وزارت په وينا نوموړي پروګرام د خپلو عملياتو په سيمه کي د طالبانو فعاليت د پام وړ تر کچې را ټيټ کړي دي..[211]

## د ملکي وګړو د ژوند د سطحې لوړول

د د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا، په افغانستان کې د امريکايي ملکي وګړو شمير په تيرو ۲ کلنو کې د پام وړ کچې ته اوچت شوی دي – چه د ۲۰۰۹ کال د جنوري په مياشت کې ۲۶۱ تنه او د ۲۰۱۱ کال د فبروري مياشته کې ۹۸۹ ته اوچت شوي دي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت وړانديز کړي چه د ۲۰۱۲ کال پورې دغه شميره ۱۳۵۰ ته اوچته کړل شي.[212] د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مي نيټي پورې د سطحې لوړولو دا امکان رامنځ ته کړ چه په DST، PRT او سميز سطحو باندي( ملکي چه د سميز قومنداني سره مساوي دي) او په يو زيات شمير ولاتي دفترونو او عملياتي ځواک کي ۱۵۰ کارکونکي په ساحوي پوستونو باندي وګمارل شي.[213]


د USAID په وينا د ملکي کارونکو زياتولو د افغانستان دولت ته دا فرصت ورکړي چه په ولايتي کچه باندي د نوموړي دولت ظرفيت او ورتياوې لوړې شي. د مخالفينو پر وړاندي د مبارزې د اقداماتو سره د مرستې په موخه، د سطحې دغه لوړول په ابتدايي ډول په هغه سيمو باندي متمرکزه ده چه د زيات نفوس او اقتصاد درلودنکي دي.[214]

### د سيګار پلټنې

سيګار د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت د عمومي پلټونکي سره په ګډه د ملکي ژوند دسطحې د ارتقا په اړه پلټنه پيل کوي، او همدا راز افغانستان د نورو اضافي کارکونکو د راتګ د پايښت او ثابت مسله هم تر پلټنې لاندي نيسي. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي ۱ برخه، ۱۸ پاڼي ته ستانه شي.

3.23 انځور

د ولايت په اساس د امريکا د DST ګمارنه




يادونه : د 12/31/2010 سره سم د کارکوونکي د ګمارنې حالت. پلان يا اټکل شوي ګمارنه د امنيتي او نورو حالتو ته په کتو تنظيم او اماده کيږي.

سرچينه: د سيګار د 4/13/2011 نيټي پوښتنې ته د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت ځواب


## DST، PRT او امنیت

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، PRTاو DST ته ورپیښې امنیتي ستونزې د نومړو ادارو د فعالیت په وړاندې تر ټولو لویې ننګونې دي. مخالفینو په تیر وخت کې دنومړو ډلو د کار اغیزې د کم رنګه کولو هڅې او تهدید کړي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو په اساس عامه او محلي افغان مسولین د امنیتي او مرستو ته د لاس رسي د څرنګوالي په برخه کې د مسولیت د انتقال د لړۍ د پیل سره سم تشویش او اندیښنې لرۍ. په عین وخت کې دا هم معلومه شوې ده چه د پرمختیایی او د دولتدارۍ په برخه کې د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې د لویو ننګونو او ستونز سره مخامخ دي. پلي کونکو ادارو او غیر دولتي موسساتو خپلې چارې د PRT او DST سره په مناسب ډول نه دي همغږي کړي، او دا کار د محلي دولتدارۍ په وړاندې خنډونه را منځ ته کړي او د هڅو او فعالیتونو د دوګونې یا تکرار سب ګرځیدلي دي. پدې ټولو ننګونو سره بیا هم DST او PRT توانیدلي دي چه د ولسوالیو د ارایه پروکرام پلي او تطبیق کړي، دا پروګرام د افغانانو په ابتکار په هغه ولسوالیو کې چه خوندي دي او امنیت لري د دولت د حضور د پراختیا په برخه کې فعالیت کوي،او د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې یی په ۱۴ ولسوالیو کې فعالیت کوي او د ۲۱ نورو ولسوالیو کې د فعالیت اجازه یی تر لاسه کړې ده.[215] د DST د پرسونل زیاتوالی په لومړي ګام کې د ۲۰۱۱ کال په ترڅ کې په جنوب او ختیځ کې په پام کې نیول شوي دي چه په کې هم بنودل شوی دي.۳.۲۳ شمیره انځور. لکه څرنګه چه په کې هم بنودل شوي دي په کال ۲۰۱۱ کال کې به د امریکایی ولایتي بیارغونې د ډلې شمیر د پام وړ کچې ته لوړ شي. ۳.۲۴ شمیره انځور.

د افغان ولسمشر حامد کرزي غوښتنې ته په کتو چه د DST او PRT د منځه تلو غوښتنه یی کړې ده، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته معلومه شوه چه DST کیداي شي چه په PRT کې ګډ شي، او هغه به په خپل وار سره په ستره سمیزه کچه سره یوځای شي. چه د دې کار په پایله کې به دامریکا حضور کم شي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، وړاندې تر دې چه د مسولیت د انتقال لړۍ پیل شي DST او PRT به خپل پام د اساسي خدمتونه د وړاندې کولو څخه د د روزنې او د ظرفیتونو ارتقا ته واړوي. او دهغه ترل به د مسولیت د انتقال او په امنیتي شرایطو پوري ترلې وي.[216]

3.24 انځور

د امریکا د PRT د ولایتو په اساس تشکیلات




یادونه : د 12/31/2010 سره سم د کارکوونکي د ګمارنې حالت. پلان یا اټکل شوي ګمارنه د امنیتي او نورو حالتو ته په کتو تنظیم او اماده کیږي.
سرچینه: د سیګار د 4/13/2011 نیټې پوښتنې ته امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځواب

## په عامه (ملکي) ادارو کې اصلاحات

په ناامنه سيمو کې د ملکي يا عامه خدمتونه د بستونو لپاره د وړو کسانو نه موندل او د دې پستونو تش پاتې کېدل لاهم د محلي غوره دولتدارۍ رامنځ ته کول د ستره ننګونو او ستونزو سره مخامخ کړي دي. د USAID په وينا په افغانستان کې يو شمير داسې ولسوالې هم شته چه د تير يوه نسل راپديخوا يې دولتي حضور نه دي ليدلى دي همدا ډول دې ادراې ته دا معلومه شوه چه که چيرې افغان دولت غواړي چه په خپلو پينو وديريږي نو بيا په ولايتي کچه باندې د کارکونکو او مسولينو ګمارنه چټکه کړي. د USAID په وينا په ۱۴ نا امنه ولايتونو کې د عامه يا ملکي کارکونکو شميره تر هغه څه چه غوره او اغزمن حکومت لپاره اړين دي ډير کم او ټيټ دي. لکه څرنګه چه په ۳.۲۵ شميره انځور کې ښودل شوي دي جنوبي او ختيځې سيمې پدې برخه کې د بشري قوې په برخه کې د ډيرو ستونزو سره مخامخ دي. ۳.۲۵ شميره انځور. د ۲۰۱۱ کال د فبرورې د ارقامو او شميرو په اساس د نوموړو سيمو په ۱۱ ولايتونو کې د دولتي وزارت خانو ٪۴۰ تشکيل کم دي، او يو شمير هغه مهم او کليدي پستونه چه د عامه خدمتونه د وړاندې کولو لپاره خورا اړين لا هم تش پاتې دي.[217]

د USAID د معلوماتو په اساس افغان دولت د محلي مسولينو د ګمارنې په برخه کې د لاندې ستونزو سره مخامخ دي:[218]

- د مالي، تخنيکي او لوژستيکي ملاتړ کموالى
- په ولايتي کچه د امنيت نشتون
- د بشري منابعو کمزوري فعاليتونه
- ټيټ معاشونه او د اضافه کارې او اتفاقي او خطرناکو پينو لپاره د ځانګړو امتيازاتو نشتون
- د دولت ضد قوې پروپاګنډ


د امريکا متحده ايالاتو د خزانې وزارت ته هم دا په ډاګه شوې ده چه د افغان دولت مالي او د عامه مالي چارو د تنظيم په برخه کې پر نړيوالو مرستو تر حده ډيره اتکا سبب شوې چه بايد افغانستان د خپل تخنکي ظرفيت د لوړولو په برخه کې زيات کار او ډيرې هڅې ترسره کړي. که څه هم په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د عامه خدمتونه انسټيټوټ ۱۶۰۰۰ تنه وروزل خو هغوى لا هم د مالي مديريت په برخه کې د عملي تجربو د نه درلودلو د ستونزې سره مخامخ دي. برسيره پردې، کله چه يو شمير کارکونکي په دولتي يا حکومتي ادارو کې تجربه ترلاسه کړي نو هغوى د نړيوالو ادارو او يا هم د غير دولتي موسساتو لخوا جذب کيږي، کوم چه دغه تجربه لرونکو کارکوونکو ته د دولتي ادارو په نسبت زيات معاش او امتيازات ورکوي.[219]

د ناامنه ولايتونو لپاره د بشري قوې د ګمارنې د ستراتيژې څخه په ګټه اخيستلو د امريکا متحده ايالات د افغانستان د دولت او عامه خدمتونو د کميسيون (CSC) سره په ګډه کار کوي تر څو په نا امنه ولايتونو کې غوره عامه خدمتونه وړاندې کړي. نوموړې ستراتيژې چه د ۲۰۱۰ کال د منې په فصل کې طرح شوې د مختلفو لارو چارو څخه په ګټه اخيستلو په دندو باندې د کارکوونکو ګمارنه اسانه کوي:[220]

- د امنيتي خدمتونو څخه په ګټه اخيستلو د اوسنې لاس ته راوړنو خوندي او محفوظ ساتل.
- د جندر په برخه کې د عامه پوهاوي زياتوالى، په حکومت کې د ښځينه کارکوونکو ګمارنه، او د هغوى د کورنې او د هستوګنې د اسانتيا برابرول.
- د بشري منابعو په برخه کې د قوي ځانګو يا واحدونو معرفي کول
- د معاشاتو لوړول
- د عامه کارکوونکو لپاره د خوندي هستوګنځي د امکاناتو زياتول
- د ښکاره او رڼه کار ترسره کول

3.25 انځور

د ملکي خدمتونو تناسب تش بستونه، انتخاب شوي ولايتونه (فيصدي)




يادونه : د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمير دغه معلومات د معارف، کرهنې، کورنيو چارو، روغتيا، ماليې، او معلوماتي تيکنالوژي د وزارتونو او د محلي اورګانونو د ادارې په تشکيل کې د ملکي او يا هم د قراردادي‌انو لخوا د هغه پستونو چه نه د ملکي او نه هم د قراردادي کارکوونکو لخوا نه دي ډک کړل شوي او تش دي د فيصدي په اساس ښکارندوي کوي USAID يوازې د 14 ډيرو نا امنه ولايتونو ارقام ورکړي دي.

سرچينه: د سيګار د 4/1/2011 نيټې پوښتنې ته د USDA ځواب

د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د میاشتې څخه نیولې بیا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې پورې د امریکا متحده ایالاتو د اداري اصلاحاتو او ملکي خمتونو خپلواک کمیسیون او محلي ارګانونو د خپلواکې ادارې سره د یو شمیر فعالیتونو او اقداماتو په ترسره کولو کې مرسته او همکاري کړې ده، په کندهار، ارزګان او زابل کې د مناسبه کار موندنې د فعالیتونو ترسره کول چه په پایله کې یې ۳۲۲ عامه یا ملکي کارکوونکي په دندو باندې وګمارل شول. USAID ته معلومه شوه چه په کندهار ولایت کې پرمختګ د امنیت په برخه کې د مثبت بدلون، د خوندي ځاي د برابرولو، په موقت ډول د کار لپاره د تحصیلاتو او د تجربو د غوښتنو ټیټول او د افغانستان لپاره د USAID د ملکي خدمتونو د ملاتړ د پروګرام (ACSS) او د ایساف د مرستو پایله وه.[221]

برسیره پر دې د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱ مې نیټې سره سم، د عامه خدمتونو کمیسیون(CSC) په ولایتونو کې د بشري منابعو دفترونه رامنځ ته کړي تر څو د حکومتي بشري منابعو د فعالیتونو په برخه کې ښوالی او مثبت بدلون راشي. CSC همدا ډول د ولایتي چارو د ریاست له طریقه د یو نمونه ولایت چه د دولتداری په برخه کې په ولاتي کچه د مرکز په ډول وکارول شي په برابرولو هم کار کوي.[222]

## د بودجې تنظیم او اداره


د ۲۰۱۱ کال مارچ په ۱۲ مشرانو جرګې په رسمي ډول ولسي جرکې ته ملي بودجه وړاندې کړه. د دې کال لپاره ټولو بودجه ۲۱۰،۷ ملیارډ افغانیو ته رسیږي - چه د ۲۰۱۱ کال لپاره د افغانستان د مالیې وزارت لخوا د اټکل شوو عایداتو چه ۹۲ ملیارډ ډالره افغانۍ وې دوه برابره زیاته ده.[223] د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، د مشرانو جرګې بودجه د ۲۰۱۱ کال د فبروري په میاشت کې منظوره او تصویب کړه، خو ولسي جرګې نوموړې بودجه رد کړه. د دې راپور د چاپ د استولو تر وخته، وروستي بودجه د تصویب په موخه دویم ځل نه وه وړاندې شوې.[224]

### د بودجې تطبیق

د افغانستان بودجه په دوو برخو باندې ویشل کیږي: مرکزي بودجه (چه په هغه کې عملیاتي او پرمختیایی بودجه راځي) او بهرنی بودجه ( چه په هغه کې د امنیتي او پرمختیایی چارو ټول لګښت او مصرف د نړیوالې ټولنې لخوا ورکول کیږي).[225] مرکزي بودجه د مخلتفو منابعو څخه مرسته ترلاسه او تمویلیږي؛ باوري فنډونه د نوموړې بودجې سره د نړیوالو مرستو ډیرۍ برخه جوړوي.[226]

3.26 انځور

د عملیاتي یا عادي بودیجې تطبیق، 1383 – 1389 شمسي کاله ( د ملیارډ افغانیو په اساس)




یادونه : د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر یو ډالر معادل دي د 46،23 افغانیو سره SY= شمسي کال چه د مارچ د 20 څخه بیا د بل مارچ د 21 سره برابریږي.
سرچینه: د سیګار د 4/5/2011 نیټې پوښتنې ته د خزانې ځواب

3.6 جدول

**د پرمختیایی بودجې تطبیق، د پنځو سترو وزارتخانو بودجې، ۱۳۸۷ – ۱۳۸۹ هجري شمسي کالونه**


| وزارت | منظور شوې بودجه ( د ملیارډ افغانی په حساب) | لګول شوې یا مصرف شوی ( د ملیارډ افغانی په حساب) | د تطبیق کچه (%) |
|---|---|---|---|
| کورنیو چارو | 64.7 | 61.1 | 94 |
| دفاع | 60.6 | 60.1 | 99 |
| ښوونه او روزنه | 49.1 | 47.9 | 98 |
| د شهدا، معلولینو او ټولینزو چارو | 14.7 | 13.6 | 93 |
| مالي | 8.1 | 7.9 | 97 |

یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

سرچینه: د سیګار د 4/5/2011 نیټې پوښتنې ته د خزانې ځواب

3.27 انځور

د انکشافي بودیجه تطبیق، د -1387 1389 شمسي کال ( د ملیارډ افغانیو په اساس)




یادونه : د راغونډولو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمیر یو ډالر معادل دي د 46،23 افغانیو سره SY= شمسي کال چه د مارچ د 20 څخه بیا د بل مارچ د 21 سره برابریږي.

سرچینه: د سیګار د 4/5/2011 نیټې پوښتنې ته د خزانې ځواب

### عملیاتي بودجه

د ۱۳۹۰ هجري شمسي کال لپاره وړاندیز شوي عملیاتي بودجه ۱۵۰ ملیارډ ډالره ده، نوموړې نیټه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۲۱ څخه بیا د ۲۰۱۲ کال د مارچ د ۲۰ سره سمون لري. عملیاتي بودجه د تیرو درو کلونو راپدیخوا په پرلپسې ډول زیاتیږي، په ۱۳۸۷ شمسي کال کې ۷۸،۲ ملیارډ افغانی، په ۱۳۸۹ شمسي کال کې ۱۱۶،۵ ملیارډ افغانیو ته اوچته شوې ده، دا هرڅه په کې هم ښودل شوي دي.۳.۲۶ شمیره انځور. عملیاتي بودجه عموما د ستندونکي لګښتونو لکه اجورې او معاشاتو څخه جوړه شوې ده.[227]

د بودجې د زیاتوالي پدې موده کې افغان دولت توانیدلی دي چه د عملیاتي بودجه ۹۱ په سلو کې مصرف کړي. لکه څرنګه چه په کې ښودل شوي دي د سترو وزارتخانو د عملیاتي بودجې د کاروني یا مصرف فیصدي ۹۳ په سلو کې وه.۳.۶ شمیره جدول.[228]

### پرمختیایي بودجه

د ۱۳۹۰شمسي کال لپاره مرکزي پرمختیایي بودجه ۶۵،۹ ملیارډ افغانی وړاندیز شوې ده. د تیرو درو پرلپسې هجري شمسي کلونو په ترڅ کې پروختیایی بودجه د ۱۰۸ او ۱۲۱ ملیارډ افغانیو ترمنځ اندازه شوې ده. د ۱۳۸۷ څخه بیا تر ۱۳۸۹ شمسي کلونو پورې د افغانستان دولت لخوا د پرمختیایی بودجې مصرف په اوسط ډول ۴۰٪ دي. Tپرمختیایی بودجه په حکومت کې د سترو لګښتونو، د قانون د حاکمیت، زیربنا، تعلیم او تربیه،

روغتیا، کرهنه او د کلیو پراختیا، ټولنیز خوندیتوب او د خصوصي سکتور پراختیا شامله ده.[229] Tلکه څرنګه چه په کې ښودل شوي دي، په عمومي ډول د پرمختیایی بودجي کارونه او ګټه اخیستنه ټیټه وه.۳.۲۷ شمیره انځور. د تطبیق یا ګټي اخیستلو کچه د ۱۳۸۷ کال د ۴۲٪ څخه بیا د ۱۳۸۸ کال تر ۳۶٪ پورې د تغیر په حالت کې وه، او لکه څرنګه چه په کې بیان شوي دي د وزارتو په سطح د نومورې بودجي د کارولو په کچه او فیصدي که د پام وړ توپیر موجود دي.۳.۷ شمیره جدول . [230]

لکه څرنګه چه د سیګار په تیرو راپورونو کې هم اشاره ورته شوی وه د افغانستان دولت په پرلپسي ډول د پرمختیایی بودجي د مصرف په برخه کې د ستونزو سره مخامخ دي. د ۲۰۱۱کال د فبرروي په میاشت کې د مالي وزارت مرستیال په یوه خبري کانفرانس کې د پرمختیایی بودجي د نیمګړي مصرف لاملونه د امنیت کموالی، د ملي شوار څخه د بودجه ناوخته او په ځنډ منظوري، په اداره کې د ظرفیت ټیټوالی، او د نورو سازمانونو مداخله په ګوته کړل.[231]

## د بودجي د طرحي او جوړولو د برخي ظرفیت

د امریکا د خزاني د چارواکو په وینا، د افغان دولت د پلان او بودجي جوړولو ستونزې په مرکزي کچه د حکومتي بودجي جوړولو د واحدونو او د ولسوالیو او ولایتونو په کچه د هغه د استازو ادارو تر منځ ته مناسب او اړیني همکاري او مشورو د نشتون له کبله ده. که څه هم ولایتي ریاستونو د بودجي د تطبیق په برخه کې ابتدایی او لومړني مسولیت لري خو بیا هم د دې پرځای چه محلي حکومت پدې اړه پلان طرحه کړي مرکزي اداري دا کار کوي. برسیره پردې، د غیر فعالو پرمختیایی پروژې نا کارولي پیسي د نورو پروژو لپاره پدې نیت د ګټي اخیستلو لپاره وراندي کیږي چه ګواکي مرسته کونکي یا تمویل کونکي اداره به لاهم دغه پیسي د بلې پروژې د تطبیق لپاره ورکوي. [232]

د خزاني وزارت د تخنیکي مرستو دفتر (OTA) د افغان وزارتونو سره ګډ کار کوي تر څو نومورې وزارتونه د پرمختیایی پروژې د مصرف او څار په برخه کې د لوړ ظرفیت خاوندان شي، پدې مرستو کې د افغانستان د مالیي وزارت سره د ولایتونو په کچه د غوره ملکي خدمتونو د وړاندي کولو په برخه کې د ظرفیت د ارتقا په برخه کې مرستي هم شاملي دي. OTA پدې ربع کې یو شمیر نور پرمختګونه هم وپیژندل چه په هغوی کې د مالیي وزارت لپاره د بودجي جوړولو په برخه کې روزنه، د مالیي وزارت سره د ارتباطاتو د ټینګولو په برخه کې مرسته او د اړوند ریاستو سره د PRT د مرستو او همکاری په اړه PRT ته روزنه شامله ده.[233]

3.7 جدول

**د پرمختیایی بودجي تطبیق، د پنځو سترو وزارتخانو بودجي، ۱۳۸۷ – ۱۳۸۹ هجري شمسي کالونه**

| وزارت | منظور شوي بودجه ( د ملیارډ افغانی په حساب) | لګول شوي یا مصرف شوي ( د ملیارډ افغانی په حساب) | د تطبیق کچه (%) |
|---|---|---|---|
| د کلیو پراختیا او بیارغونه | 75.6 | 31.8 | 42 |
| ملکي یا عامه خدمتونه | 69.0 | 25.8 | 37 |
| اوبه او انرژي | 40.0 | 17.3 | 43 |
| ښوونه او روزنه | 28.1 | 11.4 | 41 |
| عامه روغتیا | 20.6 | 11.3 | 55 |

یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.
سرچینه: د سیګار د 4/5/2011 نیټې پوښتنې ته د خزاني ځواب

د خزانې چاروکو همدا ډول د افغان دولت لخوا د بودجې څخه د لا ښې ګټې اخیستلو په اړه هم یو شمیر وړاندیزونه ترلاسه کړل:[234]

- د پلان جوړوني د چارو د لا پرمختګ په موخه باید د خریدارۍ د پروسې په اړه ټول اسناد چمتو او اماده وي.
- د دې پرځای چه د یوه کال لپاره ځانګړې بودجه تصویب او وکارول شي د څو کلنو لپاره د یوه بودجه طرحه شي ترڅو د پروژو په تطبیق کې رامنځ ته شوی ځنډ ستونزه حل او د یو کال څخه بل کال د پیسو د لیږدولو امکان رامنځ ته شي.
- په ولایتي سطحه د ظرفیتونو او وړتیاو تقویه
- د بودجې جوړولو په برخه کې د پوهې زیاتول

### د بودجې په اړه شفافیت

د تیرو درو میاشتو په ترڅ کې د نړیوالې بودجې شراکت(IBP) چه په امریکا میشت د بودجې او پالیسی د لومړیتوبونو په اړه اساسی مرکز دی د ۲۰۱۰ کال د پرانیستو بودجو په اړه خپله سروې اعلان کړه، او د افغانستان د بودجې د شفافیت یی په " ډیر کم یا اصغري" بیان کړې وه( یعني د ۱۰۰ څخه یی ۲۱ نمبرې ترلاسه کړې وې). خو د دې اعلان پراساس د پخواني سروې په پرتله چه په ۲۰۰۸ کې ترسره شوې وه ۱۳ نمبرې شوالی راغلې دي، په هغه سروې کې د افغانستان د بودجې د شفافیت کچه "نیمګړې یا ناکافي" بیان شوې وه. IBP ویلي چه د افغان دولت لخوا د بودجې په اړه د اسناد خپرولو د بودجې د شفافیت په رامنځ ته کولو رغنده رول درلود. خو سروې په افغان دولت باندې د اجرایی بودجې د طرحې د نه خپرولو له امله انتقاد کړې دی، نوموړی سند د IBP په باور د بودجې د اسناد په ډله کې تر ټولو مهم سند دی. IBP همدا ډول ویلي چه په عمومي ډول د افغانستان د مالیې وزارت د کارکوونکو ظرفیت او وړتیاوې لوړې شوې دي کوم چه د نړیوالې ټولنې د مرسته له برکته دي. په نوموړې سروې کې د فعلي بودجې جوړولو د طرحو او شفافیت، ګډون کوونکي او د حساب ورکونکې بودجوي سیستمونو څخه ګټه اخیستل شوي ده.[235]

## د ملکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ظرفیت ارتقا او لوړول

د امریکا هیواد د افغان دولت د وزارتونو، ځایی یا محلي او ولایتي ادارو او د ملکي خدمتونو د ادارو سره د د ظرفیت د لوړولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي.

### د بهرنیو چارو د ادارو اصلاحات یا ریفورم

د دې درو میاشتو په ترڅ کې USAID د افغان دولت د بهرنیو چارو د اداراتو د اصلاحاتو یا ریفورم لړۍ پیل کړې ده. اټکل کیږي چه نوموړي پروګرام به په لومړي کال کې ۹،۶ میلیون ډالره لګښت راځي او د راتلونکو دوه اختیاري کالونو لپاره ۲۵،۳ میلیون ډالره اټکل شوې دي. دا پروګرام درې موخې او اهداف لري:[236]

1. د افغانستان د بهرنیو چارو دوزارت د کارونکو سره دد پالیسی او د ادارې دندو د پرمخ وړلو لپاره د ظرفیت لوړولو په برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته کړي.
2. د بهرنیو چارو د وزارت د مرکز او د افغان دیپلوماتیک او کونسلګری د ماموریت پرمختیا او تقویه
3. د بهرنیو چارو د وزارت سره د ۱ او د ۲ هدف ته درسیدلو په برخه کې د سوداګریزو فعالیتونو او تجهیزاتو وړاندې کول.

USAID ته د افغان مسولینو سره په همهغه لومړی جلسه که معلومه شوه چه د ستراتژی سره سم د چارو په مخ وړلو او د پلان د تطبیق په برخه کې پرمختګونه شوي دی، پدې لړ کې د دندو لپاره دپلان جوړونه، د چارو څخه د څار په موخه د پلان جوړونه او د پلان توسع شامله ده.[237]

### د افغانستان د ملکي خدمتونو سره ملاتړ او مرسته

د افغانستان لپاره د USAID د ملکي خدمتونو د ملاتړ پروګرام (ACSS) د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کميسيون سره د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو او د دې برخې د کارکونکو د روزنې په برخه کې مرسته او همکاري کوي. د ۲۰۱۱ کال د جنوري تر مياشتې پورې نوموړي پروګرام ۱۹۶ ميليون ډالره لګولي او اټکل کيږي چه د ص۲۰۱۱ کال د مي د مياشتې په ۳۱ نيټه بشپړ شي، که څه هم د ۲۰۱۱ کال لپاره د ۱۹،۵ ميليون ډالرو د زياتولو وړانديز تر څيړنې لاندې دې. ACSS پدې موخه فعاليت تر سره کوي چه په وزارتونو کې د ملکي کارکوونکو کاري وړتيا لوړه کړي او هغوی وتوانيږي چه په سمه توګه د نوي عصر سره عيار، منسجم او منظم او د عامه اداري چارو سره د هيواد په ګچه سمبال او برابر شي. د USAID په وينا، ACSS د ملکي خدمتو په برخه کې د لوړ رتبه پوستونو لپاره د ښايسته سالاري اصل ټاکلی، دبشري منابعو لپاره يې د معلوماتو ليږد مديريت خپل کړي او د فعاليتونو او کار د ارزونې لپاره يې نوي پرمختګونه رامنځ ته کړي دي.[238]

### د واليانو د کړنو پربنسټ بوديجه

لکه څرنګه چه د سيګار په تيرو راپورونو کې هم راغلي وو د USAID د واليانو د کړنو پر بنسټ د بودجې پروګرام د واليانو سره د خپلو اړوندو چارو د غوره اداري او تنظيم او د په ټولنه کې د عامه پوهاوي د پروګرام پراختيا چه په هغه کې شوارګانو دايرول راځي کار کوي. نوموړی پروګرام د ايشيا فاونډيشن لخوا اداره کيږي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نيټې پورې د نوموړي پروګرام د پرمخ وړلو لپاره ۱۶،۳ ميليون ډالره منلي او ۱۳،۵ ميليون ډالره مصرف کړي دي.[239] د ۷۵ ميليون ډالرو په ارزښت د ۱۸ مياشتو توسعه د بياکتنې او غور لاندې وه.[240]

د USAID په وينا نوموړی پروګرام په ځانګړي ډول په بادغيس ولايت کې ډيره ښه پرمخ تللی دی. د نوموړي ولايت والي د نوموړي پروګرام څخه په ګټه اخيستلو يو زيات شمير دفترونو د پريکړه کولو او د پلان او بودجې جوړونې د پروسې لپاره يې د ولسواليو د دولتداری د فنډونو د جوړولو په برخه کې کار اخيستی دی.[241] According to د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا، په تخار او کندوز ولايت کې د PRT د معلوماتو پر اساس د نوموړی پروګرام څخه دغه دوو ولايتونو ته په مياشتنې ډول د ۲۵۰۰۰ ډالرو ورکول د نوموړي ولايت د رهبري سره د عملياتي بودجې په ثبات کې مرسته کړې او د واليانو سره يې مرسته کړې چه د حوزو غوښتنو ته ژر ځواب ووايي.[242] د USAID په وينا دغه پروګرام په پروان، پنجشير او بغلان ولايتونو کې نسبتآ په نيمګړي ډول ترسره کيږي. پدې ولايتونو کې فعاليتونو د مرستو د اهداف په اړه د سم پوهاوي د کمبود، په ولايتي سطحه د ټيټ ظرفيت، د ټاکل شوو ادارو لخوا د مناسب ځار د نه شتون او د ناقص پلان جوړونې د ستونزو سره مخامخ شوی دي.[243]

### د افغانستان د ښاروليو د تقويې پروګرام

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نيټې پورې USAID د افغانستان د ښاروليو سره د مرستو په لړ کې ۲۱ ميليون ډالره منلي او ۱۴ ميليون ډالره يې مصرف کړي دي. د پروګرام غږي په ولايتونو کې د ښاروليو سره ګډ کار او مرسته کوي ترڅو د هغوی ظرفيت لوړ او خلکو ته غوره عامه خدمتونه وړاندې کړي. د USAID په وينا، نوموړي پروګرام په پښتو ژبه يو مالي سيستم راټول او بشپړ کړي دي چه په کندهار ولايت کې د عايداتو توليد، د ځمکو نومونه او يې رول تعقيب اسانه کوي. د يې رول يا د کارکونکو د حقوقو ليست اوس يوازي په دری ساعتونو کې بشپړيږي.[244]

د پروګرام د تطبيق پر وړاندې لويه ستونزه د مخالفينو لخوا د ښاروالی د کارکونکو په ګوته کول دي. برسيره پردې د خصوصي امنيتي کمپنيانو د فعاليت د بندولو په اړه د ولسمشر فرمان هم ابهام فضا رامنځ ته کړه او د کارکوونکې تحرک يې محدود کړ او تقريبا د ټولو پروګرامونو تطبيق يې د ۲ مياشتو لپاره د خنډ سره مخامخ

### د سيګار پلټنې

د افغانستان ملي پيوستون په اړه د سيګار پلټنه تر ډير حده پورې د ځايی حکومت په برخه کې د ظرفيت د لوړولو او د وړو پروژو د اداري لپاره د ټولنې د پرمختيايی شوراګانو ته د غږو د ټاکو پر مسله باندې ترسره شوې ده. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړې ۱ برخې، ۴ پاڼې ته ستانه شي.

کړ تر هغه پورې چه يو بديل پلان تصويب شو. برسيره پردې د کارکونکو ګمارل او د شاروالي د کارکوونکو د حاضرۍ ساتل هم لويې ستونزې راپورته کړې دي. USAID همدا ډول د يو شمير شاروالانو لخوا د هغه پروګرامونه د تطبيق په وړاندي د عکس العمل شايد وو چه اصلي موخه يې د شفافيت او د حساب ورکولو د اصولو پرمختګ و.[245]

### د افغان عامه ټولنو د پرمختګ په برخه کې د USAID ابتکار

په د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د مياشتې چه د پروګرام د پيل سره سمه ده بيا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې USAID د افغان ملکي ټولنې د ارتقا په موخه تر ۸ ميليون ډيرې مرستې منلي دي. دغه پروګرام افغان وګړو ته دا امکان برابروي چه په سياسي چارو کې په اساني ګډون وکړي، د ټولنې ستونزې حل کړي او د خپلو رهبرانو څخه د غوره دولتدارۍ غوښتنه وکړي. USAID ته معلومه شوه چه د نوموړي پروګرام ملي حقوقي کميټه لپاره استازي غوره شوي او خپل عملياتي او ستراتيژيک کاري چوکاټ يې نهايي کړی دي. برسيره پردې نوموړي پروګرام د عامه ټولنيزو سازمانونو لپاره زيات شمير د وړو مرستو موقع او فرصتونه چمتو کړي دي. د USAID په وينا نوموړي پروګرام د خصوصي امنيتي کمپنيو د بنديز د ستونزې له کبله له ستونزو او ننګونو سره مخامخ شوې ده.[246]

## قضايي اصلاحات او د قانون حاکميت

د USAID په وينا د افغانستان په اوسني قضايي سيستم کې تر ټولو ډيره توجه او پاملرنه د ولايتونو او ولسواليو په کچه محاکمو ته پکار ده او دا پاملرنه بايد د بشري قوې او هم د وړتياو او ظرفيتونو د لوړولو په برخه کېږي. په ځينې سميو کې ممکن دغه محاکم د هغه محکمو تر سيوري لاندې راغلې وي چه د دولت مخالفينو رامنځ ته کړې دي. دغه ټولو محاکم په هغه ولسواليو کې چه دوی پرې حاکم او تسلط لري د هغوي د مشرعيت او اعتبار لپاره خورا اغزمن تمام شوي دي.[247]

د USAID په وينا په هغه ولايتونو کې چه امنيت يې خراب دي د قانون د حاکميت د ادارو د ظرفيتونو او وړتياو د لوړولو لپاره بايد هم د افغانستان دولت او هم د امريکا متحده اياالاتو په ګډه زيات شميره فعاليتونه ترسره کړي:[248]

- د واليانو او د عدليې وزارت تر منځ ته همغږي او همکاري زياتول
- په هغه ولسواليو کې چه د مخالفينو د حضور څخه پاکې شوي دي د قاضيانو د ځای پر ځای کولو او محاکمو د پرانيستلو لپاره د يوه پلان طرحه کول.
- د عدليې وزارت او د قضايي غوراوي هيئت سره د قاضيانو د ګمارنې يا بيا ټاکنې په برخه کې مرسته او ملاتړ.
- د ټولنې د هغه قاضيانو سره چه د شورا لخوا ګمارل شوي دي مرسته او همکاري
- د ټولنې د قاضيانو ګمارنې او د قانون د حاکميت په برخه کې دهغوی روزنه

## د جنايي کړنلارو قانون

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کې تقنين – چه د عدليې وزارت د قانون د طرحه کولو اداره ده- د جنايي کړنلارو د قانون په اړه خپله پلټنه بشپړه او هغه يې د نړيوالې ټولنې سره شريکه کړه. د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې او د قانون د حاکميت د اداري(INL) په وينا پدې طرحه کې د ۲۰۰۹ کال د هغه قانون په نسبت چه د جرمي قانون د اصلاحاتو د کاري ګروپ لخوا رامنځ ته شوی وو ستر توپيرونه ليدل کيږي.

د نوموړي کاري ګروپ لخوا د تقنيق طرحه چه د INL قضايي سکتور د ملاتړ ګروپ يې په ګډه مشري کوي يو زيات شمير داسي نيګړتياوې درلودلې چه د افغانستان د اساسي قانون او د نړيوالو معيارونو سره په ټکر کې وې او د INL په وينا بايد هغه ته توجه وشي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې نوموړي کاري ګروپ د وړانديزونو په يوه لنډيز باندي کار کاوه چه د تقنيق لخوا بياوکتل شي.[249]

## د افغانستان د مالي انتقالاتو او راپور ارزوني مرکز يا FinTRACA

پدې درو مياشتو کې د افغانستان د مالي انتقالاتو او راپور ارزوني مرکز يا FinTRACA د مشکوکو مالي انتقالاتو په اړه د راپورونو د ترلاسه کولو، تحليل او خپرولو په برخه کې خپل پرمختګ ته دوام ورکړي دي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې FinTRACA د پيسو د منځلو په اړه د ۲۱ قضيو په تحقيق باندي کار پيل کړي دي. د دې شمير قضيو څخه پنځه قضيې د افغانستان د پيسو د منځلو او د ترور د فعاليتونو د تمويل په وړاندې د قانون پر اساس د افغانستان لوی څارنولي ته د عدلي تعقيب په موخه استول شوي دي. د تجارتي بانکونو څخه د ترلاسه شوو برقي معلوماتو څخه په ګټې اخيستلو، FinTRACA د سياسي اړه د افشأ شوو اشخاصو په اړه يو برقي معلوماتي زيرمتون جوړ کړی دي- لوړ رتبه ملکي مسولين د هغوی کورنی او د هغو ملګري – تر څو د بانکونو سره مرسته وشي چه د دې ډول کسانو د بانکي حسابونو په اړه اړين ګامونه اوچت کړي.

د خزانې چارواکو ته دا هم معلومه شوې چه FinTRACA داسي سافټ وير لري چه کولاي شي د قانون د تطبيق کوونکو ادارو سره معلومات په برقي او خوندي ډول شريک کړي. OTA د FinTRACA سره خپل يو ځايی سلاکار د ۲۰۱۰ کال د ديسمبر تر مياشتې پورې په دنده ګمارلی و؛ او د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نيټې پورې يې د يو بديل کس په اړه بياکتنه کوله.[250]

## د قضايي سيستم سره دامريکا د متحده ايالاتو مرستې

د امريکا متحده ايالات د افغانستان د قضايي سيستم سره د مرستې په موخه زيات شمير پروګرامونه لري. پدې هڅو کې د څارنوالانو، قاضيانو او محقيقنو روزنه او د رسمي او غيررسمي حقوقي پروسې پرمختګ د عامه پوهاوي او د ستونزو د حل د لارې چارې شاملې دي.

## د متحده ايالاتو لخوا د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام

د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام JSSP چه د INL تر اداري لاندي خپل چارې پرمخ وړي د افغانستان د جرمي عدلي سيستم د ظرفيت د لوړولو په برخه کې کار او فعاليت کوي. د نوموړي پروګرام مسولين د افغانستان د عدلي مسلکي مسولينو سره ګډ کار کوي، چه په هغه کې څارنوالان هم شامل دي او د مدافع وکيلانو او د عدلي سيستم د نورو مسولينو تر منځ په ګډه همکاري باندي تاکيد کوي او هغوی د نوموړي کار د ترسره کولو په برخه کې هڅوي.[251]

د INL د معلوماتو پر اساس، پدې ربع کې ۱۳۹ تنه څارنوالان، مدافع وکيلان، قاضيان او جرمي محقيقين د JSSP د روزنيز پروګرام څخه فارغ شول.[252] JSSP د خپلو کارکوونکو په شمير کې يو شمير امريکايي او ځايي افغان څارنوالان هم ورزيات کړي، چه پدې سره د ۲۰۱۰ کال د يسمبر د مياشتې په نسبت چه د کارکونکو شمير۱۰۷ تنه و د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نيټې پورې ۱۲۷ تنه ته اوچت شوي. د JSSP هدف د خپلو کارکونکو شميره ۱۵۸ تنه دي چه تر اوسه بايد نوموړی هدف ترلاسه شي.[253]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې سره سم، INL د خپلو تجربو څخه په ګټې اخيستلو د JSSP د راتلونکي لپاره د تګ لارو او طرزالعملونو په جوړولو بوخت وه. انتظار کيږي چه يو د تغيراتو څخه به د امريکا سفارت ته د يو شمير فعاليتونو ليږد او انتقال وي.[254]

پدې درو میاشتو کې INL د یوې نوي پروګرام لپاره د ۴،۷ میلیون ډالرو په ارزښت د مرستو منظوري ورکړه نوموړي پروګرام به افغان وګړي قادره کړي چه عدلي اسانتیاو ته غوره او اسانه لاس رسی ولري. نوموړې مرستي کلوبل رایټس ته ورکړل شوې، چه د بشر د حقوقو په برخه کې کارکونکي نړیوال سازمان دي او د ظرفیت د لوړولو چارې پرمخ وړي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا نوموړي پروګرام به د راتلونکو حقوقي او بشري ساتونکو د عملي وړتیاو د تقویې په برخه کې کار کوي او د کورنیو قانوني غوښتونکو لپاره به عدلي اورګانونه ته لاس رسی اسانه کړي. د دې پروګرام په ترڅ کې به د ننګرهار، هرات او مزار شریف د پوهنتونونو د حقوقو او شریعاتو د محصلین او استادان د ښځو او د بشري حقوقو په برخه کې روزني تر لاسه کړي. په مزار شریف، کابل، هرات او ننګرهار کې به د حقوقي سلامشورو اداري هم تاسیس کړل شي تر څو د دې سیمو خلک کورنیو محاکمو ته لاس رسی ولري.[255]

## د قانون د حاکمیت او د ثبات پروګرام

د USAID د قانون د حاکمیت او د ثبات پروګرام دوې برخي لري: رسمي او غیر رسمي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نیټي پورې هر برخي ۱۰ میلیون ډالره لګولي دي، او اټکل کیږي چه د دواړو پروګرامونه به د ۹،۵ میلیون ډالرو په لګولو سره بشپړ شي. د USAID د معلوماتو پر اساس د دواړې برخي درې موخي لري:[256]

- په حقوقي او قضایی برخه کې د ظرفیت لوړول او پراختیا
- د قانون په اړه د عامه پوهاوي تقویه
- د غیر رسمي قضایی سیستم له لارې د ثبات تقویه او لوړول

د دې درو میاشتو په ترڅ کې USAID ته معلومه شوه چه رسمي پروګرام د حقوقو او شریعاتو د پنځو ادارو لپاره څیړنیز سیالي محاکمه په ترسره کړې او د نویو قاضیانو د روزني په موخه یی یو د محاکمې د جریان یو تمثلي پارچه هم ترسره کړه. USAID د INL، د اروپایی اتحادیې د پولیسو او د جرمني د پولیسو د پروژې د ډلې سره په هغه پروګرام کې ګډ شول چه غواړي د قاضیانو د روزني په موخه د ۱۱ اونیو لپاره یو روزنیز پروګرام په لاره واچوي. د رسمي پروګرام له لارې د حقوقي پوهاوي په اړه د ۱۰۰۰۰۰ کاپي مواد خلکو ته وویشل، او په پکتیکا ولایت کې یی د محکمې د اسنادو د انبار څخه د ۷۳ قضیو د کموالي په موخه د قاضایی تفتیش د ډلو څخه ګټه واخیستله.[257]

USAID په پام کې لري چه د پروګرام رسمي برخه د ۲۰۱۲ کال د جون تر میاشتي وغزوي. او تر هغه وخته USAID په پام کې لري چه لاندي موخي تر لاسه کړي:[258]

- د نویو قاضیانو لپاره د روزني یو کال اوږد پروګرام بشپړ کړي.
- د څلورو سمیزو قضایی مرکزونو په چار چاپیره کې د نویو قاضیانو روزني ته چه د امریکا د حکومت لخوا تمویلیږي دوام ورکړي.
- نورو ولایتونو د ستري محکمې د قضایی تفتیش سفرونه زیات کړل شي.
- د حقوقو او د شریعاتو د ادارو د عملیاتو د اسانیتاو په برخه کې پرمختګ راولي.

د ۲۰۱۱ کال د جنوري په میاشت کې غیر رسمي برخه د پروګرام لپاره د ټاکلو اهدافو د تر لاسه کولو په برخه کې خورا اغزمنه ارزول شوې وه. د USAID په وینا، ارزوني وښودله چه د قانوني حقوقو په برخه کې عامه پوهاوي لوړ او تقویه شوي او د قضایی سکتور د رسمي او غیر رسمي برخو تر منځ ارتباط او اړیکي ټینګې شوې دي. په ختیځ او جنوب کې په ترسره شوو فعالیتونو کې د کلیو د مشرانو سره د قانوني حقوقو په اړه خبرې اترې شاملي دي — په دې غونډو کې ښځو هم ګډون درلود — او د ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره پر لاره اچول شوې وي.[259]

USAID دغیررسمي برخې دپای نیټه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۱۸ څخه د همدې کال دجولای تر ۱۸ نیټې پورې وغزوله. دقرارداد دخبرتیا په موخه USAID پلان لري چه د هیواد په جنوب او ختیځ کې په څلورو نویو سیمو کې فعالیتونو پیل کړي. USAID همدا ډول ویلي دي چه د چارو د قوي او با ظرفیت تعقیب په موخه هم پلانونو د طرحې په حال کې دي.[260]

## د قانون د حاکمیت په اړه سمیز ځواک – افغانستان

د امریکا د دفاع وزارت د قانون د حاکمیت په اړه سمیز ځواک – افغانستان (ROLFF-A) افغانستان د قضایی او اصلاحي ځانګو سره د مختلفو هڅو له لارې مرسته او همکاري کوي، د فساد پر وړاندې د مبارزې دستر دفتر(HOOAC) ، د عدلیې وزارت او د سترې محکمې په ګډون د ظرفیت د لوړولو له لارې دغه مرستې ترسره کیږي. د ۲۰۱۱ کال دمارچ تر ۳۱مې پورې ROLFF-A د افغان دولت لپاره د امنیت، ارتباطاتو، ترانسپورت او د زیربنا په برخه کې مرستې کوله ترڅو په امنه سیمو کې قضایی مرکزونو جوړ کړل شي. ROLFF-A همدا ډول د عدلیې او کورنیو چارو د وزارت سره ګډ کار کوي ترڅو کندهار ولایت ته نږدې د سارپوسه په زندان کې د چهل زیني جرمي تحقیقاتي مرکز ورغوي. دغه مرکز به بندیانو ته د په مسلکي، د شواهدو پر بنیاد تحقیقات او د محاکمې امکانات برابر کړي.[261]

## د زندانونو انتقال

د امریکا د دفاع وزارت په وینا پدې درو میاشتو کې هم په پروان ولایت کې د زندان د مسولیت افغان دولت ته د سپارلو لپاره د افغان دولت د اړوندې برخې د روزنې لړۍ دوام درلود. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې پورې د اجنسیانو تر منځ د۴۳۵ ګډې قوې (CJIATF-435) او ROLFF-A د افغان ملي اردو نظامي پولیسو ته روزنه ورکړې او ۷۰۰ نور یې تر روزنې لاندې وه.[262]

لکه څرنګه چه د سیګار د ۲۰۱۱ کال د جنورې په راپور کې هم رغلي وه د افغان مسولینو ته د لومړي زندان د واک چارې د ۲۰۱۱ کال د جنورې په ۱۷ تر سره شوې، پدې درو میاشتو د بل زندان چارې افغان مسولینو ته نه دي سپارل شوې. د ۲۰۱۱ کال د اپریل تر میاشتې پورې انګل کیږي چه دوه نور واحدونه به هم بشپړ شي، وروسته تر هغه چه د افغان ملي امنیتي ځواک وروزل شي، تجهیز او عملیات ته چمتو شي نوموړي واحدونه به هم وروسپارل شي. وروسته تر هغه چه دغه انتقال صورت ومومي – د امریکا د متحده ایالاتو د حقیقي ځار لاندې- افغانان به د هغه زندان چه حدودا ۱۲۰۰بستره لري مسولیت پر غاړه ولري.[263]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا د زندانیانو سره د چلند په برخه کې د امریکا او افغانستان دولت هڅه کوي ترڅو نوموړي بندیان د APRP پروګرام له لارې ملکي ژوند ته د راستنولو هڅې وکړي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې افغان دولت ۳۲۰ تنه بندیانو ته د ملکي ژوند د راستنیدلو په اړه اساسي او بنیادي زده کړې ورکړې دي ملکي ژوند ته د راستنیدلو پروګرام په خپل لومړنیو مرحلو کې دي نو د امریکا د دفاع وزارت ونه توانید چه د نوموړې زده کړو د موثریت وارزوي.[264]

د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۱۵مه د افغانستان د دفاع وزارت د CJIATF-435 سره هغه زندانیانو ته چه د پروان په زندان کې په حبس کې دي د حرفوي زده کړو ورکولو په اړه یو تفاهم لیک امضآ کړ چه د داوتریخوالي څخه یې د لاس اخیستلو هوډ او پریکړه کړې ده د امریکا د مرکزي قومندې د معلوماتو پر اساس په دې تفاهم لیک کې CJIATF-435 موافقه کړې چه نوموړی پروګرام ترسره او افغان دولت په خپل وار سره دا وعده کړې چه د پروان زندان د مسولیت د سپارلو وروسته به نوموړي پروګرام ته ادامه ورکړي. د معارف وزارت د کورسونو د منظورۍ او د ښونکو د ورپیژندلو له لارې د نوموړي روزنې سره مرسته وکړي.[265]

**د امریکا د دفاع وزارت په وینا په پروان زندان کې ساتل کیدونکي بندیانو کې مجرمین او همدا راز د دولت د مخالفینو مشران چه افغان مسولین یې امنیت خطر ګڼي او د نورو زندانونو څخه یې نوموړي زندان ته د نورو زندانیانو څخه د بیلولو په موخه انتقال کړي دي.**

سرچینه: د افغانستان د بیارغوني لپاره د څانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱|۱|۱۴ ته د OSDځواب.

## پټ زندانونه

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مه نېټې پورې د افغانستان دولت لا هم د نامعلومې مودې لپاره د مخالفینو د بندي ساتلو د فعالیتونو په اړه خپلې څېړنې ترسره کولې د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینه دغه غور او بررسی لا په خپلو لومړنیو مرحلو کې دي. ولسمشر حامد کرزي لا هم په عامه او علني ډول د زندانونو د سیستم په اړه خپل نظر نه دي اعلان کړي، خو هغه دا په ډاګه کړې چه په اینده کې پدې برخه کې ترسره کیدونکي پروګرام باید ملکي ژوند ته د راستنیدلو سهولت د ځانه سره ولري.[266] د امریکا د دفاع او بهرنیو چار د وزارت په اند، افغان دولت باید د زندانیانو څخه پداسي ډول ستانه وکړي چه د افغان دولت او د نړیوالو قوانینو سره تطابق ولري. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د مسلح شخړو قانون ممکن د محکمې پرته د زندانیانو د ساتولو اجازه ورکوي.[267] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته معلومه شوه چه د امریکا دولت د ستونزې په اړه د یو قانوني لارې د رامنځ ته کولو په اړه د افغان دولت سره مرسته او همکاري کوي، ځکه چه په پروان ولایت کې د زندان د چارو د مسولیت د لیږد او انتقال په برخه کې د امریکا هڅې د ستونزې او خنډونه موجود دي.[268]

## ولایتي زندانونه

INL د اصلاحي سیستم د ملاتړ پروګرام(CSSP) تمویلوي، نوموړی پروګرام د افغان دولت سره په ګډه کار کوي ترڅو په انساني اصولو برابر، خوندي او محفوظ اصلاحي سیستم رامنخ ته کړي چه په نړیوالو معیارونو او د افغان فرهنګ سره مطابقت ولري. CSSP په کندهار ولایت کې د ساراپوسه په زندان کې د ملاتړ مرستې او څار مسولیت پر غاړه واخیستلې؛ په تیر وخت کې نوموړي چارې د کاناډا اصلاحي خدمتونو لخوا پر مخ وړل کیدلې.[269]

INL د پل چرخي په زندان کې د صنعتي ودانی د ترمیم چارې بشپړې کړې. د CSSP د سلاکارانو د مرستو له برکته، د پل چرخي زندان د ریاست چارواکو د بندیانو د پایوازانو د لیدنې لپاره د تلاشی او پلټنې لپاره ځانګړې تګ لارې جوړې کړې چه په پنځو برخو کې د سکرینګ نقطې موجودې دي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نېټې پورې د CSSP د مرستې په پایله کې د بندیانو تصنیف چه په ۲۰۱۰ کال کې پیل شوې وه د یو پر دریمه زندانیانو په برخه کې بشپړه شوې ده.[270]

INL زیات شمیر هغه ستونزې وپیژندلې چه اصلاحي سیستم ته ورپېښې دي، په بې ساري ډول د نفوس زیاتوالي، د مرستو کموالی، متزلزله زیربنا، د کارکونکو ټیټ شمیر، د برق د اسانتیا په برخه کې ستونزې او نیګړتیاوې او د نمایندګیو او په کابل کې د مرکز ترمنځ ته نیګړې ارتباطاتو شتون د یو شمیر ننګونو څخه دي.[271]

## معلوماتو ته لاس رسی

د غوره او ښې دولتدارۍ یو اصل بې پرې او مستقل مطبوعات او اګاه ملت ګڼل کیږي. د مطبوعاتو ازادي په افغانستان کې لاهم یوه ستونزه پاتې ده. د USAID د معلوماتو پر بنسټ، د نسبي ازادۍ سره بیا هم ژورنالیستان تهدید، وهل، شکنجه او بیرول کیږي. USAID د مطبوعاتي پرمختیا او قدرت ورکولو د پروژې له لارې د خپلواکو مطبوعاتو سره مرسته او د هغه څخه ملاتړ کوي؛ نوموړي پروګرام په منظم ډول د چارو په اړه څارنه او د مطبوعاتو د ازادۍ او د ژورنالیستانو د تهدید په اړه راپور ورکوي.[272]

د USAID د معلوماتو پر اساس د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID په ګډه د موبایل یا ګرځنده تیلفونونو له لارې معلوماتو ته د لاس رسي څخه په ګټې د غوره دولتدارۍ د رامنځ ته کولو د هڅو څخه ملاتړ کوي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ په میاشت کې USAID د موبایل خبر پروژه پیل کړه، چه د موبایل تیلفونونو خبري خدمتونه دي او خبرونه او معلومات راټول او د کاروکونکو د غوښتنې سره سم یې هغوی ته وړاندې کوي.

USAID اټکل کوي چه یو ځل نوموړي پروګرام خپل فعالیت پیل کړي نو کارونکي به یې رادیویی خپرونې د موبایل تیلفون له لارې په ډیر کم او یا هم د کوم لګښت پرته واوري او د دغه اسانتیا څخه برخمن شي. نوموړي پروګرام معلوماتو ته د لاس رسي د بنسټ لخوا چه د افغانانو پر مشري یو سازمان دي پرمخ وړل کیږي. موبایل تیکنالوژي هم کولای شي د عامه تنظیم په برخه کې رغنده رول ولري. USAID ته معلومه شوه چه هغه د ننګرهار ولایت د ولسواليو شورا ۱۱۳ غړو ته د موبایل له لارې د معاشاتو د ورکولو یو پروګرام پیل کوي، دغه پروګرام د افغانستان د عامه پوهاوي د پروګرام له لارې ترسره کیږي.[273]

## بشری حقوق

د افغانستان د بشري حقوقو مسله لاهم د امریکا د هڅو لپاره یوه د پام وړ مسله ده. دغه برخه د افغانستان د بشري حقوقو په برخه کې د زندانونو، بې ځایه شوو، د ښځو د خوندیتوب او د ماشومانو د حقوقو په ګډون د شمیر مسلو په اړه معلومات بیانوي.

### بندیان او زندانونه

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا، پدې درو میاشتو کې هم د تیر په شان د افغان قانون تطبیق کونکو او امنیتي چارواکو لخوا د خپل سري زندانونو شتون د قانون د حاکمیت او رول په اړه ستره ننګونه او د عامه خلکو په نظر د قضایی او امنیتي چارواکو په اړه پر باور او اعتماد باندي منفي اغیزه کوي. یونما لا هم د ناوړه چلند، د هیڅ ډول محکمې پرته په بند کې د زیات وخت لپاره بندي ساتلو او حقوقي او قانوني سلامشورو بنسټونو ته د نه لاس رسي په اړه چه ملي امنیت د ریاست او د عدلیې وزارت لخوا پرمخ وړل کیږي زیات شمیر ادعاوې او شکایتونه ترلاسه کړي دي. دا پداسي حال کې ده چې سرمنشي ته معلومه شوه چه په یو شمیر بندیخانو کې وضعیت او حالت ښه شوي دي، په ځانګړې توګه په هغه سیمو کې چه د ظرفیت د ارتقا او زیربنا په برخه کې کار پکې شوی دي.[274]

### بې ځایه شوی وګړی

د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۸مه د ملګرو ملتونو د مهاجرینو سترې کمیساری (UNHCR) د پناه غوښتنې د بڼه په اړه خپل کلنی راپور خپور کړ. په کال ۲۰۱۰ کې افغان مهاجرین په نړي کې د ۲۴۸۰۰ پناه غوښتنې د پیښنو په درلودلو سره په نړی کې دویم ځای درلود، دغه سروې په امریکا، اروپا او نورو غوره شوو غیر اورپایی هیوادونو کې د UNHCR سره د ثبت شوو غوښتنو پر اساس دي. نوموړې شمیره د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۹ په سلو کې کموالی ښایی، هغه وخت افغانستان د ۲۷۲۰۰ پیښنو په درلودلو سره په نړۍ کې لومړي مقام درلود. په کال ۲۰۱۰ کې په جرمني کې د (۵۹۰۰) او په سویډن کې د (۲۴۰۰) قضیو په درلودلو د افغانانو لپاره ستر هیوادونه وه؛د امریکا متحده ایالاتو د افغان پناه غوښتنکو لخوا په کال ۲۰۱۰ کې ۵۴۸ پیښې ترلاسه کړې چه تقریبا د ۲۰۰۹م کال د شمیره سره یو شان ده.[275]

د UNHCR اود افغانستان د مهاجرینو د وزارت د معلوماتو پر بنسټ د پناه غوښتنې د پیښنو په شمیر کې دغه کموالی امکان لري په هغه هیوادونو کې چه پناه غوښتنکې لاړ شي د مهاجرت په قانون کې تازه محدودیتونه وي. پدې نږدې کلونو کې په سلګونه افغان پناه غوښتونکي د استرلیا او اروپا څخه بیرته افغانستان ته شړل شوي دي. د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۱۷ مه افغان دولت او د استرالیا هیواد د پناه غوښتنې د مسلې په اړه یو تفاهم لیک امضا کړ. یونما ته معلومه شوې چه د استرالیا هیواد باور لري چه د یادې شوې تفاهم نامې پر اساس هغه هیواد کولای شي هغه افغان پناه غوښتونکي چه د پناه غوښتنې درخواستي یې نه وی منل شوې کولای شي د خپل هیواد څخه وشړي خو افغان دولت بیا دا نه مني او وایي چه د استرالیا هیواد نوړې تفاهم نامه تحریف کړې ده.[276]

**پناه غوښتونکي:** یو کس چه د نړیوالې پناه غوښتنه یې کړې او د مهاجرت د پناه غوښتنې د حالت په اړه تر اوسه هم پریکړه نه ده شوې. په افغانستان کې د پناه غوښتې د ډیری پیښنو اصلي لاملونه د امنیت کمزورتیا، خراب اقتصادي ټولنیز وضعیت او د راتلونکي په اړه ناامیدي او ناباوري جوړوي.

سرچینه: یونما، " افغان پناه غوښتونکي د مهاجرت د سختو قوانینو ښکار شوي،" 3/31/2011؛ UNHCR،" په صنعتي هیوادونو کې د پناه غوښتنې کچه او دود ۲۰۱۰ کال"3/28/2011

د UNHCR د معلوماتو پر بنسټ، د افغان مهاجرینو ډیری برخه اوس هم په منځنی اسیا کې ژوند کوي؛ زيات شمير يې (حدودا ۹۰۰۰۰۰) په ایران او (نږدې ۲ میلیون افغان مهاجرین) په پاکستان کې ژوند کوي. په ۲۰۱۰ کال کې تر ۱۱۰۰۰۰ ډیر افغان مهاجرین خپل هیواد ته ستانه شول، چه د ۲۰۰۹ کال په پرتله چه دغه شمیره ۵۴۰۰۰ وه کره زیاتوالی ښایي.[277] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي په هغه درو میاشتو کې چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۳۱ پای ته ورسیدل، د امریکا هیواد د مهاجرینو په برخه کې کوم غیر دولتي سازمان نه دي پرانیستي او نه یې هم پدې برخه کې کار کونکي کومې اداري لپاره مالي مرستې منلي دي.[278]

## د جندر مساوات

په افغان ټولنه کې د ښځو حقوق د نړیوالې ټولنې او افغان دولت تر منځ یوه د سترو او لانجمنو مسلو څخه پاتې ده. پدې درو میاشتو کې د ښځو د خونديتوب مسله یوه د ګرمو او د مناقشې ډکه مسله وه.

## د ښځو خونديتوب

د USAID په وینا، د افغانستان دولت د ښځو د پناه یا خونديتوب په اړه بیلابیل نظرونه وړاندې کړي دي، چه په افغان ټولنه کې د ښځو د حقوقو په اړه د نزاع طلبي ښکارندوی کوي. د ښځو پروړاندې تاوتريخوالی د منځه وړولو د ۲۰۰۹ کال د قانون او د افغان دولت د ۲۰۰۸-۲۰۰۸ د ښځو په اړه ملي عملتي پلان په رڼا کې ښځو مهم خونديتوب تر لاسه کړ. د USAID په وینا، خو په ۲۰۱۱ کال د جنوري په میاشت کې د خونديتوب په اړه وړاندي شوی طرحي اندیښنې راوپارولي، څکه هغوي د ظرفیت د ټیټوالي او اړه ښځو ته نه د رسیدلو د خطر له کبله د امریکا مرستې د تهدید او خطر سره مخامخ کړې دي.[279]

نوموړې طرحه وړاندیز کوي چه د هغه ۱۱ غیر دولتي سازمانونو مسولیت چه درې یې د بهرنیو چارو د وزارت لخوا د INL له لارې ترسره کیږي غوښتنه کوي چه دغه چارې د افغانستان د ښځو د وزارت لخوا پرمخ یوړل شي. INL همدا ډول درې نوې پروژې چه اټکل کیږي د مې په میاشت کې پیل شي تمویلوي. که چیرې عملي شي نو د دې طرحې د مقرراتو پر اساس د INL ټولې د خونديتوب وړاندې کونکې پروژې باید وتړل شي او په بې ساري توګه به اړه ښځو لپاره د خونديتوب اسانتیاو ته لاس رسی محدود کړي.[280]

د امریکا د بهرنيو چارو د وزارت په وینا د افغانستان د ښځو چارو وزارت د دغه لانجمني طرحې په اړه خپلې مهمې انګیرنې بیان کړي. د اپریل د میاشتي په ۲ مه نیټه باندې نوموړي مقرره د تقنین لخوا په جدي توګه بیاوکتل وشو. په بیاکتل شوي طرحه کې د افغانستان د ښځو د چارو د وزارت، نړیوالې ټولنې، د خونديتوب په برخه کې د غیر دولتي سازمانونو او مدني ټولنو سازمانونو رهبری ته اشاره کوي. د هغه پر اساس د ښځو د چارو په وزارت کې د خونديتوب يو رياست جوړ کړې ترڅو د غیر دولتي سازمانونو لخوا د خونديتوب چارې وڅارې او په نږدې راتلونکې کې په نوموړي وزارت کې د خونديتوب برخه پرانیزي. USAID ته معلومه شوه چه د ښځو چارو وزارت د پروګرامونو د لومړیتوبونو پروګرام (PPR) موخې او اهداف دغه وزارت ته یوازې د څار او د ارزوني فعالیتونو اجازه ورکوي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته جوته شوه چه د امریکا دولت، غیر دولتي سازمانونه او نړیواله ټولنه به د دې حساسې موضوع په اړه د ښځو چارو د وزارت سره ګډ کار ته دوام ورکړي.[281]

د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په میاشت کې د یونما لخوا د " د ناوړه دودونو کارونه او د قانون حاکمیت او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړل"، د ملګرو ملتونو د نفوس فنډ (UNFPA)، د کورنیو چارو د وزارت او د اروپایی اتحادیې د پولیسو په همکاری د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړولو په اړه یو روزنیز منول رامنځ ته او جوړ کړ. د ملګرو ملتونو د سرمنشي له قوله چه ویلي یې دي د افغانستان د پولیسو اکادمی دغه منول په خپل تحصلي پروګرام کې شامل کړی دي.[282]

### د سیګار پلټنې

د ۲۰۱۰ کال د سیګار پلټنې د افغانستان د ښځو او جنکیانو د غوښتنې په اړه د راپور ورکولو او حلولو په موخه او د کانګرس هدایاتو ته په کتو د لا زیاتې همغږي غوښتنه کړې وه. د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړې دې پټې ته www.sigar.mil لاړ شي.

**ځيني افغانان د ښځو د خونديتوب فعاليتونو ته د کور څخه د تيښتې، طلاق اخيستلو، او د غربي دود او فرهنګ د خپلولو او ناوړه دود په سترګه ګوري. د افغان تلويزيون له لارې زيات شمير بد نام کونکي اعلانونه خپاره شوي او وايي چه د ښځو د خونديتوب مسله د فحشا د لومړي ګام په نامه ده. هغه غير دولتي سازمانونه چه پدې برخه کې کار او فعاليت کوي د دغه راز اعلانونو په اړه او د هغوي پر فعاليت، امنيت او د عامه نظر په اړه ډيره اندیښنه لري.**

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۱|۱|۱۴.

## د ماشومانو حقوق

د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۳۰ نیټه افغان دولت او د ملګرو ملتونو اداري د ماشومانو د خوندیتوب په اړه یو پلان لاس لیک کړ چه د هغه پر اساس به ماشومان د افغانستان په اردو، استخباراتو او محلي پولیس لیکو ته نه جذبیږي - هغه کار چه په هغه سره افغانستان د ملګرو ملتونو لخوا دهغه هیوادونو په جمع کې حساب شوی وو" چه په جنګي تاوتریخوالي که یی د ماشومانو پروړاندي جدي سرغړوني ترسره کړي دي".[283] دغه پلان د افغان دولت څخه غوښتنه کوي چه د نوموړو ادارو لیکو ته د جذب په وخت کې د علاقه مندانو څخه د هغوي د زیږدني او د عمر د سند تصدیق ته ډیر اهمیت ورکړي، او هغه چه د قانوني عمر څخه کم کسان په دندو ګماري باید پر وړاندي یی قانوني چلند وشي. د ملګرو ملتونو سرمنشي وویل چه دغه پلان د هغه هڅو چه غواړي ماشومان د مضرو کړونو پروړاندي لکه په دنده باندي د قانوني عمر د پوره کولو وړاندي ګمارنه، د ماشومانو پر وړاندي تاوتریخوالی، جنسي ناوړه ګټه اخیستنه، په ښوونځیو او روغتونونو حملې، اختطاف او بشري حقوقو د لاس رسي په برخه کي لازیات مثتب ګامونه اوچت کړل شي.[284] یونما دغه کار د یو مهم ګام په توګه ارزولی، او نړیواله ټولنه باید ډاډه، دوامداره او اوږد مهالي مرستي د نومړې پروګرام د بریا په موخه ترسره کړي.[285]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا د سولې عالي شورا د ماشومانو د خوندیتوب د پلان تطبیق ته هوډمن دي او د هغه څخه به د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو په وخت کې ګټه واخلي. شورا وپتیله چه د ماشومانو ملکي ژوند ته راستندل باید د APRP د پروګرام یو د اهدافو څخه وي. هغوی همدا ډول ومنله چه باید د غیر دولتي اړخو سره د هغه ماشومانو چه پدې ځانګړي کټګوری که راځي د خلاصون او ازادی په برخه کې ژر تر ژر خبرې پیل کړي.[286]

# اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نيټې پورې د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان د دولتداری او اقتصادي پرمختګ په برخه کې ۱۶،۶ مليارډ ډالره مرسته کړې ده، لکه څرنګه چه په ب يا B ضميمه کې ښودل شوي دي. لکه څرنګه چه سيګار د ۲۰۱۱ کال د جنوري د مياشتي په راپور کې هم ورته اشاره شوې وه د افغانستان اقتصادي پرمختګ تر ډيره حده په هغو لګښت پورې تړلی دي چه د امنيت او بيارغوني په برخه کې د نړيوالې ټولنې لخوا ترسره کيږی. البته پدې درو مياشتو کې د کابل بانګ د اقتصادي کړکيچ له کبله د افغانستان لپاره د نړيوال فنډ (IMF) پروګرام د افغانستان لپاره د پيسو د نه ورکولو سبب شو، او همدرانګه د دې لامل شو چه يو شمير نړيوال مرسته کوونکي د افغانستان د بيارغوني لپاره د باوري فنډ (ARTF) خپلې مرستې وځنډوي او يا هم افغان دولت ته په مستقيم ډول د مرستو ورکولو په اړه فکر وکړي.

يو بل مهم پرمختګ دا دي، چه د افغانستان جمهوري اسلامي دولت د خصوصي امنيتي کمپنيو سره يوې هوکړې او موافقې ته ورسيد، چه د مخې به يې خصوصي امنيتي کمپني د يوه راتلونکي کال لپاره د بيارغوني د پروژو سره د امنيت په برخه کې فعاليت ترسره کړي. دغه د هغه خصوصي غير دولتي ادارو لپاره چه د بيارغوني په برخه کې فعاليت کوي يوه لويه تشويش او انديښنه وه. دغه برخه د نومونړو پرمختګونو په اړه لنډ معلومات وړاندي کوي، او هم دا رنګه د دې درو مياشتو په ترڅ کې د بنيادي او مهم خدمتونو د وړاندي کولو، د مهمو اساسي زيربناو د رغوني او د افغانانو د ظرفيت د لوړولو په برخه کې مهم معلومات شامل دي.

## مخکښ څرګندونکی

پدې در مياشتو کې د افغانستان اقتصاد بيا هم خپلې ودې ته دوام ورکړ خو په همدې حال کې د پيسو تورم يا پړسوب هم دوام درلود. د بانکي سکتور په برخه کې کړکيچ لا هم دوام درلود که څه هم د کابل بانګ او د عزيزي بانګ په باره کې عدلي پلټنو په برخه کې يو شمير پرمختګونه راپور ورکړل شوي وه. د امريکا د مرستو په اړه د افغان دولت د وزارتخانو لخوا د حساب ورکولو د ظرفيت په اړه د کانګرس انديښني د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د امريکا د بودجې په ګډون په مستقيم ډول د افغان دولت سره د مرستو تر سره کولو په برخه کې انديښني او تشويشونه څرګند شوي دي. دبهرنيو مرستو په اړه د ۲۰۱۱ مالي کال د بودجې په اړه د لا زياتو معلومات لپاره مهرباني وکړي ۲ برخې ته ستانه شي.

## اقتصادي پرمختګ او GDP

د اسيا د پرمختګ د بانک د تازه معلوماتو پر اساس په ۱۳۸۹ شمسي کال په اخر کې چه د ۲۰۱۱د مارچ د ۲۰ سره سمون لري د افغانستان د اقتصادي پرمختګ ګچه يا GDP قوي يعني ۸،۲٪ زياتوالی موندلی دي. لکه څرنګه چه د سيګار په پخوانيو راپورونه کې هم اشاره ورته شوې د دې پرمختګ اصلي لاملونه په امنيتي او پرمختيايي برخو کې د مرستو کارول دي. د نوموړي بانک د اټکل سره سم د راتلونکي مالي کال لپاره هم د اقتصادي پرمختګ فيصدي ۸ تر ۹٪ پورې اټکل شوې دا ټول د نړيوالو د مرستو دوام ته، دګرهني او عامه خدمتونو په برخه کې پرمختګ او همدا رانګه د کابل بانګ د کړيکچ هواري ته په کتو اټکل شوي دي.[287]

## د پيسو پړسوب

په افغان اقتصاد کې د پيسو پړسوب پدې درو مياشتو کې نړيوال خوارکي موادو د بيې زياتوالی، د پيسو توسعه او د ايران لخوا پر تيلو او ګاز باندې د بنديز او نوموړو سونګ توکو د بيې د زياتوالي له کبله رامنځ ته شوی وه. د نړيوال مالي فنډ يا IMF د معلوماتو پر اساس، د پيسو دغه پړسوب د ۲۰۱۰ کال د جولای د ٪۵ څخه د ۲۰۱۱ کال د جنوري په مياشت کې ٪۱۸،۴ ته زيات شو.[288] ADB هم د پيسو د پړسوبوالي د فشارونو راپور ورسته تر هغه چه ورته معلومه شوه چه د خوراکي توکو بيه د ۲۰۱۱ کال د فبروري په مياشت کې د تير کال په نسبت ٪۲۰،۹ که زياتوالی موندلی دي خپاره کړل.[289]

د پيسو د پړسوب کچه هله لا پسې زياته شوه چه ايراني چارواکو د خپلې خاورې څخه افغانستان د تيلو او ګاز د ليږدولو پر بهير بنديز ولګاوه.[290] ازادی/ يا د ازادي اروپا راډيو د معلوماتو پر بنسټ ايران پر هغه ټانګرانو چه په خپله خاوره کې يې ګرځولې وه، ځانګړي فيس هم وضع کړي وه.[291]د ايراني چارواکو سره د خبرو وروسته افغان چارواکو اعلان وکړ چه ستونزه هواره او حل شوې ده. د ناټو لخوا په يوه خپره شوې اعلاميه کې راغلي، چه د افغانستان جمهوري اسلامي دولت د ايراني چارواکو سره وروسته تر هغه دغه هوکړې ته ورسيدل چه تعهد يې وکړ د خپل اړتيا وړ يوه برخه ګاز او ډيزل به د ايران څخه پلوري.[292] افغانستان خپلې د تيلو تصفيه خانې نلري؛ او ايران لا د پخوا د افغانستان لپاره ٪۳۰ تصفيه شوي تيل واردوي.[293] د دغه اقتصادي بنديز يوه اغيزه د تيلو په بيه کې د پام وړ زياتوالی وه، د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا د دغه بنديز او د بيه لوړوالي اغيزه د هيواد په لويديځو برخو باندې د پام وړ وه.[294]

## بانكداري

پدې ربع کې په بانکي برخه کې پرمختيا د نړيوال مالي فنډ يا IMF او د افغان دولت ترمنځ د نوي کريډيټ د پراختيا د اسانتيا يا (ECF) د پروګرام پر سر خبرو اترو تر سيوري لاندې کړې وې. د ECF تير پروګرام د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په مياشت کې تر معين وخت تير شو. ECF د نړيوالي ټولنې لپاره يوه مهم محک ګڼل کيږي: ډيرئ هيوادونه به تر هغه وخته د افغانستان د بيارغونې لپاره مرستې ترسره نکړي ترڅو چې د IMF د قرضي يو پروګرام نه وي ځاي پر ځای شوی.[295]

د ملګرو ملتونو د سرمنشي د معلوماتو پر بنسټ د ( اقتصادي دولتداري او د پاليسی د ريفورم) لپاره د ARTF د فنډ څخه مصرف شوی ۷۰ ميليون ډالره کيدای شي تر هغه وخته وځنډول شي چه د IMF کوم اړوند پروګرام تطبيق او ځای پر ځای نشي. د ARTF سپما د لګښتونو لپاره د پيسو ورکولو دريچه شايد اغزمنه شي، او که چيري حالت قابو او حل نشي ډيرئ دوه اړخيزه مرسته کونکي شايد يا خو خپلې مرستې وځنډوي او يا يې هم د بل چينل د لارې ترسره کړي.[296]

IMF دا په ډاګه کړې ده، چه تر هغه وخت پورې چه د افغانستان بانک د کابل بانک قضيه په شفاف، با اعتباره او د بشپړ مالي پلان د طرحې پرته حل نکړي، د افغانستان لپاره بل د ECF پروګرام پيل او په نظر کې ونه نيسي.[297] According to the IMF, د IMF په وينا د افغان دولت لخوا د کابل بانک د ستونزې د هواري په برخه کې بايد دغه برخو د جدي پام وشي:[298]

- د بانک او د بانکي سيستم د خونديتوب لپاره اوچت او ترسره شوي ګامونو او اقداماتو په اړه بايد ټول معلومات په روښانه توګو د ارتباطاتو له طريقه شريک کړل شي.
- بايد تضمين کړل شي چه د هر ډول غير قانونی کړنو سره به د اړوند قانون په رڼا کې چلند کيږي.
- د بانک د خرڅلاو او يا هم د هغه د تشکيلاتو د راکمولو په اړه هر ډول پريکړه بايد وروسته د بانک د املاکو مديرت ترسره شي.
- د حکومتي منابعو په اساس د افغانستان د بانک لخوا پر مهم عنوانو بيا نظر اچول

**د کريډيټ غزولو اسانتيا(ECF):** چه پخوا د فقر د منځه وړولو او د اقتصاد د پراختيا په نامه يادېدلې، ECF هغه هيوادونو ته چه د پيسو ورکولو د غزول شوو بلانسونو په برخه کې د ستونزو سره مخامخ دي مالي مرستې ترسره کوي. ECF د IMF لخوا رامنځ ته شوی تر څو د IMF د مالي مرستو په اړه لا زيات وسيع او پراخ اصلاحات او د هر هيواد د ځانګړو شرايطو ته په پام په غوره او منظمه توګه مالي مرستې وکړای شي.

سرچينه: د IMF خبرپاڼه: د IMF د کريډټ د غزولو اسانتيا

د امريکا د خزانې د چارواکو پر وينا د افغان دولت او د پيسو د نړيوال فنډ تر منځ خبرې اترې ډېرې ورو پر مخ روانې وې. او د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ مې نېټې پورې هيڅ پرېکړې ته نه و رسيدلي.[299] د IMF يوه چارواکي دا هم وويل چه د کابل بانک د تاون د جبران او هغه ته په کتو د افغان دولت سره د اړوندو عوايدو په اړه هم خبرې اترې روانې دي.[300] ADB ته معلومه شوه چه د افغانستان بانک په نظر کې لرې چه د کابل بانک د رامنځ ته شوي کړکيچ لپاره به ۴۰۰ ميليون ډالره مرستې وکړي خو شايد لا زياتو مرسته اړتيا وي.[301] د خزانې د چارواکو په وينا د کابل بانک د کړکيچ هوارول د افغانستان د بودجې پر چارو خورا ستر اغز او د هغه لپاره ډېر مهم دي.[302] د هغه پيسو شمير چه په کابل بانک کې د ننه د تزويري قرضو په ډول ليږدول شوي دي لا هم نه دي معلومې؛ خو د USAID د څانګړي عمومي پلټونکي د دفتر لخوا د ۲۰۱۱ کال د مارچ پر ۱۶ د ترسره شوې پلټنې په اساس کيداي شي دغه شميره ۸۵۰ ميليون ډالره وي.[303]

## د بانکونو د ادارې په برخه کې د ظرفيت لوړول

د USAID د څانګړي عمومی پلټونکي د دفتر د بياکتنې په اساس په افغانستان کې د USAID لخوا د افغانستان د بانک سره د څو پروژو له لارې د بانکي ادارې په اړه مرسته او همکاري شوې ده. دغه پروژې د ۹۲ ميليون ډالرو په ارزښت د اقتصادي پرمختګ ، د دولتدارۍ ابتکارات (EGGI)، د افغانستان بانک د مالي څار او نظارت د رياست سره د مرستو په لړ کې منل شوې ۹،۸ ميليون ډالره شامل دي.[304] وروسته تر هغه چه د کابل بانک د کړيکچ موضوع علني شوه، امريکايی چارواکي د (EGGI) لخوا د ترسره شوو مرستو په اړه انديښمن شول چه ونشوالی کولای په کابل بانک د رامنځ ته شوي ستر کړکيچ په موندلو کې چه نږدې وه نوموړي بانک د سقوط سره مخامخ کړي پاتي راغلل. په ترسره شوې بياکتنه کې راغلي، چه USAID د څانګړي عمومي پلټونکي څخه يی پوښتنه کړې ده، چه ايا د USAID کارکونکي او يا د EGGI قرارداديانو په کابل بانک کې د شته فساد په اړه د خپلو مسوليتونو څخه سترګې پټولې او يا يی د هغه په اړه ناغيرې کوله.[305] د USAID عمومي پلټونکي د دفتر لخوا د ترسره شوې بياکتنې په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره ۴ برخې ته ستانه شي.

لکه څرنګه چه د سيګار په تيرو راپورونو کې هم اشاره ورته شوې وه د افغان ملي امنيتي ځواک او د عامه کارکونکو د معاشاتو ډېرۍ برخه د کابل بانک د برقي يا الکترونکي سيستم له لارې ترسره او انتقاليږي. د خزانې د چارواکو په وينا دغه انتقالات اوس هم د کوم ځنډ او خنډ څخه پرته ترسره کيږي خو بديلې لارې چارې د سپړلو په حال کې دي. اټکل کيږي د بديلو لارو چارو په اړه يو وړانديز يا پروپزل غوښتنه د دې درو مياشتو په ترڅ کې ترسره شي. د خزانې د چارواکو پر وينا چه د غوښتنه اوس د شپږو مياشتو لپاره ځنډول شوې ده ځکه چې نورې لارې چارې لکه د ګرځنده تيلفون له لارې د پيسو ورکولو سيستمونه تر غور لاندې دي.[306]

## د تجارتي بانکونو په اړه پلټنې

لکه څرنګه چه د ۲۰۱۱ کال د جنوري د مياشتې په راپور کې راغلي وه ، د عزيزي او کابل بانک په اړه د افغانستان بانک لخوا عدلي څيړنې سبب شولې چه د خزانې چارواکې وړانديز شوې ۱۰ ميليون ډالره مرستې د دغه پلټنو څخه راوګرځوي. د دې درو مياشتو په ترڅ کې د خزانې چارواکو ويلې، برتانيا او کاناډا حکومت توافق کړی چه د IMF له طريقه دغه پلټنې تمويل کړي. د افغانستان بانک د پلټونکو شرکتونو په اړه د دريو داوطلبيو په اړه تخنيکي بياکته بشپړه کړې دي او د هغه جملې څخه يی دوې د قناعت وړ موندلي دي. د خزانې د چارو په وينا د افغانستان بانک هوکړه کړې چه د دغه عدلي پلټونکو په اړه موندې د ماليې وزارت، د افغانستان بانک او د IMF او د برتانيا او د کاناډا د حکومت سره شريکې کړي. اټکل کيږي چه د غه پلټنې د ۲۰۱۱ کال د اپريل په مياشت کې پيل او د ۲۶ اونيو په ترڅ کې بشپړې شي.[307]

برسيره پردې نړيوال بانک به د ۱۰ نورو بانکونو په اړه د احتياطي پلټنو په اړه مالي شرچينې برابروي. د خزانې د چارو واکو په وينا، د نړيوال بانک د لاربښونو او تګ لارو په اساس د افغانستان بانک کولای شي د دغه

### د سيګار پلټنې

سيګار د افغانستان د بانکي سکتور په اړه يوه پلټنه ترسره کوي تر څو د امريکايی ادارو سره مرسته وکړي چه د هغه امريکايی مرستو په اړه چه د افغانستان په اقتصاد کې ترې ګټه اخيتسل کيږي په اړه يی معلومات ترلاسه او تعقيب کړای شي. همدا ډول دغه پلټنې به د هغه ستونزو په اړه چه د افغانستان د مالي سکتور د ظرفيت د لوړولو په برخه کې امريکا هڅو ته ورپيښې دي وازمويی او هغه په ګوته کړي. د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱ برخې، ۱۸ پاڼې ته ستانه شي.

**احتياطي پلټنه:** د بانک د پاليسيو، تګ لارو ارزونه ترڅو د کريډيټ، ذوب کيدلو او عملياتي خطرونو سره مرسته وکړای شي.

سرچينه: FDIC،" قوانين، مقررات او اړوند قوانين،" 7500-FRB مقررات، 206.3 برخه، (احتياطي تدابير)،چه 4/6/2011 نيټه په انلاين ډول ورته لاس رسی شوي.

پلټونو د ترسره کولو لپاره د پلټني دوه شرکتونه غوره کړي. د نړيوال بانک لخوا د پلټونکو شرکتونو او دهغوی د کارکوونکو لپاره ډير ټيټ د کاري تجربي شرايط او مقررات، د شرکت د اندازې په اړه ځانګړي معيارات، او دا چه بايد نوموړي شرکتونه د ISO لخوا تصديق شوی، ټاکلي دي. د خزانې د چاراواکو په وينا د نورو بانکونو په اړه احتياطي پلټني به د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په مياشت کې پيل او حدودا ۲۶ اونۍ وخت به ونيسي. او پايلې به د DAB، نړيوال بانک او د پيسو د مالي فنډ سره شريک کړل شي.[308]

## د پيسو د منځلو پر وړاندې فعاليتونه


د دې درو مياشتو په ترڅ کې، د خزانې چاراواکو نوی انصاري حوالي شرکت– چه په کابل کې يې مرکز دې- په منځني ختيځ او جنوبي اسيا کې د مخدره توکو د تجارت څخه د ترلاسه شوو پيسو د منځلو په اړه تر ټولو مخکښ رول لوبوي په ګوته کړ. د نوي انصاري د حوالي خدمتونه د ټول افغانستان او د متحده عربي اماراتو کې تر ټولو لوی د پيسو د تبادلې شرکت دي.[309]د حوالي نوموړي شرکت په دوبی کې د خپلو ځانګو له لارې نړيوالو او امريکايي مالي ادارو ته په مليارډونو ډالر انتقالوي. د خپلو اقداماتو په دوام کې، د خزانې چاراواکو په امريکا کې د ۱۵ هغه تنو چه د نوموړې شبکې سره تړاو لري شتمنی منجمدې کړي. امريکايي وګړي او د نوي انصاري حوالي د خدمتونو د شرکت او د يادو شوو ۱۵ تنو سره په همدې ډول اړيکو او معاملو کولو بنديز لګولي دي. د پيسو دغه تبادلې د ترياکو، هروينو او مورفينو څخه تر لاسه شوو پيسو منځلو کې ستر رول درلود.[310]

## د عايداتو راغونډول

د اسيا د پرمختيايي بانک په وينا د افغانستان د ماليانو په راټولو کې په منظم ډول زياتوالی راغلی دي، چه په کال ۲۰۰۶ کې د ۷،۵٪ څخه په کال ۲۰۱۰ کې ۹،۸٪ ته اوچت شوي دي؛ خو دا عايدات د هغه لګښتونو او اړتياو لپاره چه د دولت لپاره اړين دي کم دي. ۳.۲۸ شميره انځور په کې د ماليې وزارت لخوا د دغه واټن په اټکل بنودل شوی دي. بانک همدا ډول راپور ورکړي چه د افغانستان دولت اوس هم به نړيوالو مرستو باندې اتکا کوي، نه يوازې د مالياتو او لګښتونو د پورکولو تر منځ موجود واټن بلکه د افغانستان نږدې ټوله بودجې هم په نړيوالو مرستو باندې ولاړه ده.[311]

3.28 انځور

داخلي عايدات او عمليات
د GDP د سهم په حيث لګښتونه،
SY 1387–1389 (فيصدي)




يادونې: د راغونډيدلو په ترڅ کې د اغزمن شوو شمير SY= شمسي کال، چه د مارچ د 21 څخه بيا د بل کال د مارچ تر 20 سره تطابق لري.

سرچينه: د ماليې وزارت، " د 1390 د ملي بوديجې د اعلاميې طرحه،" 2/2011, pp.

## مستقيمې مرستې

که چيري د افغانستان په وزارتخانو کې فساد د منځه يوړل شي او لازم اصلاحات راوړل شي نو امريکا د افغانستان د دولت سره په مستقيم ډول د مرستو ترسره کولو ته ليواله دي. هدف افغان دولت ته د ۵۰٪ امريکا مرستو ورکول او سپارل دي. د خزانې د معلوماتو پر بنسټ د مستقيمو مرستو لپاره د اساس د اينبودلو په موخه د ماليې وزارت د عامه مالي مديرتې د ارزوني يوه پروژه پر لاره اچولې ده. دغه ارزونه به په هر وزارت کې د کارکونکو د ګمارنې، طی مراحلو او د تګ لارو يا طرزالعملونو په اړه ترسره شي. PKF LLP چه د محاسبې يو نړيوال شرکت دي او مرکز يې په برتانيا کې دي نړيوالې ټولنې ته يې د دغه ارزونې په اړه يو پلان وړاندې کړی دي. هرکله چه نوموړی پلان منظورشي نو د اړوندې اداري سلاکاران او مشاورين به د ۱۴ وزارتخانو سره د ۳۸ اونيو لپاره سلامشورې ورکړي. د خزانې په وينا، د دغه ارزونو څخه به د نړيوالو زياتيدونکي مرستو د اداري په برخه کې د وزارتخانو د کمزورتياو د ليرې کولو او د غوره اداري لپاره په عملياتي پلان جوړونو کې کار اخيستل کيږي.[312]

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې د خزانې ۹ تنو سلاکارانو د افغانستان د ماليې، کورنيو چارو ، ترانسپورت او فوايد عامه وزارتونو ته سلامشورې او مرستې وړاندې کولې.[313] د يادو نهو تنو څخه اوه يې په افغانستان کې د ټول وخت لپاره په دنده ګمارل شويدي. نهه سلاکاران په ۴ برخو کې سلامشورې او مرستې وړاندې کوي:[314]

- د بودجې او مالي حساب ورکولو تقويه
- د اقتصادي جرايمو او فساد پر وړاندې مبارزه
- د داخلي پلټنو په برخه کې د ظرفيت اوچتول او د غير مالياتي عايداتو زياتول
- د قرض په ډول د مرستو تر لاسه کول او د قرضو تنظيم

د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا، د امريکا حکومت د ولسمشر حامد کرزي د هغه وينا چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۲مه يې افغانانو ته د نظامي او اقتصادي پرمختيايي پروګرامونو مسوليت انتقال او ورسپارل شي ملاتړ کوي. پدې کې د ولايتي بيارغوني ډلې چه د هغه د لارې يو شمير نړيوالي مرستې پرته له دې چه د مرکزي دولت له لارې پرمخ يوړل شي کارول کيږي هم شاملې دي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا هغه مرسته کونکې ټولنې چه خپلې مرستې د ولايتي بيارغونې د ډلو لارې کارولې د نوبو لارو چارو په لټه کې دي او په محلي سطح باندې د خپلو مرستو د مصرفولو او لګولو په اړه د لارو چارو په ارزولو باندې کار کوي.[315]

## کارمونډنه

USAID د کار په بدل کې د معاش له لارې افغانانو ته د کارموندلو لپاره درې لنډ مهالي پروګرامونه پر مخ وړي. ۳.۸ شميره جدول په کې د کار په بدل کې نقدو پيسو د ورکولو د هغه پروګرامونو ښکارندوی کوي چه د USAID لخوا د ۲۰۱۱ کال د ۳۱مې نيټې پورې پرمخ وړل کيږي.

## اړين خدمتونه

پدې درو مياشتو کې يو مهم پرمختګ دا وه چه نړيواله ټولنه او د ايساف ځواکونو د افغان دولت سره د يوې هوکړې په ترڅ کې په دې توافق وکړ چه خصوصي امنيتي کمپنې کولای شي د راتلونکي يوه کال لپاره د پرمختيايي او د بشري پروژو لپاره امنيتي خدمتونه وړاندې کړي. د بيارغونې ډيری پروژې د خصوصي کمپنيو، غير دولتي سازمانو او د نورو هغو ادارو لخوا پر مخ وکړل کيږي چه د خپلو چارو د پرمخ وړلو لپاره د امنيتي خصوصي کمپنيو امنيتي خدمتونو ته اړتيا لري. وروسته تر هغه چه ولسمشر حامد کرزي د خصوصي امنيتي کمپنيو پر فعاليت باندې تير کال بنديز ولګاوه زيات شمير کمپنيو د هيواد پريښودلو چمتوالی نيولای و او په پرمختيايي او بشري پروژو کې يې د ميليونو ډالرو په ارزښت پروژه نيمګړې پريښودلې.

د افغانستان د څورلسو وزارتونو سره به د مستقيمو مرستو د تنظيم او اداري په اړه مرسته او همکاري وشي:

- ماليې
- معدنونو
- ټول کټو
- د کليو د بيارغونې او پرمختيا
- ښوونه او روزنه
- د لوړو زده کړو
- صحت عامه
- عدليې
- د کليو پراختيا
- ترانسپورت او هوايي چلن
- دمخدره توکو پروړاندې مبارزه
- مخابرات
- د اوبو او برېښنا
- د کرهنې، اوبو لګونې او مالدارۍ

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، ۲۰۱۱|۵|۱۴.

3.8 جدول

| پروګرام | لنډ مهالي کاري فرصتونو رامنځ ته شوي | د دندو يا کار ډول | موقعيت |
|---|---|---|---|
| **د کار په بدل کې د نقدي پيسو دندې** | | | |
| د افغانستان د کرهنې د حاصلاتو د زياتيدلو په اړه سند(واوچرونه) | د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر راپديخوا (په ټوليز ډول) د کار ۱۳۳۴۸۱ فرصتونه برابر او د ورځې په ۶،۴۵ ډالرو باندې وړاندې شوي دي | د اوبو لګونې د کانال بيارغونه، د فارم څخه تر مارکيټه سرکونه، د اوبو د ډم رغول، د ميوو د باغونو اداره او د درختو لګونې | هلمند او کندهار |
| د شمال، ختيځ او لويديځ لپاره د اقتصادي بديلونو انګيزې (IDEA-NEW) | د ۲۰۰۹ کال د مارچ د مياشتې راپديخوا يی ( په ټوليز ډول) ۲۶۷۶۷ کاري فرصتونه چه په کلني ډول هر کارکونکي ته ۱۸۴ ډالره ورکول شوي او ټول لګښت يی ۴،۹ ميليون ډالرو ته رسيږی. | د کانال پاکول، د سيلابونو پروړاندې استنادي ديوالونه، د وړو ډم رغونه، د فارم څخه تر مارکيټه پورې سرکونه | شمالي، ختيځ او لويديځې سيمې په ځانګړې توګه هغه سيمې چه د کوکنار کرکيلې ته تمايل لري |
| د بديل پرمختيايي پروګرام//SW (ADP/SW) | د ۲۰۰۸ کال د مارچ څخه راپديخوا( په ټوليز ډول) د کار ۹۴۸۰ فرصتونه رامنځ ته کړي دي | د کانالونو پاکونه او بيارغونه، د کانال اخستنه او د محافظتي ديوالونو رغول، د مارکيټ د رسيدلو په موخه د سرکونو بيارغونه د جغل اچولو په ګډون | فراه او ارزګان |

سرچينه: د USAID" خبر پاڼه: IDEA-NEW," 12/2010، د سيګار د 4/4/2011 معلوماتي پوښتنې ته د USAID ځواب

پدې درو مياشتو کې د نورو پرمختګونو څخه د افغان دولت هغه پلان وه چه غواړي د غير مالياتي عايداتو له لارې خپل هوايي سکتور خدمتونه د شته ننګونو پر وړاندې تقويه او د حلقوي سرک د اخري برخې تکميل ځنډول کيدل وه.

## د خصوصي امنيتي کمپنيانو يا PSC په اړه نوې ستراتيژي

په ۲۰۱۰ کال کې ولسمشر حامد کرزي په افغانستان کې د امنيتي خصوصي کمپنيانو پر فعاليت د بنديز په اړه يو فرمان خپور کړ چه د هغه پراساس بايد د ۲۰۱۰ کال تر اخره ټولې نوموړې کمپنۍ بايد خپل فعاليت ودروي او د نوموړو کمپنيو اړوندې چارې يې د افغانستان د عامه محافظت ځواک ته سپارلې وې. د امريکا متحده ايالات چه په پرنسيپ کې د دغه انتقال سره موافق دي غوښته يې وکړه چه د کورنيو چارو وزارت ته دې وخت ورکړل شي تر څو وکولای شي د نوموړي ځواک لخوا د مسوليت د قبولو لپاره د هغوی ظرفيت لوړ او هغوی دې دندې ته چمتو کړي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۱۵مه د افغانستان اسلامي دولت يوه نوې ستراتيژي اعلان کړه چه په مطابق يې خصوصي امنيتي کمپنۍ د ځانګړو شرايط او ځانګړو محدوديتو ته په پام سره کولای شي د راتلونکي يوه کال لپاره په افغانستان کې خپل فعاليت ته ادامه ورکړي.[316]

خصوصي امنيتي کمپنۍ په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې ټولنې لپاره په درو مهمو برخو کې خدمتونه وړاندې کوي:[317]

- ډيپلوماتيکي ټولنې لپاره سفارتونو او هغه سازمانونه چه ډيپلوماتيک ماهيت او حالت لري، لکه د پوليسو د روزنې ماموريت
- ايساف: ټاکلي سيمې، اکمالاتو او د بيارغونې د پروژو په برخه کې امنيتي خدمتونه
- پرمختيايي پروژې: د بيارغونې او بشري مرستې او همکاري

لکه څرنګه چه په نوې ستراتيژي کې راغلي، خصوصي امنيتي کمپنۍ کولای شي د کورنيو چارو د وزارت د شرايطو په پام کې نيولو ( د پرسونل د شمير په ګډون) اجازه لري چه د ايساف او د ډپلوماتيک پروژه په برخه کې امنيتي خدمتونه وړاندې کړي.[318] هغه خصوصي کمپنۍ چه د پرمختيايي او بشري پروژو لپاره امنيتي خدمتونه وړاندې کوي کولای شي يوازې د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۰ مه پورې دغه خدمتونه وړاندې کړي.[319] وروسته تر دغه نيټې به د ټولو پرمختيايي او بشري پروژو امنيتي خدمتوونه د افغانستان پوليسو محافظتي ځواک يا APPF ته وسپارل شي. که چيرې تر ټاکلي مودې پورې د کورنيو چارو وزارت په دې ونه توانيګي چه نوموړي ځواک د مسوليت د ترسره کولو لپاره چمتو او د هغوی ظرفيت لوړ کړي نو د پروژو تر تکميله پورې اړوندې انفرادي خصوصي امنيتي کمپنۍ کولای شي خپلو چارو ته دوام ورکړي.[320]

## سرکونه

پدې ربع کې د اسيا پرمختيايي بانک اعلان وکړ چه د حلقوي سرک د اخري برخې د بشپړلو په موخه ۳۴۰ ميليون ډالره مرسته کوي. ۳.۲۹ شميره جدول د حلقوي سرک د اخري برخه ښکارندوی کوي، چه د افغانستان د شمال ختيځ د قيصار، بلا مرغاب او لامان سيمه به سره ونښلوي. کله چه دغه وروستی برخه هم بشپړه شي نوموړي سرک چه ۲۷۰۰ کيلو متر اوږدوالی لري به د افغانستان ستر ولايتونو يو دبل سره ونښلوي.[321] دغه پروژې تکميل د افغان دولت د وړيښمو د سرک د ابتکار يوه موخه او هدف وه کوم چه به داخلي او بهرني تجارتي بازارونو سره افغانستان ونښلوي.[322] لکه څرنګه چه د سيګار په پخوانيو راپورونو کې هم راغلي د امريکا متحده ايالات او جاپان د هغه هيوادونو په سر کې چه د اسيايي پرمختيايي بانک سره مرسته کوي.[323]


د نوموړې او نورو پروژو د تکميل پر وړاندې امنيتي ننګونې لا هم يوه ستره ننګونه بلل کيږي. د دې درو مياشتو په جريان کې د ناټو خبري پاڼې راپور ورکړ چه د افغانستان په ختيځ او شمال کې پر هغه انجينرانو او هغه کارکونکو چه د بيارغونې په برخه کې فعاليت کوي حملې په پرلپسې ډول مخ پر زياتيدو دي.[324]

### د سيګار پلټنې

سيګار په افغانستان کې سرکونو او پلچکونو د بيارغونې د پروژو په اړه دوې پلټنې ترسره کړې دي. د بشپړو شوو پلټنو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي په www.sigar.mil پته اړيکه ونيسی

3.29 انځور

د حلقوي سرک حالت: اخري مرحله




سرچينه: ADB، مطبوعاتي اعلاميه، " ADB د افغان حلقوي سرک د بشپړوالي لپاره 340 ميليون ډالره مرسته کوي،" 1/17/2011.

## هوايي چلن

د ۲۰۱۰ کال د دسمبر په مياشت کې اروپايي اتحاديي د افغانستان په ټولو الوتکو باندي د امنيتي او مراقبتي انديښنو له کبله بنديز ولګاوه. د خزانې د چارواکو په وينا دغه بنديز د افغانستان د ترانسپورت په برخه کې د هوايي برخي د پرمختيا او مراقبت د موضوع اهميت لاهم په کلکه په ډاګه کوي. د هوايي چلن سره د مرستي په موخه د ملياتو د لوړولو په برخه کې تير کال د افغانستان د ترانسپورت وزارت وړانديز وکړ چه دغه وزارت

به په هوايي ډګرونو کې د الوتکو د کيناستو، درولو او الوتلو باندي ماليات زيات کړي. خو د نړيوال هوايي ترانسپورت اتحاديې د مالياتو دغه وړانديز رد کړ او د افغانستان د ترانسپورت وزارت د دې پريکړه په اړه د استيناف غوښتنه کوي.[325]

فساد د افغانستان په هوايي چلن باندي هم اغزه کوي. د خزانې د چارواکو په وينا، د ۲۰۱۰ کال د مې په مياشتې کې د پامير هوايي چلند د الوتکې د راپرزيدو په اړه چه ادعا کيږي جعلي امنيتي اسناد يې وړاندې کړي وو ترسره کوي.[326] په نوموړې پيښې کې چه د روسي ساخت انتونوف الوتکې له کبله رامنځ ته شوی د يوه امريکايي په ګډون ۴۴ مسافر ووژل شول.[327] پدې درو مياشتو کې د افغانستان د ترانسپورت وزارت سرپرست وزير مطبوعاتو ته وويل چه د راغورځيدلي چورلکې په اړه د پامير هوايي خدمتونو لخوا پيرودل شوی اسناد جعلي و او د اتلوتکې د الوتلو ريکارډ له مخي يې بايد فعاليت نه وای ترسره کړی.[328] د پامير هوايي خدمتونو د ادراې ملکيت په قسمي ډول د کابل بانک سره دی. د خزانې د چارواکو په وينا د ترانسپورت وزارت د پامير د هوايي چلند د خدمتونو سند تعليق کړی دي.[329]

## ښوونه او روزنه (معارف)

د USAID معلوماتو پر اساس د افغانستان لوړ تحصيلات يوه د هغو ځانګو څخه ده چه کم پام ورته شوی او د پانګونې څخه بې برخې پاتې شوې ده. دې اړتيا په کتو د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د افغان تجارتي مشرانو، خصوصي سکتور او د امريکا د حکومت سره چارې همغږې او په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون تاسيس کړ چه په ۲۰۰۶ کال کې يې خپل فعاليت پيل کړ. نوموړې اداره د افغانستان د لوړو زده کړو په برخه کې لومړنی خصوصي، مستقله او د هيڅ ډول ګټې ترلاسه کولو تحصيلي اداره ده.[330]

په ۲۰۰۸ کال کې USAID د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت سره يو پنځه کلن پلان هوکړه ليک لاس ليک کړ چه ټول لګښت يې ۴۲ ميليون ډالره اټکل شوی او د ۲۰۱۱ کال اپريل تر ۱۶ پورې يې ۱۶ ميليون ډالره مصرف کړي دي.[331] دغه مرستې د افغانستان د پوهنتونونو د اوږد مهالي ثبات په برخه کې د پنځو برخو سره مرسته کوي:[332]

- د سواګرۍ، معلوماتي تيکنالوژۍ ، کمپيوتر ساينس، حقوق او د تجارتي مديرت په برخه کې د پوهنتون په کچه د پروګرمونو ترسره کوي.
- د بنسټيزو زده کړو پروګرام چه د کانکور د ازمويني لپاره د امادګی نيوګو ليسه زده کونکو سره مرسته کوي ترڅو د انګليسي ژبې، د ويلو، ليکلو او پوهيدو په برخه کې وړتياوې او زده کړې ترلاسه کړي.
- د افغانستان د وزارتخانو، سوداګرو، غير دولتي سازمانو او د عامو افغانانو لپاره د مسلکي پرمختيايي روزنې.
- په مرکزي اسيا کې د امريکايي پوهنتون سره د نوې تيکنالوژۍ او د نورو هيوادو د زده کونکو لپاره زده کړې د زمينې د برابرولو په برخه کې ګډ کار او همکارې.
- د يو بيل عايدادتي څپې د چمتو کولو په برخه کې د نويو ستراتيژيو او عامه پوهاوي جوړول

د USAID سره د نوموړو پروګرامونو د لګښت د پرغاړه اخيستلو په ترڅ کې د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت سره د ۲۹ ميليون ډالروه برابرول.

د USAID په وينا د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د افغان ښځو لپاره د مساوي فرصتونو برابرولو ته ژمن دي. نږدې ۲۰ په سلو کې د پوهنتون او د بنسټيزو زده کړو محصلين ښځې دي.[333] د ۲۰۱۱ کال د اپريل د ۴ سره برابر ۷۵۰ تنه زده کونکې جذب؛ او د اوله دوره به د ۲۰۱۱ کال په پسرلي کې فارغ شي.[334]

## روغتيايي خدمتونه

لکه څرنګه چه د سيګار په پخوانيو راپورونه کې هم اشاره ورته شوې وه USAID د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې د ميندو د مرګ او مير د کچې د معلوممولو په برخه کې هيواد لومړې سروې تمويل کوي. د ۲۰۱۱ کال د

مارچ تر ۳۱ مې نيټې پورې د افغانستان د عامه روغتيا د وزارت د کارکونکو دظرفيت د لوړولو په ګډون پدې سروې ۳،۵ ميليون ډالره مصرف کړې دي.[335]

د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت په وينا دغه سروې به د ميندو او د ماشومانو د مرګ اومير، د عقامت کچې د معلومولو او د حمل د مخ نيوې د درملو څخه د ګټې اخيستول د کچې په اړه لومړني معلومات وړاندې کړي. سروې به د ملي ، سميز او ځيني ولايتي تخمينات د دغه مهمو او حساسو روغتيايي مسلو په اړه وړاندې کړي. د صحت عامې وزارت مسولين به د دغه ارقامو او د سروې د پايلو څخه د ۲۰۰۳ کال د هغه ميندو تر منځ د مرګ د پيښنو سره پرتله کړي چه په همغه کال کې ترلاسه شوي وي او همدا رنګه به د دغه معلوماتو څخه د اړوندو موضوعاتو لپاره د پلان جوړولو په برخه کې ګټه واخلي.[336]

## د صنعتی او طبيعی منابعو پراختيا

پدې ربع کې هم د افغانستان د حاصلاتو د زياتوالي او د ملي معدني زيرمو د پراختيا په اړه هڅو دوام درلود. د دې درو مياشتو په ترڅ کې افغان دولت د پاکستان د حکومت سره د يوې مهم ترانزيتي قرارداد په اړه خبرې پيل کړې چه د هغه څخه په ګټه اخيستلو به د افغانستان او هندوستان تر منځ سوداګريځې ورکړې راکړې پراخې او زياتې شي.

### کرهنه

د خوراک او د کرهنې د سازمانونو په وينا د ۲۰۱۱ کال د جنورې څخه بيا د همدې کال د فبرورې په مياشت کې درنو بارانونو او واورو د نړيوالو هغه انديښنې کمې کړې چه د ۲۰۱۰ کال د غنمو د زيان څخه وروسته راپورته شوې وې. د پسرلي غنم د ۲۰۱۱ کال مارچ او اپريل په مياشت کې وکرل شول.[337]

په افغانستان کې د کرهنې د برخې سره د مرستې په موخه، او پدې برخه کې د هڅو د ملاتړ په مقصد USAID نويو کرهنيزو فارمې تګ لارو، تجهيزاتو او وسايلو ته د افغان کروندګرو د لاس رسې په برخه کې زيات شمير پروګرامونه درلودل. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ پورې USAID په کندهار ولايت کې د خپلو وړو قرضو د پروګرام له مخې کروندګرو ته ۴۸۱ تراکټورنو تسليم کړل. د نومورې اداري د ميکانيزم جوړونې د پروګرام له مخې، دغه اداري په افغانستان کې ټول ۱۳۲۲ دوه ډيره تراکټورونه ويشلي او تسليم کړې دي:[338]

- مرکزي سيمه: 308
- لويديځه سيمه: 387
- شمالي سيمه: 326
- شمال ختيځه سيمه: 301

### د سيګار پلټنې

سيګار د افغانستان د کرهنې د سکتور د پراختيا په برخه کې د هڅو او مرستو په اړه پلټنه ترسره کوي. دغه پلټنې د نورو اهدافو سره دغه اصل هم غواړي چه معلوم کړي چه ايا د امريکا لخوا ترسره شوي مرستې خپلو ټاکلو موخو او اهدافو ته رسيږي. د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱ برخې، ۱۷ پاڼې ته ستانه شي.

3.9 جدول

**د USAID لخوا د غلو او د اصلاح شوو تخمونو توضيع او يا بيرته رانيول**

| موقعيت | د واوچرو شمير، د ۲۰۱۱ کال دويمه ربع | پروګرام |
|---|---|---|
| بادغيس، فارياب، جوزجان، بلخ، سرپل، بغلان، وردګ، ننګرهار، نورستان، غزني ، پکتيکا، لوګر، نيمروز، کندهار او زابل | د تصديق شوو غنمو او اصلاح شوو تخمونو په اړه د بيرته رانيول شوو ۴۹۹۰۰ واوچرونه | AVIPA |
| هلمند، کندهار | د بيرته رانيول شوو هنډوانو، د لوبيا د حبوباتو، بنډيو، سبزيو، جوارو او د وښو په اړه د ۷۴۱۶۸ واوچرونه | AVIPA |
| ننګرهار، کنړ، کندز، نورستان، تخار، بغلان، بدخشان او لغمان | د سبزيو د غلو او د اصلاح شوو تخمونو په اړه ۱۵۷۰۱ واوچرونه توضيع شوي دي | IDEA-NEW |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۱۱\۴\۴.

USAID همدا ډول افغان کروندګرو ته د دريو پروګرامونو له لارې د يوه کال اصلاح شوي تخمونه وويشل ۳.۹ شميره جدول د هغه وعده شوو بستو چه ويشل شوي او يا هم د پدې درو مياشتو کې بيرته رانيول شي دي ښکارندوی کوي.

لکه څرنګه چه د سيګار په پخوانيو راپورونو کې هم اشاره ورته شوې ، چه په افغانستان کې د نويو کرهنيزو مديريت تکنالوژی او د اوبو لګوني د منابعو د کموالي او نشتون له کبله د دغه هيواد کرهني حاصلات د موسومي بارانونو او واورو باندي اتکا او تړاو لري. د دغه نيمګړتيا د منځه وړولو لپاره يو د ۲۰ USAID ميليون ډالري هغه پروګرام دي چه د افغانستان د اوبو، کرهني او د تيکنالوژی د انتقال د پروګرام يا AWATT په نامه ياديږي. د ۲۰۱۱ کال دمارچ تر ۳۱ نيټي پوري USAID راپور ورکړي وه چه په ننګرهار او بلخ ولايتونو کې يی د اوبو لګوني د کنترول ۵۰۰ وسيلي لګولي دي. دغه اله هر يوه ۲۵۰ ډالره قيمت لري او د ۲۰ کلونو لپاره کار ورکوي. اوبه، ځمکه او کارکونکي بچت او سپموي. د USAID د معلوماتو پر اساس د دغه اخيستلو وړ وسيله د افغان کرونګرو تر منځ د خورا ډير محبوبيت څخه برخمنه او هرڅوک يی خوښوي چه اوس د افغانستان د کرهني، اوبو لګوني او مالداری وزارت غواړي په ټول هيواد کې د دغه وسيله د توزيع يو پروګرام پيل کړی. AWATT د افغانستان د کرهني د وزارت د انجينرانو ته پدې اړه د پلان، ډيزاين او د نصبولو په برخه کې او کروندګرو ته د هغه د استفادي په اړه روزنه ورکوي.[339]

## د معدنونو د رايستلو پروګرام

پدې ربع کې د افغانستان د معدنونو وزارت اعلان وکړ چه د نامتو او مشهور شرکتونو څخه يی تکړه او کارپوه سلاکاران په دنده ګمارلي د ترڅو د افغانستان د معدنونو څخه د سالمي ګټي اخيستلو لپاره د داوطلبی شفافي او کره تګ لارې طرحه او د هغه څخه پدې اړه ګټه واخيستل شي. نوموړي وزارت د داوطلبی په برخه کې د اصلاحاتو د عملي کولو تعهد کړي او دا هڅي وروسته تر هغه اعلانيږي چه په پخوانی وزير ادعا شوې چه د مسو د عينک د معدن د واطلبی په برخه کې يی بډې اورشوت ترلاسه کړي دي. د نوي ټيم د اعلان په وخت کې د معدن وزير ومنله چه د معدنونو څخه د ګټي اخيستلو په برخه کې د نړيوالو پانګوالو د اعتماد راجلبول تر هرڅه هم دي. نوموړي ټيم د امريکا د دفاع وزارت د تجارتي او ثبات د عملياتو د ځواک (TFBSO) لخوا تمويليږي.[340]

په ۲۰۱۰ کال کې ځمکه پيژندونکو چه د امريکا د جيولوجيکل سروې، د افغانستان د جيولوجيکل سروې او د TFBSO لخوا تمويل کيدل د افغانستان په ۲۴ ځانګړو سيمو کې معدنونه په ګوته کړل، دغه رده بندي او سروې د امنيتي، کچې، د بازاري ارزښت، د لازمي زيربنا د اړتيا، لاس رسي او د رايستلو لپاره د لازمي وخت په اساس باندي تصنيف او طبقه بندي شوي وه. هر يوه د دغه سيمو څخه د يوه يا زيات معدني سرچيني درلودنکي ده او کولای شي چه د افغانستان د معدنو د صنعت په برخه کې مهم او رغنده رول ولوبوي.[341]

د معدنونو سکتور د افغانستان د عوايدو او د اقتصاد د پرمختګ لپاره خورا اړين او د زيات اهميت درلودنکی دی. د ۲۰۱۱ کال د اپريل په مياشت کې اسيايي پرمختيايي بانک اعلان وکړ چه که چيري په منظم ډول د مسو د عينک د معدن او حاجيګک د اوسپني د معدني څخه ګټه واخيستل شي نو په (لومړيو کلونو) کې به د افغانستان په پرمختيايي وده کې د ٪۱ زياتوالي راشي.[342] پدې ربع کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړ چه د افغان دولت سره کار کوي تر څو داسي حقوقي او قانوني مقررات او کاري چوکاټونه رامنځ ته کړي چه په راتلونکي که د افغانستان د معدنونو د استخراج څخه ټول افغانان برخمن شي، د افغانستان اقتصاد وغوړيږي او د ژوند سطح لوړه کړي.[343]

## مخابرات

لکه څرنګه چه د سيګار په پخوانيو راپورونو کې راغلي وه، USAID د افغانستان د مطبوعاتو د پرمختيا او د تقويې پروژه (AMDEP) چه ۲۲ ميليون ډالره ارزښت لري په لاره اچولي او په افغانستان کې ازاد مطبوعاتو

جدول 3.10

| د AMDEP د وړو قرضو يا مرستو ورکول | | |
|---|---|---|
| **تسليمدونکي** | **د مرستو موخه** | **د مرستو مقدار** |
| د افغانستان د پراختيا لپاره د هوسايني اتحاديه | ۱۱ د ملټي ميډيا د توليد مرکزونه تاسيس او فعاليت کوي. | $3,765,497 |
| افغان ږواک خبرونه | محلي سترو مطبوعاتو چه په هغه کي سلام وطندار د راديو د ځانګو پراختيا او د تلويزيون توسعه هم شامله ده، سره د مرستو او همکاری ترسره کول. | $418,050 |
| نی د افغانستان د خپلواکو مطبوعاتو ملاتړ کوي | د نی انستيتوټ د مطبوعاتي روزنيز پروګرام او ساحوي روزني ځانګو تاسيس او جوړونه، دغه کار د مطبوعاتو په اړه روزنه او د ځارني پروګرامونه. | $2,732,605 |
| د الباني نړيوال اسوشيټس لميټډ | د هغه وزارتونو سره چه د مطبوعاتو د جواز، پاليسيو او مقرراتو په اړه فعاليت کوي مرسته او همکاري کوي. | $102,304 |
| د Lhassa مشورو ورکولو خدمتونه (الاتي) | د تخنيکي مرستو ورأندي کول، او د هغه سيمو په ګوته کول چه هلته نوي تلويزيوني اويا راديويی ستيشنونه پرانيستل او يا هم زاره تقويه کړل شی. | $350,000 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۱۱\۳\۱۳.

سره مرسته او ملاتړ وکړي. لکه څرنګه چه کي ښودل شوي دي AMDEP پنځمه وړو قرضو هوکړه ترسره کړه. ۳.۱۰ جدول.

## سوداګري يا راکړه ورکړه

لکه څرنګه چه د سيګار په پخوانيو راپورونو کي هم اشاره شوي افغانستان او پاکستان د تجارت او سوداګرۍ په اړه ستر پرمختګ هله ترلاسه کړ چه د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۱۱مه د دواړو هيوادونو تر منځ د ترانزيت په اړه هوکړه وکړه. دغه هوکړه چه د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۱۲ مه په عملي شي افغان سوداګرو ته فرصت برابروي چه د پاکستان له لارې خپل تجارتي توکي هندوستان ته انتقال کړی. [344]

د دې هوکړه ليک د تطبيق او پدې اړه د موجودو يو زيات شمير موضوعاتو د حل په موخه د افغانستان او پاکستان د ترانزيت د همغږي اداري خپله لومړی غونډه د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۱۱ او ۱۲ ترسره کړه. د USAID په وينا ګډونوالو د ګمرکاتو په اړه، د پلټونکو توکو، بيوميترک، د ترکونو لپاره د بانکي تضميناتو ، امنيت او د ترانزيتي توکو لپاره د مالي تضميناتو په اړه په يو شمير موضوعاتو باندي خبراتري ترسره کړی. که څه هم په يو شمير برخو کي لکه ( بيو ميترک) په برخه کي پرمختګ ترلاسه شوی خو د دواړو هيوادونو استازي د ترکونو لپاره د بانکي تضميناتو او د ګمرکاتو د امنيت او کارګو لپاره د مالي خونديتوب په اړه يو شمير موضوعاتو باندي موافقه ته ونه رسيدل. د همدې کبله د نومړي هوکړه ليک تطبيق د راتلونکو ځلورو مياشتو لپاره وځنډول شو.[345]

د دې غونډې وروسته د افغان سوداګرو ټولني يوه اعلاميه خپره کړه چه د يادې شوې هوکړې د ځنډولو په اړه يی خپل تشويش او انديښنه څرګنده او بيان کړه. د نومړې ټولنې په وينا اصلي ستونزه د پاکستان لخوا هغه غوښتنه ده چه بايد هر افغان تجار د هر کانتينر د بارولو لپاره لږ تر لږه ۲ ميليون پاکستانی کلداري (تقريبا ۲۳۸۰۰ ډالره) بايد د مالي تضمين په توګه ورکړي. د نومړې ټولنې د اجرايوي رييس په وينا په ځيني حالاتو کي دغه تضمين کيدای شي د توکو د اصلي نرخ او بيې څخه هم زيات شي.[346]

د نومړي ترانزيتي تړون ځنډ پداسي حال کي راځي چه د افغان دولت لا د پخوا د زياتيدونکي وارداتو په وړاندي د صادراتو په کچه کي د کمې له کبله تشويش او انديښنه لري. د هغه راپور په اساس چه د ناټو په يوه خبري پاڼه خپره شوې د تجارت مرستيال وزير مطبوعاتو ته ويلي چه په تيرو شپږو مياشتو کي افغانستان ۱۲۰ ميليون ډالره صادارات او د ۱،۲ مليارډ ډالره واردات درلودل.[347]

**د امنيت خوندي ساتل**

افغان ملی اردو او د امريکا د بحري قوې سرتيري د CH-53E ډول چورلرګې
څخه د عملياتو د بشپړتيا په موخه د ۲۰۱۱ کال د جنوري د مياشتې په ۱۵مه په
هلمند ولايت کې د نوموړي هليوکپټر څخه پلي شول. د نوموړو عملياتو موخه د
طبانو د فعاليتونو لپاره د يومهم مرکز د منځه وړل، د سلاح او مهماتو د زيرمو
موندل، د دښمن د لوژيستکي عملياتو مختلول او د سيستاني په سيمه کې د
مهمو معلوماتو راټولو په ګوته شوي وو.. (د ايساف انځور)

# 4 د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هرو درو میاشتو کښی سیګار د نورو اجنسیو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنیزو فعالیتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. دا اجنسیاني په افغانستان کښی د څارني فعالیتونه تر سره کوی او پایلي د سیګار سره شریکوی:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداره (USAAA)
- د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

د معلومات توضیح په همغه شان چی تر لاسه شوي ترسترګو کیږی، د دی راپور د نور برخو سره د ورتوالی په موخه دغه تغیرات پکښی راوړل شوی دی: مخففات او لنډوني د بشپړو نومونو په ځای کارول شوی دی؛ معیاري لیکدود او املا او انشا کارول شوي؛ او د لومړی شخص پر ځای دریم شخص د رغوني کارول شوي دي.

## د څار اړوند بشپړ شوي فعالیتونه

په ۴.۱ شمیره جدول کې د بیارغوني او د امنیت په پوري اړوند هغه ۹ پروژې چه د ګډون کونکو ادارو لخوا یی د بشپړیدو راپور ورکړل شوي وو ښکاره شوي دي.

4.1 جدول

**د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نیټي پورې، د امریکا د نورو ادارو لخوا په نږدې وخت کې بشپړ شوې څارنې او پلټنې**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدلو نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD-OIG | SPO-2011-003 | 3/3/2011 | د امریکا د حکومت د هغه هڅو ارزونه چه د افغانستان د ملي پولیسو د روزنې، تجهیز او د پراختیا د سلامشورو په برخه کې یی ترسره کوي. |
| DoS OIG-MERO | MERO-I-11-02 | 2/10/2011 | د بهرنیو چارو وزارت قرارداد د PAE د کمپنی سره چې په افغانستان کې د مخدره موادو پر وړاندې د افغان یونټ عملیات او څارنه ورته سپارل شوي دي |
| GAO | GAO-11-419T | 3/3/2011 | بهرني عملیات: د کانګرس د څار لپاره مهمي او اساسي موضوعګاني |
| GAO | GAO11-66- | 1/27/2011 | د افغانستان امنیت: د افغان پوځ شمیر زیاتیږي، اما اضافي روزنکو ته اړتیا شته؛ اوږد مهالي مصارف نه دي مشخص |
| USAAA | A-2011-0067-ALL | 2/22/2011 | د پلورونکو په اداینو یا تادیاتو باندې کنټرول دویمه برخه-افغانستان |
| USAID OIG | F-306-11-002-P | 3/27/2011 | د USAID پلټنه/ د افغانستان د روغتیایی او تحصلي اسانیتاو پروګرام |
| USAID OIG | F-306-11-003-S | 3/16/2011 | په افغانستان کې د USAID د بانکي نظارت د مرستي د فعالیتونو او د کابل بانک د کړکیچ په اړه عمومي کتنه |
| USAID OIG | F-306-11-002-S | 3/7/2011 | په افغانستان کې د USAID لخوا د غوره شوو قراردادیانو او د تضمین کونکو په اړه د نقدي مصارفو په اړه بیا کتنه |
| USAID OIG | F-306-11-001-P | 2/13/2011 | د کرهني، اوبو او د تکنالوژۍ د انتقال د پروګرام په اړه پلټنه |

یادونه: MERO = د منځنی ختیځ منطقوي دفتر.

سرچیني: د سیګار د 4/4/2011 نیټي پوښتني ته د DoD OIG ځواب د سیګار د 3/31/2011 نیټي پوښتني ته د DoD OIG ځواب د سیګار د 3/31/2011 نیټي پوښتني ته د DoS OIG-MERO ځواب، د سیګار د 4/5/2011 نیټي پوښتني ته د GAO ځواب، د سیګار د 3/25/2011 نیټي پوښتني ته د USAAA ځواب، د سیګار د 3/23/2011 نیټي پوښتني ته د USAID OIG ځواب

## د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

**د امریکا د حکومت د هغه هڅو ارزونه چه د افغانستان د ملي پولیسو د روزنې، تجهیز او د پراختیا د سلامشورو په برخه کې یې ترسره کوي.**

( د پروژې شمیره. SPO-2011-003، د ۲۰۱۱ کال دمارچ په ۳مه ورکړل شوې ده)

په کال ۲۰۰۹کې، ولسمشر بارک اوباما په افغانستان کې د امریکا ملي امنیتي او نظامي ستراتیژۍ په هغه لومړیتوب باندې تاکید وکړ چه د افغان ملي امنیتي ځواک رغونه ورته ډیر اهمیت او لومړیتوب لري. په تیر وخت کې، د ایتلاف د قواوو ابتدایی او اساسي تاکید او تمرکز د افغانستان د ملي اردو (ANA)په پراختیا باندې وو. د اضافي ملاتړ او مرستو سره، په تیر کال کې تر ډیره حده تمرکز د افغان ملي پولیسو(ANP) په روزنه او تجهیز باندې چه د ایساف او نړیوال ایتلافي قواوو لخوا د مخالیفینو د منځه وړولو په لاره او کمپاین (COIN) کې حیاتي او مهم رول لري و.

د ۲۰۱۰ کال د جولای د میاشتي سره سم، ایساف د افغان ملي پولیسو لپاره د وړاندې ټاکل شوي هدف چه د افغان ملي پولیسو شمیر باید ۱۰۹۰۰۰ ته ورسیږي تر خپل ټاکلي وخت دري میاشتي مخکې ترلاسه کړ. د تیرو وختونو په خلاف چه په هغه کې به افغان ملي پولیسو ته په عجله او وارخطایی سره د افغان ملي پولیسو لیکو ته پرسونل جذب کیدلو، اوس داسې تګ لارې خپلې شوې دي چه باید وړاندې تر دې چه افغان ملي پولیس لیکو ته پرسونل جذب شي باید اړوندې او ضروري زده کړې ترلاسه کړي. دغه نوې خپلې کړل شوی تګ لارې د هغه قانوني ستونزې چه په لسګونه زره داسې پرسونل د افغان ملي پولیسو لیکو ته جذب شوي وو چه د ابتدا څخه یې هیڅ ډول زده کړې نه وې ترلاسه شوې دي مخ نیوی کړی.

ایساف همدا ډول د افغان ملی پولیسو د لوژیستکي وړتیا تر منځ د خلا د ډکولو ابتکار هم عملي کړي دي، پدې ترڅ کې د لوژیستکي زیربنایی پرمختیایی پلان تطبیق چه سمیز قومنداني، د ولایتونو په سطحه چه هغو ته د پولیسو د واحدونو وړاندې کول اسانه دي د لوژیستکي موادو د انتقال اسانتیا شامله ده. قومندانی د افغان ملي پولیسو پرمختیا د یو لومړیتوب په حیث منلي او یوه جدي ستراتیژي پلي او تطبیق کوي چه د روزنې په بنه کې یې د بدلون له کبله لاس ته راوړنې درلودلي؛ د روزنې د کیفیت لوړول، د روزنې د برخې د پرسونل او ګمارنې د کچې لوړول؛ د پرسونل د اندیښنو کمول؛ د لوژیستک د زیربنا پرمختیا؛ په رهبري باندې تاکید؛ د امریکا متحده ایالاتو د سلامشورو د یونټ څخه د سلامشورو د لړی ادامه دې.

برسیره پر دې، د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت په مختلفو کچو او څانګو کې د ظرفیت د لوړولو په برخه کې هڅې رواني دي. د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت د نوي رهبري لاندې، اټکل کیږي چه وبه کولای شي د افغان ملي پولیسو لپاره د لوژیستکي برخه کې هم غوره او اغزمن مدیریتي ملاتړ توان پیدا کړي.

داپداسې‌حال‌کې‌ده‌چه، ایساف‌باید‌دافغان‌ملي‌پولیسو د اړوندو‌څانګو‌تر منځ‌پرمختیا/او همغږي‌باید‌منسجمه‌او‌رامنځ ته‌کړي‌او د‌افغان‌ملي‌پولیسو‌کچه‌او‌ظرفیت‌هغه‌سرحدته‌ورسوي‌چه‌وکولای‌شي‌دCOINدستراتیژۍ‌څخه‌ګټه‌واخلي. په سیمه کې موجود هغه سلاکاران او مشاورین چه د افغان ملي پولیسو سره د اړوندو پلانونو د تطبیق په برخه کې مرسته کوي ناکافي دي اوبسنه نه کوي. برسیره پردې د افغان ملي پولیسو هغه پرسونل چه روزنه یې نه د ترلاسه کړې او شمیره یې ٪۴۰ ته رسیږي هم د افغان ملي پولیسو د وړتیاو په وړاندې یوه ننګونه او ستونزه ده. د افغان ملي پولیسو لوژیستکي ظرفیت ډیر عملیاتي مرستو ته اړتیا لري. بلاخره، فساد او د غوره حکومتدارئ کمزورتیا/ د قانون د رول کم رنګوالی د افغان ملي پولیسو لخوا د COIN ستراتیژي د پلي کولو په وړاندې خنډونه بلل کیږي.

## د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر – د منځنی ختیځ سمیز دفتر

**د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د هغه قرارداد چه د PAE سره یی په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې واحدونو سره د مرستې په هکله ترسره شوی وو نوموړی قرارداد ته بیاکتنه**

(د راپور شمیره. MERO-I-11-02، چه د ۲۰۱۱ کال د فبروري میاشتي په ۱۰مه نیټه خپور شوی وو)

د ارزونو د دغه فعالیتونو اصلي موخه دا ده ترڅو (۱) د قرارداد شرایط او مقررات معلوم کړي؛ (۲) سفارت ته د اسانتاو په موخه د ۲۰۰۵ مالي کال څخه بیا تر ۲۰۰۹ مالي کال پوري د بهرنیو چارو د وزارت لخوا څومره مرستي منل شوې او مصرف شوې دي؛ (۳) د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې واحدنو ته د عملیاتي اسانتاو په برابرولو کي د PAE سره د ترسره شوي قرارداد موثریت او اغزمنتیا؛ (۴) په افغانستان کي د امریکا هیواد اړوندو توکو څخه د ستاني، ثبتوني او د موجودی د لیست کنترول، او معلومه کړي چه د وسایلو څخه د ساتني په اړه د حساب ورکولو یو کره سیستم موجود دي او د توکو څخه د ساتني په اړه د حساب ورکولو په وړاندي کومي ننګوني او ستونزې موجودې دي؛ (۵) د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کي د PAE سره د ترسره شوي قرارداد د کړنو څخه څه ډول څارنه ترسره کوي؛ (۶) څرګنده کړي چه په قرارداد کي د FAR 52.222.50 شمیره فقره ذکر شوې چه اداره کونکي ته اجازه ورکوي چه هرکله د قراردادي او یا هم د دویم لاس قراردادي لخوا د خلکو پراخ قاچاق او لیږدونه ترسره شوي وي اړوند اصلاحي ګامونه اوچت کړي؛ او (۷) څرنګه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مصارفو د مناسب تامین او د هغه د تمویل څخه تضمین کولای شي.

## د حکومت د احتساب اداره

په تیرو درو میاشتو کي د پلټني عمومي دفتر یا GAO د امریکا د کانګرس په وړاندي د هغه بهرنی پالیسی لپاره په ځانګړو شوو مرستو کي د کموالي په اړه وینا وکړي چه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د USAID لخوا ترسره کیږي او دوه راپوره چه د (۱) د افغانستان او عراق د نظامي روغتیایی پرسونل د اړتیا او د (۲) د موجوده روزنکو او د افغان ملي اردو د پایینت او د لګښتونو په اړه تړاو لري.

- د پلټني د عمومي دفتر یا GAO د امریکا د استازو مجلس د تخصیصاتو کمیټي، د دولت فرعي کمیټي، بهرني عملیاتو او د اړوندو پروګرامونو ته په هغه بودیجي کي د کموالي په اړه وینا وکړه چه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د USAID لخوا ترسره کیږي. د ۲۰۰۲ میلادي کال راپدیخوا د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان، عراق او پاکستان کي په امنیتي، اقتصادي او د حکومتداری په برخه کي تر ۱۳۰ ملیارډ ډالرو ډیري مرستي ترسره کړي دي. تر کومه ځایه چه د افغانستان او پاکستان هیوادونه مطرح دي، د امریکا متحده ایالاتو پریکړه کړی چه خپلي ډیری مرستي په مستقیم ډول افغان دولت او په پاکستان کي د پاکستاني ادارو له لارې وکاروي. د ترلاسه کونکو ادارو د محدود ظرفیت ته په کتو د دغه فعالیتونو د ترسره کولو سره ډیر مهم خطرونه هم موجود دي- په ځانګړي توګه د امریکا د متحده ایالاتو لخوا د تمویل کیدونکو پروګرامونو په اړه د افغان دولت وړتیاوې او ظرفیت، چه د نوموړو مرستو څخه د څار او د کنترول کونکو ادارو اړتیا او اهمیت څرګند او په ډاګه کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID په افغانستان او عراق کي د بیارغونو د هڅو د پلي کولو په برخه کي تر ډیره حده په مستقیم ډول ګمارل شوو قراردادیانو پر پرسونل باندي اتکا کوي او د پرسونل په اړه د یو شمیر نیمګړتیاو لکه د روزنکو د شمیر د کموالي او د په دغه هیوادونو کي د کارکونکو د دوران په ترڅ کي د ننګونو سره مخامخ دي. قوي مدیریت او د قراردادیانو

د فعالیتونو څخه قوي څار او عمومي کتنه ته په دغه حالاتو کې ډېره اړتیا لیدل کیږي. که څه هم GAO په ځینو حالاتو کې د فعالیتونو څخه د څار او عمومي کتنې اقدامات نیمګړي و، چه په خپل وار سره د ادارو یا اجنسیانو لخوا د ملیارډونو ډالرو په ارزښت د پروژو په پلي کولو کې د هغوی وړتیاوې تر پوښتنې لاندې راولي. GAO د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او USAID ته بهرني عملیاتي پروګرامونو د مناسب پرمخ وړولو لپاره زیات شمیر وړاندیزونه کړي دي. په ځانګړي توګه GAO وړاندیز کړي دي چه پلي کونکي اداري یا اجنسیانې باید د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو څخه د ګټې اخیستلو په اړه د حساب ورکولو په اړه مناسب پلانونه او لارې چارې خپلې کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID د نوموړو یو شمیر وړاندیزونو د پلي کولو په اړه اړوند ګامونه اوچت کړي دي.

- د افغان ملي اردو د پایښت او د نوموړي اردو د راتلونکي پرمختګ لپاره د اړوندو روزنکو لپاره د ضروري لګښتونو او مصارف په اړه د GAO په راپور کې معلومه شوه چه د ۲۰۱۰ کال د جنوري څخه بیا د همدې کال د جولای تر میاشتې د افغان ملي اردو شمیر د ۱۰۴۰۰۰ څخه ۱۳۴۰۰۰ تنو ته لوړ شو، چه پدې سره د نړیوالې ټولنې او افغان دولت لخوا د اټکل شوي تقسیم اوقات څخه درې میاشتې وړاندې نوموړې اردو اټکل شوي شمیر ته ورسیدله. افغان ملي اردو همدا ډول د افغانستان د مهم سترو قومونو څخه د جوړښت په برخه کې هم خپلو موخو او اهدافو ته د یو لړ استثناتو پرته رسیدلی دي. پدې هر څه برسیره، افغان ملي اردو بیا هم د پرسونل د زیات شمیر د لاسه ورکولو، وړاندې تر دې چه سرتیري خپلې روزنې بشپړې کړي د سرتیرو ورکیدنه او د سرتیرو د غیر حاضري په ګډون د سترو ننګونو سره مخامخ دي. د افغان دولت او نړیوالې ټولنې هوډ کړي چه افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس باید د ۲۰۱۴ کال ترپایه پورې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د امنیتي عملیاتو مسولیت پرغاړه واخلي. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر تر میاشتې پورې د افغان ملي اردو هیڅ یو واحد په دې قادر نه وه چه وکولای شي د ایتلافي قواوو پرته نظامي عملیات ترسره کړي. د افغان ملي اردو د وړتیاو او ظرفیتونو د پوره کولو په وړاندې ستونزې د رهبري په کچه د کدر او پرسونل د کمبود او د ایتلافي قواوو د روزنکو د شمیر د کموالي له کبله د لا زیاتو ستونزو او ننګونو سره مخامخ شوی دي، چه پدې ترڅ کې افغان ملي اردو د ۱۸٪ (چه د ۱۴۹۵ څخه د ۲۷۵ روزنکو کموالی) هم شامل دي. نه د امریکا د دفاع وزارت او نه هم د ناټو د افغان ملي اردو د پایښت او بقا د لګښت په اړه تحلیل او ارزونه نه ده ترسره کړې. دا ډول ارزونې خورا مهمې دي، ځکه د ۲۰۱۰ کال د جنوري په میاشت کې د مالي مرستو نړیوالې ادارې اعلان وکړ چه افغان دولت به تر ۲۰۲۳ میلادي کال پورې د خپلې عملیاتي بودیجې لګښتونه د خپلو سرچینو څخه وړاندې کړي، په دې لګښتونو کې په نظامي برخه کې مصارف هم شامل دي- دا کار په بهرنیو سرچینو باندې د افغان دولت اتکا او تکیه څرګنده وي. برسیره پردې، د امریکا د دفاع وزارت او د ناټو د ارزونو په اساس شاید چه د افغان ملي اردو لپاره اوسني اټکل شمیر یعني د ۱۷۱۶۰۰ کې زیاتوالي ته اړتیا وي- او کیدای شي دغه شمیره ۲۴۰۰۰۰ تنه ته لوړه کړل شي. بې له کومه شکه چه نوموړې شمیره ته افغان ملي اردو د اوچتولو لپاره لا زیاتې بهرنۍ مرستې ته اړتیا لیدل کیږي. GAO وړاندیز کوي چه د امریکا د دفاع وزیر د نړیوالو مرسته کونکو سره په همکاری په نوموړې ځانګې کې د روزنکو د کموالي ستونزه هواره کړي؛ او څرګنده کړي چه د اوسني ټاکل شوي هدف برسیره د افغان ملي اردو د شمیر لپاره کومه شمیر سرتیري په نظر کې نیول شوي دي، که چیرې د نوموړې شمیر څخه زیاتو سرتیري په پام کې نیول شوي وي باید هغه شمیر ته اردو د رسولو لپاره مالي سرچینې په ګوته او معلومې کړل شي. د روزنکو په اړه د امریکا د دفاع وزارت د GAO وړاندیزونه منلي او د هغه سره یې هوکړه کړې ده. د امریکا د دفاع وزارت په قسمي ډول د افغان ملي اردو د زیاتوالي په اړه د لګښت د اټکل په اړه د وړاندیزونو سره هوکړه کړې ده.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره

### د پلورونکو په اداینو یا تادیاتو باندې کنټرول دویمه برخه-افغانستان

( د راپور شمیره -A-2011-0067 ټول، د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۲۲ خپاره شوي دي)

د نظامي مرستیال مشر په غوښتنه دغه پلټنه USAAA ترسره کړه( مالي مدیریت او د مالي سرچینو په اړه پلټونکی). په افغانستان کې زیات شمیر مالي اداره د نظامي وسایلو د کموالي مسلې ته چه د ممکنه چاپیریال ته په کتو د سوداګریزو پیسو ورکولو په اړه د مناسبو پلټنو د نشتون سره تړاو لري اشاره کړي دي. د دې ټولو اوچت کړل شوو ګامونو برسیره، USAAA ته معلومه شوه چه د پلورونکي ته پیسو د ورکولو په ترڅ کې په ۸۱٪ کې لېږ تر لیږه یو عنصر کم او یا غلط او ناسم وو. د اتومات پلټنې د اعتبار او تضمین او د محدودو امنتي حسابونو د کنټرول په موخه لا زیاتو پرمختګونو ته اړتیا لیدل کیږي ځکه چه (۱) ځکه چه مربوطه واحدونو وړاندي تر دې چه په خپلو کاري سیمو کې ځای پر ځای کړل شي د موخې په اړه ځانګړې روزنې نه وې ترلاسه کړې؛ (۲) د مالي ترو میاشتو فعالیتونو ترمنځ کاري اړیکې او ابتکارات په عین وخت کې سره همغږي کړل شوي نه و؛ (۳) او په ځینو حالاتو کې قومندانۍ مقرره لارښونې نه دي ورکړې او یا یې هم د کنټرول په داخلي پروګرامونو او د سلامشورو د عملیاتو ترمنځ یې بشپړه همغږي نه ده رامنځ ته کړې. قومندانۍ په راپور کې د ذکر شوو وړاندیزونو سره موافق دي او د اړوندو اصلاحي ګامونو د اوچتولو هوډ یې کړي دي.

## د عمومی پلټونکی د نړیوال پرمختیایی دفتر لپاره د امریکا اداره

### د USAID پلټنه/ د افغانستان د روغتیایی او تحصلي اسانیتاو پروګرام

(د راپور شمیره: F-306-11-002-P، د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۷ نیټه خپور شوي)

د دې پلټنې موخه د USAID د هغو هڅو ارزونه وه چه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سره خپلو وګړو ته د روغتیایی خدمتونو د وړاندي کولو او د ولایتي روغتونو، د قابلو د روزنو د مرکزونو او د ښونکو د ولایتي روزنیزو کالیجونو د جوړولو له لارې خپلو ټاکلو موخو ته رسیدلي او ټاکل شوي اهداف یې ترلاسه کړي دي.

پداسي حال کې چه د نوموړي پلټنې په ترڅ کې یو شمیر پرمختګونه تر سترګو شول – د بیلګې په توګه، د روغونې د سمیزو کمپنیانو د وړتیاو او ظرفیتونو تقویه او د نړیوال تعمیراتي کوډ څخه پیروي- اما پروګرام خپلو ټاکلو موخو ته د رسیدلو لپاره د تقسیم اوقات سره سم پرمخ نه دي ترسره شوی. په پلټنې کې لاندي ذکر شوې موضوعګانې څرګندې شوې:

- د رغونې چارې په بې سارې توګه د خپل ټاکلي وخت څخه شاته پاتې وې. پروګرام حدوداً ۱۸ میاشتې تر خپل ټاکلي وخت وروسته پاتې و او د ټاکلي هدف د ترلاسه کولو په لوري ډیر کرار او ورو پرمختګ کاوه.
- مصارفو او امنیتي موضوعاتو د رغونې نوې چارې کمرنګې کړې وې. د هوکړو شوو اصلي موخو د ترلاسه کولو پر وړاندي د مرستو محدودیت تر ټولو لوی خنډ و چه د هغه ودانیو شمیر چه باید رغول شوې وای هغه یې په بې سارې توګه راکم کړي دي.
- په دې ماموریت کې د مذهبي ودانیو رغول ثابت شول په دې ماموریت کې د نارینه لپاره د لمانځه ځایونه او د ښځو لپاره د عبادت خونو په ۴ ودانیزو برخو کې ثابت شوي دي چه د د چه د فدرال قانون د ۲۲ فصل د 205(d) برخې څخه تخلف او د هغه سره په ټکر کې دي. د نوموړو ودانیو مجموعي لګښت ۲۵۸۹۸۲ ډالرو ته رسیږي.

- دې پروسې د ودانيو د ډيزاين ته اړتيا درلودله. دغه ماموريت د ګډوالو نړيوال سازمان (IOM) ته د ودانيو لپاره د بشپړو شوو نقشو يا ډيزاينونو چه د اړوند وزارت له لوري به نه رغول کيږي په اړه لارښونه نه ده کړې. دغه ماموريت تر اوسه پورې د دوو روغتونونو او د ښوونکو د ځلورو ولايتي روزنيز مرکزونو په اړه تکميل او بشپړې شوې نقشې د عامه روغتيا او د معارف وزارت ته نه دي سپارلي.
- د وسايلو او توکو ازموينه د لارښونو سره هيڅ سمون نه درلودIOM د ابادۍ د وسايلو او سامانو ازموينه د خپل کنټرولي منول او لارښود سره سم نه دي ترسره کړي.
- د اسانيتاو پايښت او بقا د پوښتنې وړ ده. د عامه روغتيا او د معارف د وزارتونو لخوا د رغول شوو پروژو او ودانيو څخه د ساتنې او پاملرنې مسله هم د پوښتنې وړ ده، ځکه چه د نوموړو وزارتو د لومړيتوبو سره په ټکر کې قرار لري چه کولاې شي د نوموړي پروګرام د اصلي موخې او هدف د ترلاسه کولو په وړاندې بله ننګونه او ستونزه وي.
- دغه ماموريت د چاپيريال په اړه اړينې ارزونې او پلټنې ترسره نه کړې. د افغانستان لپاره د USAID اداري هغه ډول چه اړينه و د چاپيريال په اړه اړينې ارزونې او پلټنې ترسره کړې نه دي.
- پلې يا تطبيق کونکي د علامه ګذارۍ پلان نه دي منظور کړي.IOM هغه ډول چه پکار وه او د قرارداد سره سم د علامه ګذارۍ پلان او نښاني کولو پلان نه دي تحويل کړي.
- يوه دويم لاس قراردادي په امنيتي برخه کې غيرمجاز لګښتونه او مصارف کړي دي. د رغونې په برخه کې يوه دويم لاس قراردادي پرته د کوم ډول منظوري افغان ملي پوليسو ته د امنيتي خدمتونو لپاره پيسې ورکولې. خو بيا هم پدې قضيه کې د پيسو شمير کم وو: حدوداً ۹۲۰۰ ډالره
- د رغونې په اړه د پخوانيو پروګرامونه لپاره د بياځلي پيسو ورکولو اوسنې پروګرمونه د خنډ سره مخامخ کړي دي. حدوداً ۳۱۶۰۰۰ ډالره چه د يوه کلينک او د ښوونځي د دويم ځلي رغونې لپاره چه په افغانستان کې د USAID د اداري د پروګرام په جوکاټ کې ځکه کارول شوي وو چه د ناوړه ډيزاين او نقشې له کبله ويجاړ شوي وو او د هغه د ترميم لپاره کارول شوي وو، کيداى شواى چه د نويو پروژو د پلې کولو لپاره کارول شوي واى.

د دغه موضوعګانو ته د پام راړولو په موخه ۱۵ GAO وړانديزونه کړي دي. په افغانستان کې د USAID اداري د نوموړو وړانديزونو په اړه ټولو مديريتي پريکړو ته رسيدلي او د ۶ وړانديزونو په اړه يې نهايي فعاليتونه بشپړ کړي دي.

## په افغانستان کې د USAID د بانکي نظارت د مرستې د فعاليتونو او د کابل بانک د کړکيچ په اړه عمومي کتنه

(د راپور شميره F-306-11-003-S، چه د ۲۰۱۱کال د مارچ په ۱۶مه خپور شو)

د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کې د اوازو او په خبرونو کې د خپاره شوو مطالبو وروسته په کابل بانک کې چه د افغانستان تر ټولو ستر بانک ګڼل کيږي د داخلي کړکيچ او په دوبۍ کې د نوموړي بانک د اسهامو په اړه د ستونزو د خبرونو وروسته خلکو د نوموړي بانک څخه د خپلو پيسو په ويستلو پيل وکړ. په افغانستان کې د USAID اداري د غوښتې په اساس په افغانستان کې د GAO پريکړې وکړه دغه بياکتنه د لاندې موخه د ثابتولو په موخه ترسره کړي:

- USAID او د هغه قراردادیانو د USAID اقتصادي ودې او د حکومتي ابتکاراتو او د خصوصي سکتور فعاليتونه تقويې ته په کتو ، دغه اداري په کابل بانک کې د فساد او مشکوکو فعاليتونو ته د لاس رسۍ په برخه کې کوم امکانات او فرصتونه درلودل

- کارکونکي څرنګه د فساد د شتون په اړه خبر شول
- کارکونکو وروسته تر هغه چه د فساد د موجودیت په اړه خبر شول کوم ګامونه اوچت کړل
- ایا د خپل قراردادي څخه د USAID څارني او عمومي کتني کافي او مناسبه وه

USAID او د هغه قراردادي په کابل بانک کې د موجوده فساد د موندلو په اړه کوم فرصتونه او امکانات په اختیار کې درلودل بیرنګ پاینټ او ډیلویټي سلاکارانو او مشاورینو د افغانستان په مرکزي بانک کې دنده ترسره کوله او د خپلي دندې د دوو کالو په موده کې یې په کابل بانک د موجوده فساد د شتون په اړه ډیر فرصتونه او موقع درلودلې چه وروسته په ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په لومړیو کې د نوموړي بانک د سقوط سبب شو. د بیرنګ پاینټ او ډیلویټي مسولینو کولای شواې په کابل بانک کې د جدي ستونزو په اړه لا زیات غوره او جدي ګامونه اوچت کړي وای. ځکه چه قراردادیانو په افغانستان کې د USAID اداره د افغانستان په مرکزي بانک کې د پرمختګونو په اړه بشپړ معلومات نه دي ورکړي، د USAID کارکونکو د فساد په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو کم فرصت او موقع درلودله.

د USAID مسولینو او د هغه قراردادیانو په کابل بانک کې د فساد په اړه څرنګه معلومات ترلاسه کړل؟ د USAID د ډیرى غړو مامورینو څخه د ترسره شوو مرکو کې ویلي چه هغوي ته په کابل بانک کې د موجوده فساد په اړه د لومړي ځل لپاره د واشینګټن پوسټ د مقالي له لارې چه د ۲۰۱۰ کال د فبروري په میاشت کې خبر شول. د USAID یو غړي مسول وویل چه په کابل بانک کې د لوی موجوده فساد اټکل او نښې نښاني ان په ۲۰۰۸ کې هم ترسترګو کیدلي، خو هغه وخت د فساد په اړه کره معلومات او شواهد موجود نه وو. د ډیلویټي د مهم غړو مسولینو په وینا چه DAB ته د بانک د نظارت په اړه د مرستي په برخه کې یې همکاري او لویه ونډه درلودله ویلي، چه هغوي ته په کابل بانک کې د موجوده فساد په اړه د لومړي ځل لپاره د واشینګټن پوسټ د مقالي له لارې چه د ۲۰۱۰ کال د فبروري په میاشت کې او یا هم د کابل بانک د فساد په اړه د بیلابیلو خبرونو له لارې چه د ۲۰۱۰ کال د اګست او یا هم سپتمبر په میاشت کې خپاره شوي وو خبر شول. خو هغوی ومنله چه د نومړو نیټو وړاندي هم د فساد نښې نښاني دوی ترسترګو شوې وې،

وروسته تر هغه چه د USAID مسولین او اړوند قراردادیان په کابل بانک د فساد په اړه خبر شول کوم اقدامات یې ترسره کړل؟ د واشینګټن پوسټ د ۲۰۱۰ کال د فبروري خپور شوی مطلب د امریکا په سفارت کې په ډیرى ځایونو کې د بحث موضوع وه، نوموړې موضوع د USAID او د امریکا د خزانې د مسولینو لپاره هم د بحث په یوه موضوع بدله شوې وه. د وقعاتو او پیښو په اړه د هغوي باور او یادونه یو د هغه په نسبت یوڅه توپیر درلود. د هغوي لخوا د ورکړل شوي راپور په اساس، USAID باور درلود چه د خزانې مسولین به د نوموړې خپاره شوي مطلب په اړه د ځواب ویلو په لړی کې تر ټولو مخکښ رول ولوبوي. هغه بیا د خزانې مسولینو ویل چه د دوی لپاره د ډیره ګرانه وه چه په نوموړي مطلب کې د USAID د ښکیلتیا په اړه ورته هر ډول اړیکه ثابته او جوته شي. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کې د رامنځ ته شوي کړکیچ او په افغانستان کې د امریکا د سفارت د رهبرى لخوا تر پوښتنو ګروېښنو وروسته، په افغانستان کې د USAID اداري د کابل بانک په اړه د توکو د ورکیدلو اړوند یو راپور چمتو کړ او اقتصادي پرمختګ او د حکومتداري د ماموریت په اړه یې د ډیلویټي د فعالیتونو په اړه یو سریع ارزونه ترسره کړه.

د ډیلویټي مسولینو بیا ویل چه د ۲۰۱۰ کال د فبروري د خپاره شوي مطلب وروسته هغوي د مرکزي بانک سره د یوه رغنده عکس العمل په اړه کډ کار پیل کړ. د مرکزي بانک لخوا د کابل بانک په اړه ازموینه د ۲۰۱۰ کال د جنوري په میاشت کې پیل او د همدې کال په مي میاشت کې بشپړه شوه، او پور د ورکولو د منظوری او تضمیناتو په ګډون یې زیات شمیر داسي نیمګړتیاوې یې وموندلې چه د فساد ښکارندوی یې کوله، خو پلټونکو په مستقیم ډول د پورو د تصدیق په اړه کوم اقدام و نکړ او نه یې هم په کابل بانک کې د موجود فساد په اړه مستقیم

راپور وړاندي کړ. نه ډیلویټي او نه مرکزي بانک ته د خپلو ازموینو راپور د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر تر میاشتي وړاندي نه دي سپارلی، وروسته خپله USAID د ډیلویټي د اداري څخه د راپور غوښتنه وکړه.

ایا د USAID لخوا د خپلو قراردادیانو په اړه ترسره شوې څارنه او عمومي کتني کافي او مناسبه وه؟ د ډیلویټي سره د اړوند ماموریت په اړه په افغانستان کي د USAID د څار او عمومي کتني چاري ضعیفي وي. ځکه په نوموړی ماموریت کي لیږ شمیر کارکونکي په دنده ګمارل شوي وه، او په کابل بانک کي د فساد په اړه د خطر د موجوده سیګنالونو او یا هم ډیلویټي ته د هغه په اړه د مستقیم جهت په ورکولو کي د کافي او اړوندو مهارتونو څخه نه وو برخمن. او دا کا سبب شو چه USAID ونشي کولای د ډیلویټي، د خزاني د اداري، د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت، مرکزي بانک او نړیوالي ټولني سره د ستونزي د حل په موخه په مناسب وخت کي اړوند اقدامات ترسره کړي.

## په افغانستان کي د USAID لخوا د غوره شوو قراردادیانو او د تضمین کونکو په اړه د نقدي مصارفو په اړه بیا کتنه

( د راپور شمیره F-306-11-002-S، د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۷مه خپور شوی)

د عمومي پلټونکي دفتر په افغانستان کي د USAID د هغو ۱۰ تطبیق کونکو لپاره د نقدي لګښتونه مناسب، په ځای او قانوني ترسره شوي دي. په پلټونو کي معلومه شوه چه په افغانستان کي د USAID د ۱۰ پلي کونکو لخوا مصرف کړل شوي نقدي لګښتونو مناسب، پر ځای او قانوني وو.

GAO وړاندیز وکړ چه په افغانستان کي د USAID دفتر باید د خپلو تطبیق کونکو همکارانو سره غوره لاري چاري شریکه کړي ترڅو نقدي انتقالات تر ممکنه حده پوري را کم کړي.

نوموړي ماموریت د یادو شوو وړاندیزونو سره هوکړه وکړه او خپلو پلي یا تطبیق کونکو همکارانو ته یې پدې اړه لیکلي پیغامونه واستل ترڅو په دې راپور کي بیان شوي لاري چاري خپلي او عملي کړي. برسیره پر دي، د ماموریت د هوکړي مسولینو/ قرارداد کونکو مسولینو د تخنیکي استازو لخوا به د څارني او عمومي کتني چاري پرمخ ځي ترڅو یقیني شي چه تطبیق کونکي همکار د خپلو نقدي لګښتونو په اړه خپل طرزالعمل او تګ لاري غوره او بهتره کړي.

## د کرهني، اوبو او د تکنالوژۍ د انتقال د پروګرام په اړه پلټنه

(د راپور شمیره F-306-11-001-P، چه د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۱۳ خپور شوی دي)

د دې پلټني اصلي موخه د دې امر معلومول و چه نوموړي پروګرام خپلو ټاکلو موخه ته رسیږي، چه د اوبو لګوني د مدیریت، د کرهني د تکنالوژي انتقال او د بنسټ جوړوني په برخه کي چاري پرمخ وړي. د خپل ۳ کلن پروګرام څخه د دوه نیمو کلنو په تیریدو NMSU د کرهني او اوبو لګوني په برخه کي نویو تکنالوژیو د معرفي کولو په ګډون زیات شمیر لاس ته راوړني درلودلي، کروندګرو د نوموړ تیکنالوژۍ د معرفي کولو په مختلفو غونډو کي ګډون کاوه. پلټونکو د دغه نویو تیکنالوژۍ د غوښتني او تقاضا په اړه یوشمیر شواهد ترلاسه کړ- د ځمکي د سحطي د لیزري معلومول یوه روښانه بیلګه بلل کیدلای شي- خو د تیکنالوژۍ څخه ګټه اخیستني په راتلونکي پوري اړه لري. دا پداسي حال کي ده چه د تطبیق په برخه کي لاندي موضوعات د پلټني په ترڅ کي وموندل شوي.

- د اوبو په برخه کي ډیر تاکید او پاملرنه د حکومتداری په نسبت د تیکنالوژۍ په انتقال باندي وه. NMSU د اوبو د زیرمه کولو په اړه یو شمیر تکنالوژي وړاندي کړي - د اوبو لګوني لیکي، د غلجاتو د اوبوني لپاره د ځمکو برابرول، د اوبو اندازه کول او د اوبو لګولو د کانالونو لپاره د کانکریټو فارمونو جوړونه. تر دم ګړی د نوموړو تیکنالوژۍ پرته د هغه ډول او شمیر څخه چه د NMSU په ملاتړ وړاندي شوي بل هیڅ

بیلګي نه ده لیدل شوي، د اوبو لګوني منابعو د حکومتداری د برخې په پراختیا او پرمختیا تر ډیره حده ډیر لیږ او کم تمرکز او تاکید شوي دي.

- د کرهني نوي تکنالوژی تطبیق د نیمګړتیاو سره مله وه. د اوبو لګوني د تکنالوژی برسیره، NMSU د لوړ حاصل ورکونکي ډول غنم، د وریجو د زیاتوالي او د غوره اذوقي د ترلاسه کولو په اړه غوره غلجات معرفي کړي. NMSU دغه تکنالوژی د کرهني، اوبو لګوني او مالداری وزارت یا MAIL پراختیایی اجینټ ته وسعت ورکړ او کرونګر د څمکو د ټوټو او د سمیزو ورځو له لاري. د اوبو د ساتني د تکنالوژی ترڅنګ چه پورته ذکر شول، د هغو وړاندیزونو څخه چه په ځانګړی توګه د NMSU په ملاتړ وړاندي کړل شول، کروندګرو په خپلو ځمکو کي د تکنالوژی څخه ګټه نه د اخیستي.
- NMSU د تخنیکي وړاندي شوو مرستو او روزنو په اړه ارزونه نه ده ترسره کړي.د MAIL لخوا د تخنیکي مرستي او روزني په برخه کي د غوښتونکو ته مثبت ځواب ویلی دي. د اوبو لګونو د ځانګړي لپاره NMSU د معلوماتي تکنالوژي د زیربنا په اړه تخنیکي مرسته او همکاري کړي ده، د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په میاشت کي NMSU د نوموړي ځانګي د کارکونکو د روزني په موخه د اوبو یو انجینر په دنده مقرر کړ. NMSU راپور ورکړي چه د کرهني اوبو لګوني او مالداری وزارت یا MAIL د کارکونکو، د پوهنځی او تحصیلي ادارو زده کونکو ته چه د فراغت څخه وروسته عموماً د کرهني وزارت ته ځي په ګډون ۵۱۶ تنه ته روزنه ورکړي ده. خو نوموړي پروګرام د ترسره شوو تخنیکي مرستي او روزني په پوهه، مهارتونو او د کرهني د وزارت د کارکونکو په وړتیاو کي د مثبت تغیر په اړه پروسه نه ده تعقیب کړي؛ او دا یی هم نه ده په ګوته کړي چه ایا نوموړو کروندګرو د دغه اسانتیاو څخه په خپله کاري سیمه کي کار اخیستي؛ او یا د دغه مرستو څخه د ګټي اخیستني وروسته د کرهني وزارت په کړونو کي ښوالی راغلی دي.
- د څار او ارزوني په برخه کي موجودو نیمګړتیاوې د معلومات په اغزمنتیا منفي اغزه کړې ده. NMSU د خپل فعالیت د مدیریت په اړه د دوو پلانونو څخه یو پلان په خپل ټاکلي وخت نه دي تسلیم کړي، او د مدیرت په اړه د دواړو پلانونو څخه یی یو شمیر اړین معلومات پاک کړي دي، د راپور د پایلو د پرتله کولو لپاره یی د معلومات نه دي ضبط کړي، ځیني ناسم معلومات یی وړاندي کړي، او په درو میاشتنیو راپورونو کي یی د فعالیت په وړاندي د ننګونو یادونه نه د کړې.
- NMSU د علامه ګذاری او په نښه کولو په اړه د پلان د کمبود سره مخامخ و. NMSU ترهغه چه پلټونکو خپله ورڅخه غوښتنه او تقاضا نه وکړې د علامه ګذاری او په نښه یا ګوته کولو په اړه خپل پلان نه و تسلیم کړي. برسیره پردې NMSU د علامت ګذاري د ستراتیژي سره سم په منظم ډول پروژې نه دي په نښه کړي.
- په افغانستان کي د USAID ادراې د چاپیریال په اړه د نوموړي اداري تګ لاري نه دي عملي کړې. نوموړي ماموریت د چاپیریال په اړه هیڅ ډول ارزونه او یا هم د چاپیریال د اغزي په اړه هیڅ ډول ارزونه نه ده ترسره کړې.

په دې هر څه برسیره یو شمیر هغه مسولینو چه د دي پروګرام سره تړاو لري په افغانستان کي د فعالیتونو په برخه کي امریکا د مرستو څخه د زیاتو لګښتونو په اړه پوښتني رابرسیره کړې دي او د پروګرام د مالي مدیریت په اړه یی یو شمیر پوښتني را اوچتي کړې دي. دې پوښتنو ته د ځواب په موخه د عمومي پلټونکي دفتر د پلټني د یوه شرکت سره قرارداد لاس لیک کړ ترڅو د NMSU او په امریکا د هغه د همکار پوهنتونونو په اړه مالي پلټني ترسره کړي. د عمومي پلټونکي دفتر یا OIG به د دغه پلټنو په اړه ځانګړی راپور خپور کړي.

## د نظارت یا څار روان فعالیتونه

د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نیټي پورې اړوندو ادارو یا اجنسیانو د افغانستان د بیارغوني په اړه د ۳۴ روانو څارنیزو فعالیتونو یا نظارت راپور ورکړي. دغه څارنیز فعالیتونه په ٤.٢ جدول کې په لاندې ډول یادولای شو:

4.2 جدول

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ پورې د نورو امریکایی ادارو د فعالیتو ترسره شوی څیړنی | | | |
| DoD OIG | D2011-D000FD-0121.000 | 3/30/2011 | د بین الحکومتي نظم او مقرراتو لپاره فیس او اضافي قیمت اخیستل چه افغان ملي امنیتي ځواک د فنډ څخه تمویل کیږي. |
| DoD OIG | D2011-D00SPO-0172.000 | 2/14/2011 | د افغان ملي اردو د لوژیستکي ورتیاو پرمختیا او پراختیا |
| DoD OIG | D2011-D000JO-0137.000 | 1/18/2011 | د ملي عملیاتي او حفظ او مراقبت د قرارداد په اساس په افغانستان کې د وراندي شوو روزنیزو پروګرامونو د اسانتیاو مدیریت |
| DoD OIG | D2011-D000AS-0153.000 | 1/11/2011 | د افغان ملي اردو د هوایی قطعي او د انګلیسي ژبې د روزنیز ماموریت د لګښت او څارنه |
| DoD OIG | D2011-D000AS-0133.000 | 1/3/2011 | د افغان ملي امنیتي ځواک لپاره د لوړ سرعت لرونکي او د بیړو اهدافو لپاره د کټو اخیستلو ور څلور تیره موټرونو او د سرتیرو د اغستلو د تیکو خریداری |
| DoD OIG | D2011-D000FR-0089.000 | 11/30/2010 | د افغان ملی اردو د معاشاتو په موخه د مرسته شوو د تقسیم او بیا تطبیق په اړه داخلی کنترول |
| DoD OIG | D2011-D000JB-0068.000 | 11/17/2010 | د افغانستان د نظامی رغوني لپاره اړین پرمختیایی پروسي |
| DoD OIG | D2011-D000JA-0075.000 | 11/2/2010 | دDoD د شمالي ویشونکي ډلی څارنه شبکه |
| DoD OIG | D2011-D000AS-0030.000 | 10/1/2010 | د دفاع وزارت د غیر معیاری څرخی هلیکوپتر په اړه د مرستو او لګښتو په اړه څارنه او اداره |
| DoD OIG/ DoS OIG | D2011-D000JA-0009.000 11AUD3001 | 9/30/2010 | د افغان ملي پولیسو د روزنیز پروګرام په اړه پلټنه (ګډه پلاټنه) |
| DoD OIG | D2010-D000FL-0276.000 | 9/2/2010 | په افغانستان کښی د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام ته د ورکړل شوو پیسو کنترول او راپور ورکونه |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0165.001 | 6/21/2010 | د امریکا د پوځ د استخباراتی او امنیتی مقرره د ژبنی مرستي د قرارداد تطبیق |
| DoD OIG | D2010-D000JO-0229.000 | 6/14/2010 | د افغانستان په پروان ولایت کښي د بندیخاني رغونه |
| DoD OIG | D2010-D000JB-0157.000 | 3/4/2010 | د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزني پروګرام قرارداد |
| DoD OIG | D2010-D000JA-0091.000 | 12/9/2009 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو لپاره د ځواک ساتني پروګرام |
| DoD OIG | D2009-D00SPO-0115.000 | 12/17/2008 | د افغان ملي امنیتي ځواک د روغتیایی ورتیاو د پرمختیا د پایښت په اړه د امریکا او د ایتلافي قواوو هڅې |
| DoS OIG/ SIGAR | 11AUD3003 | 10/2010 | د افغانستان د ملکي وګړو ارتقا )ګډه پلټنه) |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO-3013 | 2/2011 | د نړیوال مخدره توکو په وراندی د مبارزې د قانون د پلی کیدو د اداري د عملیاتی امکاناتو او په افغانستان کښي د لویو جرمونو د عملیاتو د ځواک سره د قراردادو د پایښت او تلی پاتی ثبات په موخه بیا کتنه ترسره کول (ګډه ارزونه) |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO-3007 | 12/2010 | په افغانستان کښی د رامنځ ته شوی نوی د بهرنیو چارو وزارت د پرمختیایی ځانګي لپاره د اړینو حالاتو او مرستو یوه لنډه بیا کتنه. |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO-3003 | 10/2010 | د نړیوال مخدره توکو په وراندی د مبارزې د قانون د پلی کیدو د اداري د عملیاتی امکاناتو او په افغانستان کښي د لویو جرمونو د عملیاتو د ځواک سره د قراردادو د پایښت او تلی پاتی ثبات په موخه بیا کتنه ترسره کول (ګډه ارزونه) |
| DoS OIG-MERO | 11-MERO-3004- | 9/2010 | د وګړو، کډوالو او مهاجرینو د پروګرام د اداري په اړه بیاکتنه چه تر کومي کچي نوموړي اداره د بیرته راستنیدونکو او افغان مهاجرینو د بیرته په ځای کولو په برخه کې اغزمني وې ( د پروګرام ارزونه) |
| GAO | 120976 | 3/31/2011 | د کړکیچ څخه په ډک هیواد کې د دولتي قرارداد کول |
| GAO | 351552 | 12/9/2010 | د بحری قطعي په توکو د ځای په ځای کولو لپاره د سمبالښت ستراتیژی |
| GAO | 320815 | 11/5/2010 | د بودجي او لګښتونو د تنظیم په برخه کې د افغان ظرفیت ارتقا |
| GAO | 351525 | 8/26/2010 | د سوداګری او د ثبات د عملیاتو په اړه د امریکا د دفاع وزارت ځانګړی ماموریت |
| GAO | 351514 | 8/4/2010 | د اردو مشورتی او مرستندوی دسته یا تشکیلات |
| GAO | 351489 | 8/4/2010 | په افغانستان کښی د دفاع وزارت څیړني |
| GAO | 320794 | 7/21/2010 | د افغانستان لپاره د امریکا د مستقیمو مرستو په اړه حساب ورکول |

جدول ۴.۲ (دوام لري)

**د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ پورې د نورو امریکایی ادارو د فعالیتو ترسره شوی څیړني**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| GAO | 320766 | 5/3/2010 | په افغانستان کې د امریکا ملکي حضور |
| GAO | 351492 | 4/30/2010 | د افغانستان د لوژستیک سره ملاتړ |
| USAAA | A-2011-ALL-0342.000 | 2Q/FY11 یا د ۲۰۱۱ مالي کال دویمه ربع | د قومندان د بیړني عکس العمل پروګرام - افغانستان |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | 2Q/FY11 یا د ۲۰۱۱ مالي کال دویمه ربع | په افغانستان کې د USAID د سفارت د هوایی برخې پروګرام ته بیاکتنه |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | 2Q/FY11 یا د ۲۰۱۱ مالي کال دویمه ربع | په افغانستان کې د USAID لخوا د افغانستان د ثبات ابتکار – جنوبي سیمي |
| USAID OIG | نه دي ورکړ شوي | نه دي ورکړ شوي | په افغانستان کې د USAID د هغه ملاتړ چه په افغانستان کې د ټاکنو د ګډون د اوچتولو (IEP) او د ټاکنو د پروسې سره د ملاتړ (STEP) پروګرامونو سره ترسره کړي دي پلټنه کوي. |

سرچینې: د سیګار د 4/4/2011 نیټي پوښتني ته د DoD OIG ځواب د سیګار د 3/31/2011 نیټي پوښتني ته د DoD OIG ځواب د سیګار د 3/31/2011 نیټي پوښتني ته د DoS OIG-MERO ځواب، د سیګار د 4/5/2011 نیټي پوښتني ته د GAO ځواب، د سیګار د 3/25/2011 نیټي پوښتني ته د USAAA ځواب، د سیګار د 3/23/2011 نیټي پوښتني ته د USAID OIG ځواب

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

د امریکا دفاع وزارت یا DoD د احتمالي څارنیزو یا نظارت د فعالیت د تطبیق (OCO)په برخه کې د زیات شمیر ننګونو سره مخامخ دي. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG د ننګونو او سترو خطراتو پر اساس خپل لومړیتوبونه په ګوته کړي دي او په جنوب لویدځه اسیا کې د خپل حضور په پراخوالي او د احتمالي فعالیتونو د پوښښ د زیاتولو له لارې یې نوموړو ستونزو ته ځواب ویلی دي.

په جنوب لویدځه اسیا کې د امریکا د دفاع وزارت د موجوده یون او تمرکز ته د ځواب ویلو ته په کتو، په افغانستان کې د عملیاتو څخه څار او تمرکز د DoD OIG لپاره یو لومړیتوب دي او همدا ډول باید په عراق کې د څار چارې او پاتي عملیات ضرورت هم په خپل ځاي پاتي او پرمخ یوړل شي.

DoD OIG د جنوب لویدځي اسیاد د ګډ پلان جوړوني د ګروپ د همغږي، د ستونزو د هوارولو او په DoD OCO اړوند د څار د فعالیتونو چارې پر مخ وړي. نوموړي ګروپ خپله ۱۶مه غونده د ۲۰۱۱ کال په فبروري میاشت کې ترسره کړه. د جنوب لویدځي اسیا د ګډ پلان جوړولو ګروپ په جنوب لویدیځ او نږدې سیمو کې د ۲۰۱۱ مالي کال د پلان جوړولو په اړه خپل راپور د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۳۱مه خپور کړ. د ۲۰۱۱ مالي کال پلان بیا د فرعي کټګوریو په وسیله د فعالیتي سیمو پر اساس تنظیم شوی ترڅو د ټولني د هڅو په اړه ورتوالی په بند به بند څرګند شي. د پلټني پدې پلان کې هغه پروژې شاملې ده چه په جنوب لویدیځ او چاپیره سیمو باندي مستقیم اغیزه لري. د پلټني پروژې کیدای شي په ځانګړي ډول په تیاتر کې ترسره شي، تیاتر شاید سفر کولو ته اړتیا وي، او یا هم امکان لري د تیاتر څخه د باندي یوازي په CONUS لاره واچول شي.

د قراردادنو، دویم لاس قراردادنو او فعالیتونو چه د لوژستیکي ملاتړ لپاره ترسره شوي دي، دغه جامع پلان د څار نورو سیمو او برخو لکه د توکو د حساب ورکولو، مالي مدیریت، امنیت، بشري حقوق، د قانون حاکمیت او د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ په شان موضوعات هم تر پوښښ لاندي راولي. د څار ګډون کونکي اداري به د کاري ګروپونو او شوراګانو له طریقه د پلټنو د پلان د همغږي په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

د DoD OIG روان عملیات ازادي تاب راوړل- اړوند څار او نظارت د هغه پرسونل چه رغوني د هڅو،

د امریکایی پرسونل څخه د پوځي خوندیتوب پروګرام، د دارایی، نامناسبو پیسو ورکولو، د قرارداد د مدیریت، د افغان ملي اردو د پې رول په اړه نامناسب لګښتونه او د مرستو پرې کولو په برخه کې امنیتي خدمتونه وړاندي کوي پلټنې ترسره کړي؛ همدا ډول د افغان ملي پولیسو د روزنې په اړه د قرارداد، په افغانستان کې د ننه د لوژیستکي لګښتونو؛ معلوماتي عملیات، د زرهي وړتیاوې او د افغانستان د ملي امنیتي ځواک د پلان جوړونې او د مرستو د کنترول په اړه د غوښتنې د برابرولو په اړه ګټه اخیستل کیدلای شي.

د ۲۰۱۱ مالی کال د لومړی دریو میاشتو لپاره، DoD OIG 43 د رواني څارنیز فعالیتونو درلودل او د OEF سره د مرستې په موخه درې راپورونه خپاره کړی دی. د دغو 43 روانو پروژو له جملې 17 چې مستقیماً په افغانستان کې د امنیت او بیا رغونې سره تړاو لري په دغه راپور کې ځای پر ځای شوي دي. د ۱۱ خپرو شوو راپورونو څخه یو یی مستقیماً هغه ډول چه د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي تعریف کړي په افغانستان کې د بیارغونې او امنیت په اړه دي.

### د بین الحکومتي نظم او مقرراتو لپاره فیس او اضافي قیمت اخیستل چه افغان ملي امنیتي ځواک د فنډ څخه تمویل کیږي.

(د پروژې شمیره D2011-D000FD-0121.000، چه د ۲۰۱۱ کال د مارچه په ۳۰ مه په لاره اچول شوي ده)

د امریکا د دفاع وزات د عمومي پلټونکي دفتر اوس غواړي چه معلومه کړي چه د افغان ملي امنیتي ځواک د فنډ څخه د بی الحکومتي تخصیصاتو لپاره په کومه اندازه فیس او اضافي قیمت ادا کړل شوي دي. DoD OIG به همدا ډول معلومه کړي چه ایا د نومړو لګښتونو د اثبات او ملاتړ لپاره د دغه مصارف معلومات موجود دي او که څنګه.

### د افغان ملي اردو د لوژیستکي وړتیاو پرمختیا او پراختیا

(د پروژې شمیره D2011-D00SPO-0172.000 چه د ۲۰۱۱ کال د فبروري په ۱۴ په لاره اچول شوي و)

DoD OIG هڅه کوي ترڅو معلومه کړي چه چه د امریکایی / ایتلافي قواوو لخوا د افغان ملي اردو د لوژستیکي او عملیاتي ثبات او پایښت سره د روزنې، سلامشورو او مرستو لړی موثره او اغزمنه وه او که څنګه. په ارزونه کې په لوژستیکي او عملیاتي برخه کې د افغان ملي اردو هغه لاس ته راوړنې هم شاملیږي چه د امریکا او ایتلافي قواوو لخوا د افغانستان د ملي دفاع وزارت او ملي اردو د لوژستیکي اړخه د ملاتړ پروسه ترسره کیږي. DoD OIG به همدا ډول معلومه کړي چه د ایساف، په افغانستان کې د امریکایی قووې، او ایساف د ګډې قومندانی چه غواړي افغان ملي اردو په لوژستیکي برخه کې د پایښت له اړه د کافي ظرفیت او وړتیاو درلودنکی دي او د نوموړي هدف ته د رسیدلو په لاره کې د پورته اداره له لوري پلانونه، روزنې، امادګی د امریکا د متحده ایالاتو/ ایتلافي قومندانی/ کارکونکو او همدا راز د افغانستان د ملي دفاع وزارت په ټولو کچه یوشان ترسره او پرمخ وړل کیږي،او د افغان ملي اردو فعالیتي ننګونې په ګوته کړي.

### د ملي عملیاتي او حفظ او مراقبت د قرارداد په اساس په افغانستان کې د وړاندي شوو روزنیزو پروګرامونو د اسانتیاو مدیریت

(د پروژې شمیره D2011-D000JO-0137.000، د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۱۱مه پیل شوي)

پدې توګه DoD OIG غواړي ترڅو معلومه کړي چه د افغانستان د عملیاتي او د حفظ او مراقبت قراردادنو په اساس وړاندي شوي حرفوي زده کړې د افغان ملي امنیتي ځواک د زیربنایی ظرفیتونو د خوندیتوب په پراختیا کې اغزمنې دي.

### د افغان ملي اردو د هوايي قطعي او د انګليسي ژبې د روزنيز ماموريت د لګښت او څارنه

(D2011-D000AS-0153.000، د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۱۱مه پیل شوی)

دا دي DoD OIG د پيرودنکو د خدمتونو د جنګي ساحوي عملياتو په اړه د خپلو پلټنو د لړۍ په ترڅ کې دويمه پلټنې ترسره کوي. پدې دويه پلټنه کې، د DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د د افغان ملي اردو د هوايي قطعي او د انګليسي ژبې د روزنيز ماموريت لپاره د امريکايي پوځ د تظاهر، روزني او د ترلاسه شوو افزار او سامانونو په اړه د اجرايوي پروګرام دفتر دغه اسانتياوې په مناسب قيمت ترلاسه کړي دي او که څنګه او د نوموړي ماموريت د ترسره کولو لپاره د قراردادي د څارني او عمومي کتني تګ لارې او يا طرزالعملونه پرځای وو او د هغه څخه ګټه اخيستل شوې وه.

### د افغان ملي امنيتي ځواک لپاره د لوړ سرعت لرونکي او د ډيرو اهدافو لپاره د ګټو اخيستلو وړ څلور ټيره موټرونو او د سرتيرو د اغستلو د ټيکو خريدارۍ

(د پروژې شميره D2011-D000AS-0133.000، چه د ۲۰۱۱ کال د جنوري په ۳ پیل شوي)

DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د قرارداد مسولين په اغزمنه او موٍثره توګه د لوړ سرعت لرونکي او د ډيرو لپاره د کاريدونکو موټرو او د سرتيرو د جامو د اخيستلو او رانيولو چارې پر مخ وړي.

### د افغان ملی اردو د معاشاتو په موخه د مرسته شوو د تقسيم او بيا تطبيقپه اړه داخلی کنترول

(د پروژې شميره D2011-D000FR-0089.000, د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۳۰مه پیل شوی)

DoD OIG مشخص کوی چی د ناټو د روزني د موخو – افغانستان / ګډ امنيتی قومندې انتقال – افغانستان (NTM-A/CSTC-A) د هغو مرستو لپاره چی د امريکا د دفاع وزارت لخوا د افغانستان د وزارتخانو له لاره د ملی اردو د معاشتو په موخه ورکول کيږی د کنترول په موخه لازم ګامونه او تګ لارې شته دی. برسيره پر دي DoD OIG به دا هم معلومه کړي چه NTM-A/CSTC-A توانيدلی دي چه د افغان دولتي وزارتخانو سره د افغان ملي اردو پرسونل ته د معاشونو په مناسبه ورکولو که رغنده او کافي مرسته او کړې او هغه يې تطبيق کړي دي.

### د افغانستان د نظامی رغوني لپاره اړين پرمختيايی پروسی

( د پروژې شميره D2011-D000JB-0068.000، چه د ۲۰۱۰ کال د نومبر په مياشت کې پیل شوي ده۹)

DoD OIG په افغانستان کې د نظامي پروژو د رغوني لپاره د اړينو پرمختيايی پروسو په اړه ارزونه او تحليل ترسره کوي. په ځانګړې توګه DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د پرمختيايی پروسي اړتياوې اړيني پايلو، د پام او اندازې وړ نتايج او د امريکا د دفاع وزارت د غوښتني سره سم خپل ټاکلي کاري اهداف تر لاسه کوي.

### دDoD د شمالی ويشونکی ډلی څارنه شبکه

(د پروژې شميره. D2011-D000JA-0075.000, د ۲۰۱۰ کال د نومبر په۲مه پیل شوی)

DoD OIG د دفاع وزارت د شمالی ويشونکی ډلی د څارني سره مرسته کوی او د DoD هغه وړتياوې چې غواړی د شمالی ويشونکی ډلی له لوری چاری پلان، همغږی او د عملياتو د تل پاتی کيدو په اړه ارزوني ترسره کوی.

### د امریکا د دفاع وزارت د غیر ستندرد څرخي الوتکي د ملاتړ او د درخواستی په اړه څار او مدیریت

( د پروژې شمیره. D2011-D000AS-0030.000, د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۱ نیټه پیل شوی)

DoD OIG هڅه کوی تر څو معلومه کړی چی د DoD مسولین په سمه او موثره توګه د غیر معیاری څرخی هلیکوپتر په اړه د مرستی او لګښته د روسی Mi-17 په شان په اړه چاری په سمه توګه ارزوی او اداره کوی، تر څو د افغانستان د امنیتی پوځ د مرستو او یا هم د دفاع وزارت د نورو اړوند مرستو څخه تر لاسه شوی مرستي شاملی کړی. د دی موخي د تر لاسه کولو په هدف شاید چی ډیری پروژې پیل او ابتکار شوی وی.

### د افغان ملي پولیسو د روزني پروګرام (ګډې پلټني)

( د پروژې شمیره D2011-D000JA-0009.000، [ د بهرنیو چارو وزارت 11AUD3001]، د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په ۳۰مه پیل شوي دي)

د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو د وزارتونو د عمومي پلټونو دفتر نوموړې پلټني په ګډه پرمخ وړي ترڅو د ۲۰۱۰ مالي کال د ملي دفاع د صلاحیت د قانون هغه غوښتنه چه د امریکا د دفاع وزارت د پلټني د عمومي دفتر څخه غواړي چه د بهرنیو چارو د وزارت د پلټني د دفتر سره د ګډ کار په ترڅ کي د افغان ملي پولیسو د روزنیز پروګرام په اړه راپور خپور کړي. دغه پلټنه د افغان ملي پولیسو د پروګرام په اړه د قراردادنو د لیږدوني د څرنګوالي په ارزونه وکړي. په ځانګړی توګه، DoD OIG/DOS OIG به د انتقال د لګښت، د کړنو کچه او د انتقال اړوند د پلان جوړوني هڅي تر څو د قرارداد څارنه، اړینه مرسته او کمک، د پروګرام اغزمنه اداره یقیني او عملی شی. دا ټیم همدا ډول هوډ لری تر څو د DoD OIG د پروژې D-2010-042 او DoS OIG د MERO-A-I O-6 پروژې ګډ راپور، "د افغان ملی پولیسو د روزني په موخه د دفاع وزارت د منل شوو او مصرف شوو مرستو څخه د امریکا د کورنیو چارو وزارت ته ورکړل شوی مرستي، " چی د ۲۰۱۰ کال د فبروری په نهمه ترسره شوی تعقیب کړی.

### په افغانستان کښی د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام ته د ورکړل شوو پیسو کنترول او راپور ورکونه

( د پروژې شمیره D2010-D000FL-0276.000, د ۲۰۱۰ کال د سپتمر په ۲مه پیل شوی)

DoD OIG غواړی چی معلومه کړی چی د CERP سره په افغانستان کښی د فعالیتو سره د مرستي په موخه جوړکړل شوی داخلی کنترولی سیستمونه سم او مناسب دی. په ځاګړی توګه، DoD OIG به کنترول وپلټی تر څو یقینی کړی چی پیسي په سمه توګه ورکړل شوی دی، او دا چی د بشپړ،سم او دقیق معلومات هغو پریکړه کوونکو ته چی د CERP د اداره مسولین دی ورکړل شوی دی. دا څیړنه د هغو څیړنو دویمه ده چی CERP لخوا په افغانستان کښی د فعالیتو سره د مرستي په موخه د پیسو ورکوني لپاره داخلی جوړ شوی کنترولی سیستمونه وارزوی.

### د امریکا د پوځ د استخباراتی او امنیتی مقرره د ژبنی مرستي د قرارداد تطبیق

(د پروژې شیمره. D2010-D000JA-0165.001, د ۲۰۱۰ کال د جون په یوویشتمه پیل شوی )

DoD OIG غواړی تر څو معلومه کړی چی د امریکا د پوځ د استخباراتی او امنیتی مقرره د ژبنی مرستي قرارداد (W911W4-07-D-0010) په سمه توګه تطبیق او عملی شوی دی. د افغانستان سره د ژبی په

ځانګه کښې د مرستې دا پروژه د بیا کتنې او ارزونې د پروسې د لړۍ یوه برخه ده. پروژه -D2010-D000JA 0165.000 معلومه وی چې په افغانستان کښې د ژبې د ځانګه سره مرسته شوی (W911W4-07-D-0010) لازم امنیتی مقررات په پام کښې نیول شوی دی.

## د افغانستان په پروان ولایت کښې د بندیخانې رغونه

(د پروژې شمیره. D2010-D000JO-0229.000, چې د ۲۰۱۰ کال د جون په ۱۴ پیل شوی)

DoD OIG غواړی چې معلومه کړی چې د امریکایی پوځ د انجینرانو ډلې او USFOR-A په پروان ولایت کښې بندیخانه د امریکا د فدرال کارونې د مقرراتو او نور اړوندو قوانینو سره سم رغولې او قرارداد پلې کړې دی. په ځانګړی توګه DoD OIG به معلومه کړی چې د امریکا پوځ د انجینرانو ډلې د بندیخانې د رغونې په وخت کښې کار څارلې او ارزولې او دا چې د امریکا پوځ د انجینرانو ډلې په کار او قرارداد کښې د موجوده کمیو، سرغړونو او فساد په وړاندې کوم اقدام کړی او یا هم په راتلونکی کښې غواړی چې د سرغړوونکو په وړاندې کوم اقدام وکړی.

## د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزنې پروګرام قرارداد

د پروژې شمیره D2010-D000JB-0157.000 چې پیل یې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ځلورمه شوی و)

د دفاع وزارت د پلټونکي عمومي دفتر دا ډاډ لاس ته راوړل غواړي چې آیا د افغان ملي اردو د وسایطو د ترمیماتو په قرارداد کې د کیفیت د ډاډ او د کنټرول له نظره ضروري پروسیجرې وجود لري که نه. په ځانګړي توګه، DoD OIG به معلومه کړي چه د قرارداد په اړه ټول حکومتي شرطونه مراعات شوي دي او ایا د قرار څخه په سمه او مناسبه توګه څارنه او نظارت ترسره شوي دي. برسیره پردې، DoD OIG به دا هم معلومه کړي چه قراردادي د قرارداد د ذکر شوي ماموریت په مناسبه توګه پرمخ وړلو په موخه د ګدام اضافي ځای ته اړتیا لري او معلومه کړي چه ایا قراردادي د pmts د لګښتونو د تنظیم لپاره مناسب او موجه غوښتنه ترسره کړې ده. د راپور یوه لړۍ د دې پروژو لپاره پلان شوې ده.

## په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو لپاره د ځواک ساتنې پروګرام

(د پروژې شمیره D2010-D000JA-0091.000 چې د ۲۰۰۹ کال په ۹ دسمبر پیل شوې وه)

DoD OIG په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د راتولیدلو د ابتدایي ځایونو او خوړلو د سیمو لپاره د ځواکونو د ساتنې د پروګرامونو بیا کتنه کوي. په ځانګړي توګه، دا د پروګرام ملاتړ او منابع ارزوي کوم چې قوماندان د مرکز د پلان کولو، د تروریزم په ضد، او د هغوی د ځواکونو د ساتنې لپاره د خوندیتوب پروګرامونه په اختیار کې لري. دا پلټنه د بګرام په هوایي ډګر، د کندهار هوایي ډګر، ایګارسز کمپ، او د کابل په نوي قرارګاه باندې تمرکز کوي.

## د افغان ملي امنیتي ځواک د روغتیایی وړتیاو د پرمختیا د پایښت په اړه د امریکا او د ایتلافي قواوو هڅې

(د پروژې شمیره D2009-D00SPO-0115.000، چه د ۲۰۰۸ کال د دسمبر په ۱۷ پیل شوي)

DoD OIG هوډ کړی تر څو معلومه کړي چه د امریکا متحده ایالاتو، ایتلافي قواوو، د افغانستان د کورنیو چارو او دفاع وزارت  د افغان ملي امنیتي ځواک د روغتیایی پاملرنې د پراختیا او ثبات او پایښت په اړه ټاکل شوي اهداف، موخې، پلانونه او لاربښونې ابلاغ کړي دي.

## د بهرنیو چارو د ځانګړی عمومی پلټونکی دفتر

### د افغان ملي پولیسو د روزنیز پروګرام په اړه پلټنه (ګډه پلاټنه)

( د پروژې شمیره 11AUD3001[DoD D2011-D00JA-0009.00] چه د ۲۰۱۰ کال د نومبر په میاشت کې پیل شوي)

اهداف او موخې: د ۲۰۱۱ مالي کال کې د اټکل شوي اړتیا له مخې د ملي دفاع د صلاحیت قانون چه د DoD OIG څخه د DoS OIG په همکاری غوښتنه کوي چه افغان ملي پولیسو د روزني د پروګرام په اړه راپور خپور کړي، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي د دفتر هدف دا دي چه د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارت هغه هڅې چه غواړي افغان ملي پولیسو د پروګرام په اړه د قرارداد اداره ولیږدوي لوړه او اوچته کړي. په ځانګړی توګه، DoS OIG به د لګښت، د کارکولو د معیاراتو او د انتقال سره اړوند د پلان جوړوني هڅو سره مرسته وکړی تر څو یقیني کړی چې د قرارداد څخه سمه څارنه، دقیق مرستي او همکاری او د پروګرام مناسبه اداره صورت مندلی او یقینی شوی ده. DoS OIG همدا ډول په پام کې لري چه د DoD OIG د D-2010-042 شمیره راپور او د DoS OIG د MERO-A-10-6 شمیره راپور تعقیب کړي،" د افغان ملي پولیسو د روزني او سلامشورو لپاره د دفاع وزارت تعهداتو او د لګښتونو په اړه د هغه مرستي چه د دې موخي لپاره ځانګړې شوي دي،" 2/9/2010

### د افغانستان د ملکي وګړو ارتقا

( د پروژې شمیره. 11AUD3003, چې د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کښې پیل شوی)

هدف: د یادې شوې څېړني اصلی موخه په افغانستان کښی د ملکی وګړو د ژوند د صطح د لوړوالي او ښوالي ارزونه او دا چی د ( د ۲۰۰۹ کال څخه بیا تر اوسه) په دی هدف څومره پیسي لګول شوی او (د اوس څخه بیا ۲۰۱۲) کال پوری د دی هدف د پرمخ وړولو او د پاینت لپاره نوری پیسي پکار دی. DoS OIGکار به تر ډیره په افغانستان کښي د ملکی وګړو د ژوند سطح د لوړولو په موخه په دنده د ګمارني، روزني، او د یاد شوی هدف لپاره د استخدام شوو پرسونل باندی تمرکز کوی.

## په منځني ختیځ کې د باندینیو چارو وزارت دعمومي پلټونکی سیمه ییز دفتر

### د افغانستان د لوی څارنوالي د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې د څانګي سره د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې د نړیوالي اداري او د قانون د حاکمیت د قضایی څانګي لخوا د ترسره کیدونکو مرستو او ملاتړ په اړه ارزونه ( د قرارداد ارزونه)

(د پروژې شمیره: -11-MERO3013 چې د 2011 کال په فبروری کې پیل شویده)

دا ارزونه به جوته کړي چه (۱) د امریکا د بهرنیو چارو وزارت څومره پیسي تعهد او مصرف کړې دي؛ (۲) د بهرنیو چارو وزارت څرنګه د نوموړ پیسو د تخصیص او ملاتړ تضمین کوي؛ (۳) او تر کومي کچې د بهرنیو چارو د وزارت د فساد په وړاندي د مبارزې په اړه د مرستي او عدلي څانګي د نوموړي پروګرام لپاره ټاکلي موخي په رسیدلو او د هغه اهدافو په ترلاه کولو کې توانیدلي دي؛ او
(۴) په کابل کې د امریکا د سفارت له لوري د نوموړي پروګرام لپاره د ځانګړو شوو مرستو څخه تر کومه حده څارنه او نظارت کړي دي.

**په افغانستان کې د بهرنيو چارو د نويو اهدافو به اړه د اړيتاو او د شرايطو او امکاناتو په اړه محدوده ارزنه ( د پرورګرام ارزونه)**

( د پروژې شميره 11-MERO-3007, چې د ۲۰۱۰ کال په ديسمبر کښې پيل شوی)

د دې ارزونې لومړني اهداف د (۱) تر کومې کچې پورې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په کابل کې د سفارت او د هغه اړوندو ادارو کې د نويو موقفونو د پيرندلو، پراختيا او د کارکونکو د ګمارولو د اړتيا په اړه ارزونه ترسره شوې؛ او (۲) ايا کارکونکو ته ورکړل شوې دفتري او يا هم کورني فضا مناسبه، خوندي او د امنيت درلودنکې ده.

**د نړيوال مخدره توکو په وړاندی د مبارزې د قانون د پلی کيدو د ادارې د عملياتی امکاناتو او په افغانستان کښې د لويو جرمونو د عملياتو د څواک سره د قراردادو د پايښت او تلی پاتی ثبات په موخه بيا کتنه ترسره کول (ګډه ارزونه)**

( د پروژې شميره11-MERO-3003, د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کښې پيل شوی)

د دې ارزونې لومړني اهداف د دې امرونو معلومول دي (۱) د قرارداد د شرايطو او مقرراتو پيژندل؛ (۲) د هغه پيسو د کچې معلومول چه د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د عملياتو د اسانتيا او پايښت لپاره منلي او مصرف کړې دي؛ (۳) په فالکون کمپ کې د ډاين کورپ لخوا د سترو جرمونو عملياتو ته د وړاندې شوو اسانتياو په اړه د نوموړې ادارې د قرارداد سرسم د کړنو ارزونه؛ او (۴) د بهرنيو چارو وزارت دا امر څرنګه تضمين کولای شي چه د نومړې پروګرام لپاره ځانګړې شوې مرستې په سمه توګه د ټاکلو اهدافو لپاره کارول کيږي.

**د وګړو، کډوالو او مهاجرينو د پروګرام د ادارې په اړه بياکتنه چه تر کومې کچې نوموړې اداره د بيرته راستنيدونکو او افغان مهاجرينو د بيرته په ځای کولو په برخه کې اغزمنې وې ( د پروګرام ارزونه)**

(د پروژې شميره. 11-MERO-3004, چې د ۲۰۱۰ کال په سپتمبر کښې پيل شوی)

د دې پلټنې اهداف دا دي (۱) د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې يا UNHCR، ICRC او نورو غير دولتي ادارو سره د قرارداد د شرايطو او مقرراتو معلومول؛ (۲) د مرستې لپاره اړتياوې څرنګه محاسبه شوې وې؛ (۳) ايا مرستو خپل ټاکلي اهداف تر لاسه کړل،(۳) ايا د پروګرام د فعاليت د لاس ته راوړنو څخه ګټه اخيستل شوې ؛ او (۴) په افغانستان کې د بشري عکسل العمل د همغږې او ادارې په اړه په کابل کې د امريکا د سفارت او د ولايتي بيارغونې د ډلو موثريت او اغز.

## د حکومت د احتساب اداره

**د کړکيچ څخه په ډک هيواد کې د دولتي قرارداد کول**

(پروژه نمبر 120976, پيل شوي ۲۱ اګست ۲۰۰۹)

دغه پلټنه به تر ډيره حده د مرستې په دغه برخو باندې متمرکزه وي (۱) د بهرنيو چارو د وزارت د ماموريت او اړيتاو د غوښتنو سره د سازمان تطابق؛ (۲) د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د لاس ته راوړنو په لپاره د بشري

قوي ارزونه هم د پرسونل د شمیر او هم د وړتیاو له نظره؛ (۳) د بهرنیو چارو د وزارت لخوا د خپل اړخه او یا هم د کومې بلې فدرال اداري لخوا د قراردادونو د ورکولو او د مدیریت د څرنګوالي معلول؛ (۴) د تشنج څخه په ډک چاپیریال کې د قانوني او سمونیز موجود صلاحیتونه او اختیارات؛ او (۵) هغه هڅې چه د دولت د لاس ته راوړنو د ظرفیت د لوړو په برخه کې پلان او یا هم د لاس ته راوړنو د عملي کولو په لاره کې د اصلاحاتو لپاره په پام کې نیول شوې.

### د بحری قطعي په توکو د ځای په ځای کولو لپاره د سمبالښت ستراتیژی

(پروژه نمبر 351552, پیل شوي ۹ دسمبر ۲۰۱۰)

دغه بیا کتنه به په هغه کچې باندې چه(۱) بحري قطعه د افغانستان او عراق څخه ځمکني او هوایي د بیرته راستنیدونکو توکو د سمبالولو لپاره ستراتیژي کاروي؛ (۲) د بحري قطعه د توکو د بیرته سمبالوني ستراتیژي د هغه ستراتیژي غواړي پوځ مدرن او نوی کړي تطابق او ارتباط؛ (۳) ایا بحري قطعه د دې توان لري چه په افغانستان او عراق کې د کارول شوو توکو په اړه د ټول لګښت په اړه معلومات په ګوته او بیان کړي؛ او (۴) او ایا د بحري قطعي د ۲۰۰۹ څخه بیا تر ۲۰۱۲ مالي کال پورې د توکو د بیرته سمبالني بودجه د اروندې بودجي د لاربښونو او غوښتنو سره ورته والی لري .

### د بودجي او لګښتونو د تنظیم په برخه کې د افغان ظرفیت ارتقا

(پروژه نمبر 320815, پیل شوي ۵ دسمبر ۲۰۱۰)

دغه پلټنه به په دې ټکو باندې تمرکز وکړي(۱) د افغانستان د ملي بودجي معلومول( عایدات او لګښتونه) او د بودجي کمبوتات؛ (۲) د امریکا د متحده ایالاتو هغه هڅې چه غواړي د افغان دولت سره د بودجي د تنظیم او څار په برخه کې ظرفیت لوړ کړي او همدا ډول معلومه کړي چه دغه هڅې تر کومې کچې د نړیوال او افغان دولت د اهدافو سره تطابق لري؛ او (۳) د هغې کچې او اندازې معلومول چه د امریکا مرستو د افغان دولت سره د بودجي د تنظیم او څار په اړه مرستې کړې او د یو غوره مالي مدیریتي سیستم په رامنځ ته کولو کې بریالي راوتلي ده.

### د سوداګری او د ثبات د عملیاتو په اړه د امریکا د دفاع وزارت ځانګړی ماموریت

(پروژه نمبر 351525, پیل شوي ۲۱ اګست ۲۰۰۹)

د دې بیاکتنې اصلي موخه په لاندې برخو کې د دې امر معلومول دي چه (۱) تر کوم حده پورې په نوموړي ماموریت کې د ۲۰۰۶ کال راپدیخوا کموالی راغلي دي او ایا د امریکا د دفاع وزارت د نوموړي ماموریت د بنیادي کولو او نورو هیوادو ته د هغه د غزول په اړه پلانونه جوړ او طرحه کړي دي؛ (۲) د دفاع وزارت د پایلو او نتایجو د ارزونې په موخه اهداف ټاکلي او د نوموړي ماموریت فعالیتونه ارزولي دي او که څنګه؛ (۳) ایا د نوموړي پروګرام فعالیتونه د نورو پروګرامونه سره همغږي او هماهنګ دي؛ او (۴) او یا د دغه ماموریت فعالیتونه د نورو پروګرامونو سره ورته والی لري او که نه، او یا د پروګرامونو ترمنځ د لا ښو نتیجو او پایلو د ترلاسه کولو امکانات شته.

### د اردو مشورتی او مرستندوی دسته یا تشکیلات

(پروژه نمبر 351514, پیل شوي ۴ اګست ۲۰۱۰)

پوځ د افغان او عراقي امنیتي ځواک سره د مرستي او سلامشورو په موخه د مبارزي ځانګړي غونډونه تاسیس او زیاتوي. دغه بیاکتنه به تر ډیر حده پورې پردغه ټکو باندي تمرکز کوي (۱) تر کومي کچي پوځ د جنګي غونډ ډلو ته د هغوي د رول او موخو په اړه معلومات ورکړل شوي دي؛ (۲) ترکومي کچي پوځ د جنګي غونډ ډلو د زیاتولو په اړه د اړیني روزني او منابعو په اړه معلومات ورکړي، د هغه کچي ارزونه چه د امریکا د دفاع وزارت او پوځ د امنیتي ځواک سره د مرستي او همکاري په برخه کي ترسره کړي ؛ او (۳) د هغي کچي ارزونه چه د پوځ لخوا تر کومه حده د پوځ د جنګي غونډ ډلو د پراخوالي په برخه کي اړتیاوې پوره کړې او تر کومي اغیزې، که چیري کوم وي، دا د پوځ د چمتوالي په اړه راپور ورکول شامل دي.

### په افغانستان کښی د دفاع وزارت څیړني

(پروژه نمبر 351489, پیل شوي ۴ اګست ۲۰۱۰)

دا کتنه به د دفاع وزارت لخوا پاکستاني او افغان شرکتو ته د قراردادو د ورکړی په پروسه باندی تمرکز وکړی. په ځانګړی توګه دا امر معلوم کړی چی د دفاع وزارت تر کومه حده افغان او پاکستانی شرکتو ته د ورکړل شوو قراردادو په اړه د څیړني یو پروسه چمتو او عملی کړی ده; او د افغانی او پاکستانی شرکتو په اړه معلومات د بهرنیو چارو د وزارت، د امریکا د پرمختایی پروګرام، ناټو او د ملګرو ملتو سره شریک کړی؛او تضمی کړای شی چی د افغان امنیتی کمپنی مصوني او د ډاډ وړ دی.

### د افغانستان لپاره د امریکا د مستقیمو مرستو په اړه حساب ورکول

(پروژه نمبر 320794, پیل شوي ۲۱ جولای ۲۰۱۰)

په دغه بیاکتنه کي به په هغه مقدار مرستو باندي تمرکز وشي چه د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان دولت ته په مستقیم ډول ورکړي دي؛ افغان دولتي وزارتخانو ته په دوه اړخیز ډول ورکړل شوي مرستو په اړه د حساب ورکولو په لړ کي د کنترول عمده او کلیدي عناصر؛ او د افغانستان دولت سره د څو اړخیزو فنډونو له لاري د مستقیمو ترسره شوو مرستو په اړه د حساب ورکولو مهم او کلیدي عناصر.

### په افغانستان کي د امریکا ملکي حضور

(پروژه نمبر 320766, پیل شوي ۳ مئ ۲۰۱۰)

دا پلټنه به د امریکایی ادارو یا اجنسیانو لخوا په افغانستان کي د ملکي بشري قوې په اړه د لومړیتوبونو او د دې کارکونکو په دندو باندي د ګمارني په برخه کي پرمختګ ته کتنه وکړي، او هغه ګامونه چه امریکایی ادارو د خپل پرسونل د ځای پر ځای کولو لپاره ترسره کړي دي.

### د افغانستان د لوژستیک سره ملاتړ

(پروژه نمبر 351492, پیل شوي ۳۰اپریل ۲۰۱۰)

دا بیاکتنه به پدې ټکو باندي تمرکز وکړي (۱) تر کومي کچي د امریکا د دفاع وزارت په افغانستان د کي فعالیتونو د ملاتړ لپاره پرسونل، تجهیزات او وسایل د نوموړي وزارت د ټاکل شوو پلانونو او ضرب الاجل سره سم ترسره

کړي دي؛ (۲) که چیري داسي فکتورنه وي چه په افغانستان کي د عملیاتو په ملاتړ لپاره په پرسونل، تجهیزاتو او وسایلو باندي اغیزه کړي وي او د نوموړو فکتورونو سره څرنګه چلند وشو؛ او (۳) تر کومي کچي او سرحد پوري د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کي د پرسونل، تجهیزاتو او وسایلو د قومنداني د زنځیر په جوړولو او رامنځ ته کولو کي بریالي شوي دي.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداره

### د قومندان د بیړني عکس العمل پروګرام - افغانستان

(د پروژي کود A-2011-ALL-0342.000، چه د ۲۰۱۱ مالي کال په ۲مه ربع کي پیل شوي و)

دا پلټنه به معلومه کړي چه د پروژې د ترسره شوې بیاکتني او په افغانستان کي د قومندان د بیړني ځواب ملاتړ د پروګرام د پروسي منظوري د هغه ټاکلو موخه سره چه باید په بیړني ډول د افغانستان خلکو ته ګټه ورسوي د ټاکلو اهدفو ته په کتو ترسره شوي دي.

## د نړیوالي پرمختیا لپاره متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر

د دې ربع په ترڅ کي، USAID OIG یوه پلټنه خپره ۸ مالي پلټني تر کار لاندي وي او ۳۸ نورې د پلان جوړوني په مرحله کي وي. د امریکا د پراختیایي پروګرام / افغانستان د مالی چارو څیړنی د ملکی حساب ورکوني د شرکت او د DCAA ترسره کیږی، DCAA, او USAID/OIG یوازی د میز پر سر بیاکتنه او د څیړنو د کیفیت د کنترول چارې پر مخ وړی او د پلی کولو په موخه راپور USAID ته ورکوی.

### په افغانستان کي د USAID د سفارت د هوایی پروګرام بیاکتنه

(چه د ۲۰۱۱ مالي کال په ۲مه ربع کي پیل شوي و)

هدف: تر څو معلومه کړي چه په افغانستان کي د USAID د سفارت د هوایی پروګرام تمویل شوې برخه خپلو ټاکلو موخو یعني د خوندي او د ډاډ وړ هوایی خدمتونه چه USAID جوګه کوي چه د ماموریت د ترسره کولو لپاره اړین ترانسپورت او د ولایتي بیارغوني ډلي او د افغانستان لپاره د نورو امریکایی ماموریت پرمختیایی مرستي او همکاري فعالیتونه ترسره کوي.

### په افغانستان کي د USAID لخوا د افغانستان د ثبات ابتکار – جنوبي سیمي

(چه د ۲۰۱۱ مالي کال په ۲مه ربع کي پیل شوي و)

هدف: په افغانستان کي د USAID د ثبات د ابتکار پیږندل- جنوبي سیمي(ASI-SR) پروګرام د ټولنو او افغان دولت ترمنځ د اعتماد او ډاډ فضا رامنځ ته کوي.

### په افغانستان کي د USAID د ټاکنو د ملاتړ پروګرامونه او د ټاکنو د پروسي سره د ملاتړ (STEP) پروګرامونو سره ترسره کړي دي پلټنه کوي.

هدف: ترڅو معلومه کړي چه د افغانستان په ټاکنو کي د ګډون کونکو د زیاتوالي ملاتړ اومرسته او د ټاکنیزو پروسو پروګرامونه خپلو ټاکلو موخو یعني د سیاسي او ټاکنیزو پروسو بشپړوالی، د رقابت څخه ډک او د با اعتباره پروسو په برخه کي خپلو ټاکلي موخي ترلاسه کوي.

## د نورو ادارو تحقیقات

سیګار په باقاعده ډول په افغانستان کې د نورو حکومتي ادارو سره د تحقیقاتو په ترسره کولو کې همغږي کوي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مي سره سم DoD OIG په ۸۹ نویو پرانیستو قضیو باندي تحقیقات ترسره کول او د DoS OIG تحقیقات (DoS OIG-INV) په ۱۱ پرانیستو قضیو باندي تحقیقات ترسره کول. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ پورې پرانیستی او تړلی تحقیقات په ۴.۳ شمیره جدول کښی بیان او لیست شوی دی.

## د نورو ادارو تفتیشات

د DoS OIG تفتیش(DoS OIG INS) په افغانستان کې د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي نیټي پورې یو جاري تفتیش ترسره کوي

### د کابل کې د سفارت د تفتیش د بشپړوني د تعقیب په اړه بیاکتنه(CFR)

( د راپور شمیره 11-ISP-3038، چه د ۲۰۱۱ کال په مارچ میاشت کې پیل شوی)

په کابل کې د سفارت څخه د OIG/ISP د تفتیش(ISP-I-10-32A، د ۲۰۱۰ کال د فبروري میاشت) په ترڅ کې د شوو وړاندیزونو د ترسره کولو تعقیب تر څو (الف) د وړاندیزونو د لغوه کول او /یا (ب) د هغه شرایطو په اړه چه اوس هم حاکم د وړاندیزونو بیا ځلي ترسره کول.

4.3 جدول

| تحقیقاتي فعالیتونه: د نورو ادارو تحقیقات | | | |
|---|---|---|---|
| اداره | پرانیستي دوسیې | تړل شوي دوسیې | تولي دوسیې |
| DoD OIG-INV | 89 | 61 | 150 |
| DoS-OIG-INV | 11 | 0 | 11 |
| **تول** | **100** | **61** | **161** |

سرچینې: د سیګار یا د افغانستان د بیارغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي د3/31/2011 نیټي پوښتني ته د DoS OIG-INV ځواب؛ او د سیګار د4/19/2011 پلټنې ته د DoS OIG-INV ځواب .

**د سیګار رسمي تړون**

د سیګار رسمي تړون د متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ د هڅو د ارتباط استازیتوب کوي ترڅو د بیا رغونې احتساب او نظارت وکړي. د تړون د مرکز په پورتنی برخه کې عبارت په دري ژبه دی او مانا یې د افغانستان د بیا رغاونی لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی (سیګار) دی.

د تړون د مرکز په لاندنی برخه کی عبارت په پښتو ژبه دی او یو ډول مانا لری.

# ضميمې
# او پایلیکونه

# د الف ضميمه

## د قانوني غوښتنو او اړیتاو سره د راپور پرتله کول

د دغه راپور یو شمیر پاني د دريِ میاشتني راپور سره او د هغه اړتیاو او غوښتنو سره چه سیګار ته د قانون جوړولو، د ۲۰۰۸ مالي کال د ملي دفاع د صلاحيت قانون، P.L. No. 110-181, § 1229 (الف.۱ جدول)، او د کال د نیمایی راپور ورکولو شرایط چه د عمومي پلټونکي لپاره د ۱۹۷۸ کال د عمومي پلټونکي په قانون چه د (U.S.C. App. 3 5) د رامنځ ته شوو تعديلاتو سره سم غوښتنه کوي (الف.۲ جدول)

الف.۱ جدول

| د عامه قانون برخه | د سیګار توانمنونکی ژبه | د سیګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| **د P.L. NO. 110-181, § 1229 لاندي د دي راپور د سیګار د دريِ میاشتني راپورونو اوغوښتنو پرتله کول** | | | |
| نظارت کول | | | |
| برخه ۱۲۲۹ (ای)(۱) | عمومي پلټونکی باید نیغ په نیغه د بهرنیو چارو د وزیر او یا د دفاع وزیر ته راپور ورکړي او یا د هغوی د عمومي نظارت لاندي وي. | د بهرنیو چارو وزیر او د دفاع وزیر ته راپور ورکوي | ټولي برخي |
| مسوولیتونه او دندي | | | |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(1) | د افغانستان د بیا رغوني نظارت.— دا به د عمومي پلټونکي وظیفه وي چي د هغو پیسو چي اختصاص شوي او یا په بله مانا په ا فغانستان کي د بیا رغوني لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملیاتو او قراردادونو هم چي د دي پروګرامونو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او خرڅ نظارت وکړي او د پلټنو او تحقیقاتو انسجام یي وکړي.او د هغه قراردادنو چه د فنډونو لکه د (A) د فرعي برخي د (G) لاندي څخه کټه اخلي. | تخصیصاتو ته کتنه موجودي بوديجي<br>د هغو پروګرامونو، عملیاتو، قرارداونو کتنه چي اختصاص شوي\ موجودي بوديجي کاروي. | ټولي برخي |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(۱)(ای) | د داسي بوديجو د مسوولیت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شویو\موجود بوديجو د مسوولیتونو او لګښتونو کتنه | د سیګار د نظارت بوديجي |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(۱)(بي) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چي د داسي بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د بیا رغوني د هغو فعالیتونو کتنه چي د تخصیصاتو او مرستو لخوا تمویل شوي وي. | د سیګار نظارت |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(۱)(سي) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چي د داسي بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د هغو قرارادونو کتنه چي اختصاص شوي او موجودي بوديجي کاروي | یادونه ۱ |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(۱)(دي) | د ریاستونو، ادارو، او د متحده ایالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسي بوديجو او ورسره تړلي معلوماتو د لیږدل نظارت او کتنه | د اختصاص شویو\موجود بوديجو د داخلي او خارجي لیږد کتنه | ضمیمه ب |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(۱)(اي) | د داسي بوديجو په کارولو د تاریخچو سمبالتیا د دي لپاره چي په راتلونکي کي د داسي بوديجي[و] پلټني او معاینې اساني کړي | د پلټني تاریخچي سمبالول | د سیګار نظارت<br>ضمیمه ج<br>ضمیمه د |
| برخه ۱۲۲۹ (ایف)(۱)(ایف) | د افغانستان تړون او د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ په تطبیقولو کي د افغانستان د دولت او نورو مرستندویه هیوادونو سره د متحده ایالاتو د ارتباط د اغېزمنتیا نظارت او کتنه | نظارت او کتنه څرنګه چي تشریح شوي | پلټني |

جدول الف.١ (دوام لري)

| د 1229 § ,P.L. NO. 110-181 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو اوغوښتنو پرتله کول | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **برخه** |
| برخه ١٢٢٩ (ايف)(١)(جي) | د اضافی تاديې لکه ډبل تاديه او يا ډبل بيل او يا هم د فدرال کارکوونکو، قراردادیانو او يا مربوطه کړيو غير قانونی کړنې پلټنې کول او ضرورت له مخې د عدالت ادارې ته د نورو پلټنو او د مالی منابعو د بيرته اخيستو او تعقيب لپاره د داسې راپورونو راجع کول اړين بريښی. | د څيړنو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشريح شوي دي | تحقيقات |
| برخه ١٢٢٩ (ايف)(2) | د نظارت سره اړوند نورې دندې.- عمومي پلټونکی بايد داسې سيستمونه، پروسيجرونه، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی يې د پراګراف (١) لاندې د وظيفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي. | د سيستمونو، پروسيجرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | ټولې برخې |
| برخه ١٢٢٩ (ايف)(3) | د ١٩٧٨ د قانون لاندې د عمومي پلټونکي وظيفې او مسووليتونه.—<br>په هغه برسيره، . . ..عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د ١٩٧٨ د قانون لاندې د عمومي پلټونکيو وظيفې او مسووليتونه هم ولري. | هغه وظيفې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوې دي | ټولې برخې |
| برخه ١٢٢٩ (ايف)(۴) | د هڅو انسجام.-<br>عمومي پلټونکی بايد د لاندې هر يو سره همکاري وکړي او د هغوی همکاري هم ترلاسه کړي:<br>(الف) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (ب) د بهرنيو چارو د وزارت عمومي پلټونکی، او (د) د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده اياﻻتو د ادارې عمومي پلټونکی. | د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID له عمومي پلټونکو سره همکاري | د نورو ادارو نظارت |
| مرکزي ملاتړ او نورې سرچينې | | | |
| برخه ١٢٢٩ (ايچ)(۵)(ای) | د مرکزي ادارو څخه مرسته.—<br>د مرکزي حکومت د هر رياست، ادارې، يا بل سازمان څخه د عمومي پلټونکي د کومو معلوماتو يا مرستې په غوښتلو سره، د دغې ادارې مشر بايد، تر کومه حده چې عملي کېدونکي او د کوم موجود قانون خلاف نه وي، عمومي پلټونکي، يا د هغه استازي ته، دغسې معلومات يا مرسته ورکړي. | څرنګه چې غوښتل شوی وي د ملاتړ تمه وکړئ | ټولې برخې |
| ١٢٢٩ مه برخه (ح) (۵) (ب) | د رد شوې مرستې راپور ورکول.—<br>کله چې عمومي پلټونکی د مالوماتو يا مرستې غوښتونکی شی او د نومورې په فکر بې له کوم دليله له ده سره د مرستې کولو او مالوماتو د اماده کولو څخه انکار وشي، نو عمومي پلټونکی بايد پرته له کوم ځنډه د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو همدار نګه د کانګرس ټاکلو کميټو ته  ته د دې حالت مناسب  راپور ورکړی. | راپور نه دی ورکړل شوی | موجود نه دی |

جدول الف.۱ (دوام لري)

| د P.L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتنۍ راپورونو اوغوښتنو پرتله کول | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنونکي ژبه** | **د سيګار عمل** | **برخه** |
| راپورونه | | | |
| برخه ۱۲۲۹ (ايي)(1) | درې مياشتنې راپورونه.-د هر مالي کال د دريو مياشتو د پای نه تر ۳۰ ورځو زيات نه، عمومي پلټونکی بايد د کانګرس مناسبو کميټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لرې د دغې درې مياشتنی راپور د پای د وخت څخه د راپور د داخلولو د وخت پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعاليتونو د هغو پروګرامونو او عملياتو لاندې چې بوديجه او پيسې د افغانستان د بيا رغوني لپاره ورکړل شوي وي يوه خلاصه وړاندې کړي. په هر راپور کې، د هغې دورې چې په دې راپور کې يې يادونه شوې وي، د هغو مسووليتونو، لګښتونو، او عايداتو يو تفصيلي بيان چې په افغانستان کې د بيا رغونې او بيا جوړونې د فعاليتونو سره ملګرې وي، بايد په ګډون د لاندې شامل وي: | راپور - ۳۰ ورځې وروسته د هر کال د درې مياشتنی د عمومي پلټونکي فعاليتونه خلاصه کول<br>د ټولو مسووليتونو، لګښتونو، او عايداتو تفصيلي بيان | ټولې برخې ضميمه ب |
| برخه ۱۲۲۹ (ايي)(۱)(ای) | د اختصاص شويو/خيرات کې ورکړ شويو بوديجو مسووليتونه او لګښتونه | د اختصاص شويو/خيرات کې ورکړ شويو بوديجو مسووليتونه او لګښتونه | ضميمه ب |
| برخه ۱۲۲۹(ايي)(۱)(بي) | د هغو لګښتونو يو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بيا رغونه کې لګول شوي، د دفاع د محکمې، د بهرنيو چارو د محکمې، او د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبيقېدونکی وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د يو اټکل سره ملګرې. | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب<br>د هرې پروژې يا پروګرام د نالګول شويو بوديجو ليست جوړول | بوديجې<br>۱ يادونه |
| برخه ۱۲۲۹ (ايي)(۱)(سي) | د منسوبيدلو وړ عوايد د مالی منابعو په ګډون د هرهغه پروژې يا پروګرام لپاره چې د متحده ايالاتو د ادارو او نماينده ګيو لخوا تمويليږی، د بهرنيو ملتونو يا اداره لخوا يې مالی منابع تيارېږی او د عوايدو ټول مصارف رانغاری. | د مرستندويه ادارو د بوديجو عايدات، مسووليتونه، او لګښتونه | بوديجې |
| برخه ۱۲۲۹ (ايي)(۱)(ډي) | د هغو بوديجو سره تړلي يا شامل عايدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنيو نيول شويو يا کنګل شويو شتمنيو څخه ورکړل شوي وي د کومو بوديجې چې د متحده ايالاتو د کوم رياست يا ادارې لخوا ورکړل شوي وي، او د داسې عايداتو هر ډول مسووليتونه او يا لګښتونه | د نيول شويو يا کنګل شويو شتمنيو د بوديجو عايدات، مسووليتونه او لګښتونه | بوديجې |
| برخه ۱۲۲۹ (ايي)(۱)(اي) | د هغو ادارو يا سازمانونو فعاليتي لګښتونه چې اختصاص شوې پيسې ترلاسه کوي او يا په بله توګه د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوي وي | د هغو ادارو يا کوم سازمان فعاليتي لګښتونه چې اختصاص شوې بوديجې ترلاسه کوي | بوديجې<br>ضميمه ب |

جدول الف.۱ (دوام لري)

| د P.L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو اوغوښتنو پرتله کول | | | |
|---|---|---|---|
| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمونکي ژبه | د سيګار عمل | برخه |
| برخه ۱۲۲۹ (ايې)(۱)(ايف) | د هر هغه قرارداد، بوديجې، ترون يا د بوديجې د بل کوم ميکانزم په صورت کې چې په پراګراف (۲)* کې يې يادونه شوې ---<br>(۱) د قرارداد يا د بوديجې د بل کوم ميکانزم رقم؛<br>(۲) د قرارداد يا د بوديجې د بل کوم ميکانزم د ساحې لنډ بحث؛<br>(۳) په دې اړه يو بحث چې څرنګه د متحده اياالاتو د حکومت هغه رياست يا اداري چې په دې قرارداد، بوديجه، ترون، يا د بوديجې په بل ميکانزم کې کار کوې د مهمو کانديدانو وړانديزونه وپيژندل يا وغوښتل چې دغه قرارداد، بوديجه، ترون، يا د بوديجې بل کوم ميکانزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو يا اشخاصو د يو ليست سره چې د دې وړانديز ورته شوى يا غوښتل شوى و؛ او<br>(۴) د حق او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وړاندې کوې | د قراداد جزييات تشريح کړئ | يادونه ۱ |
| برخه ۱۲۲۹ (ايې)(3) | عامه ترلاسه کېدل.—<br>عمومي پلټونکى بايد په يوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنېټي ويبپاڼه د دې ضمني برخې د پراګراف (۱) لاندې هر راپور په انګليسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکى پوهېږي چې په افغانستان کې په پراخه پيمانه ويل کېږي او خلک پرې پوهېږي. | د راپور خپرول څرنګه چې يې لاربنودنه شوي | www.sigar.mil<br><br>دري او پښتو<br><br>ترجمه په جريان کې ده. |
| برخه ۱۲۲۹ (ايې)(۴) | بڼه.—<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوى هر راپور بايد په ښکاره بڼه وړاندې شي، خو کيداى شي محرمي ضميمې ولري، که چيرې عمومي پلټونکى هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې يې لاربنودنه شوي | ټولې برخې |

الف.۲ جدول

**د نيمايي کال د راپور ورکولو د شرايطو سره چې د IG د ۱۹۷۸ قانون د ۵ برخې سره چې تعديل شوي پرتله کول ("IG ACT") (5 U.S.C. APP. 3)**

| د IG د قانون ځانګه | د IG د قانون ژبه | د سيګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه ۵(اي)(1) | د عمده ستونزو، سپکاوي او نيمګړتياو توضيح | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پلټنو، څېړنو، او معاينو له راپورونو څخه د ستونزو، ناوړه استعمال، او نيمګړتياوو لست | د نورو ادارو د ځار استعلامونه په دې www.sigar.mil پته |
| برخه ۵(اي)(2) | د اصلاحي اقداماتو په اړه د وړانديزونو توضيح د عمده ستونزو، سپکاوي او نميګړتياو په اړه | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پلټنو له راپورونو څخه د سپارښتنو لست | د نورو ادارو د ځار استعلامونه په دې www.sigar.mil پته |
| برخه ۵(اي)(3) | د کال په نيمايي کې په راپور کې د هغه عمده ذکر شوو وړانديزونو توضيح چه په اړه يې هيڅ اصلاحي عمل نه دی ترسره شوی | له مخکينيو خلاصه شويو راپورونو څخه د ټولو نابشپړ شويو اصلاحي کړنو لست برابر کړئ | تر کار لاندې |
| برخه ۵(اي)(4) | د څارنوالي، محاکمو پورې د اړوندو موضوعاتو لنډيز او دا چه د نومړو پېښو په اړه کومې پريکړې نيول شوي دي. | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د هغو څېړنو لست چې ليږل شوي دي | د نورو ادارو نظارت |
| برخه ۵(اي)(5) | د 6(b)(2) تر څېرکي لاندې د [ د دفاع وزير] ته د ورکړل شوو راپورونو لنډيز (چه چيري غوښتل شوي معلومات رد او يا هم نه وو ورکړل شوي) | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د هغو بيلګو لست چې د سيګار پلټونکو، څېړونکو، يا معاينه کوونکو ته د معلوماتو له ورکولو انکار شوی وه | د نورو ادارو نظارت |
| برخه ۵(اي)(6) | د پلټنو د راپورونو، د تفتيش د راپورونو، او د ارزونو لېست جوړونه او تصنيف چه په هغه کې د ډالرو په اساس د لګښتونو او مصارفو په اړه پوښتني شوي او غوښتنه شوي ده چه بايد نومړي پيسي په سمه او مناسبه توګه وکارول شي. | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د راپورونو لست | د نورو ادارو نظارت |
| برخه ۵(اي)(7) | د هر عمده راپور ځانګړی لنډيز | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پام وړ راپورونو لنډيز برابرول | د نورو ادارو نظارت<br>د مهمو راپورونو بشپړ لست په www.sigar.mil کې موندلای شي |
| برخه ۵(اي)(8) | "احصاييوي جدولونه چې د پلټني د راپورونو ټول شمير او د تر پوښتني لاندې مصارفو ټول ارزښت په ډالرو باندې وښيي | د SWA/JPG د غړو د راپور څخه مهم او عمده معلومات راټول او د سيګار د راپورونو څخه د پوښتني وړ ډالرو په اړه د ارقامو يو جدول جوړ کړه. | د SWA/JPG د غړو په جريان کې راپورونه وګورئ |
| برخه ۵(اي)(9) | احصاييوي جدولونه چې د پلټني راپورونو، د معايني د راپورونو، او ارزوني راپورونو ټول شمير ښکاروي او د اداري له خوا د بوديجو د لا غوره استعمال او کار اخيستلو لپاره د سپارښتنو ډالري ارزښت څرګند کړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار له راپورونو څخه احصاييوي جدولونه جوړ کړئ چې د اداري لخوا د غوره استعمال لپاره کارول شويو بوديجو ډالري ارزښت څرګندوي | د SWA/JPG د غړو په جريان کې راپورونه وګورئ |
| برخه ۵(اي)(10) | د پلټني، معايني او ارزوني د هر راپور لنډيز چې د راپور ورکولو له دوري نه مخکې خپاره شوي دي او د کومو په اړه چې تر اوسه پورې اداري پريکړه د راپور ورکولو د دورې تر پايه پورې نه وي شوي، د هغو دلايلو يوه تشريح چې اداري پريکړې ولې نه دي شوي، او يو بيان چې د اداري پريکړې د ترلاسه کولو لپاره د خوښې وړ مهال ويش وړاندې کړي | د د SWA/JPG د غړو د راپور څخه مهم معلومات راټول او د سيګار د هغه راپورونو په اړه چه تر اوسه وړانديزونه پکې پرانيستي دي يو لنډيز چمتو کړي. | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ<br>نشته |
| برخه ۵(اي)(11) | د يوې مهم او عمده مديريتي پريکړه د بيرته اخيستلو د لاملونو په اړه تفصيل او توضيح ورکړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پلټنې هغه راپورونه تشريح کړئ چې په هغوی کې په اداري پريکړو د پام وړ او مهمې سموني شوي دي | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ<br>نشته |

الف.۲ جدول ( دوام لري)

**د نیمایی کال د راپور ورکولو د شرایطو سره چه د IG د ۱۹۷۸ قانون د ۵ برخې سره چه تعدیل شوي پرتله کول ("IG ACT") (5 U.S.C. APP. 3)**

| د IG د قانون ځانګه | د IG د قانون ژبه | د سيګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه ۵(اي)(12) | د يوې مهمي او عمدې مديريتي پريکړې چه ځانګړي عمومي پلټونکي د هغه سره موافق نه وي په اړه معلومات | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پلټنې هغه راپورونه تشريح کړئ چي په هغوی بحث وړ پريکړه نه وه. کې سيګار له اداري پريکړو سره مخالف وه | د د SWA/JPG د غړو راپور وګوري د راپور ورکولو د مودې په ترڅ کې هيڅ د جر او |
| برخه ۵(اي)(۱۳) | معلومات چه د 804 [sic] برخې د فدارل د مالي مديرت د پرمختيا د ۱۹۹۶ قانون په اساس وړاندي شوي( هغه پيبني او لاملونه چه يو اداري د اصلاحي پلان سره سم اهدفو ته په ټاکلي موده کې نه دي رسيدلي) | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>کله چې مديريت اصلاحي پلان په وخت نه وي بشپړ کړي، معلومات ورکړئ | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ<br>د راپور ورکولو په دي دوره کې د مناقشې وړ پريکړي نه وي |
| 5(A)(14)(a) برخه | يوه ضميمه چه د راپور ورکولو په موده کې د يوې بل ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا د ترسره شوې بياکتنې په اړه ځانګړي معلومات شامل وي | سيګار د خپلو هغه بياکتنو او پلټونو په اړه چه په د نږدې وقت کې يی ترسره کړي( د ۲۰۱۰ کال د جولای تر مياشتې بشپړ شوي، د اوسني راپور د ورکولو وړاندي) ټول معلومات په خپل ويب سايډ باندي خپاره کړي دي. | په بشپړ ډول په .www.sigar mil دې پته خپاره شوي دي. |
| 5(B)(14)(a) برخه | که چيري د راپور ورکولو پدې موده کې کومه پلټنې ته ورته کومه بياکتنه نه وي ترسره شوې، نو بيا د بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا د يوې پلټنې ته ورته بياکتنې نيټه | د ۲۰۱۰ کال دجولای ۱۵ | په بشپړ ډول په .www.sigar mil دې پته خپاره شوي دي. |
| برخه ۵(اي)(15) | د بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا د يوې پلټنې ته ورته بياکتنې د داسي وړانديزونو يو ليست چه هغه په بشپړ ډول نه وي تطبيق شوي، د تطبيق د کچې او په بشپړ نه تطبيق د دلايلو په اړه معلومات او توضيح | هيڅ نشته – پلټنو د ورته د ټولو بياکتنو د وړانديزونو په اړه اړين ګامونه اوچت کړل شوي دي، او اصلاحي تدابير تطبيق شوي دي، د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر ۳۰ سره سم | وړانديزونه او د اړوند مسايل په بشپړ ډول په www.sigar.mil ويب سايډ باندي خپاره شوي دي |
| برخه ۵(اي)(16) | د راپور ورکولو د مودې په ترڅ کې د بل عمومي پلټونکي په اړه د سيګار لخوا پلټنې ته ورته بياکتنه ترسره شوې، د هغه ترسره شوو وړنديزونو په ګډون چه د پخواني پلټنې ته ورته بياکتنې په ترڅ کې ترسره شوې دي. . . کوم چه پرځاي پاتي دي او يا هم په بشپړ ډول نه دي تطبيق شوي. | د اطلاق وړ نه دي( سيګار د راپور ورکولو د مودې په ترڅ کې د بل عمومي پلټونکي دفتر په اړه پلټنې ته ورته بياکتنې ترسره او يا هم هم د نوموړو بياکتنو په ترسره کولو کې ګډون کړی دي) | د سيګار نظارت |

يادونه ۱ که څه هم په عادي ډول دغه معلومات د سيګار په ويب پاڼه(www.sigar.mil) باندي موجود دي، هغه معلومات چه سيګار په خام ډول ترلاسه کړي دي، د بياکتنې، تحليل او د سيګار د راتلونکو ګډې لپاره تر تنظيم لاندي دي.

* تر پوښښ لاندي "د قراردادونو، مرستو، تړونونو، او د بوديجو مکانيزمونه" د پي ايل نمبر ۱۸۱-۱۱۰ په ۱۲۲۹(ايي) برخې په (۲) پراګراف کې تعريف شوي دي، لکه چې —

" هر ډول لوی قرارداد، مرسته، هوکړه او د مرستو کولو ميکانيزم چه د امريکا د حکومت د اداري يا ډيپارټمنټ لخوا داخل کړل شوي وي او د لاندي موخو او اهدافو لخوا د افغانستان د بيارغوني د چارو لپاره ځانګړي شوې يا تخصيص ورکړل شوې پيسې او يا هم په بله بڼه په اختيار کې ورکړل شوې وي:

په افغانستان کې د فزيکي انفراسټرکچر جوړول يا بيا جوړول.
د افغانستان د سياسي يا ټولنيزي اداري تاسيس يا دوباره تاسيس.
د افغانستان خلکو ته د توليداتو يا خدمتونو برابرول."

# ضميمه ب

## د متحده ايالاتو د دولت اختصاص شوي بوديجې (په ميليونو ډالرو)

ب.۱ جدول د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې پورې د افغانستان د بيارغونې لپاره د کال، او پروګرام په حساب ځانګړي شوي فنډونه د ليست په ډول ښکاره کوي. د ۲۰۱۱ مالي کال فنډونه د روانو پريکړو په اساس د فنډونو د شمير ښکارندوی کوي.

ب ۱ جدول

| د متحده ايالاتو د بوديجو سرچينې | اداره | تول |
|---|---|---|
| **امنيت** | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ASFF) | DoD | 33,294.19 |
| روزنه او تجهيزات (د دفاع وزارت) | DoD | 440.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستې (FMF) | DoS | 1,059.14 |
| نړيوال نظامي زده کړې او روزنه (IMET) | DoS | 8.30 |
| NDAA برخه ۱۲۰۷ انتقال | نور ي | 9.90 |
| **بشپړ امنيت** | | **34,811.53** |
| **دولتداري او پرمختيا** | | |
| د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) | DoD | 2,639.00 |
| د افغانستان د زيربنا فنډ (AIF) | DoD | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) | USAID | 11,143.15 |
| پرمختيايي ملاتړ (DA) | USAID | 885.19 |
| د افغانستان د ازادی د ملاتړ قانون (AFSA) | DoD | 550.00 |
| د ماشوم بقا او روغتيا (CSH + GHAI) | USAID | 486.42 |
| د توليداتو د اعتبار اردو (CCC) | USAID | 33.91 |
| د ازادی د ملاتړ قانون (FSA) | USAID | 5.00 |
| د متحده ايالاتو د نړيوالي مرستې اداره (نوري) | USAID | 34.27 |
| د هيڅ ډول کټې اخيستلو پرته ، ترورېزم ضد، ماينونه ليرې کول، او اړوند (NADR) | DoS | 371.60 |
| د ولايتي بيا رغونې د ټيم مشاوران | USDA | 5.70 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | خزانه | 3.52 |
| **تولټال- حکومتداری او د مخدره موادو ضد اداري پرمختيا** | | **16,157.76** |
| **د مخدره موادو پر ضد مبارزه** | | |
| د مخدره مواد نړيوال کنټرول او د قانون تنفيذ (INCLE) | DoS | 2,862.22 |
| د مخدره موادو بنديز او د مخدره موادو پر ضد فعاليتونه (DoD CN) | DoD | 1,546.78 |
| د مخدره توکو د تطبيق اداره (DEA) | د عدليې وزارت | 127.37 |
| **تول – د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه** | | **4,536.37** |
| **بشري** | | |
| P.L. 480 عنوان I | USDA | 5.00 |
| پي ايل ۴۸۰ عنوان II | USAID | 701.21 |
| په مصيبت کې مرسته (IDA) | USAID | 405.30 |
| د انتقال ابتکارات (TI) | USAID | 35.27 |
| د کډوالو او مهاجرينو مرسته (MRA) | DoS | 592.99 |
| داوطلب سوله ساتل (PKO) | DoS | 69.33 |
| د مهاجر او مهاجرت بيړنی مرسته (ERMA) | DoS | 25.20 |
| خواره د پرمختګ لپاره | USDA | 109.49 |
| ۴۱۶ (ب) د خوړو کومک | USDA | 95.18 |
| خواره د تعليم لپاره | USDA | 50.49 |
| ايمرسن بوديجه | USDA | 22.40 |
| **بشردوستی** | | **2,111.86** |
| **د نړيوالو چارو عمليات** | | |
| نظارت | | 86.00 |
| نوري | | 4,079.80 |
| **تول- د نړيوالو چارو عمليات** | | **4,165.80** |
| **تولی بوديجې** | | **61,783.32** |

يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د ۲۰۱۱ مالي کال فنډونه د هغه شمير مرستو ښکارندوی کوي چه د روانو پريکړو په ترڅ کې په اختيار کې وه.

سرچينې: د سيګار د 4/15/2011, 4/14/2011, 10/14/2009, and 10/1/2009; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009نيټو پوښتنو ته د امريکا د دفاع وزارت ځواب، د ۲۰۱۰ مالي کال د دفاع توضيحي اعلاميه؛ د سيګار د 4/14/2011, 4/12/2011 او 4/11/2011 نيټو پوښتنو ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب؛ د سيګار د 4/08/2011 نيټې پوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سيګار د 3/1/2011 او 4/19/2010 نيټو پوښتنو ته د OMB ځواب؛ د سيګار د 4/14/2011, 10/15/2010, 1/15/2010 او 10/9/2009 نيټو پوښتنو ته د USAID ځواب؛ د سيګار د 7/7/2009 نيټې پوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سيګار د 4/2009 نيټې پوښتنې ته USDA ځواب.

| د ۲۰۱۲ مالي کال د بودجې غوښتنه | مالي کال 2011 | مالي کال 2010 | مالي کال 2009 | مالي کال 2008 | مالي کال 2007 | مالي کال 2006 | مالي کال 2005 | مالي کال 2004 | مالي کال 2003 | مالي کال 2002 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 11,619.30 | 5,460.95 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 | 191.00 | 57.26 |
| 1.50 | 0.00 | 1.50 | 1.40 | 1.60 | 1.10 | 0.80 | 0.80 | 0.60 | 0.30 | 0.20 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 9.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **11,620.80** | **5,460.95** | **9,168.27** | **5,608.34** | **2,761.50** | **7,407.50** | **1,908.93** | **1,682.60** | **564.68** | **191.30** | **57.46** |
| 1,100.00 | 0.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 | 0.00 |
| 400.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 3,316.30 | 0.00 | 3,346.00 | 2,182.30 | 1,399.51 | 1,210.71 | 473.39 | 1,280.57 | 893.87 | 239.29 | 117.51 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 184.99 | 169.58 | 153.14 | 42.54 | 18.30 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 250.00 | 135.00 | 165.00 | 0.00 |
| 71.10 | 0.00 | 94.30 | 58.23 | 63.07 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 | 49.68 | 7.52 |
| 0.00 | 3.64 | 4.22 | 4.22 | 13.02 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.33 | 7.48 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 2.90 | 3.55 | 22.32 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.50 | 0.00 |
| 69.30 | 0.00 | 57.80 | 48.60 | 26.60 | 36.60 | 18.20 | 38.20 | 66.90 | 34.70 | 44.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.44 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 | 1.00 | 0.00 |
| **4,956.70** | **3.64** | **4,505.22** | **2,854.11** | **2,163.03** | **1,724.02** | **933.22** | **1,913.30** | **1,332.37** | **534.04** | **194.81** |
| 450.00 | 7.98 | 589.00 | 484.00 | 307.57 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 | 0.00 | 60.00 |
| 354.60 | 24.65 | 402.07 | 235.06 | 189.64 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 | 2.87 | 0.58 |
| **804.60** | **32.63** | **991.07** | **737.86** | **537.80** | **563.09** | **364.36** | **950.59** | **295.52** | **2.87** | **60.58** |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 |
| 15.50 | 0.00 | 27.40 | 65.41 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 | 159.50 |
| 0.00 | 32.77 | 29.93 | 27.28 | 17.01 | 0.03 | 0.04 | 4.22 | 11.16 | 85.77 | 197.09 |
| 0.00 | 0.84 | 0.99 | 0.86 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 11.22 | 11.69 | 8.07 |
| 65.00 | 2.00 | 72.78 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 36.00 | 47.10 | 63.30 | 61.50 | 135.47 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 15.50 | 20.00 | 9.90 | 23.93 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.20 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 12.09 | 20.55 | 9.47 | 23.24 | 30.10 | 9.08 | 4.96 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.58 | 14.14 | 46.46 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.08 | 10.02 | 6.12 | 9.27 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 22.40 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **80.50** | **35.61** | **131.10** | **182.63** | **281.21** | **123.30** | **144.36** | **165.14** | **204.66** | **248.33** | **595.52** |
| 44.70 | 9.60 | 34.40 | 25.20 | 14.30 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 1,264.60 | 16.60 | 1,693.80 | 1,060.70 | 434.40 | 207.80 | 131.90 | 136.10 | 207.60 | 35.30 | 155.60 |
| **1,309.30** | **26.20** | **1,728.20** | **1,085.90** | **448.70** | **210.30** | **131.90** | **136.10** | **207.60** | **35.30** | **155.60** |
| **18,771.90** | **5,559.03** | **16,523.86** | **10,468.84** | **6,192.24** | **10,028.21** | **3,482.77** | **4,847.73** | **2,604.83** | **1,011.84** | **1,063.97** |

# ضميمه ج
## د سيګار پلټنې

### بشپړې شوې پلټنې

لکه څرنګه چه په ج.۱ جدول کې ليست کړل شوې دي، د راپور ورکولو په دې موده کې سيګار درې پلټنې بشپړې کړې دي.

ج.۱ جدول

| د سيګار پلټنې د ۲۰۱۱ کال د اپريل تر ۳۰ مې بشپړې شوې | | |
|---|---|---|
| د خپرېدلو نېټه | د راپور سرليک | راپور شمېره |
| 4/2011 | د افغان کورنيو چارو د وزارت د پرسونل د سيستم په اړه د پرمختګونو سره بيا هم د افغان ملي پوليسو د معاشاتو د ورکړې او د کاري ورتياوو په اړه لا ډيرو ګامونو ته اړتيا ليدل کيږي | سيګار-پلټنه -11-10 |
| 4/2011 | د افغان ملي پوليسو امکانات او اسانتياوې په هرات او مزار شريف کې په عمومي ډول د رغوني د شرايطو سره برابرې دي، اما د قراردادیانو د کړنو څخه څارنه بايد لا تقويه شي | سيګار-پلټنه -11-9 |
| 4/2011 | د افغانستان د ملي پوالي پروګرام زرګونو افغاني ټولنو ته رسيدلي دي، خو پدې برسيره بيا هم د نګونو سره مخامخ دي چه کولای شي د نوموړي پروګرام پايلې محدودې کړي | سيګار-پلټنه -11-8 |

### نوې پلټنې

لکه څرنګه چه په C.2. شميره جدول کې ليست کړل شوې دي، د راپور ورکولو په دې موده کې سيګار څلور پلټنې پيل کړې دي

ج.۲ جدول

| د ۲۰۱۱ د اپريل تر ۳۰ مې د سيګار نوې څېړنې | | |
|---|---|---|
| د پيل نېټه | د پروژې عنوان | د پلټنې شميره |
| 4/2011 | لويس برجر ته د هارټ امنيتي لميټډ لخوا وړاندې شوې خصوصي امنيتي خدمتونه | SIGAR-045A |
| 3/30/2011 | د USAID مالي پلټنې د افغانستان د بيارغوني لپاره قراردادنه، د همکارۍ هوکړه ليکونه او مرستې تر پوښښ لاندې راوستې | SIGAR-044A |
| 2/24/2011 | د قرارداد کولو په اړه د افغان لوموړني ابتکار تطبيق | SIGAR-043A |
| 2/4/2011 | NDAA د قراردادیانو او په افغانستان کې د خصوصي امنيتي کمپنيانو په اړه د بياکتنې(څار) اجازه ورکړې | SIGAR-042A |

**رواني پلټنې**

د سيګار 12 پلټنې په جريان کې دي چې په ج.۳ جدول کې ليکل شوي.

ج.۳ جدول

| د ۲۰۱۱ کال د اپريل تر ۳۰ مې د سيګار په جريان کې پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شميره** | **د پروژې عنوان** | **د پيل نيټه** |
| سيګار - 041A | د ځای حکومتداری او د ټولنو د پرمختيايي پروژو په اړه د USAID قراردادونه | 1/13/2011 |
| سيګار - 040A | د افغانستان په ملي امنيتي پوهنتون کې د رغوني چارې | 1/3/2011 |
| سيګار - 039A | د کابل نظامي روزنيز مرکز کې بنسټيزې پروژې | 11/30/2010 |
| سيګار - 037A | د افغانستان د بيا رغوني د باور د بوديجې لپاره د متحده اياالاتو بسپنه ورکړل شوی بوديجې حساب ورکونه | 11/13/2010 |
| سيګار - 031A | د افغانستان د ملي امنيت قواوو د وسايطو حساب ورکونه | 11/10/2010 |
| سيګار - 036A | د افغانستان د بانکي سکتور او پولي کنترول د سيستم په برخه کې د امريکا د متحده اياالاتو او نړيوالې ټولنې مرستې او همکارې | 10/18/2010 |
| سيګار - 035A | د افغانستان د کرهنې سکتور د پراختيا په برخه کې د امريکا د متحده اياالاتو مرستې | 10/15/2010 |
| سيګار - 034A | په افغانستان کې د امريکايي ملکي وګړو د ژوند د سطحې د لوړولو په برخه باندې لګښتونه او پاېښت | 10/14/2010 |
| سيګار - 033A | په افغانستان کې د قراردادیانو لپاره د دفاع د بنسټيز تضمين د قانون تطبيق | 8/26/2010 |
| سيګار - 032A | دغښتو جرمونو په خلاف د عملياتو د اجرا خاطردافغانانو قابليت تقويې لپاره متحده اياالاتو هڅې | 8/24/2010 |
| سيګار - 029A | د USAID لخوا د پاملرنې د نړيوالې موسسې او په کابل کښې د کليو د پراختيا د پروګرام په اړه د پريکړه ليکو او مرستو ارزونه او څېړنه | 7/15/2010 |
| سيګار - 017A | د ګلوبل ستراتيژيز ګروپ لخوا د بيارغوني برخې د وراندې کړل شوو امنيتي خدمتونو په اړه بياکتنه | 6/14/2010 |

# عدلی څېړنې

سيګار ۳ عدلي پلټنې په جريان کې دي چې په ج۴ جدول کې ليکل شوي.

ج.۴ جدول

| د ۲۰۱۱ کال د اپريل تر ۳۰ مې عدلی برخه کې د سيګار - د افغانستان د بيارغوني لپاره خانګړی عمومی پلټونکی پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شميره** | **د پروژې عنوان** | **د پيل نيټه** |
| سيګار - 027A | دDoS هغه انتقالی معلومات چې د افغانستان د بيا رغونی په اړه دی، د افغانستان د بيا رغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی هوډ لری تر څو د DoS لخوا د هغو مرستو | 6/24/2010 |
| سيګار - 026A | په افغانستان پوری اړوندو د انتقالی معالوماتو عدلی څېړنه او بيا کتنه | 6/24/2010 |
| سيګار - 022A | د افغانستان دبيارغوني په اړه د امريکا د دفاع وزارت د معلوماتو د انتقال په اړه عدلي بياکتنه | 2/25/2010 |

# ضميمه د

## د سيګار ـ د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی څېرنی


### د سيګار تحقيقات

پدې درو مياشتو کې سيګار ۱۶ نوي تحقيقات پيل او ۴۵ تحقيقات وتړل، چه پدې سره د پرانيستو تحقيقاتو شميره ۷۶ ته ورسيدله. لکه څرنګه چه په د.۱ شميره انځور کې بيان شوي نوي تحقيقات تر ډيره حده د فساد او اختلاس په اړه دي. لکه څرنګه چه په د.۲ شميره انځور کې ښودل شوي دي د ۴۵ د تړل شوو تحقيقاتو له ډلې څخه ۳۷ د فساد او اختلاس په اړه وې.

د.۱ انځور

د سيګار تحقيقات: نوي تحقيقات، د 2011 کال د جنوري د 1- مارچ تر 31

توټل:16





سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو مديريت، 4/15/2011

د.۲ انځور

د سيګار يا د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي تحقيقات: تړلي تحقيقات، د 2011 کال د جنوري 1 – مارچ 31

توټل: 45




سرچينه: د سيګار د تحقيقاتو مديريت، 4/18/2011


### د سيګار د مرستې شميره

د سيګار د شکايتونو ځانګې په دې درو مياشتو کې ۱۰۶ شکايتونه ترلاسه کړي دي، چه پدې سره د نوموړې ځانګې د کار د پيل څخه تر اوسه پورې دشکايتونو شميره ۵۷۰ ته رسيږي. پدې ربع کې ډيری شکايتونه د برېښناليک له لارې ترلاسه شوي دي، دا هرڅه په د.۳ شميره انځور کې ښودل شوي دي. د دې شکايتونو له ډلې ډيری تړل شوي، نورو ادارو ته ليږدول شوي او يا هم سپارل شوي دي، دا هر څه په د.۴ انځور کې ښودل شوي دي.

د.۳ انځور

د سيګار د شکايتونو منبع د 2011 کال د جنوري د 1 څخه د مارچ تر 31

توټل: 106





سرچينه: د سيګار تحقيقاتي مديريت، 4/11/2011

د.۴ انځور

د سيګار د شکايتونو حالت: د 2011 جنوري د 1 څخه د مارچ تر 31

توټل: 106




a. قضيه بياکتل شوی ده، او سيګار اضافي معلومات ترلاسه کوي.
b. د کره معلوماتو او اداري تعقيب کلولو په موخه د ابتدايي تحقيقاتو ترسره کول.

سرچينه: د سيګار تحقيقاتي مديريت، 4/15/2011

# ضمیمه هـ
## مخففات او لنډیزونه

| مخففات او لنډیزونه | تعریف |
|---|---|
| ABP | افغان سرحدي پولیس |
| ACSS | د افغانستان د ملکي خدمتونو ملاتړ |
| ACU | د فساد پرضد مبارزې څانګه |
| ADB | اسیایي پرمختیایي بانک |
| ADP/SW | متبادل پرمختیایي پروګرام جنوب-لویدیځ |
| د چاپریال او انجینري لپاره د هوائی زواک مرکزونه | د انجینری او چاپیریال لپاره د هوایي قوي مرکز( متحده ایالات) |
| AGO | د لوی څارنوال دفتر |
| AIF | د افغانستان د زیربنا تمویلول |
| ALP | افغان سیمه ایز پولیس |
| AMDEP | د افغانستان د مطبوعاتي پراختیا او توانمندی پروژه |
| AMEC | AMEC څمکه او چاپیریال , Inc |
| ANA | افغان ملي اردو |
| ANCOP | د افغانستان د ملکي نظم ملي پولیس |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| ANSF | افغان ملي امنیتي ځواکونه |
| APPF | د افغانستان د عامه تحفظ ځواک |
| APRP | افغان سولي او بیا پخلاینې پلان |
| ARP | د افغانستان د بیاپخلاینې پروګرام |
| ARTF | د افغانستان د بیا رغوني د باور بودیجه |
| ASFF | د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه |
| ASIU | د افغان شفافیت د څیرنی یونټ |
| AUAF | د افغانستان امریکایی پوهنتون |
| AUP | افغان بی یونیفورم پولیس |
| AVIPA | افغانستان د زیاتیدونکي تولیدي زراعت شاهد دی |
| AWATT | دافغانستان د اوبو، زراعت او ټکنالوژي بدلېدل |
| AWOL | د رخصت پرته غیرحاضری |
| CAO | د کنترول او پلټني دفتر (افغان) |
| CDC | د تولني پراختیایی شورا |
| CENTCOM | مرکزي قوماندہ (متحده ایالات) |
| CERP | د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام |
| CH2M | CH2M هیل کانسترکتورز, Inc. |
| CJIATF-435 | د ګډ همکاری عملیاتي قوه - ۴۳۵ |
| CJITF | د اجنسیانو تر منځ ګډ عملیاتي قوه |
| C-JTSCC | سینتکام ګډ ملاتړی قرارداد قوماندہ |
| CNPA | د مخدره موادو سره د مبارزې پولیس - افغانستان |
| COIN | د یاغیانو په وراندي مبارزه |
| CPC | د جنایي کړنلارو قانون |
| CSC | د ملکي خدمتونو کمیسیون (Afghan) |
| CSSP | د اصلاحاتو د رامنځته کولو د سیستم د ملاتړ پروګرام |
| CSTC-A | د ګډ امنیت انتقالي قوماندہ - افغانستان |
| CUAT | د قوماندي د برخي براورد |
| DAB | د افغانستان بانک |
| DBA | د اساسي دفاع قانون |

# ضميمې

| مخففات او لنډيزونه | تعريف |
|---|---|
| DEA | د مخدره موادو په اړه د تنفيذ اداره (متحده ايالات) |
| DFAS | د دفاع مالي او حسابدهی خدمت (متحده ايالات) |
| DoD | د دفاع وزارت (متحده ايالات) |
| DoD CN | د مخدراتو د فعاليتونو، او د مخدراتو د کمولو لپاره د دفاع وزارت بوديجه ( متحده ايالات) |
| DoD OIG | د امريکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر ( متحده ايالات) |
| د عدليې وزارت | د عدليې وزارت (متحده ايالات) |
| DoS | د بهرنيو چارو وزارت (متحده ايالات) |
| د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر | د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (متحده ايالات) |
| DoS OIG/INS | DoS OIG تفتيش ( د امريکا متحده ايالات) |
| DoS OIG/INV | د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي د دفتر تحقيقات (متحده ايالات) |
| DST | د ولسواليو د ملاتړ ټيم |
| ECC | د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون |
| ECF | د اعتبار د پراختيا اسانتيا |
| EGGI | د اقتصادي پرمختګ او حکومتداری نوښت |
| ESF | د اقتصادي ملاتړ بوديجه |
| FinTRACA | د افغانستان د راپور ارزوني او مالي انتقالاتو مرکز |
| FMS | بهرني نظامي چارې |
| GAO | د دولت د احتساب دفتر (متحده ايالات) |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| ګلوبل | د ګلوبل ستراتيژيو ګروپ |
| HMMWV | د لوړ خوځښت، ګڼ هدفيزو ټايرونو موټر |
| HOOAC | د اداري فساد سره د مبارزې لپاره د نظارت لوی دفتر (افغان) |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمت خپلواک کميسيون |
| IBP | د بودجې نړيوال ګډون |
| IDEA-NEW | د شمال، ختيځ، او لويديځ لپاره د بديل معيشت پيدا کولو مراعات |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کميسيون (افغان) |
| IJC | د ايساف ګډه قومنداني |
| IMF | د پيسو نړيوال صندوق |
| INCLE | د مخدره موادو نړيوال کنټرول او د قانون نفاذ (متحده ايالات) |
| INL | په نړيواله کچه د مخدره موادو او د قانون د تطبيق اداره (متحده ايالات) |
| IOM | د مهاجرينو نړيوال سازمان |
| ISAF | د امنيت نړيوال مرستندويه ځواک (ايساف) |
| JANIB | د افغان ناټو د انتقال ګډ هيئت |
| JSSP | د انصاف د سکټور د ملاتړ پروګرام |
| LOTFA | د افغانستان لپاره د قانون د حاکميت د باور بوديجه |
| $m^2$ | متر مربع |
| MAIL | د کرهنې، اوبه لګولو، او مالداري وزارت (افغانستان) |
| MCN | د مخدره موادو ضد د مبارزې وزارت (افغانستان) |
| MCTF | د غټو جرمونو په خلاف د عملياتو قوه ( افغان) |
| MoD | د دفاع وزارت (افغانستان) |
| MoDA | د دفاعی مشاروينو وزارت ( پروګرام) |
| MoE | د معارف وزارت (افغانستان) |
| MoF | د ماليې وزارت (افغانستان) |
| MoFA | د بهرنيو چارو وزارت ( افغانستان) |
| MoI | د کورنيو چارو وزارت (افغانستان) |
| MoJ | د عدليې وزارت (افغانستان) |
| MoTCA | د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردی وزارت (افغانستان) |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت (افغانستان) |

| مخففات او لنډيزونه | تعريف |
|---|---|
| MRRD | د کليو پراختيا او بياجوړولو وزارت (افغان) |
| NATO | د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان |
| NDAA | د ملي دفاع د اختصاصونو قانون |
| NGO | نادولتي اداره |
| NSP | د ملي پيوستون پروګرام |
| NTM-A | د ناټو د روزني مشن - افغانستان |
| OCO | د سمندر پورې غاړه راتلونکي عمليات |
| OIG | د عمومي پلټونکي دفتر |
| OTA | د تخنيکي مرستو دفتر (U.S.) |
| پي. ايل | عامه قانون |
| PM/WRA | د سياسي- نظامي چارو اداره – د سلاو د ليري کولو او منع دفتر ( د امريکا متحده ايالات) |
| PPR | د لومړيتوب د پروګرام بياجوړښت |
| PRM | د نفوس پناه وړونکو او مهاجرت اداره |
| PRT | د ولايتي بيا رغوني ټيم |
| PSC | د خصوصي امنيت قراردادي |
| RC | سميزه قومندانی(ISAF) |
| ROLFF-A | د قانون د حاکميت سميز ځواک- افغانستان |
| RPG | راکټ سر شانه يي |
| سيګار | د افغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی |
| SY | لمريز کال |
| TFBSO | د تجارت او ثبات د عملياتو لپاره ځانګړی کاري قوه |
| خزانه | د خزانې وزارت (متحده ايالات) |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNAMA | په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي مشن |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره |
| UNFPA | د ملګرو ملتونو د نفوس فنډ |
| UNHCR | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لوړ کميشنر |
| UNODC | د مخدره موادو او جرمونو سره د مبارزې د ملګرو ملتونو دفتر |
| USAAA | د متحده ايالاتو د پوځ د پلټني اداره |
| USACE | د متحده ايالاتو د پوځي انجينيرانو فرقه |
| USAID | د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره (USAID) |
| USAID OIG | د USAID د عمومي پلټونکي دفتر |
| USDA | د متحده ايالاتو د کرهني وزارت |
| USFOR-A | د متحده ايالاتو ځواکونه - افغانستان |
| VSO | د کليو د ثبات په موخه فعاليتونه |

# او پایلیکونه

1. ۲۰۱۱ د مالی کال د ملی دفاع د صلاحیتو قانون (P.L. 111-383) برخه 1217.
2. د دفاع وزارت او د ټول کال د روانو تخصیصاتو قانون، ۲۰۱۱، ۱۵۷ پاڼه.
3. "انتقال" په پښتو او د دري کې د انتقال معنی ورکوي.
4. په افغانستان کې د ناټو/ ایساف او امریکایی ځواکونو د قومندان ډیوید پیټریوس د سنا د نظامي خدمتونو د کمیټې لپاره د لیکلي اعلامیې څخه، 3/15/2011.
5. په افغانستان کې د ناټو/ ایساف او امریکایی ځواکونو د قومندان ډیوید پیټریوس د سنا د نظامي خدمتونو د کمیټې لپاره د لیکلي اعلامیې څخه، 3/15/2011.
6. د سنا د نظامي خدمتونو پر وړاندې د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګیټس اعلامیه، 2/17/2011.
7. د امریکا د سنا د نظامي خدمتونو د کمیټې د یوې پوښتنې ته په افغانستان کې د ناټو/ ایساف او امریکایی ځواکونو د قومندان ځواب P.L. 111-32 "اختصاصي بشپړونکي قانون ۲۰۰۹"، ۲۰۰۹\۲۴\۶.
8. P.L. 111-32 "اختصاصي بشپړونکي قانون ۲۰۰۹"، "۲۰۰۹\۲۴\۶.
9. د سیګار څېړنو د 7/20/2009 نیټې پوښتنې ته دDoD ځواب.
10. د دی راپور د ب ضمیمه وګورئ.
11. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
12. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
13. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 1/15/2011.
14. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
15. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
16. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011
17. د امریکا دفاع وزارت، د مال چارو د اداري مقررات، د قومندانی د عاجل عکس العمل پروګرام: ۱۲ ټوک، ۲۷ فصل،" ۲۰۰۹\۱، مخ ۳-۲۷.
18. د سیګار څېړنو د 4/21/2010 نیټې پوښتنې ته دDoD ځواب.
19. د دی راپور د ب ضمیمه وګورئ.
20. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
21. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
22. د دفاع وزارت،" د مخدره توکو مندل او د هغه په ضد فعالیتونه، د ۲۰۰۹ مالی کال د دفاع لخوا د مخدره توکو د مندلو او د هغه په وړاندی د مبارزی غوښتنه،" ۴/۱۳/۲۰۱۰ انلین یا د انټرنټ د ویب سایډ د لارې ورته لاس رسی شوی دی.
23. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۱\۱۴\۴.
24. د دفاع وزارت، د سیګار د ارزوني پوښتنې ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۶\۷.
25. P.L. 112-10, 4/15/2011.
26. د دی راپور د ب ضمیمه وګورئ.
27. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/14/2011.
28. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب،4/14/2011.
29. د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۳\۱۰.
30. P.L. 112-10, 4/15/2011.
31. د دی راپور د ب ضمیمه وګورئ.
32. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب، 4/12/2011.
33. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب، 4/12/2011.
34. سیګار، " د امریکا کانګرسی ته دری میاشتنی راپور،"7/30/2010 ، ۱۵ پاڼه.
35. نړیوال بانک، "د افغانستان د بیا رغونې د باور بودیجه (ARTF): د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۲۰ سره سم د مالي چارو په اړه د اداري چارو د مسول راپور،" ۴ پاڼه؛ نړیوال بانک، په درې میاشتني ډول د هیواد تازه حالات: افغانستان،" 4\2011، مخ 16.
36. نړیوال بانک، " د هیواد په کچه د درو میاشتو تازه معلومات: افغانستان ," 4/2011, 16 ,pp. 2.
37. نړیوال بانک، " د هیواد په کچه د درو میاشتو تازه معلومات: افغانستان ," 4/2011, 16-17 .pp.
38. EC، " افغانستان: د چارو (لوبې) حالت، د ۲۰۱۱ کال جنوري میاشت،" 3/31/2011، ۷ پاڼه.
39. EC، " افغانستان: د چارو (لوبې) حالت، د ۲۰۱۱ کال جنوري میاشت،" 3/31/2011، ۷ پاڼه.
40. EC، " افغانستان: د چارو (لوبې) حالت، د ۲۰۱۱ کال جنوري میاشت،" 3/31/2011، ۷ پاڼه.
41. د ب ضمیمې ته ستانه شي.
42. د امریکا پوځ، د ګډ ځواک مرکز، " لاسي کتاب 09-27: د افغانستان د امنیتی پوځ سره مرستې، ۱۴ فصل،"4/2009، د ۲۰۱۱ کال د جنوری په اوومه په مستقیم یا انلین ډول لاس رسی ورته شوی دی.
43. د سیګار د 4/15/2011 نیټې معلوماتي پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.
44. د ب ضمیمې ته ستانه شي.
45. د سنا د نظامي خدمتونو پر وړاندې د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګیټس اعلامیه، 2/17/2011، ۸ پاڼه؛ د دفاع وزارت، د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د دفاع وزارت د بودجې غوښتنه، 2/4/2011.
46. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کې د نومړو پولیسو د روزنې، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" ،SPO-2011-003, 3/3/2011 ۵۳ پاڼه.
47. د سیګار د 4/18/2011 نیټې معلوماتي پوښتنې ته د OSD ځواب.
48. NTM-A، "د ناټو پارلماني غونډې لپاره چمتو شوي ملاحضات، ویلیم ب. کالډویل، IV عمومي قومندان، NTM-A," 2/21/2011، چه په 4/11/2011 په انلاین ډول لاس رسی ورته شوی دي.

49. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSDځواب.
50. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSDځواب.
51. د سیګار د 4/18/2011 نیټي معلوماتي پوښتني ته د OSD ځواب.
52. ناټو، " د لیزبون د غونډي اعلامیه،" 11/20/2010.
53. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSDځواب.
54. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSDځواب؛ د سیګار د 4/16/2011 پلټني ته د ایساف او د IJC ځواب.
55. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د4/16/2011 ته د CENTCOMځواب او د نوموړي اداري د 3/20/2011غوښتني ته د ISAF-IJC او PERSTAT ځواب.
56. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 2.
57. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 2.
58. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 2.
59. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 2.
60. دفاع وزارت، "پنټاګن، کرزی د امنیتي کمپنیو په بندولو باندي کار کوي،"8/17/2010.
61. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 3.
62. افغان دولت، " د ولسمشر د ۶۲ نمبر فرمان د تطبیق هڅې، " 3/15/2011.
63. CENTCOM، " د CENTCOM د مسولیت په محدوده کې د امریکا د عملیاتو لپاره د قراردادي ملاتړ، عراق، او افغانستان،"1/19/2011، چه د 4/15/2011 په انلاین ډول لاس رسی ورته شوي؛ CENTCOM، " د CENTCOM د مسولیت په محدوده کې د امریکا د عملیاتو لپاره د قراردادي ملاتړ، عراق، او افغانستان،" 2/2010، چه په4/15/2011 نیټه باندي انلاین ډول لاس رسی ورته شوي دي.
64. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 1.
65. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزي،" ٢٠١١\٩\٣، مخ 2.
66. په کابل کې د امریکا سفارت، " د امریکا سفارت په ننګرهار کې ترسره شوې حمله غندي،" 2/20/2011.
67. د ملګرو ملتونو سرمنشي،" د افغانستان حالات او په نړیوال امنیت او صلح باندي د هغه اغیزې،" 3/9/2011، ٢ پاڼه.
68. د ملګرو ملتونو سرمنشي،" ملګري ملتونه په خپلو کارکونکو حمله په سختو ټکو کې غندي،" 4/1/2011، چه په 4/9/2011 انلاین ډول لاس رسی ورته شوی دي.
69. د بهرنیو چارو وزارت، " د امریکا سفارت د کندهار د امنیی قومندانی د مشر وژنه غندي،" 4/15/2011؛ چه په 4/18/2011 په انلاین ډول لاس رسي ورته شوی دي.
70. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
71. GAO،" د افغانستان امنیت: د افغان ځواک شمیر زیاتیږي، خو اضافي روزنکو ته اړتیا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص شوي،" 7–6 GAO-11-66, 1/2011, pp.
72. GAO،" د افغانستان امنیت: د افغان ځواک شمیر زیاتیږي، خو اضافي روزنکو ته اړتیا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص شوي،" 7–6 GAO-11-66, 1/2011, pp.
73. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
74. سیګار، پلټنه ۶-۱۱، "د افغان ملي امنیتي پوځ د اسانتیاو لپاره د مناسب پلان نشتون د ۱۲،۳ ملیارډ ډالرو مرستي د خطر سره مخامخ کړي دي،"١/٢٠١١، ٢ پاڼه؛ د ملګرو ملتونو سرمنشي،" د افغانستان حالات او په نړیوال امنیت او صلح باندي د هغه اغیزې،" 3/9/2011، ٢ پاڼه، د سیګار د 4/16/2011 پلټنو ته د CENTCOM ځّواب.
75. GAO،" د افغانستان امنیت: د افغان ځواک شمیر زیاتیږي، خو اضافي روزنکو ته اړتیا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص شوي،" ۴۳ ، GAO-11-66, 1/2011, پاڼه
76. ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 3/20/2011.
77. ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 3/20/2011; ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 12/30/2010.
78. د سیګار د 4/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د ایساف ځواب.
79. ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 3/20/2011; ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 12/30/2010.
80. د سیګار د 4/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د ایساف ځواب.
81. د سیګار د 4/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د ایساف ځواب.
82. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
83. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
84. د سیګار د 4/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د ایساف - IJC-ځواب.
85. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
86. د سیګار د 4/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
87. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
88. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
89. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
90. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
91. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
92. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
93. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
94. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
95. GAO،" د افغانستان امنیت: د افغان ځواک شمیر زیاتیږي، خو اضافي روزنکو ته اړتیا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص شوي،" 7 ، GAO-11-66, 1/2011, پاڼه.
96. NTM-A, "افغان ملی امنیتی پوځ د NTM-A, لخوا روزنه او وسایل تر لاسه کوی. د ٢٠١١ کال د جنوری په ١١ په مستقیم یا انلین ډول لاس رسی ورته شوی دی.
97. GAO،" د افغانستان امنیت: د افغان ځواک شمیر زیاتیږي، خو اضافي روزنکو ته اړتیا شته؛ اوږد مهالي لګښتونه نه دي مشخص شوي،" 9 ، GAO-11-66, 1/2011, پاڼه.
98. "د ریچارډ سی. نیکرسن وینا، د MPRI پروګرام مدیر، د په افغانستان او عراق کې د جنګ په وخت کې د قرارداد کولو د کمیسیون پر وړاندي د نوموړي وینا، د افغانستان د ملي امنیتي ځواک د روزني د قراردادو په اړه استماعیه، "12/18/2009، چه په 4/3/2011 په انلاین ډول لاس رسي ورته شوی دي.
99. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.

100. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، 27 پانه.
101. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، ۲۷ پانه؛ دفاع وزارت، " د دفاع وزارت د سلامشورو پروګرام،" په 4/3/2011 په انلاین ډول لاس رسی ورته شوي دي.
102. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، ۲۷ پانه؛ د سیګار د 4/16/2011 پلټنو ته د CENTCOM ځواب.
103. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، 27 پانه.
104. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، pp 27–28.
105. د سیګار د 4/16/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
106. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
107. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
108. دفاع وزارت، د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د دفاع وزارت د بودجي غوښتنه، 2/4/2011.
109. سیګار، ۱۰-۱۱ پلټنه، " د افغان ملي پولیسو د پي رول لګښتونه او کاري وړتیاوي وروسته تر هغه هم نشي تصدیق کیدلای چه د افغان ملي پولیسو د پي رول او حساب ورکولو په برخه کي ډیري هڅي ترسره شوي وي،"4/2011.
110. ISAF-IJC, ANP PERSTAT, 3/2011.
111. سیګار، پلټنه ۶-۱۱، "د افغان ملي امنیتي پوځ د اسانتیاو لپاره د مناسب پلان نشتون د ۱۲،۳ ملیارډ ډالرو مرستي د خطر سره مخامخ کړي دي،"۱/۲۰۱۱، ۲ پانه؛ د ملګرو ملتونو سرمنشي،" د افغانستان حالات او په نړیوال امنیت او صلح باندي د هغه اغیزی،" 3/9/2011، ۲ پانه.
112. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSDځواب.
113. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSDځواب.
114. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغي اغیزي،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 3.
115. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
116. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب د سیګار د , 4/16/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
117. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
118. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
119. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
120. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
121. د سیګار د 4/1/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب د سیګار د , 4/16/2011نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
122. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
123. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
124. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
125. NTM-A/CSTC-A، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۱۱\۱\۱۴.
126. د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2011.
127. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
128. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، 30 پانه؛ ISAF-IJC, ANP PERSTAT, 3/2011.
129. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
130. د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر یا DoD OIG، د افغان ملي پولیسو د توسع په برخه کي د نوموړو پولیسو د روزني، تجهیز او څار په اړه ارزونه،" SPO-2011-003, 3/3/2011، 30 پانه.
131. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
132. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
133. د سیګار د 4/1/2011 نیټي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.
134. د سیګار د 1/4/2011 او 4/1/2011 نیټي پوښتنو ته د USFOR-A.
135. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي ـ نظامي چارو دیوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه ډیټا کال ته ځواب، ۲۰۱۱/۲۸/۳.
136. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي ـ نظامي چارو دیوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه ډیټا کال ته ځواب، ۲۰۱۱/۲۸/۳.
137. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي ـ نظامي چارو دیوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه ډیټا کال ته ځواب، ۲۰۱۱/۲۸/۳.
138. د ب ضمیمي ته ستانه شي.
139. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
140. UNODC، " د تریاکو د ژمی د چټکي ارزوني سروې(ORAS) په اړه د مطبوعاتي اعلامیه"، 1/1/2011 چه په 4/13/2011 نیټه په انلاین ډول لاس رسی ورته شوي دي.
141. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4/6/2011.
142. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4/6/2011.

143. د سیګار د 3/31/2011 نیټې پوښتنې ته دUSAID-OAG ځواب، د سیګار پلټنو ته د USAID-OAG ځواب.
144. د سیګار د 3/31/2011 نیټې پوښتنې ته دUSAID-OAG ځواب.
145. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
146. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
147. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
148. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
149. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
150. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
151. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب،4/6/2011.
152. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، ۴ پاڼه؛ د سیګار د 4/8/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب.
153. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 4/8/2011.
154. ملګرې ملتونه، " د ننې افغان سرتیکې، "3/2/2011؛ د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، ۴ پاڼه.
155. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 4.
156. د سیګار د معلوماتو 4/8/2011 پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
157. د سیګار د معلوماتو 4/8/2011 پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
158. د سیګار د معلوماتو 4/8/2011 پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
159. ملګرې ملتونه،" ملګرو ملتونو د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون سره د خپل ماموریت د ترسره کولو سره ملاتړ کړې،" 1/31/2011.
160. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 5.
161. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 4/8/2011.
162. ملګرو ملتونه، " د امنیت شورا په افغانستان کې د یونما فعالیت د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۳ پورې اوږد کړ، " 3/22/2011.
163. MoFA، " په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي استازې ظاهر طنین وینا،" 3/19/2011.
164. MoFA، " په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي استازې ظاهر طنین وینا،" 3/19/2011.
165. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، " د امنیت شورا په افغانستان کې د ماموریت د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۳ اوږد کړ، په ګډه یی د ۱۹۷۴ پریکړه خپله کړه (2011)," 3/22/2011.
166. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، " د امنیت شورا په افغانستان کې د ماموریت د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۳ اوږد کړ، په ګډه یی د ۱۹۷۴ پریکړه خپله کړه (2011)," 3/22/2011.
167. ملګرې ملتونه، " ملګرې ملتونو پر خپلو کارکونکو باندې حمله په سختو ټکو باندې محکومه کړې،" 4/1/2011 چه د 4/9/2011 په انلاین ډول لاس رسي ورته شوې، یونما؛ "د ځانګړي استازې سټیفن دیمیستورا سره د مطبوعاتي اعلامیې نږدې ټیکي په ټیکي ترانسکرپت،"4/2/2011.
168. د سیګار د 4/6/2011 نیټې پوښتنې ته د INL ځواب؛ د سیګار د 4/14/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
169. د سیګار د 4/6/2011 نیټې پوښتنې ته د INL ځواب؛ د سیګار د 4/14/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
170. د سیګار د 4/6/2011 نیټې پوښتنې ته د INL ځواب؛ د سیګار د 4/14/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
171. د سیګار د 4/6/2011 نیټې پوښتنې ته د INL ځواب؛ د سیګار د 4/14/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.
172. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
173. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
174. د سیګار4/6/2011. نیټې معلوماتو پوښتنې ته INL ځواب.
175. د سیګار4/6/2011. نیټې معلوماتو پوښتنې ته INL ځواب.
176. د سیګار د 1/6/2011, 4/6/2011. نیټې پوښتنو ته د INL ځواب.
177. د سیګار4/6/2011. نیټې معلوماتو پوښتنې ته INL ځواب.
178. د سیګار4/6/2011. نیټې معلوماتو پوښتنې ته INL ځواب.
179. د سیګار4/6/2011. نیټې معلوماتو پوښتنې ته INL ځواب.
180. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
181. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 4/15/2011.
182. د سیګار خېړنو د 4/18/2011نیټې پوښتنې ته دDoD ځواب.
183. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 5.
184. د سیګار خېړنو د 4/18/2011نیټې پوښتنې ته دDoD ځواب.
185. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 6.
186. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
187. د امریکا حکومت، " د پخوانیو طالبانو د ملکي ژوند ته راستنول په افغانستان کې یو مهم پرمختګ،" 7/13/2010 د سیګار 4/1/2011 نیټې پوښتنې ته د USAID ځواب.
188. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
189. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
190. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
191. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
192. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 2.
193. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/15/2011.
194. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
195. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 2.
196. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.

197. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۳، مخ 2.
198. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
199. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/8/2011.
200. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/8/2011.
201. دفاع وزارت، " د افغانستان څخه د مایکل او نیل ویا د دفاع وزارت د خبري توضیحات،" 1/25/2011.
202. دفاع وزارت،" د افغانستان څخه د ډګر جنرال میلیس ویا د دفاع وزارت خبري توضیحات،"3/3/2011؛ د سیګار د 4/8/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب.
203. دفاع وزارت،" د افغانستان څخه د ډګر جنرال میلیس ویا د دفاع وزارت خبري توضیحات،" 3/3/2011.
204. د سیګار د4/8/2011 نیټې پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب.
205. د سیګار د4/8/2011 نیټې پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب؛ د دفاع وزارت،" د افغانستان څخه د ډګر جنرال میلیس ویا د دفاع وزارت خبري توضیحات،" 3/3/2011.
206. د سیګار د4/8/2011 نیټې پوښتنې ته بهرنیو چارو وزارت ځواب.
207. د سیګار د4/8/2011 نیټې پوښتنې ته بهرنیو چارو وزارت ځواب.
208. د سیګار د4/8/2011 نیټې پوښتنې ته بهرنیو چارو وزارت ځواب.
209. د سیګار د4/8/2011 نیټې پوښتنې ته بهرنیو چارو وزارت ځواب.
210. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
211. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
212. د بهرنیو چارو وزارت، " د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په 10مه د COM په افغانستان کې د ملکي ګمارنې زیلانځه."
213. د سیګار د4/1/2011 نیټې پوښتنې ته د USAID ځواب؛ د سیګار د4/1/2011 نیټې پلټنې ته د USAID ځواب.
214. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
215. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/13/2011.
216. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 4/13/2011.
217. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011. د سیګار د ارزونې پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/16/2011.
218. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
219. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
220. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
221. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
222. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
223. د ولسي جرګې مطبوعاتي اعلامیه، "د 1390 هجری کال لپاره بودجه په رسمي ډول ولسي جرګې ته وړاندې شوې ده." 3/12/2011، چه په 3/16/2011 انلاین ډول لاس رسی ورته شوې دې.
224. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 4/8/2011.
225. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 7/10/2009.
226. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، ۲۰۱۰\۵\۱.
227. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، ۲۰۰۹\۲۴\۹.
228. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
229. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب،9/24/2009, 4/5/2011.
230. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
231. د ولسي جرګې مطبوعاتي اعلامیه، "د 1390 هجری کال لپاره بودجه په رسمي ډول ولسي جرګې ته وړاندې شوې ده." 3/16/2011؛ د مالیې وزارت مطبوعاتي اعلامیه، " د مالیې وزارت مرستیال د ۱۳۹۰ کال بودجې مطبوعاتو ته اعلان کړه،"2/22/2011.
232. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
233. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
234. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
235. IBP ،" د پرانیستې بودجې سروې، ۲۰۱۰"، 10/19/2010, pp 25, 42.
236. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
237. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
238. USAID،" د افغان عامه خدمتونو ملاتړ، " www.usaidacss.org، په 3/4/2011 انلاین ډول لاس رسی ورته شوی، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
239. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
240. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
241. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
242. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
243. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
244. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
245. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
246. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
247. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
248. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
249. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
250. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

251. JSSP“,INL: ښه راغلاست، "په ۷/۷/۲۰۱۰ انلین لیدل او یا تر لاسه شوی دی.
252. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
253. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
254. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
255. د بهرنیو چارو وزارت،" د امریکا حکومت قضا او عدالت ته د لاس رسی د زیاتولو او تقویه په موخه مرستې او پور ورکوي،"2/23/2011.
256. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 3/27/2011.
257. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 3/27/2011.
258. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 3/27/2011.
259. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 3/27/2011.
260. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 3/27/2011.
261. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
262. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
263. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
264. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
265. CENTCOM،" د افغانستان دفاع وزارت او CJIATF-435 د ملکي ژوند ته د مخالفینو د راستنولو په اړه یو تفاهمنامه لاس لیک کړه،"4/5/2011.
266. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
267. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د ۲۰۱۱\۱\۱۴ ته د OSDځواب.
268. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
269. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
270. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
271. INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/6/2011.
272. اد سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
273. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
274. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۱۳، مخ 9.
275. UNHCR، " د پناه غوښتنې کچې او دود په صنعتي هیوادونو کې ۲۰۱۰،"3/28/2011.
276. یونما،" افغان پناه غوښتونکي د مهاجرت په اړه د سختو مقرراتو په وسیله ځپل شوي دي،"3/31/2011.
277. یونما،" افغان پناه غوښتونکي د مهاجرت په اړه د سختو مقرراتو په وسیله ځپل شوي دي،"3/31/2011.
278. د سیګار د معلوماتي پوښتنې ته د PRM-WA ځواب، 4/1/2011.
279. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/1/2011.
280. د سیګار د ارزوني پوښتنې ته د INL ځواب، ۲۰۱۱\۱\۱۹\۴.
281. د سیګار د ارزوني پوښتنې ته د INL ځواب، ۲۰۱۱\۱\۱۹\۴.
282. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۱۳، مخ 8.
283. یونما،" حکومت او ملګري ملتونه هوکړه وکړه چه د امنیتي پوځ په لیکو کې به د قانوني سن څخه د کم عمر لرونکي کسان په دندو نه ګماري،" 1/30/2011.
284. یونما،" حکومت او ملګري ملتونه هوکړه وکړه چه د امنیتي پوځ په لیکو کې به د قانوني سن څخه د کم عمر لرونکي کسان په دندو نه ګماري،" 1/30/2011؛ د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۱۳، ۸ پاڼه.
285. یونما،" حکومت او ملګري ملتونه هوکړه وکړه چه د امنیتي پوځ په لیکو کې به د قانوني سن څخه د کم عمر لرونکي کسان په دندو نه ګماري،" 1/30/2011.
286. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۱۳، مخ 9.
287. ADB، " اسیایی پرمختګ ته کتنه ۲۰۱۱، "4/6/2011, pp. 143–46.
288. IMF و" افغانستان ته د IMFد پوکارکونکي سفر،"2/15/2011.
289. ADB، " اسیایی پرمختګ ته کتنه ۲۰۱۱، "4/6/2011, pp. 143–46.
290. د ازادي اروپا رادیو/ یا د ازاردی رادیو، " افغانان د ایران لخوا د تیلو پر بندیز د سختو ستونزو سره مخامخ دي،"12/30/2010.
291. د ازادي اروپا رادیو/ یا د ازاردی رادیو، " افغانان د ایران لخوا د تیلو پر بندیز د سختو ستونزو سره مخامخ دي،"12/30/2010.
292. ناټو/ CIMIC،" ایران افغانستان ته پر لیږدونکي تیلو پر واردولو باندي بندیز ولګاوه،"2/2011, pp 1–2.
293. ناټو/ CIMIC،" ایران افغانستان ته پر لیږدونکي تیلو پر واردولو باندي بندیز ولګاوه،"2/2011, ۲ ،pp پاڼه.
294. ناټو/ CIMIC،" ایران افغانستان ته پر لیږدونکي تیلو پر واردولو باندي بندیز ولګاوه،"2/2011, ۳،pp پاڼه؛ د سیګار د 4/8/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب.
295. IMF،" د افغانستان دولت – د پروګرام یادداښت،"10/1/2010.
296. د ملګرو ملتونو سرمنشي، "د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې،" ۲۰۱۱\۹\۱۳، مخ 11.
297. IMFو" افغانستان ته د IMFد پوکارکونکي سفر،"2/15/2011.
298. IMFو" افغانستان ته د IMFد پوکارکونکي سفر،"2/15/2011، pp. 1–2.
299. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
300. IMF، " د کرولین اټکینسون لخوا د مطبوعاتي توضیحاتو ترانسکرپټ،"3/17/2011.
301. ADB، " اسیایی پرمختګ ته کتنه ۲۰۱۱، "4/6/2011, pp. 143–46.
302. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.
303. USAID OIG،" د بانکي کرکیچ او د بانکي فعالیتونو په اړه د څار په برخه کې په افغانستان کې د USAID بیا کتنه" د راپور شمیره F-306-11-003-S، 3/16/2011، ۱ پاڼه
304. د سیګار د 4/14/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت او په کابل کې د امریکا د سفارت ځواب.

305. USAID OIG، "د بانکي کړکیچ او د بانکي فعالیتونو په اړه د څار په برخه کې په افغانستان کې د USAID بیا کتنه" د راپور شمیره F-306-11-003-S، 3/16/2011، ۱ پاڼه

306. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

307. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

308. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

309. CIMIC، "د افغانستان په اړه اونیزه بیاکتنه،" 2/24/2011، ۱ پاڼه.

310. خزانې اداره، مطبوعاتي اعلامیه، د خزانې چارواکي د نوی انصاري د حوالې خدمتونه معرفي کړل،"2/18/201.

311. ADB، " اسیایی پرمختګ ته کتنه ۲۰۱۱،" 4/6/2011, pp. 143–46.

312. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

313. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

314. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

315. د سیګار د 4/8/2011 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب، افغان دولت/ په واشنګټن کې د افغانستان سفارت، " ملت د جلالتماب حامد کرزي وینا، "3/22/2011

316. ایساف او په کابل کې د امریکا سفارت، " د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت سره تفاهمنامه، "3/15/2011.

317. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 3/11/2011.

318. ایساف او په کابل کې د امریکا سفارت، " د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت سره تفاهمنامه، "3/15/2011.

319. افغان دولت، " د ولسمشر د ۶۲ نمبر فرمان د تطبیق هڅې، " 3/15/2011.

320. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 3/11/2011.

321. ADB، مطبوعاتي اعلامیه،" ADB د افغانستان د حلقوی سرک د بشپړولو لپاره ۳۴۰ میلیون ډالره ورکوي،"1/17/2011.

322. CSIS،" افغانستان د ملت د جوړولو څخه لیرې دي: اقتصادي ستراتیژي ته یو فرصت ورکول، " د فریډریک ستار، ۱/۲۰۱۱، ۱۹ پاڼه.

323. ADB، مطبوعاتي اعلامیه،" ADB د افغانستان د حلقوی سرک د بشپړولو لپاره ۳۴۰ میلیون ډالره ورکوي،"1/17/2011.

324. CIMIC،" د افغانستان په اړه اونیزه بیاکتنه،" 3/23/2011، ۳ پاڼه CIMIC،" د افغانستان په اړه اونیزه بیاکتنه،" 3/23/2011، ۳ پاڼه.

325. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

326. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

327. د هوایی چلند د خوندیتوب شبکه، په 4/9/2011 په انلاین ډول لاس رسي ورته شوی دي؛ ایساف، د افغانستان او ایساف د هوایی قطعه مطبوعاتي اعلامیه، 5/20/2011

328. ملي " ځنډول شوې هوایی چلند د کابل بانک ۹۰ میلیون ډالره پوروړې ده، "3/18/2011.

329. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، 4/5/2011.

330. USAID ،" خبر پاڼه : د افغانستان امریکایی پوهنتون،"6/2010.

331. USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/16/2011، د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 3/31/2011.

332. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت ځواب، 3/31/2011.

333. د سیګار د 4/16/2011 نیټې پوښتنې ته د USAID ځواب؛ USAID،" خبر پاڼه: د افغانستان امریکایی پوهنتون،"6/2010.

334. AUAF،" لنډه تاریخچه، " په 4/6/2011 انلاین ډول لاس رسی ورته شوی دي.

335. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 3/21/2011.

336. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع د محکمې ځواب، 3/21/2011.

337. FAO، د نړیوال معلوماتو او پروخت د خطر ورکولو سیستم، " د افغانستان هیواد لنډیز،"2/11/2011.

338. د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 3/31/2011.

339. USAID، " د AWATT خبر پاڼه،" 12/2010؛ د سیګار د 3/31/2011 نیټې پوښتنې ته د USAID ځواب.

340. MoM او TFBSO ګډ مطبوعاتي اعلامیه، " افغانستان د SRK کارپوهان د سلامشورو لپاره په دندو ګماري، مایار براون او هینن بلایکې به د معدنونو په برخه کې د شفافې داوطلبۍ لپاره د غوره پروسې په رامنځ ته کولو کار وکړي،"3/6/2011.

341. MoM او TFBSO ګډ مطبوعاتي اعلامیه، " افغانستان د SRK کارپوهان د سلامشورو لپاره په دندو ګماري، مایار براون او هینن بلایکې به د معدنونو په برخه کې د شفافې داوطلبۍ لپاره د غوره پروسې په رامنځ ته کولو کار وکړي،"3/6/2011.

342. ADB، " اسیایی پرمختګ ته کتنه ۲۰۱۱،" 4/6/2011, pp. 143–46.

343. د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/18/2011

344. د سیګار د 1/19/2010 نیټې پوښتنې ته د بهرنیو چارو د وزارت او په کابل کې امریکا د سفارت ځواب.

345. په افغانستان کې د USAID، " د فبروري د ۱ – ۱۵ د پروګرام غورچاڼد، ۲۰۱۱ کال.

346. APTTA " ،ACCI د افغانستان او پاکستان اقتصاد ته د ضرر رسیدل ځنډولای دي،"2/15/2011.

347. ناټو/ CIMIC، " د افغانستان بیاکتنه،" 1/26/2011, 2–1 pp.